د کتاب پېژندنه

---

1. د کتاب نوم: پښتو نحوه (ګرامر)
2. لیکوال: پوهندوی ډاکتر زرغونه رښتين زيور
3. د چاپ ځای: د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز

پېښور – پښتونخوا

4. د چاپ نېټه: 1382 لمريز – 2003 ع کال



هدا

Faiz alam 《haidari》 《حيدري》 فيض عالم

د پښتو ادب د اسمان پنځم ستورې، لوی استاد علامه پوهاند رښتين پاك روح ته، د هغو خدمتونو د لمانځنې او درناوي په وياړ، چې څه د پاسه نيمه پيړۍ يې د زړه په وينه او د تندي په خولو پښتو ژبه او ادب د نړيوالې سيالۍ جوګه کړې او پښتو ژبې او ادب ته يې نوی خوند او رنګ ور بخښلی دی!

سرلیکونه

1. یو څو خبرې ... 1
2. د پښتو ژبې ګرامر ته یوه لنډه کتنه ... 3

لومړی څپرکی

3. Syntax سنټېکس (نحوه) ... 18
4. نحوي واحدونه ... 23
5. جمله 27

دویم څپرکی

6. ترکیب (غونډ – عبارت) ... 37
7. په پښتو ژبه کې د ترکیب ډولونه ... 44
8. اصطلاحات (فرازیالوژیکي) واحدونه ... 70

درېیم څپرکی

9. د پښتو ژبې د جملې جوړښت ... 78
10. لومړی مبتدا – فاعل ... 82
11. دویم خبر – فعل ... 88
12. مفعول ... 92
13. نحوي قیدونه ... 96

څلورم څپرکی

14. په پښتو ژبه کې د جملو خصوصیات (ځانګړتیاوې) ... 100
15. د پښتو ژبې عروضي خصوصیات ... 100
16. د پښتو ژبې نحوي خصوصیات ... 110

پنځم څپرکی

17. د جولې (شکل) له مخې د جملې ډولونه 135

18. يو ستوې يا ساده جملې 135

19. غبرګې يا مرکبې جملې 140

شپږم څپرکی

20. په پښتو جملو کې د يوې برخې يا اجزاو (Ellpsis) د حذف مسئله 170

21. د فاعل – مفعول – فعل او قيد حذف 170

22. د ګرامري اجزاو د ماهيت بدلون 174

23. صفت د اسم په توګه 177

24. اسم د صفت په توګه 178

25. صفت د قيد په توګه 178

26. نتيجه 179

27. اخيستنځې (ماخذونه) 182

یو څو خبرې

د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي د پښتو څانګې په درسي نصاب کې د پښتو ژبې ګرامري مسایل لکه (صرف، نحوه) هم ځای لري.

د پښتو ژبې په صرفي برخه کې مواد او لیکنې شته. چاپي اثار هم لرو او د نحوې په برخه کې خواره واره مواد د بېلا بېلا کورنیو او باندنیو پیاوړو استادانو او ژبپوهانو له خوا رامنځ ته شوي دي، خو د یو بشپړ درسي پلان له پاره کافي نه ګڼل کیږي. د درسي پلان له مخې بنایي چې درسي مواد کال په کال یالږ تر لږه درېو څلورو کالو په موده کې پرې نوی نظرو شي او د ورځنیو علمي تجربو، نویو علمي څېړنو په رڼا کې دغه مواد بشپړ اوکره شي.

دغه کار چې زه یې دلته وړاندې کوم سره له دې چې نوې موضوع نه ده خو بیا هم دغه اثر کیدای شي د پښتو ژبې د نحوي مسایلو او پرابلمونو په باب په څه نا څه ګټه شي.

ددې اثر په لیکنه کې زیاته هڅه شوې ده چې مسایل په تطبیقي توګه بیان کړای شي او همدارنګه د موضوع دروښانولو له پاره زیات مثالونه په عملي او تطبیقي برخه کې د پخو لیکوالو، استادانو د اثارو او همدارنګه د پښتو ژبې د خوږو محاورو نویو او زړو اصطلاحګانو څخه کار اخیستل شوی دی.

باید زیاته کړم چې ما دغه اثر د لوی استاد علامه پوهاندرشتین په لارښوونې چې زه یې د شاګردی ویاړ هم لرم لیکی دی.

څنګه چې په دې برخه کې تر اوسه کوم درسي چاپ شوی بشپړ کتاب یا لکچر نوټ نشته نو د پوهنځي د پښتو څانګې داړتیا او ضرورت له مخې ما دغه ګران کارته اوږه ورته کړې تر څو لږ تر لږه زما دغه کار او هلې ځلې له یوې خوا دا چې د پښتو ژبې په دغه ګرامري برخه کې یو څه کار شوی وي او له بلې خوا د مینه والو او د څانګوالو له پاره د استفادی وړوګرځي.

دغه اثر په 1366 لمریز کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي له خوا د کستتنر په شکل چاپ شوی و، چې بیا وروسته د چاپېدوله پاره یې منظوري هم شوې وه. له بده مرغه د هیواد دبدو سیاسي حالاتو له کبله چاپ نه شو.

د 1371 لمریز کال د کابل د جګړو په نتیجه کې د ادبیاتو د پوهنځي او د هیواد د نورو زیاتو کتابونو سره یو ځای دغه اثر هم له منځه ولاړ.

سږ کال د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې د ضرورت له مخې پریکړه وکړه، چې دغه درسي اثر (پښتو نحوه) دې چاپ شي، نو د ساپې څېړنو مرکز د خپلې ملي پالیسۍ له مخې چې درسي کتابونه په لومړي قدم کې چاپوي، نو ددې کتاب په چاپولو کې هم مرسته کړې ده چې دغه مرکز له یوې خوا خپل ملي رسالت تر سره کړی او له بلې خوا د پښتو څانګې د استادانو او محصلینو لپاره یې درسي اسانتیا برابره کړې ده. په دې توګه مننه او کور ودانۍ ورته وایو د لاړیاتو بریالیتوبونو په هیله.

پوهندوی ډاکتر زرغونه رشتین زیور

د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي استاده

د پښتو ژبې ګرامرته یوه لنډه کتنه

ګرامر د ژبې د جوړښت علمي شرحې ته ویل کیږي او د تشریحي ژبپوهنې یوه ستره څانګه ده.
ژبپوهنه د علومو په لړ کې یوه نوې پوهنه ده او له یوې پیړۍ راهیسې د ژورو کتنو او څېړنو په مرسته مخ په وړاندې ځي، خود ژبې په باب لـه ډېرو لرغونو زمانو څخه ځینې کتنې او څېړنې رواني دي، د لرغوني، کلاسیك، منځنیو پیړیو، (17-18) پیړیو ژبپوهنه د نوې ژبپوهنې زړې او اساس جوړوي، د ژبپوهنې په پراختیا او پرمختیا کې پخوانۍ هندي او یوناني فلالوژي ډېره اغیزمنه برخه لري[1]
مونږ دلته د ژبپوهنې تاریخي سیر او پرمختګ په بشپړه توګه نه څېړو بلکې غواړو چې یوازې د ژبې ګرامر ته یوه لنډه کتنه وکړو او بیا په خپل مطلب لاس پورې کړو. نـوې ژبپوهنـه کـه څـه هـم د علومو په لړۍ کې د شلمې پیړۍ ابتکار دی، ولې ګرامر د ژبپوهنې د یوې څانګې په توګه لرغـونی تاریخ لري. په عمومي توګه په نړۍ کې ګرامر ببلا ببلې پوړۍ او پړاوونـه تـر شـاکړي دي چې ددغـو ببلا ببلو د ورو او پړاوونو په بهیر کې د ټاکلي جهـان بینـۍ، نظریـو او لارو چارو لـه مخې د ګرامـر ببلا ببل ډولونه رامنځ ته شوي دي چې تر ټولـو مهـم یـې کلاسیك عنعنوي، مقایسوي، تـاریخي، تشریحي ګرامرونه دي. په لویدیځه نړۍ کې د ګرامر لیکلو منشا لرغوني یونـان تـه رسـیږي چې کلاسیك ګرامر لومړی په یونان او بیا په روم کې منځته راغی.
افلاطون (427-347ق م) د یونان نامتو فیلسوف د لویدیځې نړۍ لومړنی عالم دی چې د ژبې د حقیقت او څرنګوالي په باب یې څېړنه کړې او لـه همدې امله د ژبپـوهنې بنسـټ ایښـودونکی او د باقاعـده ګرامـر (Systematicgrammar) جـوړوونکی ګڼـل شـوی دی. د افلاطـون څخـه وروسـته د ارسـتو نظریـه د ژبـې پـه بـاره کـې د څېـړنې او ارزښـت وړ ده. د ژبـې پـه بـاب ارسـتو د افلاطون پر خلاف داسې عقیده لرله چې ژبه فطري نه ده بلکې یـوه ټولنیزه او اتفـاقي پېښـه ده[2] او کلمات د خارجي دنیا د مظاهرو دپاره سمبولونه ګڼلي دي. په دې توګه ارستو لومړنی مفکرو چې د الفاظو ډلبندي اوویش مفکوره یې رامنځتـه کـړې او کـلام یـې پـه دریـو برخـو (اسم، فعـل، حـرف) ویشلی دی.
تردې وروسته رومیانو یعنې دروميي تمدن په دورې کې د لاتیني ژبې د ګرامري قواعدو په شرح کولو کې د یو نانیانو د ګرامر لیکنې اصول او لارې چارې په پام کې ونیولې. دوی په حقیقت کې د

---

[1]- و. ي. کود وخوف، عمومي ژبپوهنه، (لوؤ ووڼ ی، مسکو 1974 (7) مخ.
[2] جان، تی، واترمن، سیری در زبان شناسی، ترجمه فریدون بدره ی 1347ص 7 خیاپور، دستور زبان فارسي، چاپ ششم 1347 (ص7).

يوناني ژبې د ګرامري قاعدو په چوکاټ کې د لاتيني ژبې ښېلګې ځای کړلې. ورپسې دغه ډول ګرامر ليکنه او طريقه عربو هم د خپلې ژبې د پاره غوره کړه. عربي پوهانو د خپلې ژبې د جوړښت برخې په دې دريو برخو (اسم، فعل، حرف) هم ويشلې دي. د ارستو دغه ويش تر اوسه پورې د عربي ګرامر پوهانو په اثارو کې استعماليږي چې دغه طريقې فارسی او پښتو ژبو ته هم لاره موندله او د افغاني ګرامر پوهانو له خوا دود شوي دي.

عنعنوي ګرامر چې په لويديځه نړۍ کې رامنځ ته شو هغه ګرامر دی چې د انيوس تراکس (Dionysius thrax) (2 پېړۍ ق.م) په اورپا کې دارستو د ميتود تر څنګ رامنځ ته کړ او ترده وروسته (4 م پېړۍ) دوناتوس (Donatus) د لاتيني ژبې ګرامر رامنځ ته کړ.[1] تراکس د نن نه نژدې 2000 کاله پخوا د يوناني ژبې د ژورې مطالعې او د پخوانيو عالمانو د کشفياتو څخه په ګټې سره کلمه په اته ډوله (اسم، فعل، فعلي صفت، ارتيکل (articulus ضمير، حرف اضافت (Prepostion) (پريدلوګ) قيد، ربط ويشلې ده[2] چې بيا دوناتوس د څلورمې پېړۍ را په ديخوا لاتيني ګرامر د تراکس د ګرامر پر اساس وليکه چې ددغو ګرامر ليکونکو لاره بيا وروسته د يورپ ګرامر يستانوونيوله. دغه ګرامريستان په دې عقيده وو، چې ډېرې ژبې په تيره بيا لاتيني ژبه د معتبرو منطقي او عمومي قواعد و درلودونکې ده. همدغه دګريکو رومن د عنعنې (دود) پر اساس ليکل شوي ګرامرونه دي چې وروسته يې د نورو ژبو لکه عربی، عبرانی، لاتينی 000 او نورو ژبو دګرامرونو اساس جوړ کړی دی. په کال (1784ع) کې د مقايسې او تاريخي ژبپوهنې پيل کيږي. د مقايسې او تاريخي ژبپوهنې په پرمختيا او انکشاف کې د هندي فلالوژۍ او سانسکريت سره د اروپايي پوهانو اشنايي او بلدتيا ډيره ارزښتناکه خبره ګڼله کيږي. په دې سلسله کې د سرويلم جونز نوم د يادولو وړدی. ده په کلکته کې د بنګال اسيايي ټولنه رامنځ ته کړه. په خپله جونز په هندي ژبو او سانسکريت پوهيده[3].

د (17-18) پېړيو په شاوخواکې اروپايانو د پاڼي نی ګرامرومونـد او د هغه په واسطه د سانسکريت د ژبې سره اشنا شول. د پاڼي ني ګرامر د سانسکريت د ژبې په باب ډېر مفصل او ګټور معلومات خلکو ته په لاس ورکړل. اورپايي پوهانو د پاڼي ني د ګرامر موندنې تر مهاله پورې ددغه ګرامر په شان بل کوم کتاب نه وليدلی. (بلوم فيلډ) د پاڼي نې د ګرامر په باب داسې ويلي دي، چې د انساني ذکاوت له سترو يادګارونو څخه دی. دا کتاب د سانسکريت د ژبې صرفي، اشتقاقي، ترکيبي او نحوي شکلونه په ډېرې پاملرنې سره شرح کړي دي او تردې د مخه هيڅ يوه ژبه هم دومره بشپړه او پوره نه وه څېړل شوې. د پاڼي ني د ګرامر سره د پوهانو بلدتيا دوې مهمې

---

[1] و، ي، کود و خوف، عمومی ژبپوهنه (لوؤ   وون ى) مسکو 1974، 11 مخ

[2] و، ي، کود و خوف، عمومی ژبپوهنه (لوؤ   وون ى) مسکو 11،1974 مخ

[3] و، ي، کود و خوف، عمومی ژبپوهنه (لوؤ   وون ي) مسکو 1974، 24مخ

نتیجې ورکړې دي. اول دا چې د یورپ پوهان د لومړي ځل له پاره د یوې ژبې د پوره او دقیق تشریح سره مخامخ شول. او ولیدل شول چې ددغه ګرامر د قاعدو او څېړنو اصول د فرضیو او ذهني تصوراتو پر ځای تطبیقي او عملي څېړونو پربنسټ ولاړ دي، بله دا چې پوهان د نړۍ د ډېرو ژبو سره اشنا شوي وو نو د سانسکریټ سره هم اشنا شول، په دې توګه دوي وکولای شول، چې ددغو ژبو کلمې او الفاظ یو له بله سره پرتله کړي چې البته د مقایسي ګرامر لیکنه د پاني نې د ګرامر د موندنې څخه وروسته پیل کېږي. د پاني نې د ګرامر سره په ګرامر لیکنه کې یو نوی باب پرانېستل شو. وروسته تردې د ژبې څېړونکو ته جوته شوه چې د سانسکریټ او د ځینو لرغونو ژبو لکه یوناني، لاتیني او نورو اروپایي لرغونو ژبو ترمنځ هم د ګرامري جوړښت او هم د لغتونو له مخې ښکاره ورته والې موجود دی نو ځکه د سانسکریت یوناني، لاتیني ژبو د ګرامري جوړښتونو او لغاتو د مقایسوي څېړنو د پرمختګ په ترځ کې د ژبپوهنې مقایسوي برخه تاسیس شوه او پرمختیایې ومونده.

په دې توګه د لویدیځې نړۍ ژبپوهان د اتلسمې پېړۍ د پیل څخه تر نولسمې پیړۍ پورې یعني پوره سل کاله یوله بله سره تړلي دي. ایندو اروپایي ژبې په مقایسوي توګه مطالعه او ددغو ژبو ترمنځ یې د تقابل قوانین د غږونو بدلون او نورې ګډې ځانګړتیاوې او صوتي، لفظي، نحوي مسائل په ژوره توګه څېړلي مطالعه کړې دي.

په همدې توګه د ژبې د مقایسي، مطالعې سره جوخت تاریخي مطالعه او څېړنه هم پیل شوې ده. په دې وخت کې یوه ډله پوهان د مرقومو اسنادو له مخې د خاصو ژبو د تاریخ په مطالعه او څېړنه بوخت شوي دي. ددغو مطالبو د مطالعې مهمه نتیجه د ژبې ددرې ګونو دورو (کلاسیک، منځنۍ، معاصره (اوسنۍ) ټاکنه وه او په دې توګه د یوې دورې نه بلې دورې ته د انتقال مرحلې شرح شوي. چې د هرې دروې صرفي (مور فولوجیکی) او نحوي (سنټکسي) خصوصیات بیان او ښودل شوي دي .څنګه چې د مخه مو اشاره وکړه معاصره او علمي ژبپوهنه په اروپا کې د شلمې پېړۍ له لومړۍ نیمایي څخه شروع کیږي یعنی د ژبې علمي مطالعه د (20) پېړۍ په لومړي سرکې یوې نوې مرحلې ته ورداخلیږي. دا وخت ځینې پوهان دې نتیجې ته ورسیدل چې ژبه د دوو بېلا بېلو خوا وو څخه مطالعه کیدای شي: یوه په تاریخي او بله په تشریحي توګه.

څنګه چې ژبه د زماني په یوه خاصه موده کې او یا د زماني په اوږدو کې تغییر اوبدلون کوي او د ټاکلو قوانینو او قاعدو له مخې عمل کوي، نو که د ژبې د بدلون قوانین د زماني د یوې مرحلې څخه بلې مرحلې ته په ترتیب سره مطالعه شي نو د تاریخي ژبپوهنې مبحث جوړ وي او که چېرې د ژبې قواعد د زماني په یوه ټاکلې مرحله کې وڅېړل شي نو بیا د تشریحي ژبپوهنې

موضوع جوړوي چې په دې توګه ګرامر د تشریحي او تطبیقي ژېپوهنې یوه برخه ده. البته پوهان په دې نظریه هم دي چې د ژبې تشریحي مطالعه، د تاریخي مطالعې څخه ړومبی او مخکې ده. یعنی تر هغه چې د ژبې موجوده حالت شرح نه شي نو تر هغې پورې باید د هغې تېر تاریخ هم مطالعه او تحقیق نه شي[1].

د شلمې پېړۍ د منحنۍ دورې د ژبپوهنې ځانګړتیا او مهم خصوصیت دا دی چې ژبه د یوه ټاکلي جوړښت درلودونکې بولي او په دې توګه هڅه کیږي، چې ژبني علوم د نورو طبیعي علومو سره نژدې کړي. د څېړنې دغه لاره د ژبې د جوړښت د اصالت لاره او مکتب منځ ته راوړي.

د ژبې د جوړښت د اصالت (Structuratism) معنا داده چې ژبه د رابطې سیستم یا یو له بل سره تړلوسیستمونو مجموعه ده. د ژبې جوړونکي عناصر لکه غږونه، الفاظ او نور په خپل منځ کې پرته د متساوي او متناقصو اړیکو دلرلو څخه په ځانګړې توګه اعتبار او اهمیت نه لري نو په دې توګه د ګرامر لیکنې تاریخ راوروسته زمانو ته رسیږي، په 1957 کال کې د چامسکی په نامه یوه عالم د نحوي جوړښت Syntactics Structure تر عنوان لاندې یوه رساله لیکلې ده. دغه لیکنه د ګرامر لیکنې په چوکات کې خورا بدلون بنیي. هغه غوښتل چې د ژبې د جوړښت په باره کې د یوې داسې عمومي او کلي نظریې بنسټ کښیږدي چې د ژبې په باره کې په عام ډول او د هرې ژبې په باره کې په خاص ډول د تطبیق وړوي. ده خپله دغه نظریه د ګزارشي نظریې Transformational theory او هغه ګرامر چې ددغه نظریې په اساس لیکل شوی و. د ګزارشي ګرامر په نامه یاد کړ. ګزارشي یا تطبیقي ګرامر چې یوه نوې ګرامري لاره ده، د انګریزي، روسی او جاپانی ژبو په ګرامر لیکنه کې تطبیق شوې ده، دا ګرامر لیکونکي په دې خبره ټینګ دي چې د ګرامر لیکنې دغه لاره په ټولو ژبو کې تطبیق کیدلای شي. مګر ددې په څنګ کې ځینې ژبپوهان هم شته چې تر اوسه لاددغې نظریې په رښتینوالي شکمن دي. د تطبیقي یا ګزارشي ګرامر او تشریحي ګرامر تر منځ توپیر دادی چې په تشریحي ګرامر کې د ژبې حالت او شکل ته ډېره پاملرنه کیږي او د ژبې تطبیقي یا عملي جنبه له نظره غورځول کیږي، یعنی په تشریحي ګرامر کې د ژبې د حالت او فعالې عملي ترمنځ توپیر نه څرګندیږي. په دغه ډول ګرامر کې د ژبې ثابت او ټاکلی شکل په یوه معینه زمانه کې مطالعه کیږي او د ژبې عملي او فعال صورت ته پاملرنه نه

[1] جان، تی، واترمن، سیري د رزبانشناسی، ترجمه بدره ي 1347 ص 101

کیږي، ګزارشي ګرامر د ژبې د عملي جنبې د شرحې پر اساس ټینګ او استواره دی، چې طبعا ددغه هدف د لاس ته راوستلو له پاره د ژبې د حالت څخه هم خبري کیږي.

اوس په دې برخه کې غواړم د پښتو ژبې ژبنیو څیړونو ته یو لنډ نظرواچوم. د پښتو ژبې په اوږد او لرغوني تاریخ کې دوه وروستي پېړۍ د ژبنیو څېړنو او ژبنیو مواد و په رامنځ ته کیدلو کې ارزښتناکه دوره ګڼله کیږي. تر دې د مخه د پښتو ژبنیو څېړنو ته د چاپام نه دی ورګرځیدلی. مونږ د (18) پېړۍ څخه وړاندې د پښتو ژبې د اصولو په باب څه څرك نه وینو او په دې برخه کې څه پته نه لګیږي او یا خولادرکه دي.

پښتو یا د افغانانو ژبې ډېرو وروستو زمانو کې د نړۍ د ژبپوهانو پام ځان ته را اړولی دی. په اروپا کې د ژبپوهنې د پرمختګ او د هندي اریایي ژبو سره ددوي بلدتیا ددې سبب شوه چې د پښتو ژبې په باب څېړنې او تحقیقات هم رامنځ ته شي.

د پښتو ژبې د ګرامرونو په باب که څه هم په اول سرکې د پښتنو پوهانو له خوا اثار لیکل شوي دي خو وروسته په کې اروپایي پوهانو هم پوره برخه اخیستې ده او د شرقي ژبو د پلټنو په سلسلې کې یې د پښتو ژبې په باب ښې پلټنې کړي دي. ختیځ پوهانو د علمي پلټنو په لړ کې پښتو ژبې ته هم پوره پاملرنه کړې ده او د بېلو بېلو هیوادو ختیځ پیژندونکو د پښتو ژبې قاموسونه، ګرامرونه او نور ژبني اثار لیکلي او علمي څېړنې یې ترسره کړي دي.

دغه څېړنې د نړۍ په بیلو بیلو هیوادونو لکه المان، انګلستان، شوروي اتحاد، فرانسه، امریکا، چکوسلواکیا، ایټالیه، سویس، ناروی او نورو کې شوي دي. د یورپ پوهانو د پښتو ژبې په باب او د هغې د منشا او پیدایښت په باره کې نظریې او څېړنې وړاندې کړي دي او همدارنګه د پښتو ژبې خپلوي او اړیکې د نورو ایندو اروپایي ژبو سره د مقایسوي تاریخي، مقابلوي ژبپوهنې له مخې ثابته کړې ده.

په یورپ کې د جمیز د ارمستېټر (1849-1894) او وریسي د ګایګر (1856-1942) او مارګېنسټر (1892-1980) ایمل بنونیست (1902-1976) د پښتو په باب ددوي څېړنې د قدر او یا دولووړ دي. دار مستتر په 1888 کال په اروپا کې د (افغانانو ژبه) تر سرلیك لاندې یو اثر لیکلی دی چې دواك (اواز شناسی) صرف، اشتقاق او ترکیب برخې لري. او همدارنګه په همدغه اثر کې د پښتو د منشا په باب نظریې ځای شوي دي.

ترده وروسته ویلیم ګایګر (1942-1856) داو ستا د ژبې سره د پښتو مقایسه ترسره کړې چې په دې کې 389 پښتو کلمې د اوستا او نورو لرغونو ژبو سره مقایسه کړې چې بیا مارګنیسترن دغه کار بشپړ کړی دی ځکه مارګنسترن خپل اثر ګایګر ته اهدا کړی هم دی.

د ګایګر د کتاب دویمه برخه چې (27) مبحثه لري د پښتو ژبې واکشناسي (تحقیق، تلفظ) په نامه یادیږي.

که د پښتو ژبې د تحول او انکشاف د ډیرو لوړو او ژورو څخه راتېر شو او د ژبې د ژبني موادو او مطالعاتو تاریخچې ته نظر واچوو نو داسې ځرګندیږي چې د (19) پیړی پیل د پښتو قاعدو په باب لومړني اثرونه په لویدیځه (اروپا) اولره، بره پښتونخوا کې ددغو لاڅدنیو علتونو له مخې منځ ته راغلي دي.

پښتنو لیکوالو د نورو زیاتو کتابونو ترڅنګه ژبني کتابونه اور سالي لیکلي او د پښتنو پاملرنه یې د پښتو ژبې د ترقۍ او ژوند د پاره راګرځولې چې دلته د لیکوالو مرام او مقصد د ژبې تعلیم او ښوونه ده.

کوم پښتو ګرامرونه چې تر اوسه لیکل شوي، ځینې مفصل او ځینې یې لنډ دي چې پر ټاکلو موضوعګانو بحث کوي او بشپړ او نا بشپړ ډولونه هم په کې لیدلای شو، په هر حال دغه ګرامرونه د لاڅدنیو مرامونو له پاره جوړ شوي دي.

الـف: لومړی ډله د پښتنو لپاره، چې د خپلې ملې ژبې ګرامر تري زده او ګرامري اصطلاحګانو سره بلدتیا پیدا کړي.

ب: دویمه ډله هغه دي چې زده کوونکي د هغو په مرسته پښتو زده کړي چې په دې کې باندنیو او کورنیو پوهانو برخه اخستې ده.

دلته باید زیاته شي چې د خارجی ختیځ پوهانو له خوا ځینې ګرامرونه او یاګرامر ډوله اثرونه اساسا د پښتو زده کړې له پاره په سیاسي او اداري لحاظ لیکل شوي دي. په دې لړکې د هانري والترېبیلیو او راورټي (1906-1825) ګرامرونه د بیلګې په توګه نومولی شو. په خپله بیلیو د پښتو زده کړه په افغاني سیمو کې د برتانوي مامورینو داداري او سیاسي اغیزناکۍ د پاره حتمي ګڼله[1].

---

[1] پ تو چاپی اثار و د مقالو مجموعه (وا ه) کابل 1357 کال 87 مخ.

د لاسته راغلو مدارکو او اسنادو له مخې د پښتو ژبې په ګرامر لیکنه کې د دوومېتودونو څخه کار اخیستل شوی دی.

1- لومړی هغه بڼه ده چې د عربي ګرامر په دود ترتیب شوي چې دغه ډول په اسلامي هیواد کې ډېر رواج موندلی دی.

او بله ډله هغه چې د غربي نمونې رنګ په کې غالب دی. دې ګرامر ته مونږ غربی مېتود یا تحول موندلې نمونه وایو.

ددغه پورتنیو میتودونو په اساس د پښتو ژبې لیکل شوي ګرامرونه چې د خټیځ پوهانو او یا پښتنو پوهانو له خوارامنځ ته شوي د یولنډ فهرست په توګه راوړل کیږي.

الف: هغه اثار چې د کورنیو پوهانو له خوا رامنځ ته شوي دي په لاندې ډول دي:

1- ریاض المحبت: دا د نواب محبت خان اثر دی چې په (1806ع) کال چاپ شوی دی. دغه اثر درې برخې لري: الف: د پښتو ژبې لغات ب: د فعلونوګردانو نه ج: د تاریخي احوالو بیان. د اثر یوه قلمي نسخه په 1855 کال د کلکتې څخه لیننګراد ته وړل شوې ده او بله نسخه یې د لندن په موزیم کې شته دی.

2- معرفت الافغاني: دغه اثر درسي بڼه لري او د پیر محمد کاکړ له خوا په (1195 هـ ش) کال لیکل شوی دی.

یو ځل په (1341هـ) کې د ملاجان او ملا بسم الله تاجرانو له خوا چاپ شوی او بیا د اطلاعاتو او کلتور وزارت له خوا په (1356ش) کال چاپ شوی دي.

3- پښتو ګرامر: ددغه کتاب لیکونکی نواب انشا الله خان انشا دی. دغه کتاب په (1817ع) کال کې لیکل شوی او خیال بخاري د خپل ګرامر په سریزه کې ددغه اثر ذکر راوړی دی او د کتاب په باره کې نور څه معلومات نشته.

4- وافیه: د پښتو ژبې ګرامر دی چې مولف یې قاضي میر احمد شاه رضواني دی او دغه کتاب په (1890ع) کال په لاهور کې چاپ شوی دی. یوه نسخه یې د پخواني شوروي د تاجکستان د علومو د اکاډیمی په کتابتون کې خوندي ده.

5- اتالیق پښتو: ددې کتاب لیکونکی مولوي محمد اسماعیل نومیږي دغه کتاب په (1896ع) کال په پنجاب کې خپور شوی دی په دې اثر کې دا سمونو، فعلونو او نورو معمولي

محاورو استعمال راغلی دی: ددغه اثر یوه نسخه د پخواني شوروي تاجکستان د علومو د اکاډیمۍ په کتابتون کې خوندي ده.

6- تحفې الامیر: څنګه چې دغه اثر د امیر شیر علیخان نامه ته اهدا شوی دی نو په دغه نامه سره یادیږي دا هم د پښتو ګرامر دی چې مولف یې نور محمد افغان دی. دغه کتاب په (1279هـ) کال لیکل شوی دی. اثر په پارسي ژبه لیکل شوی او مثالونه یې په پښتو دي، په اثر کې صرفي او نحوي مسایل راغلي دي او یوم نسخه یې په پښتو ټولنه کې وه.

7- پښتو پښو یه : دغه اثر د پښتو مرکې له خوا لیکل شوی او په (1347هـ ق) کال په کابل کې خپور شوی دی.

8- معلم پښتو: دغه اثر هم د پښتو مرکې له خوا په (1314هـ ش) کال په کندهار کې چاپ شوی دی.

9- ګنجینه افغاني: قاضي رحیم الله پېښاوري دغه نوموړی اثر په (1938ع) کال کې بشپړ کړی دی.[1] همدارنګه قاضی رحیم الله خان یوبل درسي ګرامري کتاب په (1966ع) کال پېښور کې چاپ کړی دی[2] ددغه اثر تشریحات انګریزي دي.

10- خود اموز پښتو: دغه یو درسي ګرامري اثر دی چې په (1313 هـ ش) کال کې د کندهار طلوع افغان له خوا خپور شوی دی. ددې اثر مولف صالح محمد کندهاری دی.

11- پښتو ژبه لومړی او دوهم ټوک:

13- د پښتو ژبې لیاره: د پښتو ژبې د ګرامرونو په لومړي کتار کې ځای لري. ددغه اثر لیکونکی اروابناد محمد ګل مومند دی. د خپریدو نېټه یې (1317 هـ ش) (1938 ع کال) او په لاهور کې خپور شوی دی. دغه اثر درې برخې لري: د صرف، د نحوې، د مصدرونو برخه.

14- قواعد پښتو : دغه ګرامري لیکنه د محمد اعظم ایازي ده چې په کال (1318هـ ش) د پښتو ټولنې له خوا چاپ شو دی. په اثر کې دپښتو ژبې صرفي او نحوي قواعد څېړل شوي دي.

---

(1) Qazi rahimullah Khan. The Modern Pushto Instructor. Peshawar, I-II, 1938 -1943.

(2) Qazi Rahimullah Khan. The Modern Pashto Instructor. Peshawar, Volume I, 1966.

15- د پښتو درسي ګرامر: (پښتو شپږمه ټولګي) د ګرامري قواعد و ساده، روان درسي کتاب دی چې په کال (1945ع 1324هـ ش) کې پوهاند رښتین لیکلی او د پښتو ټولنې له خوا په کابل مطبعه کې چاپ شوی دی.

16- لومړی لیارښوونکی: دغه اثر په کال (1326 هـ ش) (1947ع) د پښتو ټولنې له خوا د کابل په مطبعه کې چاپ شوی او ددغه کتاب لیکونکی هم پوهاند صدیق الله رښتین دی. په دې کې ګرامري قواعد په درسي بڼه لیکل شوي دي.

17- پښتو ګرامر لومړی جز: دغه ګرامر د ژبې د دستور او قاعدې ښودلو کتاب دی. د کتاب لیکوال پوهاند صدیق الله رښتین دی. نوموړی اثر په (1327 هـ ش) کال په کابل کې د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی. په دغه اثر کې ډېر نوي پښتو ګرامري قواعد او اصطلاحګانې راغلي دي. دغه اثر یو لوی اکاډیمیک علمي ګرامر دی؟.او د پښتو ژبې د قاعدو ښودلو ښه علمي اثر ګڼل کېږي.

18- د پښتو ګرامر دویم جز: دغه مهم اثر په کال 1359 لمریز کې د لوی استاذ پوهاند صدیق الله رښتین له خوالیکل شوی و. دغه ګرامر بیا په 1370 لمریز کال د ښوونې او روزنې دوزات له خوا په دولتي مطبعې کې په 223 مخونو کې چاپ شوی دی. "په پښتو ګرامر لیکنه کې د ارواښاد لوی استاد پوهاند صدیق الله رشتین علمي څېړنې او اثار ستر ځای لري. د ګرامر لیکنې د اصولو په اساس یې داسې ګرامري څېړنې کړې او داسې اثار خپاره کړي چې تر اوسه پورې په پښتو ژبه کې په افغانستان کې ساری نه لري.

د لوی استاد دغه اثار نه یوازې په افغانستان کې بلکې د اکثرو بهرنیو ژبپوهانو لپاره چې د پښتو ژبې ګرامرونه یې لیکلی دي د استفادې مستند اسناد او اساسي منابع دی او په افغانستان کې تر اوسه پورې هم داسې د پښتو ګرامر نه دی لیکل شوی، چې د پښتو ژبې د عملي زده کړې له پلوه دې د لوی استاد پوهاند ریشتن د اثار ورځای ونیسي".

19- پښتو ګرامر: د لوی استاد پوهاند رښتین پښتو ګرامر (اول او دویم جز) دواړه ټوکه یو ځای په یوه ټوک کې د یونیورستي بك ایجنسي له خوا خپور شوی دی. د پوهاندرشیتن دغه ګرامر د پښتو ژبې اکاډیمیك اعلمي معیاری او مکمل اثردی. د نوموړي اثر فارسي متن ښاغلي سید محی الدین "هاشمي" د ارواښاد پوهاند صاحب په مشوره په پښتو ژباړلی دی.

20- ژبښودنه : ددې تدريسي اثر ليکوال هم پوهاند صديق الله رښتين دی. په دغه اثر کې د ژبښود يا ژب دود، د ليک دود او ليك ښود برخې راغلي دي. دغه اثر په 1341 لمريز بيا په 1342 لمريز دريم ځل په 1347 لمريز کال خپور شوی دی او څلورم ځل په پېښور کې چاپ شوی دی.

21- د پښتو مصدرونو لاربښود: دا کتاب د پښتو ژبې د مصدرونو او د فعلي صرفي مسايلو ښه لاربښود دی دغه اثر په کال 1344 د پښتو ټولنې له خوا خپور شوی دی. ددې اثر ليکونکی هم استاد پوهاند رشتين دی.

22- صرف و نحو پښتو: ددې کتاب مولف ښاغلی عظيم شاه خيال نوميږي کتاب په پېښور کې چاپ شوی ولی د چاپ نيټه يې نه ده ښودلې شوې، يوازې ليکوال د کتاب په سريزه کې ليکي چې دغه اثر د 1940 څخه تر 1944 ع کاله پورې ليکل شوی دی.

23- د پښتو قواعد: د ښاغلي حافظ محمد ادريس او ښاغلي عبدالحليم (اثر) ليکنه ده، چې د منځنيو ښوونځيو له پاره د درسي کتاب په توګه ورځني کار اخيستل کيږي دغه ګرامر په اردو ژبې ليکل شوی دی.

24- د پښتو قاعدې: ددغه کوچني ګرامري اثر ليکوال سيد راحت زاخيلی دی چې په (1954ع) کال په پيښور کې خپور شوی دی.

25- د پښتو قواعد: ددې اثر مولفين سيد تقويم الحق کاکا خيل او سيد تسنيم الحق کاکا خيل دي. په 1953 کې پښتو اکاډيمي چاپ کړی دی.

26- د پښتو ژبې لنډ ګرامر: دغه کوچنوټی کتاب په 1320 شمسی کال په کندهار کې د فضل محمد کندهاري له خوا ليکل شوی دي.

27- اتاليق پښتو: خيال بخاری په اردو ژبه ليکلی دی. دغه رساله په کال 1969ع کې خپره شوې ده.

27- د پښتوګرامر طرحه: په دې نامه د پوهاند محمد رحيم الهام هغه څېړنې دي چې د پښتو ګرامر د فونولوژی په برخه کې معلومات وړاندی کوي. همدارنګه د ژبپوهنې د څانګې په برخه کې تشريحي معلومات هم لري دغه رساله د وږمې مجلې د 1344 لمريز کال په (1-2-3) ګڼو کې خپره شوې ده.

28- جامع القواعد د پښتو: مولف يې عبدالکريم بريالی دی. پښتو اکاديمي بلوچستان کويټه له خوا چاپ دی.

29- پښتو پښویه دښاغلي مجاور احمد زیار له خوا لیکل شوی دی.
30- پښتو نحوه: دغه اثر هم په کال 1366 لمریز د کابل پوهنتون له خوا ګستتنر په توګه چاپ شوی دی.
31- سوچه پښتو یوه جایزه: د ډاکتر خدایداد اثر دی په 1988ع کال د بلوچستان پښتو اکیډیمۍ چاپ کړی دی.
هغه ګرامري قلمي نسخې چې تراوسه چاپ شوي نه دي په لاندې ډول پېژندل کېږي:
1- پښتو ګرامر: دا د ښاغلي عبدالواحد خان له خوالیکل شوی او دعامه کتابخانې په کتابتون کې د جوایزو په څانګه کې خوندی دی.
2- د پښتو مفصله صرف ونحو: د غلام جیلاني خان جلالي لیکنه ده، چې د عامه کتابخانې په قلمي نسخو کې ځای لري.
3- د پښتو کوچنی ګرامر: دغه اثر محمد دلاور لیکلی او په عامه کتابخانه کې خوندی دی.
4- پښتو ګرامر: دا د ښاغلي مولوي شیرګل هغه لیکنه ده، چې په پښتو ټولنه (د افغانستان د علومو اکاډیمي) کې خوندي ده.

ب: د هغو ختیځپوهانو د ګرامري اثارو یادونه کوو چې د اتلسمې پېړۍ را په دېخوا لیکل شوي او خپاره شوي دي.

1- دروسي پوهان کلاپورت څېړنې د پښتو ګرامر په برخه کې د لومړي ځل له پاره لومړنۍ هڅه ده. ده خپل اثر په 1810ع کال چاپ کړ.
2- ترده وروسته ایوریسمن د کلاپروت د تحقیقاتو پر اساس څېړنې ترسره کړلې او دده دغه څېړنې په 1833ع کال د چاپ له ډګر څخه راوتلي دي.
3- په 1839ع کال کې میجر. ر. لیچ د پښتو ژبې د ګرامر په برخه کې یوه وړه رساله لیکلې ده.
4- په 1842-1845 ع کلونو کې د پښتو ژبې ګرامري اثرونه د پروفیسور دورن له خوا لیکل شوي او چاپ شوي دي. د ختیځ پوهانو په ډله کې لومړی سړی دی چې د پښتو ژبې د علمي مطالعې له پاره یې هلې ځلې کړې دي.

5- په 1854ع کال کې د پښتو کوچنی ګرامر د واګن (Vaughan) له خوا په کلکتې کې خپور شو.

6- (د پښتو یا افغانانو د ژبې قواعد) په نامه ګرامر د جارج، هانري راورټي له خوا په 1855-1856 او دوهم چاپ 1960 کال په لندن کې له چاپه راوتلی دی.

7- (د پښتو یا پختو ژبې قواعد) د هانري والتربیلیوله خوا په 1867ع کال په لندن کې خپور شوی دی. او دوهم ځل چاپ یې په 1901 په لاهور کې شوی دی. دغه اثر په 1318هـ ش کال په پښتو ټولنه کې ترجمه شوی خو تر اوسه لاچاپ شوی نه دی

Grammar of the Pashto or the Language of the Afghans-8

دغه پښتو ګرامر په 1873ع کال کې د جرمنی ختیځ پوه ترومپ (Trumpp) لیکلی چې په لندن کې خپور شوی دی. اثر په جرمنی ژبه لیکل شوی او مثالونه یې په پښتو او هندي راوړي دي.

9- ګولډن شتیت: لومړنی جرمنی ختیځ پوه دی، چې د پښتو په باب یې یو اثر لیکلی دی. د معاصر روسی ختیځ پوه برتلس[1] په قول نوموړی د ختیځپوهانو له ډلې څخه لومړنی سړی دی چې د پښتو ژبې په هکله یې څېړنې شروع کړې دي. دده په اثر کې د ګرامر او لغتونو فهرست لیدل کیږي. دغه اثر په (1791ع) په سنت بتر زبورګ (لیننګراد) کې خپور شوی دی او داسې ښکاري چې دغه اثر تر اوسه د (برټش موزیم) په کتابتون کې خوندي دی[2].

10- ډارمستتر فرانسوی ختیځ پوهان دی په 1888ع کال کې (د افغانانو ژبه)[3] په نامه یو اثر لیکلی چې علمي او ګرامري ارزښت لري.

11- په المانی ختیځ پوهانو کې دګایګر نوم مشهور دی. ده په 1893ع کال کې دپښتو ژبې د فلالوژی په برخه کې یوه رساله لیکلې ده.

ده په دې رسالې کې د تهجی حروف په ترتیب سره او ډېر پښتو لغتونه د سانسکریټ، او ستا پخوانۍ او اوسنۍ پاړسو سره پرتله کړي دي.

12- د پښتو ژبې لنډ ګرامر د بیدولف له خوا په 1890ع کال په لندن کې خپور شوی دی.

13- په 1901ع کال د روس کیپل له خوا د پښتو ژبې یو ګرامر لیکل شوی دی[1].

---

[1] **برتلس، د پ تو ژبی کندهاري لهجهء لینن راد** 1935 **کال** 173 **مخ**

[2] **اولس مجله** 1972**ع کال** 201 **مخ**

[3] James Darmesteter, La lanague des Afghans, premier chapter dansla collection chants populaires des Afghans Paris 1888-189

[1]A.G.Roos keppal, A Manual of Pashto. London. 1901

14- ج، لاریمر هم د ختیځ پوهانو له ډلې څخه دی چې دوزیرو د لهجې یوګرامر او قاموس لیکلی دی. دغه اثر په 1902ع کال په لندن کې خپور شوی دی[2].

15- په 1908ع کال د پښتو ژبې د ګرامر او لغت په باره کې یوه کوچنۍ رساله د تومانوویچ له خوا په تاشکند کې خپره شوې ده. دغه اثر په روسی ژبه لیکل شوی دی.

16- داي. دي کاکس له خوا د پښتو ژبې ګرامر په 1911ع کال په لندن کې چاپ شوی دی.

17- لاریمر (ډ.ل.ز) (د پښتو نحوه) په نامه خپل اثر لیکلی او په 1915 کال په اکسفورډ کې خپور شوی دی.[3] دغه کتاب 377 مخونه لري او په پای کې د پښتو لغتونه په انګریزي ترجمه شوي دي. دغه اثر په 1319 ش کال د پښتو ټولنې له خوا پښتو شوی دی.

18- مارګن سټرن د ختیځ پوهانو له ډلې څخه هغه ژبپوهان دی چې د پښتو ژبې په باب او د افغانستان د نورو ژبو لکه (پراچی، اورمړي، پامیري او نورستانی) ژبو کې هم څېړنې کړې دي.

ځکه ورته د پښتو پېژندونکو استاد او لارښود ویلی شوی دی. دده ادبي او ژبنۍ څېړنې نه هیریدونکي دي. نوموړي د پښتو کلمو د ایتمالوجۍ په باب یو ښه علمی او ارزښت ناك اثر لیکلی دی. دغه اثر په 1927 کال په اوسلوکی چاپ شوی دی.

19- برتلس روسی ختیځ پوه په 1935 کال د پښتو ژبې کندهارۍ لهجه په نامه یوه رساله لیکلې او په لیننګراد کې خپره شوې ده. رساله په 1356 کال ترجمه او د هم دغه کال د وږمې مجلې په دویمه ګڼه کې خپره شوې ده.

همدارنګه برتلس د پښتو ژبې ترکیب او ساختمان په باب هم یوه رساله لیکلې چې په کال 1936 په لیننګراد کې خپره شوې ده.

20- اسلانوف د پښتو ژبې د ګرامر او لغاتو په باب د یادولو وړ خدمت ترسره کړی دی. اسلانوف د پښتو ژبې لنډ ګرامر د پښتو زده کوونکو د پاره په 1936 کال په مسکو کې چاپ کړی دی.

او بل اثريي د پښتو ژبې داصواتو ترکیب په 1950ع کال په مسکو کې خپور شوی او په پای کې د پښتو روسی قاموس ضمیمه هم لري. د پښتو ژبې معاصر ګرامر هم د نوموړي بل اثردی. ددغه اثر په باب زما په نظر بشپړ معلومات نه دي راغلی.

---

[2] د زیاتو معلوماتو دپاره د 1355 کال د وږمې مجلی دریمه ګڼه (46) مخ کې خپله د لیکوال مقاله و ورئ.

[3] د همدغه مجلې دریمه ګڼه (46) مخ.

21- ك. ا. ليبديف- د پښتو ژبې په ګرامر ليکنه کې زښت زيات کارګړی دی. د پښتو ژبې ګرامرونه يې په جلاټوکو (1) چې 1945 (2) په 1956ع (3) په 1970ع کلونو کې چاپ کړي دي.

22- ن. ا. دوريانکوف (د پښتو ژبه) په نامه يوګرامري اثر لري چې په1960ع کال په مسکو کې خپور شوی دی.

23- دوکتور ا. م. ارانسکی د پښتو ژبې ګرامر په نامه يوه وړه رساله ليکلې ده. د پښتو د معاصرې ژبې د فعل شکل او د تکرار دکته ګوريو په باب علمي ليکنه ګڼله کيږي.[1]

24- هربرت پنزل په افغانستان کې د خپلې استوګنې په موده کې ځيني علمي څېړنې کړې او په دغه وخت کې يې ځيني مواد راټول کړي او په دې اساس يې يو پښتو ګرامر د A Descriptive Study of the Dialect of Kandahar په نامه ليکلی دی. دغه کتاب په 1955ع کال په واشنګتن کې خپور شوی دي. دغه اثر پوهاند الهام ترجمه کړی او په 1340هـ. ش کال د کابل پوهنتون له خوا چاپ شوي دی. په دغه ليکنه کې د پښتو کندهاری لهجې فونيټکی، ګرامري برخې څېړلې دي او د ننګرهاری، کندهاری لهجې ځيني توپيرونه يې څرګند کړي دي.

25- ډاکتربرژي بيچکا چکوسلواکی ختيځ پوه د پښتو خج په نامه يوه وړه رساله ليکلې ده.

26- زويا، مارتيا نيونا، کالينينا: د شوروي اتحاد د ختيځ پوهانو له ډلې څخه ده. دا ختيځ پيژندنې په انستيتوت کې د افغانستان څانګې يوه تکړه غړې وه. د کالينيني ټولې ليکنې او څېړنې د پښتو په ژبني او ګرامي موضوعګانو پورې اړه لري.

د معاصري ادبي پښتو ژبې لغت پوهنه 1972 د مسکو چاپ او په معاصره ادبي پښتو کې مرکبې تابع جملې 1966 د مسکو چاپ او په معاصره ادبي پښتو کې امريه جملې (1) شرطيه او تمنايي جملې (2) مقالې په روسي ژبه د نوموړې ليکنې دي.

27- د پښتو ژبې د ګرامر ځيني اساسات: د ا-د- شافيف ليکنه ده. دغه اثر په روسي ژبه د زودين روسي پښتو قاموس په پای کې خپور شوی دی.

28- عبدالحفيظ- غنی يف هم د پښتو ژبې په باره کې ځيني ليکنې کړې دي. د پښتو ژبې د افعالو مجهولې صيغې او د پښتو ژبې د افعالو مجهولو صيغو جوړښت په باب ليکنې دي.

---

[1] **د تاجکستان دولتي پوهنتون علمي ياد ـتونه د بشري علومو سلسله، 1954 کال د (201-223) مخونو پورې.**

29- پښتو ګرامر د پروفيسر (ا-ل- ګرونبرګ) له خوا ليکل شوی دی چې په لېننګراد کې په 1987ع کال چاپ دی او دغه ګرامر زما په خيال په شوروی اتحاد کې وروستنی ليکل شوی ګرامر دی چې چاپ شوی دی.

ګرامر Grammar: د ګرامر اصطلاح د لاتيني ژبې د ګراماتکس (Grammatics) او يوناني ګراماتيکې (Grammatike) له ارې (ريښې) څخه راپاتې ده.

په انګريزی کې (ګرامر Grammar) روسي کې ګراماتيکه ويل کيږي. ګرامر د تشريحي ژبپوهنې يوه غوره او ستره څانګه ده چې د يوې ټاکلې ژبې د کلمو، جملو درغاونې او جوړښت د قاعدو سيستم تشريح او مطالعه کوي او يا د ژبې صرفي (مور فولوجيکی)، نحوي (سينتکسي) جوړښت او ساختمان ترکتنې او څېړنې لاندې نيسي. په دې معنا چی د يوې ژبې د الفاظو (لغاتو) د تغير او بدلون اشکال د هغوی ترکيب د جملو جوړښت او ځرنګوالی مطالعه او تشريح کوي.

په ګرامري څېړنو کې ژبه د قوانينو تابع نه ګرځوله کيږي، بلکې ګرامر د ژبې قاعدې څنګه چې د هغې ژبې اصلي ويونکي استعمالوي راباسي اوشرح کوي يې. څنګه چې هره ژبه ځانته د جوړښت اصول او قاعدې لري نو ځکه د ټاکلې ژبې په ګرامري ليکنو کې خپله د هم هغې ژبې قواعد او اساس غوره ګڼل کيږي، چې د نوې ژبپوهنې د اصولو او اساساتو سره برابره خبره ده.

په ډېرو زياتو ليکنو کې ليدل کيږي چې دغه موضوع په دوو اساسي برخو ويشله شوې ده:

1- مورفولوژي (د يوناني د مورف (Morph) (فورمه) او لوګوس (Logos) (پوهه) څخه لاس ته راغلې ده.

2- سينتکس د يوناني (Syntaxis) څخه د (يو ځاي کيدنه) (جوړښت) (ترتيب) او (رابطی) په معنا رواج موندلی دی[1].

د صرف او نحوې (مورفولوژي او سنټکس) تر منځ بېلوالی اواړيکی:

Syntax سنټکس (نحوه)

---

[1] يو. د. ماسلوف. د ژبپوهن مقدمه. ويشايا شکوله. مسکو. 1975 (163) مخ

په اصل کې نحوه يوه عربي اصطلاح ده چې لغوي معنا يې لاره، طريقه، روش- دود- طرز ده مګر د ګرامري معنا له مخې د ګرامر هغه برخه ده، چې په جمله کې د کلمو په مطابقت ارتباط، ترتيب او ترکيب باندې غږيږي يا په بله وينا نحوه هغې پوهنې ته وايي چې د يوې ژبې د جملو، عبارتونو، فقرو، غونډونو د جوړښت، ترتيب، تنظيم او جوړښت څېړي. نحوه (سينټېکس) له مورفولوژۍ، سره نژدې او مستقيمه رابطه لري ځکه د ژبې صرفي جوړښتونه تر ډېره ممکنه ځايه پورې د نحوي نظم جوړښت او ترتيب سره مشخصه او ټاکلې وظيفه لري. برسېره پردې په اساسي توګه هغه معنا لرونکي عناصر چې عبارتونه او جملې جوړوي په واقعيت کې همدغه مورفيمونه (ازاد، مقيد) دي چې د يوې ژبې په ګرامري ساختمانو کې ستره برخه اخلي.

په پښتو ژبه کې (نحوه او سينټېکس) دواړه اصطلاحګانې د ټاکلي ګرامري مفهوم او معنا له پاره کارول کېږي او په ګڼ شمير ګرامرونو کې چې په پښتو ژبه کې ليکل شوي دي د عربي اصطلاحات لکه (صرف- نحوه) مروج اوتر اوسه پورې هم رواج لري، ولې په شلمه پېړۍ کې سنيټېکس د نحوې په معنا يا نحوه د سنيټېکس په معنا رواج شوې ده، چې البته د معنا او مفهوم له مخې د يوه ټاکلي مقصد د پاره استعمالېږي. که د سينټېکس اصطلاح ته ځيرشو او هغه هم د يوناني ژبې سينټېيس د اصطلاح سره مقايسه کړو، ګورو چې په دواړو کلمو کې يوه ګډه رېښه پرته ده يعنې د (Synt سينټ) برخه په دواړو کې شريکه ده. چې د ترکيب، يو ځای کېدو، ګډون په معنا راتلای شي، نو ځکه چې Sinthesis د برخو د اجزاو د ترکيب په معنا دی نو Syntax سينټېکس هم د ژبني ترکيب په معنا ترجمه کېدای شي. ددې له پاره چې د سينټېکس په برخه کې زياتې څرګندونې تر لاسه کړو نو بده به نه وي چې د ژبپوهنې ددغې اصطلاح د استعمال ځای او څرنګوالی وپېژنو. ښکاره ده، چې ژبنی سيستم د ترکيب او د ونې څخه پرته نه شي راتلای او په دې توګه (سينټېکټيک) ژبنی سيستم په جمله کې د کلمو او لغاتو د ټاکلو ځايونو، د کلمو د استعمالولو ترتيب او تنظيم څخه پرته بل شی نه دی او يا دا چې په نحوي سيستم کې د نحوي واحدونو او د هغوی مربوطه اجزاو تجزيې، ترکيب، ترتيب او څرنګوالی نحوه بلل کيږي.

همدارنګه دا سيستم د ژبني ترکيب د لغتونو او کلماتو د يووالي او په ژبه کې د لغتونو له استعمال څخه بحث کوي. دلته خو ددې خبرې يوه يادونه هم بې ځايه نه برېښي چې په مورفولوژۍ کې هم د لغاتو جوړوني او ترکيب څخه خبرې کيږي خو دا ډول لغات جوړونه او ترکيب بايد د

(Syntax سینټېکس) او نورو ژبنیو ترکیبونو سره ګډ نه شي. څنګه چې وینو په ترمینالوژۍ کې هم د کلمو او اصطلاحګانو د جوړوني او ترکیبونو څخه خبرې کیږي ولې سینټېکس، مورفولوژي، ترمینالوژي او نور ژبني ترکیبونه باید سره ګډ نه شي. د پورتنیو څانګو تر منځ پر مشابهتونو سربېره توپیرونه هم شته او هم شریکې نښې نښانې یې تر څېړنې لاندې باید ونیول شي څکه پرته له دغه ډول څېړنې څخه نه شوکولای چې سینټېکس باندې ویوهیږو خو دا حقیقت ښایي هم هېرنه شي چې د ژبپوهنې د پورتنیو څانګو ترمنځ د توپیر کرښه دومره پراخه اوارته نه ده، چې یو تر بله دې نژدیوالی او ژبني اړیکي ونه لري.

2- صرف (مورفولوژۍ) د ګرامر د بلې اساسي برخې په توګه:

په دې پوهیږو چې مورفولوژي د ژبپوهنې د یوې څانګې په توګه د ژبې د کوچنیو واحدونو د جوړښت او سترکچربیان دی. یا په بله وینا سره مورفولوژي د ژبې د مورفیمونو د همدغو کوچنیو واحدونو ترکیب او رغاونې، ګردان او د هغو له ډولونو سره سروکار لري. دغه د ژبې مورفولوژیك سیستم دوې برخې لري:

1- انفلکشن (صرف):

2- ډرایویشن (اشتقاق).

د ګرامر په دې څانګې کې د ځینو اصطلاحګانو لکه (مختاړي، وروستاړي، منځتاړي، تنه، مونډ یاریشه) سره مخامخ کیږو- همدارنګه د مورفیم- الومورف او داسې نور مورفولوژیکي اصطلاحات هم تر سترګو کیږي. په سینټېکس کې هم د ځینو اصطلاح ګانو سره مخامخ کیږو لکه تګمیم او سینتاکم، نوله دې پلوه مورفولوژي له سینټېکس څخه جلا او بېلولی شو. څنګه چې د مخه موهم وویل، نحوه Syntax هغه علم ته وایي چې مونږ ته د جملې د جوړولو قاعدې او د هغې داجزاو ترتیب او د کلمو ترمنځ رابطه یو د بل سره راښیي. همدارنګه ویلی شو چې مورفولوژۍ او سینټېکس د خپلو ځانګړو اصطلاحګانو او خصوصیاتو په درلودلو سره په تیوریتکي لحاظ که له یوې خوا سره بېل دي نو له بلې خوا یو تر بله اړیکی هم لري.

د پورتنیو څانګو د تیورۍ سیستمونه او نظامونه یو له بله توپیر لري. سینټېکس د مورفولوژي، ترمینالوژي او نورو ژبنیو مرکباتو سره هم ژبنۍ اړیکې ساتي مګر د ژبې د نحوي واحدونو او نحوي کته ګوریو اصلي برخه جمله ده. دلته د اسوال رامنځته کیږي چې جمله د ژبې د

نورو نحوي واحدونو څخه څه توپير لري، د ژبې د جملو او نورو واحدونو (فونیم، مورفیم، کلمه، ترکیب (غونډ) توپیر په څه کې دی؟

د ژبې دغه نور واحدونه لکه (فونیم، مورفیم، کلمه، ترکیب (غونډ) په ځانګړي توګه پوره مطلب نه رسوي یا په ساده ډول وایو:

مونږ پرته له جملو څخه پوره، مطلب ترلاسه کولای نه شو. د جملې په باب یو ژبپوه داسې څرګندونه هم کړې ده:

(جمله یو بشپړ پوره مطلب رسوي)[1] ولې بیا دا خبره تر یوې اندازې پورې په منطقي لحاظ سمه نه ګڼي. دی وایي چې د بشپړتوب او نابشپړتوب په باب کوم خاص بریدنه شو ټاکلی، ځکه په وینا کې جملې یو په بل پسې دوام پیدا کوي او یا دا چې جمله د خپلې قرینې په نسبت په ډېر لنډ چوکاټ کې څرګندیدای هم شي. د مثال په توګه په سوال او ځواب کې دغه خبره ښه څرګندیدای شي[2].

په دې حساب سینتکس او فونولوژي هم یو تر بله ژبني اړیکې درلود لای شي. د مثال په توګه که ووایو: میرویس پوهنتون ته ولاړ؟

ته ښه یې؟

ځواب به داسې وي- هویا اه

دلته که (هو- اه) په یوازې او ګوښې توګه و څیړو نولیدل کیږي چې (اه) یو فونیم دی او (1) هم د فونیمونو په ډله کې راځي که (1) یاهو ته د نورو ګرامري ځانګو له نظره وکتلی شي نو څرګنده به شي چې د ګرامر له مخې دغه (1)، (هو) جمله، متن، ځواب دی.

د سینتکس له مخې به فریزاو د مورفولوژي له مخې به ورته مورفیم وویلای شو له دې کبله د ژبپوهنې یا د ګرامر د ځانګو ترمنځ ژبنې خام مواد په ځینو وختونو کې شریك وي خو دا چې هره ځانګه یې د خپلې تیورۍ له مخې په خپل مربوطه او ټاکلې چوکاټ کې څیړي، بیلا بیل خصوصیات لري. بله دا چې تیوري او تطبیق د ژبپوهنې د ټولو تیوریګانو زیږنده ده یا په بل عبارت د تیوري او عمل خصوصیت د ژبپوهنې د ټولو ځانګو ګډه او شریکه خاصه او ممیزه ده. له دې امله په ټولو برخو کې په کاریږي.

---

[1] **ب، ن، کوله وين. د ژبپوهنې مقدمه. ويشيا شکوله، مسکو 1973ع کال (197-177) مخونه.**

[2] **همدا ماخذ (197مخ).**

څنګه چې لیدل کیږي نن‌ی سینټکسي تیوري پراخه ساحه لري. د ژبې د علم مطالعه او څېړنه دغه ټولې خواوې په پوره او بشپړه توګه نه شي څېړلی. مونږ هم په دې برخه کې اړیو چې د ژبې د نحوي ساختمان او جوړښت د پوهیدانې له پاره ځیني خاصې او مهمې نښانې په ګوته کړو.

نحـوه: هغه پوهـه ده، چې د جملـو، فقـرو، عبـارتونو، غونـډونو د جوړښـت د قاعـدو څخه غږیږي. د جملې د اجزاو، قاعدې هم په کې بیـان او څرګنـدیږي. پـه نحوي چاپیریـال کې نحوي ترکیبونه (غونډونه) او جملې د معنا او جوړښـت لـه مخې پـه نظر کې نیـول کیـږي. پـه سینټکسي چاپیریال کې د نحوي واحدونو یعنی تګمیم په تشکل او جوړښت کې دمورفیونو ترکیب، تنظیم، بدلون او ګرامري رابطو باندې خبري کیږي.

له دې کبله د ژبپوهانو له خوا د ژبې د مختلفو او بېلا بېلو برخو د پېژندنې او مطالعې له پاره ځیني خاص او جلا واحدونه ټاکل شوي دي. لکه فونیم چې د صوتي جوړښت تر ټولو ډېر کوچنی واحد دی او مورفیم د لفظي جوړښت تر ټولو معنا لرونکی کوچنی واحد دی. دغه راز په نحوي چاپیریال کې هم سنتاګك، تګمیم (نحوي واحد) تر ټولو کوچنی واحد ګڼل شوی دی.

تګمیم: د نحوي جوړښت هغه واحد دی چې د خپل ځان نه د کوم بل لوی واحد کومه برخه نه وي او هم د جوړښت په لحاظ د تجزیې وړ هم نه وي. یعنی هغه کوچنی واحد دی چې په سینتاکتیکي یا نحوي سیستم دننه ژبنی فورم پرې اندازه او ښودل کیږي ځکه چې په نحوي جوړښت کې (سیستم) تګمیم (نحوي واحد) دی او د یوه نه تجزیه کیدونکي جز په توګه منل شوي دی نو جمله هم نه تجزیه کیدونکی واحد ګڼل شوې ده. (په هره ژبه کې جمله د جوړښت په لحاظ یونه تجزیه کېدونکی واحد دی) په دې معنا چې که تجزیه شي، پوره مفهوم له لاسه ورکوي.

څنګه چې هره ژبه بې شمیره جملې لري نو ښایي چې داسې فکرونه شي چې د هرې جملې لپاره دې بې شمیره ساختماني شرحې او قاعدې ولري. په واقعیت کې د هرې ژبې اصلي ویونکي یو لړ محدود قواعد د ژبې د جملو د پېژندنې (درك) او تولیـد (رغـاونې) لـه پاره لـري او د مفـاهیمو د څرګندولو د پاره د همدغو ټاکلو (محدودو) قاعدو څخه ګټه اخیستل کیږي. په دې توګه نحوه هم په ژبه کې محدود قواعد د جملو ټاکلو او ښودلو لپاره شرح او توضیح کوي. د همدې اصل له مخې نحوه دغه ډول پېژنو:

نحوه د جملو په معنا او مفهوم باندې پوهيدل دي. ددغه نظر له مخې په نحوه کې د معنا مطالعې ته زيات ارزښت ورکول کيږي.

د يوې ژبې شکل د هغې د معنا نه ډېر با ثباته دی او په اسانۍ سره د هغې پوهيدنه او پېژندنه کيدای شي او علت يې هم هغه د ژبې چاپيريال دی چې د ژبې شکلونه (فونيمونه، مورفيمونه، نحوي واحدونه تکميمونه) په کې شامل دي. مګر په مقابل کې د معنا چاپيريال او سيمه ډيره پراخه وي په دې علت سره چې ډېر ژبني شکلونه د يوې څخه ډيرې معنا ګاني لري او په ډېرو ځايونو کې کارول کيږي.

څنګه چې په نحوي کې د کلمو تنظيم د هغوي ترون او ارتباط د يو بل سره چې څنګه خبرې، فقرې، غونډو نه، عبارات او جملې جوړ وي څېړل کيږي نو ځکه وايو چې د نحوي (Syntax) وظيفه د جملو او د هغوی ساختماني شرح ده يعنی د يوې ژبې د عبارتونو، فقرو (غونډونو) جملو او کلمو د نظام او جوړښت اصول او لارې چارې مطالعه کوي. په عمومي توګه يا په کلي ډول ښايي د نحوي برخه د هرې جملې په باب لاندينيو پوښتنو ته سم او علمي ځواب ورکړي.

1. د يوې جملې تر ټولو کوچنۍ برخه کومه ده، يعنی هغه کوچني واحدونه چې جملې جوړ وي؟
2. د جملې دغه برخې (اجزا) څنګه يو دبل سره يو ځای کيږي تر څو جملې جوړې کړي؟ يوه جمله بايد تر وروستي بريده پورې وويشل شي.
3. وروسته له هغې چې د يوې جملې مورفيمونه مو په ګرامري واحدونو وويشل لاژمه بربښي چې ددې پوښتنې د ځواب په لټه کې شو چې دغه ګرامري واحدونه څه نوميږي. او کوم دي؟

د ژبې په ګرامري مطالعې کې د الفاظو معنا او ساختمان دواړه په نظر کې نيول کيږي.

د نړۍ په ژبو کې هره ژبه په خپل وار که له يوې خوا د ژبپوهنې په بنسټ ځينې ګډ ګرامري خصوصيات لري ولې له بله پلوه ځانګړې او ټاکلي خصوصيات هم لري چې د هرې ژبې په سترکچر او جوړښت پورې اړه لري.

د مثال په توګه که د نړۍ ژبوته ځير شو په ځينو ژبو کې د صرف او نحوي ترمنځ کوم ټاکلی او معين بېلوالی نه ليدل کيږي نو په دې توګه صرف او نحوه په بېلا بېلو برخو او فصلونو (څېرکو)

باندي نه ځيرل کيږي. خو د نړۍ په اکثروژبو کې صرفي او نحوي جوړښتونه (سربېره پر ځينو اړيکو) په اسانۍ سره جلا او بېل مطالعه کيږي.
څنګه چې زمونږ مطلب د پښتو ژبې د نحوي موضوع ده د څېړل شويو موادو له مخې په پښتو ژبه کې صرفي او نحوي جوړښتونه په اسانۍ سره جلا او بېل مطالعه کيږي.
په دې توګه د مورفيم پوهنې او سينټکسي بحثونه په بېلو بېلو برخو بېليږي. په نحوي کې نحوي ترکيبونه، غونډونه او جوړښتونه د ترتيب او تنظيم داسې اصول او قواعد لري چې د اشتقاق او ګردان د طريقو او ډولونو تابع دي.

نحوي ترکيبونه (غونډونه)، جملې او د جملو ترکيبونه د نحوي واحدونو په توګه:

څنګه چې د مخه وويل شو، نحوه د ګرامر د يوې څانګې (برخې) په توګه د يوې ژبې ترکيبونو، عبارتونو، غونډونو، فقرو، جملو د جوړښت ساختمان او په هغوی کې د کلماتو د ترتيب، مطابقت او رابطې اصول او قاعدې مطالعه او ترڅېړنې لاندې نيسي او يا د هغوی د قاعدو څخه غږيږي او د جملې د اجزاوو، ارکانو، قاعدو او قوانينو بيان په کې کيږي، نو له دې کبله ژبپوهانو د ژبې د مختلفو او بېلا بېلو برخو (اجزاو) د پيژندنې او مطالعې له مخې ځينې بېل او خاص واحدونه ټاکلي دي. د بېلګې په توګه د ژبې د صوتي جوړښت او ساختمان دپاره فونيم (Phoneme) او د صرفي (لفظي) ساختمان له پاره مورفيم (Morpheme) د واحدونو په توګه منل شوي دي په دې معنا چې:

1- فونيم د فونيم پوهنې (Phonology) واحد يا نه تجزيه کيدونکي صوتي غږې په توګه.
2- مورفيم د مورفيم پوهنې (مورفولوژۍ Morphology) يا نه تجزيه کيدونکي لفظي واحد په توګه.
3- دغه راز په (Syntax نحوه) کې هم د ځانګړو اصطلاحګانو سره مخامخ کيږو که څه هم په پښتو ژبه کې دغه سينټکسي اصطلاحګانې خاصه نومونه نه لري مګر په نورو ژبو لکه (انګريزي، لاتيني، روسي او داسې نورو ژبو کې د (Tagmeme) تګميم (Syntagam سينتاګم) اصطلاحات شته چې په هماغه ژبو کې خپله معنا څرګندولای شي.

تګميم، سينتاګم، تاکسيم يا سينتاکتيکي ترکيب (نحوي جوړښت) هغه کوچنی نحوي واحد دی چې (د سينتاکتيکي) يا نحوي سيستم د ننه ژبنی فورم پرې اندازه او ښودل کيږي.

په معاصره ژبپوهنه کې د تګمیم، سینتاګم اصطلاح د یونانی سینتاګمه (Syntagma)څخه د یو ځای کیدو په معنا سره راغلی دی ولې په مختلفو او جلا اثارو کې یې معناګانې په توپیر سره راغلي دي(1).

په دې برخه کې د شوروي ژبپوه ریفرماتسکي نظر د سینتاګم په باب داسې دی:

(سینتاګم ددوو غړو د ترکیب (مورفیم، لغت، د کلماتو ترکیب) څخه چې یو تر بله اړیکې ولري عبارت دي).

همدارنګه نحوه (Syntax) په دې ډول پېژندلی او څېړلی شو.

په نحوي سیستم کې د تګمیم سینتاګم تجزې او ترکیب او د هغوي ترتیب او تنظیم ته سینټېکس ویل کیږي. په بله وینا سره په نحوي سیستم کې د نحوي واحدونو او د هغوي د مربوطه اجزا وو تجزیه، ترکیب، تنظیم او څرنګوالي ته نحوه (سینټکس) ویل کیږي.

څنګه چې په نحوي جوړښت کې (تګمیم Tagmeme یا سینټاګم Syntagma یو نحوي واحد دی او بیا یو نه تجزیه کیدونکی (نه بیلیدونکی) نحوی واحد په توګه راوړل شوی دی.

نو دغه نحوي واحدونه ازاد ګرامري شکلونه جوړوي، په دې معنا چې هر یو غونډ (ترکیب) په مستقله توګه پوره مطلب ورسوي. جمله چې د معنا له مخې یو نه تجزیه کیدونکی نحوي واحد دی نو په پښتو ژبه کې مونږ جمله د نحوي واحد په توګه منو (په هرې ژبې کې جمله د جوړښت، معنا له مخې یو نه تجزیه کیدونکی واحد دی چې بشپړ مطلب رسوي).

په دې اساس (نحوه) د جملو او کلماتو د ترکیب د پوهې او مطالعې بحث ته وایي. د کلمو د ترکیب یا هغه اصطلاحات چې د دوویا ډېرو کلمو (لغتونو) د یو ځای کیدو څخه منځته راغلي وي یا دا چې د دوویا زیاتو لغاتو او اداتو د یو ځای کیدو (پیوستون) له کبله جوړ شوي وي.

یادونه:

ځیني پوهان د ژبني ترکیبونو Phrases (جملوي جزیا نیمګړې جملې) مطالعې او څېړنې ته هم (Syntax) وایي.

که چېرې دا ومنل شي نو په سینټېکس پورې تړلی تیوري به هم د ترکیبونو (Phrases) تیوري وي.

---

(1) **ب. ن له وین، د ژبپوهنې مقدمه، مسکو** 1973 (253) **مخ.**

د ترکیبونو یا فریز د تیورۍ څخه مطلب هغه مېتود دی چې د هغه په واسطه د جملې متن بیان او جملوي اجزا جوړیږي او یا دا چې د ترکیبونو (Phrases) له مخې متن بیان او جمله جوړیږي.

څنګه چې پوهیږو ژبه د علایمو (نخښو) یوه دستګاه ده. صوتي نخښې، لفظي نخښې یعنې دا چې صوتي نخښې یوازې او یا هم په ترکیبي ډول لفظي نخښې جوړوي او مطلب تر سره کوي او دغه نخښې بیا په خپل وار یوازې او یا هم په ګډه کلي (عمومي) معناوي جوړوي چې ګرامري شکل ګټل کیږي او په پای کې خبرې جوړیږي. دغه اړیکې چې د خبرو د مختلفو برخو او همدا راز د هغوي د اشکالو ترمنځ موجود دي د نحوې موضوع جوړوي.

کله چې یو ګرامري شکل د یوه لوی شکل یوه برخه وي نو داسې ویلی شي، چې دغه نوموړی شکل مقید (ناخپلواک) دی خوکه چېرې د یوه لوی شکل برخه (جز) نه وي بیانو ازاد ګرامري شکل دی چې مونږ دغه ازاد مستقل ګرامري شکل د تکمیم یا نحوي واحد په نامه یا دوو چې جمله یې محتوا ده.

د مثال په توګه که وواېو: دغه څوك دی؟ نو ددغه سوالیه جملې په ځواب کې که وویل شي، هلك نو مطلب پوره رسول کیږي په دې توګه هلك په دغه حالت کې یو تکمیم دی ځکه یو ازاد او خپلواك ګرامري شکل دی او د خپل ځان نه د کوم بل لوی شکل برخه (جز) نه دی مګر که د (هلك سره د هوښیار لفظ ورزیات کړای شي او د یوګرامري شکل په توګه (هوښیار.. هلك) په ترکیب کې ولیدل شي نو بیا دلته (هلك) د خپل ځان نه د لوی شکل (ساختمان) د جز په حیث ګارول شوی دی او مقید دی نو ځکه تکمیم ورته ویلای نه شو.

مګر که چېرې دغه ترکیب په ځانګړې توګه سره وګورو یعنی (هوښیار هلك) په توصیفي حالت کې تکمیم دی، ولې بیا هم که د (هوښیار هلك راغی) په ګرامري شکل کې څنګه چې (هوښیار هلك) د خپل ځان نه د لوی شکل یوه برخه ده نو ځکه تکمیم نه دی مګر (هوښیار هلك راغی) په خپل ذات کې تکمیم او یوه جمله ده. که چېرې دغه جمله په دې ډول سره (کله چې هوښیار هلك راغی) ووایو دلته ګورو چې په ګرامري شکل کې څنګه چې په یوازې او ځانګړې توګه یې معنا بشپړه او پوره نه ده او یو بل ګرامري شکل ته اړتیا لري نو ځکه دغه غونډ په دغه ډول سره تکمیم او جمله نه شو بللی، بلکې د یو بل شکل سره یو ځای ګرامري شکل یعنی پوره جمله (Sentence) جوړ وي لکه (کله چې هوښیار هلك راغی کارونه وویشل شول) دلته (کله چې هوښیار هلك راغی) او (کارونه وویشل شول) ګرامري شکلونه دواړه مقید دي یعنی د معنا له مخې یو بل سره رابطه او تړون لري.

څنګه چې د شکل له مخې ګورو چې د جملې دواړه برخې هره یوه یې تقریبا پوره جملې دي او کیداي شي په خپلواك صورت کې هم استعمال شي او تګمیم وګڼل شي، چې دا جملې د فقرې (Clause) په نامه یادیږي. نو څکه د ژبپوهنې د اساسونو په دې برخه کې د علمي څېړنو له مخې تګمیم چې د جملې محتوا هم ګڼل کیږي داسې تعریفوو: (تګمیم یا نحوی واحد، داسې یو ګرامري شکل دی چې د خپل ځان نه د لوی شکل برخه (جز) نه وی او یا د ګرامري شکلونو تر ټولو کوچنی معنالرونکی واحد تګمیم (Tagmeme) دی. نو تګمیم تر ټولو کوچنی نه تجزیه کیدونکی نحوي واحد دی چې یو مستقیم، مستقل او با مفهومه ګرامري شکل دی چې په نحوه کې پراخه برخه لري.

په دې لاندې مثال کې ګورو:

(هلکه) د ندا په حالت کې که څه هم دغه ډول خپلواك ګرامري شکل د جوړښت له مخې نیمګړی دی مګر څنګه چې پوره معنا انتقالوي نوځکه (Uttrance) ورته وایي او (هوښیاره هلکه) هم همدا ډول دی. خو (هوښیار هلك راغی) که څه هم د شکل او مفهوم له مخې پوره دی مګر ددې له پاره چې ځینې وخت مقید کیږي لکه په دې مثال کې (کله چې هوښیار هلك راغی.. دلته جمله مقیده شوه تر څو چې دویمه برخه رانه شي مطلب نه بشپړیږي.

په دې اساس (کله چې هوښیار هلك راغی) مقیده فقره یا (Clause) بلل کیږي مګر (هوښیار هلك راغی) خپلواك ګرامري شکل دی. که په خپلواکه توګه وکارول شي. نو ځکه یې جمله Sentence یا تګمیم بولو.

که چېرې یوګرامري شکل د خپل ځان نه د کوم بل لوي شکل برخه یا جزوي نو مقید ګرامري شکل دی او که چېرې، د خپل ځان نه د لوی شکل برخه نه وي نو خپلواك ګرامري شکل دی چې تګمیم یا نحوي واحد هم ګڼل کیږي.

اوس چې مو د تګمیم یا نحوي واحد په باب څرګندونې کړې نو لومړی غواړو د جملې په باب ځینی لنډې څرګندونې او هم د ژبپوهانو له خوا د جملې په باب نظریې وړاندې کړو بیا به د پښتو ژبې ترکیبونو (Phrases) جلمو په ډولونو، جوړښتونو باندې رڼا واچوو. البته زمونږ د موضوع اصلی برخه ده.

جمله (Sentence)

جمله يوه عربي كلمه ده، په لغت کې مجموعې ته ويل کيږي.

جمله د انګريزي Sentence ، فرانسوي Propostion ، جرمنی Staz ، هسپانوي Oracion او روسی ژبې پريدلو ژينيه سره برابره معنا لري، په هره ژبه کې د خپلو خپلو ځانګړو معناګانو درلودونکی وی. ولې ګرامري معناګانې يې سره ورته يا يوګډ کيږي[1] د مثال په توګه:

(په انګريزي ژبه کې که د سېنتېنس کلمې ته ځير شو او څېړنه پرې وکړای شي سربېره پردې چې د جملې معنا لري يو لړ داسې نورې معناګانې لکه (پريکړه، حکم، جزا) او نورې هم لري. همدارنګه د سېنتېنس کلمه درېلو لغت پرويلو او محکمې ته راکښلو په معناګانو سره هم راځي[2].

دلته مونږ د جملې يا سينتيينس د لغوي معنا سره څه کار نه لرو، بلکې غواړو په دې برخه کې د جملې په هکله د ګرامر له مخې رڼا واچوله شي يعنی د جملې پيژندنه او څېړنه په ګرامري چاپيريال کې تر سره شي. ښايي چې ددې مطلب د څرګندولو له پاره څه نا څه ګرامرونو ته پاملرنه وکړو، خو مخکې تردې چې د جملې پيژندنه او تعريف وکړو بايد يادونه وشي، د جملې په باب بشپړ او مکمل تعريف چې هيڅ ډول سمونه او اصلاح ونه غواړي او د تل له پاره ثابت او ځاي پر ځاي وي نشته ځکه تعريفونه او مفاهيم ورځ په ورځ لاپسې کره او بدلون مومي. د تفکر دودې او پرمختګ پروسه (جريان) ځای په ځای نه دريږي د بشپړتيا او پرمختګ په لور درومي.

په دې برخه کې ممکن په ګرامرونو کې په عنعنوي تعريفاتو باندې زيات ټينګار شوی وي خو ددې پرنسيب له مخې چې په څېړنه کې تېر معلومات او پخوانی شتمنې که څه هم نيمګرتياوې به ولري د نويو څېړنو په هکله بايد تر مطالعې لاندې ونيول شي تر څو نسبتا کره او نوې معلومات تر لاسه شي.

که نن د جملې په باب زمونږ معلومات نيمګړي وي نو ښايي چې بله ورځ به لاپسې بشپړ او زيات شي. د پخوا څخه د جملې په هکله ډير تعريفونه شوي او د بېلو بېلو پوهانو له خوا ورته جلا جلا تعريفونه او څرګندونې شوي دي ولې په علمي توګه د جملې په باب معين تاکلی او ثابت تعريف نه ليدل کيږي مګر په مقابل کې يې د دوو سونه زيات تعريفونه په دې برخه کې موجود دي[1].

د جملې په باب د پوهانو نظريې

[1] و.س. اخمانووه، ژبنی اصطلاحي قاموس، مسکو 1966، 347 مخ.

[2] کابل مجله، 1356ل کال، لومړی ه (10) مخ.

[1] د. ای. روزينتل. معاصره روسي ژبه، مسکو 1964 (280) مخ

کله چې مونږ په وينا او ليکنه کې خپل فکر په شفاهي ياليکلي بڼه افاده کوو نومجبوريو چې جملې جوړې کړو ځکه چې زمونږ وينا د جملو په مرسته ځرګنديږي يا (د جملو څخه جوړه ده) په دې توګه زمونږ افکار يوازې په جملو کې او د هغوي په مرسته افاده کيږي. په دې ترتيب د جملې پيژندنه د ارستو زماني څخه پيل کوو.

جمله د يو منطقي قضاوت د افادې او پوهولو سلسله ده.

ارستو د جملی په باب داسې ويلي دي:

(هره نظريه (مفهوم) د جملې په شکل ځرګنديږي مګر ټولې جملې مفاهيم نه ځرګندوي. په جملو کې ممکن سوال، خبر داری او داسې نور مفاهيم ځای شي خوپرته له دې څخه ممکنه ده، چې يو فکر – د شعور د ځينو نورو اشکالو په واسطه هم ورسول شي. د دماغ فعاليت انځوروي: جمله د احساس د ځرګندولو وسيله هم ده)[2]. همدارنګه په پخوانی فلالوژي کې جمله (مفاهيم د الفاظو په مرسته ځرګند شوي وي او يا د الفاظو ترکيب چې پوره يو مطلب ځرګند کړي[3] په په لرغوني يونان کې د نن نه 2000 کاله د مخه يوناني پوه د يونيوس تراکس Dionysius Thrax د يوناني ژبې د قاعدې په باب يوه کوچنۍ رساله ليکلې وه. په هغې کې يې د جملې تعريف او پيژندنه په لاندې ډول کړې ده:

(جمله په نظم او نثر کې د کلمو او الفاظو د مجموعې څخه عبارت ده چې پوره معنا او مفهوم ځرګند کړي)[1]

وروسته بياغربي (لويديځ) ګراموريستانو هم دغه تعريف منلی او کارولی دی. ولې د غربي ګراموريستانو څخه د مخه عربی ګرامر پوهانو هم دغه تعريف منلی دی چې کلام يا جمله هغې ته ويل کيږي چې اوريدونکي د هغې څخه پوره مطلب لاس ته راوړي.

په 19 پيړۍ کې دا هځه رامنځ ته شوې ده چې جمله د يوه منطقي قضاوت فعلي ترکيب په توګه وپيژندل شي. د منطق له نظره د جملې په هکله بوسلايف ويلی دي (هغه قضاوت (نظر) چې د الفاظو په واسطه ځرګند کړای شي جمله ده)[2].

---

[2] همدغه اثر او همدا مخ.

(3) يو، س، ماسلوف، د ژبپوهنـ مقدمه (اساسات) مسکو، 1975، (633) مخ.

[1] پوهنوال محمد رحيم الهام روشی جديد در تحقيق (دستور زب ان دري، پوهنـ ی ادبيات و علوم بشري، کابل (1349 ش کال).

د 19 پېړۍ پای او 20 پېړۍ پیل په لویدیځه نړۍ او روسیې کې د جملې په باب روحیاتي نظر منځ ته راغلی دی.

ددغه نظریې نمایندګانو څخه په روسیه (شوروی) کې 1-1 شاخمتوف دی چې د جملو په باب یې خورا زیاتې څېړنې کړې دي خو بشپړې نتیجې ته هم نه دی رارسیدلی[3] تر دې وروسته ف.ف فورتوناتوف د عنعنوي ګرامر پلوي د جملې په باب داسې بیان کړي دي. جمله یو ډول د کلمو د ترکیب څخه ګڼي او لیکلي دي:

(دوینا هغه ګرامري ترکیبونه چې په جمله کې استعمالیږي په جمله کې د ګرامري مبتدا او ګرامري خبر په توګه راځي)[4].

ایراني ژبپوه ډاکتر پرویز خانلري د جملې تعریف د تراکس په توګه کړی دی یوازې (د نظم او نثر الفاظ یې ترینه ویستلي دي. په دې ډول (جمله مجموعه یې از کلمات است که بر روی هم دارائی یك مفهوم تمام وکامل باشد)[5].

همدارنګه ځینو پوهانو د جملې تعریف داسې کړی دی:

---

[2] **ف.ي. بوسلایف، د روسي ژب تاریخي رامر،** 1858 **(110) مخ.**

[3] **یو. س. ماسلوف، د ژبپوهی اساسات، مسکو،** 1975 -233 **مخ.**

[4] **ف.ف. فورتونانوف د روسي ژب رامر مسکو** 1899 -(36**مخ).**

[5] **پوهنوال محمدرحیم الهام، روش جدید در تحقیق دستور زبان دري، پوهن ی ادبیات وعلوم بشري، کابل** 1349- **(141) مخ.**

جمله - د الفاظو او کلمویو داسې ترکیب دی چې یو بشپړ مفهوم افاده کړي. تر اوسه پورې په ګڼ شمیر ګرامرونو کې جمله یا کلام داسې راپېژندل شوی دی.

کلام، جمله هغه عبارت ته وایي چې لږ تر لږه له دووکلمو څخه جوړه شوې وي او بیا په دوه ډوله بېلېږي، بشپړه جمله او نیمګړې جمله.

د بشپړې جملې څخه په همدغو ګرامرونو کې مطلب دا دی چې اروېدونکي یې په اوریدو سره پوره مطلب ورځیني واخلي.

نیمګړې جمله چې اوریدونکي ترې پوره او بشپړ مطلب وانخیستیلای شي. لکه (د ګلانو غونچې، توره وریځ) ... او نور.

همدارنګه د جملې تعریف داسې هم راغلی دی: جمله د کلمو د یو ځای کیدو څخه جوړیږي چې د نحوي کوچنی واحد دی.

په بل ځای کې داسې بیان راغلی دی:

د یو مقصد د ځرګندولو دپاره مجبوریو چې کلمې سره یو ځای کړو نوله دې امله د یو شمیر کلمو او لفظونو له یو ځای کیدو څخه کلام او جمله منځ ته راځي او د جملې په مرسته خپل مقصدونه یو بل ته ځرګندولای شو. هغه توکي چې جمله یا کلام ورڅخه جوړیږي د کلام جزیا اجزابلل کیږي.

دغه پورتني تعریفونه د پښتو ژبې په ګرامرونو کې لکه د محمد اعظم ایازی قواعد پښتو د محمد ګل مومند (د پښتو ژبې لیاره) د پوهاند رښتین په (ژبښودنه)، (پښتو ګرامر، د عظیم شاه خیال) صرف و نحو پښتو) ... او داسې نورو کې راغلي دي.

د امریکې ژبپوهان بلوم فیلډ د جملې ساختماني تعریف دا ډول کړی دی. د جملې ساختماني معنا هغه معنا ده چې د جملې د توکونو په مرسته ځرګندیږي ببله دې چې قاموسي (لغوي) خواوې په نظر کې ونیول شي.

د جملې د جوړښت او ساختماني معنا یوازې د بلوم فیلډ په ذریعه نه ده ښودل شوې بلکې اکاډیمیسن ډ.ل. و شیر به هم دغه ډول موضوع بیان کړې ده.

د بلوم فیلډ مقصد د جملې له ساختماني معنا څخه د مورفیمونو هغه تنظیم او ترتیب دی چې د جملې په لغتونو پورې اړه نه لري یعنی لغوي ترتیب او تنظیم نه دی چې دا نظریه هم د چا مسکې

له خوا پر مخ ولاړه او پراختیا یې وموندله[1] ترانسفور میشنل ګرامر چې په 1957کال چا مسکي لیکلی دی د نحوي جوړ ښتونو په نامه اثر دی. دوي څرګنده کړه، چې که د یوې جملې کلمې په غیر شعوري ډول انتخاب شوي وي نو بیا به هم ساختماني معنا ولري خو په دې شرط که ژبني فورمونه منظم او سم ترتیب شوي وي. نوموړي ژبپوهان (بلوم فیلډ) ګرامر ته د ژبنیو فورمونو د معنا لرونکي نظم په توګه ګوري او زیاتوي چې په ژبه کې د ژبنیو فورمونو معنا لرونکي نظم او ترتیب د ژبې ګرامر جوړوي او دا هم زیاتوي چې د ژبنیو فورمونو د پاره دا لاندې څلور لارې شته دي.

1- ترتیب 2- داواز برابروالی 3- فونیټکي مشخصات 4- د هغو فورمونو انتخاب چې د معنا په څرګندولو کې د عامل په توګه مرسته کوي.

د جملې د تعریف د کره کولو له پاره ښایي جمله د فورم او معنا له مخې په پام کې ونیوله شي ځکه یوازې فورم جمله نه شي راپېژندلې او معنا هم په ګوښې توګه سره د جملې پیژندنه نه شي کولای.

که چېرې داومنو چې جمله یو داسې نحوي واحد دی چې د فورم او معنا په شریک او ګډ ارتباط سره ځانګړی ژبنی سیستم جوړوي نو دا به هم ومنو چې دا نحوي واحد (جمله) یو ژبنی سیستم هم دی. څنګه چې ژبه یو جلا ژبنی سیستم دی او جمله په دې سیستم کې د نحوي واحد په توګه پېژنو نو بیا ویلی شو چې جمله هم یوکوچنی ژبنی سیستم دی.

په دې کې هیڅ شک نشته چې جمله معنا لري او یو مفهوم افاده کوي نوله دې کبله ښه به داوي چې د بلوم فیلډ نظریې ته پاملرنه وکړو.

دی وایي متکلم او خبري کوونکی د عبارت په ذریعه اوریدونکی دې ته اړباسي چې شرایطو او حالاتو ته ځواب ورکړي. دغو شرایطو او حالاتو او په هغوی پورې مربوط ځواب ته د هغه عبآرت معنا وایي یا په بل عبارت کله چې یو ژبنی فورم له خولې څخه ووځي نو اوریدونکي هغې ته هم هغسې ځواب او عکس العمل ورکوي، چې د ټاکلي مربوطه ژبني شکل معنا ګڼل کیږي.

بلوم فیلډ وایي چې د ژبني فورمونو معناګانې په عملي او علمي توګه هغه وخت ټاکل کیدای شي چې د پوهې ټولې څانګې بشپړې شي او پرمختګ ته ورسیږي نو بیا ویلی شو، چې جمله سربېره پر نورو سیستمونو یو سیمبوتیك سیستم هم دی په دغه سیستم کې (جمله د سیمیم له

[1] Transformational Generative Grammar.

نظره اندازه کیږي او سیمیم د جملې د اندازې له پاره معنوي واحد دي. څنګه چې څرګنده ده په کوي جوړښت کې اساس د نحوي واحد جمله (تکمیم) دی په دې معنا جمله دوینا هغه واحد دی چې مطلب ورسوي. جمله یا خبري یا پوښتني یا تعجبي یا امري وي او هر یو نحوي واحد د دوورکنونو د اساس څخه جوړ شوی وي لکه مسندالیه او مسند ، لاکن جمله داجزاو په لحاظ په بسیط، مرکب او ، مختلط شکل تقسیمیږي.

اوس چې په ګرامرونو کې د جملې په باب څه معلومات وړاندې شو ښه به داوي چې د جملې په هکله د مورفیم بحث ته هم ورننوځو.

لیدل کیږي چې د نحوي واحدونو Syntactic Structure په جوړښت کې لفظي واحدونه Morphologicl Structure برخه لري. دغه واحدونه د موقعیت او نورو خصوصیاتو له مخې په ترکیبونو او جملو کې په اسمونو، صفتونو، قیدونو، فعلونو او نورو اقسامو باندې تقسیمیږي، چې بیا دغه لفظي واحدونه د مستقل والي او استعمال له مخې په ازاد (خپلواك) او مقید (نا خپلواك) باندې سره بېلېږي.

مقید لفظي واحدونه: په صرفي او اشتقاقي جوړښتونو کې د ازادو لفظي واحدونو سره وند مختاړي، ورستاړي نښلي. په ژبه کې (ازاد- اساسی واحدونه) د مقیدو واحدونو سره ارتباط پیدا کوي یعنی په ترکیبونو او جملو کې د الفاظو ارتباط او یو ځای کیدنه صورت مومي او په دغه ترتیب سره الفاظ په یوه ټاکلي نحوي حالت کې واقع کیږي چې د ساختماني شکل Function Forma په نامه یادیږي.

لفظي واحدونه هر یو ځانته یوه خاصه ګرامري کټه ګوري لري لکه اسمونه چې د جنس (نارینه، ښځینه) عدد (مفرد، جمع) حالت (مستقیم، غیرمستقیم (اصلي، غیراصلي) صورتونه لري. او فعلو نه دوجهه لازمي، متعدي د شخص (1،2،3) او زماني مقولات لري. اشاري نژدې او لرې صورتونه هم ښیي.

که مونږ د مورفیم د تعریف د پاره د جزیاتو څخه تېر شونو خپل بیان داسې لنډوو، د یوې ژبې په خبرو کې کوچنی لفظي واحد دی چې معنا ولري. که چېرې په جمله کې ددغه مورفیمونو دریځ ته پاملرنه وکړونو وبه لیدل شي، چې په جمله کې د مورفیمونو د ځاي تغییر او تبدیل د جملې په ارګانیزیشن (جوړښت) کې تغییر او بدلون پېښوي، له دې کبله هره جمله ځان ته جلا سیستم لري. همدغه علت دی چې دیوې ژبې زده کړه د جملو په یادولو اوزده کولو باندې زیات اړخ لګوي. د مجردو لغتونو په یادولو سره ژبه نه زده کیږي.

که په یوې جملې کې د مورفیمونو د راوړلو په وخت کې د دوي ترمنځ د لازم زماني او مکاني تناسب او رابطه ونه ساتله شي نو په داسې حالت کې سمه او اصلي معنا په لاس نه راځي.

لکه د (زه له پوهنځي څخه راغلم) 2- (زه له پوهنځي څخه راتلم) په جملو کې ګورو:
1- که (زه) څخه وروسته (را) مورفیم د زماني فاصلې له مخې داسې راشي چې د (غل) او (تل) دریښو څخه وروسته (em م) د مورفیم سره زماني رابطه ونه ساتي نو بیا دغه تاکلې معنا نه څرګندوي.
له دې امله جمله سربېره پر مورفیمیك سیستم زماني او مکاني سیستم هم لري که چېري دغو سیستمونو ته پاملرنه ونه شي دجملې څخه معنا نه شو اخیستلای.
اوس به دې ټکي ته ځیر شو، چې د جملې سیستم څه شی دی که څه هم د جملې سیستمونه زیات دي خو مونږ د تعریف د پاره په خپله سیستم تعریفوو، وروسته به بیا تروسه وسه د جملې په نورو سیستمونو باندې خبرې وکړو.
سیستم: هغه نظم او ترتیب دی چې د هغه په تغییر سره په (جوړښت) کې هم تغییر او بدلون راځي.
ترڅو چې د جملې د ساختمان اجزا او په هغې پورې مربوطه جریانونه او ممیزات ونه پېژندل شي تر هغه وخته پورې د جملې پېژندنه ګرانه ښکاري.
څرګنده شوه چې جمله د ژبنیو فورمونو داسې مجموعه ده، چې نحوي واحدیې جوړ کړی دی نو دلته بې ځایه نه ده، چې دغه مجموعه مطالعه کړو.
د ژبنۍ جملې د توکونو مجموعه یو میخانکي مجموعه او امبارنه دی بلکې داسې مجموعه ده، چې هره پرزه = برخه (ژبنی فورم) جلا او ځانګړې ځای لري.
د مثال په توګه د پښتو ژبې په یوې جملې کې ګورو چې فعلي ژبنی فورم داسمي ژبني فورم پر ځای او اسمي ژبنی فورم د فعلي ژبني فورم پر ځای نه شي راتلای مګر که را هم شي یا به جمله بې معنا او یا به د هغه مفهوم بل ډول افاده کیږي.
که وو ایو: قلم مات شو. په دې ساده جملې کې (قلم) د یو اسمي جز په توګه د جملې د مبتدا په حیث او که ددغه اسم (قلم) ځای بدل کړو او د جملې په خبر پورې یې و تړولکه دغه لاندې جمله:
اخك قلم مات کړ یا اخك قلم واخیست.
په دې جملو کې (قلم) د جملې په فعلي برخه کې راغلی چې د خبر له اجزاو (متمم) څخه ګڼل کیږي.
همدارنګه صوتي واحدونه د ماقبل دستوري جوړښتونو[1] په نامه یادیږي که څه هم په خپله معنا نه لري مګر د معنا د تغییر سبب کیږي. د ژبې په دواړو دستوري (ګرامري) ساختمانونو کې ونده لري.

[1] **محمد رحیم الهام، تیوري های نحو در زبان دري، کابل پوهنتون،** 1358 **ه ش کال**

همدارنګه جمله د فونو لوژي له مخې د ژبنيو اوازونو داسې مجموعه ده، چې نحوي واحد جوړوي. دغه ژبني اوازونه د ځانګړي سيستم لاندې خاص نظم او ترتيب پيدا کوي. او داسې اختياري تسلسل نه دی، چې د ژبني سيستم د اصولو له رعايتولو څخه پرته زده شي بلکې د ټولني د اجتماعي قرار داد سره سم منځته راځي او په هم هغه چوکاټ کې دننه زده کيږي.

په هر صورت جمله د ګرامر له مخې اوس داسې پېژندل شوې ده:

د وينا يو داسې خپلواك او مستقل صورت دی، چې په کوم بل صورت (ساختمان) کې د ګرامري ساختمان د کومې بلې برخې حيثيت ونه لري.

د مثال په توګه:

1. څوك خبرې کوي؟
2. چا خبرې وکړې؟
3. په کوټه کې څوك ناست دي؟
4. تا څوك وليد؟
5. دغه ليکوال څوك دی؟

د پورتنيو سواليه جملو ځواب د قرينې له مخې داسې راځي: (ميرويس) چې دغه ځواب يو ځانګړی او مستقل شکل دی او د کومې بلې جملې يا (د کوم بل صورت) د کومې برخې حيثيت نه لري.

مګر د پورتنيو جملو بشپړ ځوابونه داسې دي:

1. ميرويس خبرې کوي.
2. ميرويس خبرې وکړې
3. په کوټه کې ميرويس ناست دی.
4. ماميرويس وليد
5. دغه ليکوال ميرويس دی.

ميرويس په دريو لومړيو جملو کې د مبتدا (فاعل) په توګه ځواب دی.

په څلورمه جمله کې د مفعول په توګه ځواب دی.

په پنځمه جمله کې د خبر د جز په توګه ځواب ګڼل کيږي.

په دې لحاظ ميرويس يوازې او په ځانګړې توګه هم سم ګڼل کيدای شي.

ولې په دا ډول جمله کې لکه: ميرويس توره او ميړانه وکړه.

دلته وينو چې ميرويس په پورتنۍ جملې کې د يوه غړي (جز) په توګه دنده ترسره کوي.

یعنی میرویس د جملې معنا نه لري، بلکې په دغه غونډ (ترکیب) کې یوه برخه ده. چې په یوه مستقل او خپلواك صورت کې د ګرامري جوړښت او ساختمان د یوې برخې حیثیت لري، چې دلته میرویس توره او میړانه وکړه، ټول عبارت یوه جمله ده.

په عمومي توګه پوره جمله هغه ساختمان دی چې مسند الیه (فاعل) مفعول او مسند (فعل) په کې موجود وي.

لنډ عبارت: یا جمله هغه ته وایي چې منصرف (اوښتونکی) فعل ونه لري او په خپله د کومې پوره جملې (ساختمان) برخه نه وي.

همدارنګه مونږ دغه ډول جملې په مقایسوي ډول تر څېړنې لاندې نیسو لکه:

1- زرمینې – راشه !   ځواب : ښه درځم

2- زرمینې راځې؟   هو درځم

دغه دواړه جملې د ساختمان او جوړښت له مخې د مبتدا او خبر د ترکیب او رغاونې له مخې زیات توپیر نه لري مګر د خصوصیاتو او ممیزاتو د سیستم له مخې پوره توپیر په کې لیدل کیږي، ځکه پورتنی هره یوه جمله د جلا او ځانګړي ځواب او عکس العمل غوښتنه کوي. د همدغه اصل له مخې وایو چې جمله هغه نحوي واحد دی چې په تشریحي ساختمان کې د ځانګړو اصولو تابع دی یادا چې جمله هغه نحوي واحد دی چې ټاکلی اهنګ، تون، لحن او موسقیت لري. له دې امله جمله د پورتنیو ممیزاتو له مخې هم یوه له بلې څخه بېلیږي په دې لحاظ د جملې په بېلونه کې عروضي واحدونه لکه (فشار، اهنګ، لحن، فصل ، وصل) خاص ارزښت لري.

د تیرو خبرو په استناد یوه جمله لاندیني خصوصیتونه به لري:

1- نحوي واحد دی   2- دا نحوي واحد د مورفیمونو ترکیب دی.

3- د ژبنیو اوازونو سیستم دی.   4- دخاص زماني او مکاني سیستم تابع دی.

5- هره جمله ځانګړی لحن، تون او موسقیت لري.

6- (د بلوم فیلډ په نظر جمله کیدای شي یو اواز وي یا یو نوم وي)[1] لکه ددغې لاندې جملې ځواب: اکارونه دې خلاص شول؟

ځواب   هو

2- د پښتو ژبې او ادب پلار خوك دی؟

ځواب، خوشحال

7- جملې ته د متن د اندازه کولو واحد هم ویلی شو.

---

[1] **کابل مجله،** 1356 **کال** (2-6) **مخ لومؤة** **ه.**

8- جمله د معاشرت په جریان کې د فکر د انتقال، اخبار اساسي وسیله ده. همدارنګه جمله دوینا او محاورې ژبني واحد په توګه دیوه بشپړ او مکمل فکر څرګندونه ده. دغه رازهره جمله په ذهن کې د منعکس شوي واقعیت څرګندویه او ددغه ډول واقعیت په باب ټاکلې اظهار یه ده، ځکه ویونکی د جملې په چوکاټ کې نه یوازې د خارجی نړۍ او چاپیریال د پېښو په باب د څه شي اظهار کوي بلکې په دې باب د خپل نظر ټکي بیانوي چې ویل یې له واقعیت سره څه ارتباط ولري[1] مونږ په خپلې څېړنې کې د پښتو ژبې د نحوي واحدونو (جملو) په شاوخوا کې د پورتنیو یا دوشوو نظریو له مخې دغه لاندې پرنسیبونه په خیال کې ساتل غواړو او دیوې بشپړې جملې عمومي مشخصات داسې بیانوو:

1- د بشپړې جملې څخه مطلب هغه خپلواك (مستقل) ګرامري شکل دی چې د جوړښت او معنا له مخې بشپړ مطلب وي.

2- د جملې په جوړښت کې د جملې اصلي او اساسي ارکان[2] موجود وي.

3- جمله (نحوي واحد) چې د کوم بل لوی شکل (ساختمان) برخه (جز) نه وي.

4- جمله نه تجزیه کیدونکی نحوي واحد یعنی تګمیم د ېکه تجزیه شي خپله بشپړه معنا له لاسه ورکوي.

5- په جمله کې د تشکیلېدونکو اجزاو (برخو)[3] ترمنځ نحوي رابطه موجوده وي او په وینا (خبرو) کې مشخص عروضي خصوصیات (چې وروسته به پرې رڼا واچوله شي) او هم په لیکنې کې دلیك دود د نښو نښانو په مرسته د هرې جملې حدود (بریدونه) سره جلا کیږې چې ددغو نښو د استعمال د ځایونو پېژندنه ضروري ده.

---

[1] ز. م. کالینینا، په معاصره ادبي پ ـتو ک مرکبي جمل ، مسکو 1966 ع،4 مخ.

[2] عبّارت له (مسند الیه، مسند) یا (مبتـدا او خبـر) ـخـه دي چـ عمـده او اساسي ساختماني اجزاوې په دې أول وي (اسیمه- اسم، ضمیر. . .) + فعل یا اسمی غوڼأ + فعلی غوڼأ.

3- تشکیلوونکی برخه Constituent داسـ یوه کلمه یایو ساختمان یا یو مورفیم ته وایي چـ په کوم یوه لوی جوؤ ـت ک د هغه د جز په تو ه شامل وي. باید په یاد ک وساتل شي چـ ول تشکیلوونکي اجزا نحوي ساختمانونه دي، خو خورا أ ر واؤه او کوچني تشکیلوونکي اجزا نحوي جوؤ ـتونه نه دي. همدارن ه ول نحوي ساختمانونه تشکیلوونکي اجزادي خوبیخي نحوي ستر ساختمانونه تشکیلوونکي اجزا نه دي. ددې خبرې معنا داده چـ که عبارت (جمله) په خپله د کوم بل اوإده عبارت (جملی) یوه برخه وي نو تشکیلوونکي جزورته ویلای شو.

دویم څپرکی

ترکیب (غونډ- عبارت)

څرګنده ده چې ویل پوهنه (نحوه) د ګرامر د یوې برخې په توګه او په یوې جملې کې د کلمو (مورفیمونو) د ګرامري ترکیب یو ځای کیدو طریقه، ترتیب او معنوي رابطه په ټاکلې ژبې کې څېړي په دې معنا چې د جملو لفظي جوړښت او معنوي رابطه څېړي او همدارنګه د جملو لفظي جوړښت او معنوي ځانګړتیاوې مطالعه کوي، نو څنګه چې د نحوي څېړنې د مطالعې او څېړلو اصلي او اساسي مواد جملې دي نو په هم دې توګه د کلمو ترکیب (د الفاظو، غونډونو) هم د جملو په جوړښت کې یو توکی یا یوه برخه ګڼله کیږي.

لکه: هلك ولوید. یوه ساده جمله ده او دغه جمله د دووکلمو څخه جوړه ده. لومړی برخه یې (هلك) چې د جملې فاعل (مسند الیه) اودو همه برخه یې (ولوید) فعل (مسند) دی. که چېرې په همدغې جملې کې دجملې د فاعل (هلك) سره ځینې مورفیمونه چې نحوي رابطه سره ولري یو ځای شي په دې وخت کې دغه فاعل (هلك) د خپلو مربوطه اجزاوء سره یو ترکیب (عبارت) دی لکه:

ښه هلك، یو ډېر ښه هلك، یوغښتلی تکړه ښه هلك . . . دغه ډله کلمې د یوبل سره نحوي رابطه لري او په پورتنۍ جمله کې د هلك سره د مبتدا په حیث راځي او هم د هلك په ځای راتلای شي چې دغه د ترکیب (غونډ) (عبارت) په نامه یادیږي. همدارنګه د (ولوید) فعل سره چې د جملې مسند دی یو شمیر نورې کلمې یو ځای شي. دغه ډله کلمې چې نحوي رابطه هم سره ولري د جملې مسند (خبر) کې سره راځي.

لکه: سخت ولوید. په زوره ولوید. سخت په زوره ولوید. یا وران ولوید. ډېر وران ولوید. خورا ډېر وران ولوید. بې ځایه خورا ډېر وران ولوید.

په پورتني اسمي غونډ کې ګورو چې هلك د غونډ اصلي جزدي او د خپلو متعلقاتو سره یو اسمي غونډ ګڼل کیږي او په دویمه برخه کې ولوید د فعلي (غونډ) (عبارت) اصلي او اساسي جزدی نو فعلي غونډ (ترکیب) ورته ویلی شو. مګر دواړه ترکیبونه (اسمي او فعلي) په ځانګړي توګه بشپړ مطلب نه رسوي او دیوه غونډ (ترکیب) په راوړو سره په ځانګړي توګه معنا ناتمامه پاتي کیږي.

2- د ترکیب اصطلاحګاني او نظریې:

اوس چې د ترکیب (Phrase) په هکله څه معلومات ترلاسه شول. غواړو په پښتو ژبه کې د افغاني او خارجي ګرامر پوهانو نظریې او اصطلاح ګاني هم ذکر کړو.

په دې برخه کې تر هر څه د مخه غواړو د پښتو ژبې د کلمو ترکیب چې په لاندې ماخذونو کې د سلواسچېتانیا[1] د کلمو ترکیب (Phrases [2] نیمګړي ترکیبونه[3] کلام ناقص[4] ناقص مرکب[5] عبارت[6] او غونډ په نومو سره نومول شوي دي تر غور او مطالعې لاندې ونیسو.

دا خو جوته خبره ده، چې دوینا او خبرو په ترځ کې الفاظ او وئیونه په ځانګړي توګه پوره معنا نه شي ځرګندولی، نو د یوې معنا د پوره او بشپړې څرګندوني له پاره د ویئونو (الفاظو) ترکیب، یو ځای کیدنه او د هغوی ترمنځ نحوي رابطه ضروري خبره ګڼله کیږي.

په جملو کې د کلمو ترکیب، رابطه او د ګرامري قاعدو خیال ساتل ډېره ضروري خبره او مهم رکن دی. څنګه چې ترکیبونه په جملو کې ستره نحوي دنده لري نو ښایي چې ددغو ترکیبونو په برخه کې پوره څېړنه او مطالعه وشي.

مونږ ته معلومه ده چې د نړۍ په ډېرو ژبو کې د ترکیبونو موضوع ډېره ستره برخه لري چې بیا په بېلا بېلو ډلو او ګروپونو ویشل کیږي.

---

[1] **ب. ن، کله وین، د ژبپوهنی مقدمه، مسکو** 1974 (193) **مخ.**

[2] **ان لیسي پ تو قاموس، پ تو ولنه، کابل** 1354 (451) **مخ.**

[3] **محمد ل مومند، د پ تو ژب لیاره. بلخ** 1317، (317) **مخ.**

[4] **محمد اعظم ایازي، قواعد پ تو، کابل** 1327 (182) **مخ.**

[5] **عظیم شاه خیال، صرف ونحو پ تو** (283) **مخ.**

[6] **محمد رحیم الهام روشی جدید در تحیقیق دستور زبان دري. کابل پوهنتون** 1349(15) **مخ.**

كه چيرې مونږ خپلې لرغونې مورنۍ پښتو ژبې ته پاملرنه وكړو او په ډېر غوراو ځير ورته وګورونو جوته به شي چې په پښتو ژبه كې هم دغه تركيبونه راز، راز او د اندازې نه زيات دي. او هر تركيب په خپل ځاى او موقع ځانګړې معنا او مفهوم ښندي.

په پښتو ژبه كې تركيبونه ځانله خاص ډولونه او قسمونه لري چې هر يوبه يې په خپل ځاى وښودل شي.

دلته دا خبره ضروري ده، چې د مستقلو تركيبونو Phrases ، اصطلاح (ايډيوم Idiom) او داسې نورو تركيبونو سره توپير وشي.

تركيب (غونډ)

تركيب د دوويا زياتو (خپلواكو او ناخپلواكو) كلمو او مورفيمونو يو ځاى كيدو څخه عبارت دى چې اجزايې يو له بله سره ګرامري ارتباط ولري، يا د دوو يا زياتو خپلواكو او نا خپلواكو مورفيمونو مجموعه ده چې برخې يې يو بل سره ګرامري رابطه ولري. د تركيبونو د څېړنې او مطالعې څخه داسې جوتيږي چې تركيبونه د معنا ، جوړښت له مخې بيل ډولونه لري.

تركيبونه (غونډونه) برسېره پردې چې د جملو په جوړونه كې برخه لري په ځانګړې توګه د نحوي واحدونو وظيفه هم سرته رسوي.

ځيني ګرامريستان لكه ف.ف. فورتون اتوف[1] اوم. ن. پيترسون[2] نحوه Syntax د تركيبونو (Phrases): څېړنې او مطالعې ته وايي او جملې يې د تركيبونو يو ډول (قسم) ګڼلې دي.

د پښتو ژبې په ګرامرونو كې د تركيبونو ذكر په لاندې ډول راغلى دى. پښتو ژبې لياره كې داسې څرګندونه شوې ده:

(د نحوې علم د خبرې كلام تركيب او تاليف او د كلمو د استعمال موقع بيانوي.

كلام: هغه نطق او عبارت ته وايه شي چې د مقصد د بيان د پاره ويل كيږي.

تركيب: د خبرو هغه بيئت (ډلګى) ته ويل كيږي چې د دووليا زياتو كلمو څخه حاصله شوې وي. تركيب دوه ډوله دى يو (نيم ګړى تركيب بل بشپړ تركيب)[1].

---

[1] **معاصره روسي ژبه. مسكو** 1970.

[2] **همدا اثر.**

[1] **محمد ل مومند، د پ تو ژبي لياره، بلخ،** 1317 **كال** 316 **مخ د زياتو معلوماتو د پاره همدغه ماخذ و وري.**

همدارنګه محمد اعظم ايازي په خپلې کوچنۍ رسالې پښتونحوه کې د ترکيبونو يادونه کړې او د کلام اقسام تر سرليك لاندې داسې ليکي: کلام پردوو ډولو دی: (کلام ناقص او کلام تام)[2]

همدارنګه د هر برت پنزل پښتو ګرامر کې د پوره عبارت او لنډ عبارت ذکر راغلی او هم د مرکبو کلمو يعنی د ترکيب Phrases اصطلاحګانې يادې شوي دي. دلته عبّارت مقصد له جملې څخه دی. په دې توګه د ترکيب په برخه کې دا داتي ترکيبونو اسمي غبرګو ترکيبونو، فعلی ترکيبونو او داسې نورو يادونه يې کړې ده. عظيم شاه خيال (د پښتو رف ونحوه) کې د ترکيبونو په باب داسې څرګندونه کړې ده: مرکب د دوو يا ددوو څخه زياتو کلمو يو ځای کولو ته ترتيب وايي او په دې کې چې کومه خبره يا جمعه جوړه شي هغه ته مرکب کلام وايي مرکب يا کلام دوه قسمه دی.

1- ناقص يا نيمګړي مرکب کلام (2) تام مرکب يا کلام يا جمله.

په ناقص مرکب کې داسې وايي: هغه مرکب ته وايه شي چې څه پوره خيال يا مطلب ترې نه څرګنديږي يعنی داسې مرکب چې اوريدونکی ترې پوره فايده وانخستی شي او تسله يې پرې ونه شي او هغه د پوره مطلب د بيان منتظر وي لکه:

د انوراس، هغه دارو، ناقص مرکب تل د يوې جملی جزوی[3].

همدارنګه د ترکيبونو په باب د پوهاند رښتين علمي اثر[4] په لاس کې لرو چې د لغت پوهنې (لکسيکالوجی) په برخه کې ډېر ښه معتبر مواد لري. د ترکيبونو په برخه کې هم په زړه پورې مواد لري، چې پوره د استفادې وړ ګڼل کيږي. په دغه اثر کې د اسمي ترکيبونو ټول ډولونه. غبرګ ترکيبونه، بشپړ نابشپړ، عددي، ضميري، قيدي، صفتي او داسې نور... او هم دارنګه د فعلي ترکيبونو مثالونه هم راوړل شوي دي.

---

[2] محمد اعظم ايازي، پ تو نحوه، کابل 1327.

[3] عظيم شاه خيال، صرف نحو پ تو، پ   ور. 283 مخ.

[4] صديق الله ر تين، پ تو اشتقانونه او ترکيبونه، کابل 1327هـ ش کال.

همدارنګه پوهاند رښتين د پښتو ګرامر دويم ټوک کې د نحوي واحدونو (ترکيبونو) په برخه کې پوره مفصل معلومات وړاندي کړي دي[1].

د ترکيب مشخصات:

اصل مطلب په دی کې دی چې دغه ډول ترکيبونه د مفهوم او معنا د افادې له مخې د الفاظو، کلمو سره يو شي ګڼل کيږي مګر فرق يې دادی چې دغه ډول ترکيبونه مرکب مفهومونه څرګندوي او د نومونو، فعلونو معنا ګانو ته زياته ټاکلې او مشخصه بڼه ورکوي.

د مثال په توګه: خواږه انار، لومړی لوست، د پښتو لوست، اته بجې. نو په دې اړه ويلي شو:

1. ترکيب د دوويا زياتو مستقلو يا نامستقلو کلمو څخه جوړيږي.
2. په ترکيب کې يوه کلمه د بلې تابع ګرځي.
3. په ترکيب کې د کلمو ترمنځ نحوي رابطه ټينګيږي.
4. ترکيب نسبت کلمې ته پراخه او مرکب مفهوم څرګندوي.
5. د جملې او ترکيب ترمنځ توپير او بېلوالی ضروري دی.

د پښتو ژبې په ترکيبونو کې د کلمو ترتيب:

د کلمو ترکيب د ګرامري قاعدې (دمطابقت) له لارې سرته رسيږي او په دې کې د کلمو ترتيب هم برخه لري.

په دې اساس که چيرته د کلمو په ترکيب کې د کلمو ترتيب او مطابقت (سمون) په پام کې ونه نيول شي نو پوره مطلب او معنا هم لاس ته نه راځي.

د بېلګې په توګه: په پښتو ژبه کې د توصيفي ترکيب (غونډ) ترتيب داسې دی چې لومړی صفت او بيا موصوف راځي. (صفت + نوم). په ګرامري لحاظ صفت د موصوف تابع وي لکه: ناولې ښځه، ښېرازه سيمه، ښکلې ودانۍ/ مګر که ووايو ښځه ناولې، سيمه ښيرازه نو بيا دا هغه ترکيب (Phrase) نه دی چې ټاکلې معنا څرګنده کړي په دغه صورت سره د کلمو او ويئونو بې اساسه ترکيب (يو ځاي کيدنه) کومه ټاکلې معنا نه ورکوي.

---

[1] **پوهاند صديق الله ر تين، پ تو رامر 2 ـوك (**1359**كال)،** 1370 **لمريز كال كابل چاپ.**

2- د پښتو ژبې په نحوي سیستم کې د کلمو د رابطې وسیله (سرینې، پسینې) دي چې د هغو په مرسته هم ترکیبونه جوړېږي لکه: د هېواد شاړې دښتې، د افغانستان غرونه.

3- څنګه چې د کلمو په ترکیب کې د کلمو (الفاظو) رابطه او ترتیب ارزښت لري نو همدارنګه په جملو کې هم ډېر ارزښت لري، ځکه د ټول ترکیب معنا او مطلب د کلمو په ترتیب پورې اړه لري.

4- په پښتو ژبه کې د ترکیبونو د څېړنې له مخې ویلی شو چې ترکیبونه د نورو آریایي ژبو په څېر په جلا او بېلو ډلو او ډولونو ویشل کېږي.

د معنا او جوړښت له مخې:

په پښتو ژبه کې خپلواک ترکیبونه: هغه دي چې د مستقلو مورفیمونو له ترکیب څخه جوړ شوي وي دغه ترکیبونه په ټاکلو او ناټاکلو باندې هم بېلېږي:

الف: ټاکلي ترکیبونه: هغه دي چې د ترکیب اجزا یې ټاکلي او ثابت وي[1] او د هغو اجزاو پر ځای نشو کولای بله کلمه راوړو ځکه دغه ترکیب په خپل ځای ټاکلی او پوره مطلب په مستقیمه توګه وړاندې کوي لکه:

د کابل پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، د قبایلو وزارت، د پښتنو مشر، د میوند ځلی، د ملالۍ مېرانه، د پښتنو مېړانه، نوی ښار، پښتني دودونه.

ټاکلي ترکیبونه معمولاً د یوې مرکبې کلمې په توګه پرېوه معین او مشخص شي یا کس پورې اړیکه پیدا کوي.

ځینې دغه ډول (ترکیبونه) او عبارتونه هم خاص نومونه جوړ وي. ټاکلي ترکیبونه د اضافي او توصیفي له ډول څخه دي[2].

ب: نا ټاکلي ترکیبونه: هغه دي چې جوړوونکي یا ترتیبوونکي برخې یې ټاکلې او ثابتې نه وي په دې معنا چې د جوړ شوي ترکیب د اجزاو پر ځای په بېل بېلو مواردو (ځایونو) کې ځینې نورې کلمې راوړل کېدای شي لکه:

---

[1] **د. ك. ا سکالوف، 1،س، صدیتوف،** 101 **عبدالظهو روف.**

[2] **په پ تو ژبه ک کله هم (د (اضافت(د) حذفيإي او د توصیفی ترکیب په دودهم را ي لکه: کابل پوهنتون، میرویس میدان، انار ل.**

د ملالۍ کميس، د اجمل کوټه، زمونږ کتابونه، تورکميس، لس تنه، څو تنه... او داسې نور.
.. په پښتو ژبه کې د ځينو ټاکلو او مشخصو اضافي او توصيفي ترکيبونو څخه پرته نور ټول ترکيبونه د ناټاکلو (غير ثابتو) ترکيبونو له جملې څخه دي.

ج: - په پښتو ژبه کې زيات شمير ترکيبونه شته چې د يوې معنا د پوره او بشپړې افادې د پاره په مقيده توګه استعماليږي چې دغه ترکيبونه په جوړه تکراري... توګه مروج دي. دغه ترکيبونه د جوړښت له مخې په بشپړ او نا بشپړ (مکمل- نا مکمل) باندې ويشل کيږي.

په بشپړو او نابشپړو ترکيبونو کې يوه کلمه د بلې کلمې سره نه تابع کيږي خو په تکراري او جوړه توګه سره راځي. لکه: پاك سپيڅلی، مخامخ، غرونه غرونه، ډول ډول، رنګ رنګ، خواږه خواږه، جوړه جوړه، نيغ نيغ، ژر ژر، من من، خروار خروار، سور سور.

نيمګړي يا نابشپړ مثالونه لکه: چاي ماي، ډوډۍ موډۍ، کارمار، کوږ وږ، کډوډ، البته د پورتنيو ترکيبونو په باب بشپړ معلومات د لوی استاد پوهاند رښتين اثر وګورئ[1]

څنګه چې دمخه مو اشاره کړې ده خپلواك (ازاد) ترکيبونه په اسمي او فعلي ډلو باندې ويشل کيږي نو دلته دا هم زياتو چې داسمي اوفعلي ترکيبونو ترمنځ زيات توپير هم ليدل کيږي، څکه اسمي ترکيبو نه او فعلی ترکيبونه د معنا د بشپړ تابه يا نابشپړ تا به له مخې سره توپير لري يو اسمي ترکيب د جملې د مبتدا په حيث او فعلی ترکيب د جملې د خبر په توګه راځي چې په دې برخه کې به په خپل ځای د اسمي او فعلي ترکيبونو (عبارت) مثالونه راوړل شي.

د جملې او ترکيب (غونډ) ترمنځ توپير:

د جملې او ترکيب ترمنځ خاص توپير شته څکه هغه ځانګړتيا چې د جملې په جوړښت کې موجوده ده، په ترکيب کې نه ليدله کيږي. د يوې جملې مبتدا او يا خبر هر يو د ترکيبونو (غونډونو) (اسمي- فعلي) څخه جوړيږي. د مثال په توګه. په بشپړې او پوره جملې کې مبتداء او خبر او همدرانګه د هغوی متعلقات ځای لري مګر په ترکيب کې دغه برخې نيمګړې وي خو په پښتو ژبه کې هر ډول کلمې او داسمي يا اداتي ترکيب يو لنډ (Utterance) عبارت (جمله) تشکيلولای شي. د لنډ عبارت څخه د رومبي يا وروستي عبارتونو له قرينې څخه ددغه عبارت مستقلوالی د عبارت له سر او اهنګ څخه معلوميږي لکه:

سبا؟، زما په کورکې؟، ای سريه!

---

[1] **صديق الله ر تين، پ تو اشتقاقونه او ترکيبونه، کابل** 1327 **لمريز کال.**

هو صاحبه!، بلی هو!، نه نه، (وا وا وا! او داسې نور ترکيبونه[1] مګر که چېرې دغه لاندنيو ترکيبونو ته نظرواچو، نو بيا د عبارت (لنډ عبارت) يا جملې په بڼه نه شي راتلای، خو د يو بشپړ او مکمل ترکيب (Phrase) حيثيت به ولري.

لکه: سور قلم، ښکلې ننداره، ګران هېواد

که چېرې ووايو: (دا) سور قلم دی.

(دا) ښکلې ننداره ده. نو دا به ساده جملې وي. په دغه ډول ترکيبونو کې معمولاً کلمې يو له بلې سره په جنس، عدد، حالت کې ګرامري مطابقت څرګندوي. په پښتو ژبه کې د کلمو او عبارتونو ترتيب او ګرامري مطابقت ضروري دی.

لکه : د سيند څپه، داسونو شپا ، مست هاتيان، شنه زمريان، لوی غر

په پښتو ژبه کې د ترکيب (غونډ) ډولونه:

په پښتو ژبه کې ترکيبونه په دوو ډولو سره (اسمي اوفعلي) بېلېږي چې بيا هره ډله يې په خپل وار سره په جلا ډلګيو ويشل کيږي.

لومړی: اسمي ترکيبونه (Phrases) او ډولونه يې:

اسمي ترکيبونه هغه دي چې د ترکيب اصلي او اساسي برخه (اجزا) يې نوم (اسم). وي او دغه اسمي ترکيبونه په جمله کې د مبتدا (مسنداليه) او په اسمي جمله کې د خبر (مسند) په برخه کې راځي.

اسمي ترکيبونه په لاندې ډلګيو ويشل کيږي:

اضافي ترکيب:

دا هغه ډول ترکيبونه دي چې د يو اسم نسبت يو بل اسم يا ضمير ته شوی وي يا په بله وينا سره که چېرې دوه نومونه د (اضافت (د) د مالکيت مقيد مورفيم په واسطه له يو بل سره ارتباط پيدا کړي نو يو اضافي ترکيب لاس ته راځي[2].

د پښتو ژبې په اضافي ترکيبونو کې معمولاً يونوم مضاف اليه او بل نوم د مضاف په توګه وي چې مضاف د مضاف اليه څخه وروسته راځي.

---

[1] **هر برت پنزل، دپ تو رامر، کابل** 1340 **(194) مخ.**

[2] **محمد رحيم الهام، روش جديد در تحقيق د ستور زبان دري، کابل** 1349**، (150) مخ.**

په پښتو ژبه کې اضافي ترکیبونه په لاندې توګه جوړیږي:

(د) د اضافت توری + نوم + نوم

د + مضاف الیه + مضاف

بېلګه: د ننګرهار ولایت، د پښتو نخوا غرونه، د پوهنتون کتابتون، د خوشحال خان د ستار نامه، د کابل ښار.

الف: اضافی ترکیب (عبارت) د معنا له مخې د لاندینیو مقصدونو لپاره راځي.

1- د ملکیت یا نسبت او قرابت معنا ښکندوي لکه:

د پوهنځي محصلین،د افغانستان خلك، د زمرك کتاب، د ملالۍ کخوره، د ځلمي ورور.

2- د اختصاص په مفهوم سره:

د بڼ ګلونه، د کابل ښار، د کابل منې، د ښار و ځاله، د جرګو وطن، د زمریو کور، د قبايلو جرګه، د مشرانو جرګه.

3- د بیان او وضاحت په معنا :

د زرو ګوته، د خاورو کنډولی، د اخترو ورځ، د سپوږمۍ شپه.

4- د تشبیه په مقصد:

د سترګو تور، دبېلتون اور، د ښو غشی، د مینې اور، د لستوڼي مار، د انځرګل، د فکر تال، د عقل لاس.

5- د ظرفیت په معنا : داوبو جام، د غوړو ټیم، د چایو ډبلی، د اوبو ګیلاس، دوینو جام، د میو جام.

6- د ورتوب په مفهوم:

د لیدنې وړ، د مرکې وړ، د دوستۍ وړ، د خوړ لومنه، د وژلو سړی، د دوستۍ خلك، د اشنایۍ وړ، دویلو خبره.

ب: د جوړښت له مخې اسمي ترکیبونه:

نومیز (اسمي) ترکیبونه په ساده او مرکب ډول دي:

الف: هغه ترکیبونه چې د دووساده و (مفرد) نومونو څخه جوړ شوي وي. لکه :

د+ نوم+ نوم:

د سیند غاړه، د پسرلي موسم، د علم رڼا، د انصاف تله، د نارنج مېله، د پسرلي وږمه، د انارګل.

ب: هغه ترکیبونه چې لومړی اسم (مضاف الیه) یې یو مفرد اسم او دویم اسم (مضاف) یې دجمع عدد نوم وي:

د + اسم (مفرد) + اسم (جمع)

د ننګرهار باغونه، د نارنج ګلونه، د باغ ګلونه، د بڼ چوني، د هوا مرغان د داور تورې د اور لمبې.

ج: هغه ترکیبونه چې لومړی اسم (مضاف الیه) د جمع عدد او دویم نوم (مضاف) یې مفرد نوم وي:

د + (جمع عدد) نوم + مفرد (اسم).

د غرونو هوسۍ، د ستورو رڼا، د ګلانو ښکلا، د تورو برېښنا، د اسونو شنها.

د: اوس به دلته مضاف الیه او مضاف دواړه د جمع عدد نو مونه وي:

د+ جمع عدد نوم + جمع عدد نوم.

د خلکو ارزګاني، د بورګانو اوازونه، د خاتولو جنډې. یا مضاف الیه مرکب نوم او مضاف ساده (مفرد) نوم وي.

د قصه خانۍ بازار، د کابل پوهنتون محصل، د پښتو ټولنې ودانۍ

هـ: مضاف الیه (مفرد نوم) او مضاف صفت وي.

د + (مفرد) نوم + صفت: دروغتون ناروغ، د لیونتون لیونی، د زماني پوه. د کور مشر، د زماني هوښیار.

و: هغه ترکیبونه چې مضاف الیه د جمع عدد نوم او مضاف یې اسم معنا وي لکه:

د زړو ورو خپلوي، دنا اهلو دوستي، د خلکو اشنايي.

ز- مضاف الیه (اسم) (مفرد ، جمع) او مضاف فعلي صفت وي:

د + نوم (مفرد – جمع) + فاعلی صفت:

د پسرلي ښکلوونکي، د مجلي چلوونکی، د مجلې چلوونکي، د مجلو چلوونکي، د جریدو خپرونکي.

د + نوم (مفرد) + مفعولي صفت:

د زماني رټلی، د خلکو ځپلی.
ح: مضاف الیه د توصیفی ترکیب مفرد په توګه او مضاف د مفرد نوم په توګه راغلی وي.
د + توصیفی ترکیب (مفرد) + (مفرد) نوم.
د نوي ښار جمات، دسره قلم قیمت، د نوي کال ورځ، د لوی خدای کلام.
ط: مضاف الیه د توصیفی ترکیب (جمع) او مضاف د مفرد نوم وي.
د توصیفی ترکیب (جمع) + (مفرد) نوم
د لویو ښارونو اوسیدونکی، د رڼا ورځو غل.
د ژیړو ګلو باغ، د تورو سترګو رنګ.
ك: مضاف الیه توصیفی ترکیب (جمع) او مضاف هم دجمع عدد نوم وي.
د تور و غرونو لیوان، د سرو انارو باغونه (ونې). د لویو غرونو زمریان، د شنوونو توتیان.
ل: هغه ترکیبونه چې مضاف الیه مفرد اسم او مضاف یې توصیفی ترکیب وي.
د + اسم + توصیفی ترکیب (مفرد).
مفرد : د زماني هوښیار سړی، د قوم سپین ږیری، د پسرلي خوږه ورمه.
د + اسم (مفرد) + توصیفی ترکیب (جمع عدد).
دغم درانه خوبونه، د خوشحالې لنډ وختونه، د ملګرتوب ښې ورځې، د ژمي اوږدې شپې، د ژمي لنډې ورځې.
م: مضاف الیه د جمع عدد نوم او مضاف توصیفی ترکیب (مفرد) (جمع)
د + جمع عدد د نوم + توصیفی ترکیب (مفرد)،
د + جمع عدد نوم + توصیفی ترکیب (جمع).
د اوبو ډك جام یا د اوبو ډك جامونه
د شودو غټ پیروی- د کوچیانو اوږده کتارونه
د مستو ډکه کټوه- د سیندونو مستې ځپې، د بوراګانو سوي نغمې.
ن: په دې ډول ترکیب کې مضاف الیه فعلي صفت (فاعلي، مفعولي) او مضاف توصیفي ترکیب، عددي، اشاري... ترکیبونه وي.
الف: د + فعلي صفت (فاعلی مفرد) + توصیفي ترکیب.

مفرد	جمع
د لیکونکي ښه مقاله	د لیکونکو ښې مقالې
د پوهاند پوخ نظر	دپوهاندانو پاخه فکرونه
د څېړاند علمي څېړنه	د څیړاندانو درنې وظیفې
د څارندوی درنه وظیفه	د څارندویانو درنې وظیفې
د تللي هېریاد	د تللو هېریادونه

2- د + فعلي صفت (مفعولي) + توصیفی ترکیب.

د ږبیدلي ژیړه څېره

دوهلي تیزه منډه.

درټل شوي ځوړند سر

ب: فعلی صفت + عددي صفت.

د + فعلی صفت + عددي صفت:

د ګنډونکي یو ماشین.	د ښوونکي یو کتاب
د ځورول شوي یوه خبره.	د پرزول شوي خړه څېره.

جمع :

د ګنډونکو درې ماشینونه

د ښوونکو لس کتابونه.

ج : د + نوم + اشاري ترکیب =

د ښوال دغه باغونه.

د وطن هغه دښتې.

د کلی وال هوغه ونې.

د + مضاف الیه (مفرد ، جمع) نوم او مضاف عددي ترکیب وي:

1- د + نوم (مفرد) + عددي ترکیب:

د ژوند یوه ښکلا، د سریو وینښته، دوني یوه لښته، د کوټې څلور دیوالونه.

2- د + نوم (جمع) + عددي ترکیب:

د کورونو ځلور ګوټونه، د لاسونو پنځه ګوتې، د ملګرو پنځه بکسونه.
3- بل داسې چې: د + عددي ترکیب + نوم (مفرد).
د یوې ونې مېوه، د ځلورو تنو خیال، د لسو تنو زور.
4- د + عددي ترکیب + نوم (جمع)
د ځلورو تنو نظریې، د سلو تنو جرګې.
5- د + عددي ترکیب + عددي ترکیب:
د پنځو تنو پنځه برخې، دیوه کلي یو مشر، د یوه کلي یو سپین ږیری.
ح: مضاف الیه عددي ترکیب او مضاف توصیفی ترکیب راغلی وي. د یوه مین درمند زړه د یوې ونې لویه څانګه، د یوه کتاب لویه برخه.
اوس په دې برخه کې ګورو چې مضاف الیه توصیفي ترکیب او مضاف هم د توصیفي ترکیب په توګه راغلي وي.
د + توصیفی ترکیب + توصیفی ترکیب.
الف: د لوی خدای پاك کلام، د لوړ انسان لوړ فکر
ب: د لوړو انسانانو لوړ شخصیتونه
د غمجنوزړونو سوي اهونه.
د درندو خلکو درانه خو یونه.
بیا هغه ترکیبونه ګورو چې په پښتو ژبه کې هم زښت زیات مروج دي لکه:
مضاف الیه د عطف په صورت کې (عطفی ترکیب) او مضاف یې ساده نوم وي یا جمع وي.
د + مضاف الیه + مضاف:
د + عطفي ترکیب + (نوم):
د موسی خان او ګلمکۍ فلم، د دوست او دښمن مقابله.
دادم خان او درخانۍ داستان، دغم اوښادۍ وختونه (ورځې)
د نن او سبا فکر، د سبا او بېګا خواړه.
ددې نه پرته مضاف الیه کیدای شي چې ددوونه زیات نومونه، صفتونه، ضمیرونه... د عطف په توګه راشي لکه: د کابل، کندهار، ننګرهار، ښارونه، دا ځك، بریالي، زمرك او ځلمي دوستي.
بله دا چې مضاف الیه نوم (مفرد، جمع) وي او مضاف د عطف په صورت سره راغلی وي.

د + مضاف اليه + مضاف:
د + نوم (مفرد، جمع) + عطفی ترکیب:
د کندهار منې انګور او انار، دا څك بوتلونه کتابونه او قلم، د خلکو ارزوګانې او هیلې
د + مضاف اليه + مضاف په دې ترتیب سره چې:
(د + عطفي ترکیب + توصیفي ترکیب) وي.
د کابل او ننګرهار لویه لار، د سوز او ساز ډکې نغمې
د بلبلو او بورګانو سوې نغمې (لوړ اوازونه).
د شتمنو او دولتمنو بدنیتونه.
پاتې دې نه وي چې په اضافي ترکیب کې برسېره پـه نومونو و ترکیبونـو د پښتـو ژبې تکراري جوړه، مترادف- مشابه او متضاد ترکیبونه هم د مضاف اليه او یا د مضاف پـه توګـه راځي، چې د ټولو راوړنه دلته ډېر وخت غواړي، یوازې دغه څو مثالونه یې د بېلګې په توګه راوړو:
1- د دوستانو غرونه غرونه سلامونه، د دوستانو ځولۍ ځولۍ سلامونه.
2- د لویې ونې خواره واره ښاخونه، دغتې ونې خورې ورې څانګې.
3- د زرکو سترګو تیز تیز کاته، د هو سیو سترګو ترنده ترنده کاته.
4- د پېغلو لنډ لنډ قدمونه.
5- د لسو لسو تنو ډلې.
6- د تك راتګ لار، د خوا په خوا مرکه، د شورماشور خبرې.
یا د ملګرې تګ راتګ، د خلکو شورماشور.
یادونه:
په اضافي ترکیبونو کې که چېرې د یوه نوم (مضاف اليه) پر ځای ضـمیر راشـي نـو پـه دغـه ډول ترکیب کې هم د اضافت (د): مضاف اليه + مضاف خپل دریځ ثابت ساتي لکه:
(د) زمـا کتـاب، زمونـږ هیـواد، سـتا خوینـه، ستاسـې هیلـه، دده ورور، ددې کتابچـه، ددوی خبره، دهغه (هغې) ملګرې، د هغوی.. چې پـه دغـو ترکیبونـو کې هم د مفرد او جمع صورتونه را تلای شي. په دغه ډول ترکیب کې هم مضاف اليه تر مضاف د مخه راځي.
په پښتو ژبه کې یوازې په هغه صورت کې مضاف تر مضاف اليه د مخه راتلای شي چې،
1- مضاف اليه ناځپلواك (اداتي) ضمیرونه وي.

2- کله نا کله د بدل په توګه هم مضاف د مخه راځي البته په شعر او ځینو ادبي هنري لیکنو کې دغه طریقه دود لري.

لکه: ونه د چنار، پاڼه دګور ګورې، لښته دونې، سر د زړه.

توصیفي ترکیب:

داړ له ترکیبونه هم داسمي (نومیز) ترکیبونو (عبارت، غونډ) په ډله کې راغلي دي، چې دغه ترکیبونو ته په عامه توګه مرکب صفتونه[1] وایي البته په هغه صورت کې چې مرکب مفهوم ورسوي دغه ډول ترکیبونه (Phrases) د یو اسمي مرکز (زړي) سره د صفتي ډلې (کلمو) له ترکیب څخه لاس ته راځي.

توصیفي ترکیبونه (غونډونه) هغه دي چې دیوه اسم (نوم) یا ضمیر حالت څرنګوالی د صفت په واسطه بیان او څرګند شي.

په پښتو ژبه کې توصیفي ترکیبونه د جوړښت له مخې په لاندې توګه جوړیږي.

د مثال په توګه:

(صفت + اسم)، (نوم + نوم)، (نوم + صفت)، (نوم + قید)، (نوم + فعلی صفت)، (صفت + صفت).

ددغه ډول ترکیبونو بشپړ فهرست په لاندنیو ماخذونو کې لیدلی شو[2][3][4][5].

په پښتو ژبه کې صفت د نوم (مرکز، زړي) موصوف څخه دمخه راځي او د ګرامري قاعدې له مخې صفت د نوم موصوف تابع دی.

که چیرې (موصوف) د نارینه یا ښځینه مفرد یا جمع وي نو صفت ورسره هم په هماغه ډول د عدد ، جنس، حالت له مخې سمون کوي[1].

---

[1] **صدیق الله ر تین، د پ تو اشتقاقونه او ترکیبونه، کابل، 1327، (77) مخ.**

[2] **صدیق الله ر تین، د پ تو اشتقاقونه او ترکیبونه، کابل، 1327، (77-79) مخونه**

[3] **داکتر زرغونه، د پ تو اشتقاقونه او ترکیبونه، کابل پوهنتون، 1357 کال د پوهن ي درسي نوټ (52-54) مخونه.**

[4] **عظیم شاه خیال، پ تو صرف ونحو، پی ور 1942 ع کال.**

[5] **د ارمستر، ا ای ر، مور نسترن، تاریخ تلفظ و صرف پ تو لومړی وک، کابل. 1356 ل کال.**

لکه: نارینه (مفرد) ستړی هلك، سبزنی کال، لنډ فکر
نارینه جمع، ستړي هلکان، خواږه نثرونه.
ښځینه (مفرد): خوږه ورېمه، تازه هوا.
ښځینه (جمع) خوږې نغمې، ترخې ورځې.
په پښتو ژبه کې توصیفي ترکیبونه په لاندې توګه ښودلی شو:
الف: صفت (مفرد) + نوم (مفرد)؛ لنډ فکر، اوږد تار، رڼا ورځ، لنډه ورځ، نوې مفکوره
ب: صفت (جمع) + نوم (جمع) لکه: زاړه خیالونه، تاوده سلامونه، کاږه ورمېږونه، لنډې ورځې، اوږدې شپې.
ج: ضمیر + صفت: هغه خوار، دغه بې وزلی، ته خوار، ته خواره، ځولیوني، څومره ډېر، څومره لوړ، څه ښکلی.
د: نسبتي صفت + نوم = توصیفي ترکیب.
کابلی سړی، ننګرهاري خلك، افغاني کلتور، ادبي جرګه، ملي پانګه، لاندینی پوړ، ننۍ ورځ، دولتي موسسه، خاورین کنډولی، وریښمین کالی، او بلن ماسته، خیرن کالي، زړ ور خلك، ګټه ورکار، شته من سړي، غیرتمن پښتون، کرکجن سړي، کبرجن سړي، تورځن سړي.
هـ: نسبتي عددي صفت + اسم.
شلیز نوټ، سلګون نوټ، لسیز نوټ، پنځوس ګون نوټ.
و: مجرد (معنا) نوم + نوم = ستوصیفي ترکیب:
توریالی سړی، توریالي جنګیالي خلك، فرهنګیالی خوشحال.
ز: فعلي صفت (فاعلی) + نوم = توصیفي ترکیب:
راغلی سړی، تللي وختونه، سوځونکی بم، تلونکې دوره، تلونی هلك، وتښدوی هلك، ګرځندوی موټر، خوځندوی (ځوځند) ماشوم.
ح: فعلي صفت (مفعولی) + نوم.
رټلی هلك، وهلی هلك، ځپلی هلك، رټل شوی هلك، وهل شوی ماشوم، ځورول شوي خلك.

---

[1] یادونه: په ینو شریکو صفتونو ک ددغه قانون خه مستثني دي لکه : هو سا، ساده، قوي، أاأه، خپه (سؤي، ه).

ط: اشاري ضمير + اسم[1]:

1- دا	دغه	هغه	ښار.
دا	دغه	هغه	جونکړه.
دا	دغه	هغه	وګړي
دا	دغه	هغه	ورځ

2- استفهامي ضمير + نوم: کوم خلك، څه شيان، څو سړي، څومره کسان، څو تنه، څووم سړی.

په پورته مثالونو کې موولیدل چې صفت او موصوف د بسیطې او ساده کلمې څخه دي ولې پرته له دې څخه په پښتو ژبه کې ډېر داسې مثالونه وينو چې د ترکيب يوه برخه يې مرکب او بله يې ساده او يا برعکس وي او يا دواړه برخې يې مرکبې وي.

لکه: ډيرې خوږې مڼې، خورا ډېرې لنډې ورځې.

1- ډېر درانه او سپيڅلي خويونه.

مړ ژواندی سړی، روغ جوړ خلك، وچ کلك لرګی، سره سپينه ښځه، خواره واره کالي، وړې ترې مسافر.

لنډ لنډ کميسونه، اوږده اوږده کالي، اته اته برخې.

2- شنه باغونه او چمنونه، شنې ونې او ځانګې.

3- هغه يوه ښکلې نجلۍ، دغه يوښه پوخ مضمون.

علمي څېړه شوې مقاله، دغه يوه څېړه شوې علمي مقاله.

روښانه ليدله شوې مياشت، رټل شوي مظلوم خلك.

يو ډېر ښه اسان کار، دغه راغلې پښتنه مېلمنه پېغله.

په ﭘ و ژبه کې د صفتونو د ينو ألو او د ينو ضميري صورتونو أولونه په کاره تو ه ر ند نه وي نو داسمي مرکز او د هغوي د متعلقو صفتونو په منځ کې کله دغه د اسم او صفت مطابقت کاره نه ر نديإي لکه: ته خوار يا ته خواره، ته ساده، هغه ار، هغه جون ؤه! دغه کار، دغه پوهه . . .

[1] که د اشاري ضمير ونو سره د مرجع (نوم) يادونه شوي وي اشاري صفت بيا توصيفي ترکيب دی.

عـددي ترکيبونـه: چې د عـدد (شـمېر) او نـوم (معـدود) څخـه رغيـدلي وي. پـه دې ترکيبونو کې بيا هم نوم د ترکيب مرکزي (زړی) وي. په پښتـو ژبـه کې عـدد هم تر خپل معدود د مخه راځي او د عدد، جنس په لحاظ د معدود تابع وي[1].

په لاندې توګه عددي ترکيبونه دي:

1- عدد + نوم : دوه کتابونه، دوې ښځې، يو خبر، يوه ماڼۍ، درې کتابونه، درې کتابچې.

2- عدد + ضمير : يو هغه، يوزه، دوه دوی، دوه موږ، دوه تاسې، دوه هغوی، يوته، يوزه، يـو ځوك، يو چا.

3- ضمير + عدد: هغه دوه، دغه يو، دغه لس. کوم يو، کومه يوه هريو، هره ګړۍ، هر ساعت.

4- ترتيبي عدد + اسم: پنځم سړی، لسم ټولګی، شلمه پېړۍ، پنځمه برخه.

5- داسمونو او عددونو ترمنځ کله کله قيـدي (تميـزي) کلمـې هـم راوړل کيـږي: دوه تنـه سړي، ديرش کسه ميلمانه، څلور سره غويان، دوه دانې قلمونه، څلور ټوکه کتابونه، يو تختـه کاغذ، دوه تانه رخت، يوه ټوټه ځمکه، يوه پايه الماری، څلور جوړې بوټان.

6- د مطلقو عددونو ترکيب د (پر) پريدلوك (سرينه) سره:

دوه پرپنځه، درې پرلس، يوه پر څلور، يو پر څلور.

7- مطلق عدد + رتبي عدد + نوم : دوه پنځمه برخه (5/2) دوه شلمه برخه (20/2) [2].

8- په مرکبه توګه: عدد + توصيفي ترکيب (غونډ):

يوه ښکلې مرغی دوې هوښيارې نجونې، درې غټې چرګې، لس تنه پاخه مـشران، يوه ډېره لويه درنه جرګه.

قيدي ترکيبونه:

د نوميزو ترکيبونو په ډله کې قيدونه هم ستره برخه لري، چې ددغـو ترکيبونـو اصـلي او اساسـي توکي قيدونه دي او د جلا او بېلا بېلو معناګانو په غرض ځيني نور مورفيمونه (تاکيد، عدد، نوم،

---

[1] په پ ىتو ژبه ک عدد د يو خه وروسته د جمع په تو ه راوؤل کيإي او دجنس په لحاظ (يـو او دوه) تـصريفيإي م ر ددرې شمير خه وروسته د ولو جنسونو له پاره يو أول را ي.

[2] د زياتو معلوماتو د پاره و وري:

د پوهاند صديق الله ر تين، پ ىتو رامر. لومؤی وك. کابل. 1327 لمريز کال (121) مخ.

سرینه او پسینه) ورسره یو ځای کیږي او ټول ترکیب د قید په توګه په جمله کې استعمالیږي. د پښتو ژبې قیدي ترکیبونه (Adverbial) په لاندې توګه لنډ لنډ راوړل کیږي.

الف: قید + قید = قیدي غونډ (ترکیب)

لره بره، وړاندې وروسته، هلته دلته، اخوا دیخوا. کښته پورته، لاندې باندې، اپلو دې پلو په تکراري توګه: اوس اوس، کله کله، ژر ژر. ورو ورو، چابك چابك، ګړندی ګړندی.

ب: نوم + نوم = قیدي غونډ.

اغزي اغزي، غرونه غرونه، کلي کلي، سیندونه سیندونه، پنډ پنډ، ځولۍ ځولۍ، ډلې ډلې.

ج: صفت + صفت = قیدي غونډ:

پټ پټ، پوست پوست، لوی لوی، تود تود، خوار خوار، شور شور، غټ غټ، غلی غلی، ګڼ ګڼ، وران وران، مات مات، ټوك ټوك.

د: عدد + عدد = قیدي غونډ.

پنځه پنځه، شل شل، لس لس،

هـ: عدد + عدد + نوم = قیدي ترکیب (غونډ).

یو دوه ورځې، دوه درې ساعته، درې څلور کتابه، پنځه شپږ کاله.

عدد + اسم = قیدي ترکیب (غونډ).

دوه ورځې، درې میاشتې، یوه ورځ، یو ځلي.

و: صفت + قید = ترکیب (غونډ).

ډېر نژدې، ډېر لرې = ښه کښته، ډېر ژر. ډېر لږ، لږ ورو، سپین سبا، توره شپه

ز: ضمیر + ضمیر = قیدی ترکیب.

خوك خوك، چا چا، څه څه، کوم کوم.

ح: صفت + صفت:

ډیر هوښیار، ښه غښتلی، توره خره.

ط: ټاکلی ضمیر + نوم:

هر ځای، هر چېرته (مکاني قید)

هر وخت، هر کله (دزماني قید)

ي: سرينه + نوم = مکاني قيدي ترکيب.

هم هلته، هم دلته.

ك: نوم + په + نوم = مکاني، زماني

ځای په ځای، کور په کور، کوڅه په کوڅه، کلي په کلي، وخت په وخت، کال په کال، مياشت په مياشت، ټك په ټك، ګړۍ په ګړۍ.

ل: صفت + په + صفت = حالتي قيدي ترکيب: پټ په پټه

(عدد + په + عدد): يو په يو. دوه په دوه.

م: نوم + تر + نوم = زماني قيدي ترکيب:

کال تر کاله، ساعت تر ساعته، ورځ تر ورځې

ن: قيد + تر + قيد:

ژر تر ژره، تل ترتله.

ق: صفت + تر + صفت : لرې تر لرې، ډېر تر ډېره.

ر: قيد + تر + نا خپلواك ضمير.

وروسته تردې يا تردې وروسته، پخوا تر دې، مخکې تردې.

ش: (سرينه) سر بل په + صفت + نوم (قيد):

په ښه توګه، په ډېره بيړه

ت: (سرينه) سر بل په + نوم: په خندا، په ژړا، په مړانه، په تلوار، په منډه

ض: سربل په + نوم + نوم = قيدي ترکيب: په منډه منډه، په د انګو دانګو، په خندا خندا، په ژړا ژړا، په نارو نارو، په چيغو چيغو، په کړيکو کړيکو.

تاکيدي ترکيبونه:

په پښتو ژبه کې تاکيدي ترکيبونه له دووهم اهنګه او هم معنا کلمو څخه جوړ شوي وي.

تاکيدي ترکيبونه په دوه ډوله دي:

الف: چې يو لفظ (کلمه) په ترکيب کې کټ مټ تکرار شوي وي. لکه پورتني ځيني مثالونه:

ب: چې يو لفظ په کې په لږ تغير سره تکرار شوي وي لکه: ټك ټوك، ډزډوز، ټيل ټال.

ج: چې په دوهمې کلمې کې داول توري په ځاي (م) يا (پ) يا (ب) يا (و) راوړل شوي وي لکه: لرګي مرګي، ډوډوی موډی، اوبه موبه، غنم منم، زوړ پوړ، خړپړ، ژېړپېر، کلك پلك، هك پك، سوړ پوړ، خيرې ويرې، کوږ وږ، خورور، ګډوډ، تور بور. د زياتو معلوماتو د پاره وګورئ[1][2][3].

اداتي (ارتباطي) ترکيبونه (غونډونه)

اداتي ترکيبونه ځکه ورته وايو چې له اداتو او اسمي مرکز څخه جوړ شوي وي. ددې ترکيبونو اسمي مرکز ضمير يا اسم، صفت او يا کوم بل هر ډول اسمي ترکيب وي. په دې ترکيبونو کې ادات هم له اسم[4] څخه وروسته او هم د مخه او هم داسمي مرکز په دواړو خواو وکې استعماليدای شي.

هغه ادات يا توري چې په يوې جملې يا يو ترکيب کې د کلمې يا له يوه نوم څخه د مخه يا وروسته راغلی وي د هغه ټاکلی حالت او دريځ څرګندوي.

دغه ادات چې د کلمو (نومونو) نه د مخه راشي سرينه او هغه چې وروسته راغلی وي پسينه ورته ويل کيږي.

---

(1) ر تين پوهاند صديق الله. د پ تو اشتقاقونو او ترکيبونه. کابل، 1327. لمريز کال

(2) ز. م. کالينينا، د پ تو ژب لغت پوهنه، مسکو، 1970. ع

(3) أاکتر زرغونه، د پ تو اشتقاقونه او ترکيبونه، کابل، 1357، درسي لکچر نوټ.

(4) اسمی مرکز.

د پښتو ژبې په زياتو ګرامرونو کې دغه ادات د جاره، جري توري[5][6] کلمات غير متغير[7] (د مفعول توري)[8]ادات يا توري[9][10][11] مغيره تورو په نامه راغلي دي.

په هر صورت څرګنده ده، چې دغه ادات (پيشينې، پسينې) په ځانګړي توګه کومه خاصه لغوي معنا نه لري ولې چې په جمله يا ترکيب کې د ناخپلواکو يا مرستيالو توکونو په توګه راځي چې معنايې د هماغو نومونو، فعلونو، قيدونو سره په استعمال کې څرګنديداې شي.

په اداتي ترکيبونو کې هره سرينه د خاص او ټاکلي معنا د څرګندولو له کبله خاصه او ځانګړې پسينه قبلوي ليکن په پښتو ژبه کې که سرينه له پسينو سره جوړه په ترکيبونو کې برخه اخلي نوپه زياتو مواردو کې يوازې سرينه او يا يوازې پسينه هم د مطلب ټکی بيانولی شي.

لکه: د (پرميز باندې پرځای که ووايو ميز باندې

1- د (ترکوره پورې پر ځای که ووايو (کوره پورې)

2- د (پر کتاب ٓباندې پر ځای که ووايو، پر کتاب.

3- مګر په دې لاندې مثالو کې ګورو چې يوازې سرينه راوړل کيږي، خو پسينه يې عامه نه بريښي لکه: په پښو لاړم.

په توره يې وواهه، په چاړه يې پرې کړ، په دعا ښه شو، په ژړاله کوره ووت.

4- مګر که ځينو مثالونو ته ځير شو نو بيا ګورو چې هلته دواړه توکونه (سرينه، پسينه) لازمي دي.

لکه: په کورکې، په منګې کې، په پوهه کې[1].

5- په ارتباطی حالت کې داسې هم ليدل کيږي، چې پسينه پرته له سرينې په ځانګړې توګه راځي.

کورته، هغه ته، غرمې ته، سباته، خواته، زړه ته...

---

[5] عظيم شاه (خيال) صرف و نحو پ تو، پيـ ور (238) مخ.

[6] محمد اعظم ايازي، قواعد پ تو، کابل 1318.

[7] جميزه د ارمستتر، تاريخ تلفظ و صرف پ تو، ترجمه 1356. ل

[8] محمد ل مومند، د پ تو ژب لياره، بلخ 1317 (309) مخ.

[9] پوهاند صديق الله ر تين، پ تو رامر (1- وك) کابل، 1327 (30) مخ.

[10] پوهاند صديق الله ر تين ژب و دنه، کابل 1343 (6) مخ.

[11] هر برت پنزل، پ تو رامر، کابل، 1340 (18) مخ.

[1] دلته کله کيداي شي، چ سرينه حذف شي م ر پسينه به خامخا را ي لکه: کورک ، من ي ک ، پوهه ک .

اوس غواړو د پښتو ژبې د بېلا بېلو سرينو او پسينو مثالونه د ترکيبونو په توګه راوړو:
سرينه يې او پسينه يې ترکيبونه (غونډونه، عبارتونه):

لومړي: د (په) سره دغه لاندې پسينې راځي:

الف: د (په) سرينه او (کې) پسينه.

سرينه + اسميه + پسينه.

1- په کورکې، په الماری کې، په افغانستان کې، په هيواد کې.
2- په مياشت کې، په دوبې کې، په شپه کې، په کال کې، په ورځ کې.
دلته ګورو چې (په، کې) د مربوطه نوم ظرفي حالت ښيي (مکاني، زماني) حالت ځرګندوي.
سربېره په ظرفيت د شموليت معنا هم لري لکه:
زه په کې نه يم: ياژه په دې خبره کې نه يم. په دې برخه کې پوهاند رښتين داسې نظر ځرګند کړی دی.
د ظرفيت ادات (په،کې) که د ظرف مکان او ظرف زمان سره استعمال شي حقيقي ظرفيت افاده کوي او که د نورو اسمونو سره راوړل شي غير حقيقي ظرفيت ښکاره کوي لکه:

1- سليم په کوټې کې دی.
2- په اوړي کې ګرمي ده.
3- په سليم کې دروغ نشته.
4- حميد په کارکی مړنی دی.
5- په منډه کې تېزدی.
6- په پوهه کې زيات دی.
7- په لوستلو کې مړنی دی[1].

ب: د (په) سرينه او (پورې) پسينه وريورې پيوستون ښيي.

سرينه + اسميه + پسينه: په ځان پورې، په زړه پورې، په خوا پورې

سرينه + ضمير + پسينه:

په تاپورې، په ماپورې، په هغه پورې، په مونږ پورې.
دلته ګورو چې الحاقيه (پيوستون) حالت ځرګندوي.

ج: د (په) سرينه او (سره) پسينه.

(1) دغه ترکيب داله توب يادالې حالت ښيي.

---

[1] **پوهاند صديق الله ر تين. پ تو رامر** 2 **وك، کابل،** 1359 **نا چاپ.** 1370 **لم**

په + اسميه + سره

په زور سره، په خوښۍ سره، په چړې سره

(2) (په) سرينه او باندې پسينه.

دغه هم دالي حالت څرګندوي. لکه: په چاړه باندې، په تبر باندې او د (باندې) پسينه د (په) سريني سره د پښتو ژبې په شرقي لهجو کې راځي ولې که عامې او اصلي محاورې ته ځير شو دلته د ډېرو مثالونو څخه جوتيږي چې د (په) سرينه غبرګه پسينو (سره، باندې) څخه دالي حالت څرګندوي لکه:

په خوښه، په (په بياتي) په توري، په قلم، په پښو، په دستمال، په چاکو، په ټوپك، په لرګي.

اوس به دغه مثالونه په جملو کې وګورو:

په خوښه لاړشه. په بياتي يې پرې کړه. په توره يې وواهه،

په پښو ولاړم، په قلم يې وليکه، په دستمال يې وچ کړه.

په چاکويې پرې کړه، په تور ټوپك ويشتلی راشې، په لرګي يې سرمات کړ.

(3) د (په) سرينه د نوم سره د قيد معنا ورکوي:

په منډه، په ژړا، په نڅا، په بيړه، په تلوار، په زوره.

د (په) او (پسې):

نومورې (سرينه او پسينه) د پرله پسې والي معنا څرګندوي:

(په) + اسيمه (ضمير) + پسې:

په ملالۍ پسې، په او بوپسې، په دوبي پسې، په ګرمۍ پسې، په غم پسې، په شوي کارپسې. په ما پسې، په هغه پسې، په ده پسې، په تاپسې[1].

دويم: د (پر= په) پيشنه او (باندې) پسينه، استعلايي ادات دي چې معمولاً د پورته معنا لري. د (پر = په) سريني په ډېرو ځايونو کې د يوه مفهوم دپاره راځي، که څه هم په ځينو لهجو (غربی) کې د (پر اوپه) د استعمال موارد بيل دي، ولې د پښتو ژبې په نورو اکثرو لهجو کې (پر=په) د استعلايي اداتو په توګه استعماليږي البته د قريني او د جملې د محتوا څخه معنا لاس ته راتلای شي.

د (پر، په) سرينه د باندې پسيني سره په لاندې توګه ترکيب جوړ وي.

---

[1] **په دغو مثالونو ک   د (په) سرينه حذفيدای شي ول   د (پس   ) پسينه به خامخا وي.**

لکه پر دښمن باندې، پر سرحد باندې، پر لارې باندې تك راتګ، پر کتاب باندې، پر ځمکه باندې، پر زړه باندې.

ولې په دغو مثالونو کې ګورو چې د (باندې) پسینه زیاتره غورځیږي او د (پر=په)سرینه پرته له پسینې (باندې) څخه هم په دغه مفهوم سره راوړل کیږي. لکه: (سرینه + اسمیه) پر دښمن یې یرغل وکړ. پر اوږو باردی، پر کتاب پروت دی، په پرمیز پروت دی، اپردیوال ځوړند دی، پر زړه یې تیاره ده، په زړه یو څه پر خوله بله.

کله داسې هم وي چې اسمیه + پسینه راځي په دې معنا چې د (پر) سرینه حذفیږي (غورځي) یوازې (باندې) پسینه ورسره راځي لکه: میز باندې، بام باندې، کوټې باندې، الماری بآندې، زړه باندې، سرباندې، ده بآندې.

دریيم: د (تر) سرینه او (لاندې) پسینه:

(تر- لاندې) استیلایي حالت ښیي یعنی د لاندې معنا ورکوي چې دغه حالت کې د لاندې پسینه هیڅکله نه غورځیږي مګر د (تر) سرینه که رانه وړ له شي خو خپله معنا له لاسه نه ورکوي. اصلی صورت یې داسې دی:

الف: پېشینه + اسمیه + پسینه.

ترکوټې لاندې، ترمیز لاندې، تر اوبو لاندې، چې لاس لاندې، کوټې لاندې، میز لاندې، اوبو لاندې هم راځي.

ب: (تر، پورې، ان) چې دغه ادات اتصالي حالت ښیي.

همدارنګه نوموړي سرینې او پسینې ته د انتها یا (تم ځای) ادات هم وایي چې د یو فعل د اظهار ختم انتها او انجام ښیي.

ترکیب یې داسې دی: تر + اسیمه + پورې:

ترکابله پورې، تر کوره پورې، تر مازیګره پورې، تر غرمې پورې، تر اوسه پورې، ترماپورې.

په دغو مثالونو کې مکاني او زماني څرګندونه کیږي.

کله هم (تر) او (پورې) په جلا توګه هم راوړل کیږي خو په معنا کې کومه نیمګړتیا نه راځي. کوره پورې، کابله پورې، غرمې پورې، ماښامه پورې، یا تر بازاره، تر کوره، تر کابله، تر غرمې، ترماښامه او داسې نور...

ج: (تر) د وروسته یا راوروسته (د مخه) قید سره:

تر + اسميه + وروسته

تر غرمي وروسته، تردي وروسته، ترما وروسته، تر مارا وروسته،

د : (تر) د (ځيني، نه) سره:

دغه ادات د مقايسې مطلب ځرګندوي: ترتاځيني، ترتانه، او يا خوپرته له پسيني راځي لکه: ترتا، داكور تر هغه ښه دی، دی تر هغه مشر دی.

دلته (تر) د (له) معنی هم ورکوي[1] [2].

هـ: تر يوازې د سريني په توګه هم راځي: تر ټولو مشر، ترما ښامه، ترګريوانه، ترستوني.

څلورم: د (له) سرينه (پېشينه) د لاندنيو پسينو سره راتلای شي:

الف: (له) د (څخه، نه، ځني) سره ادات ابتدادي چې پيل ځاي يامنشايي حالت ځرګندوي يعنی د يوه كار پيل او ابتداښيي.

1- له + اسميه + ثخه 2- له + اسميه + نه 3- له + اسميه + ځيني.

1- له كور ثخه، 2- له كورنه، 3- له كورځني.

له بآزار ثخه، له افغانستان نه، له بازار ځني

له افغانستان ثخه له، ننګرهارنه.

د (له) سرينه كله هم يوازې پرته له(څخه، نه) پسينو څخه استعماليږي.

لكه: له كوره، له ښاره ووځه له نرخه مه وځه.

او يا بازار ثخه، كور ثخه، ميلي نه، لوبغالي نه. دلته بايد ووايو چې (نه، څخه) پسينو سره د (را- در، ور) ضميرونه راځي. لکه سليم رانه. خپه ولاړ. ټولي پيسي ورنه بې ځايه ولاړې[1].

الف: (له، ثخه، نه) نسبي يا مقايسي (پرتليز) مطلب هم وركوي.

له تا ثخه، له تانه مشريم، له تا ځني وړاندي يم.

ب: (له) او (ثخه، نه) سببي علتي حالت ښيي.

له ګرځيدو ثخه ستړی شوم، له ګرځيدو نه ستړی شوم.

1 له اوريدو ثخه — 2 له اوريدونه — 3 له اوريدو — 4 اوريدونه (ثخه)

---

[1] (تر) په اي (د) هم را ي او همدغه معنا ر ندوي لكه د كو لاندې د ميز لاندې، د اوبو لاندې.

[2] د تر په ای د (له) سرينه هم را ي لكه: تر تازه ه يم = له تازه ه يم.

[1] پوهاند صديق الله ر تين، پ تو رامر 2 وك اوس چاپ كابل د پوهن وزارت، 1370 لمريز كال.

له نول ښځه	له نول نه	له نوله	نول نه	(ښځه)
له غم ښځه	له غم نه	له غمه	غم نه	(ښځه)
1	2	3	4	
له ويرې ښځه	له ويرې نه	له ويرې	ويرې نه	(ښځه)
له لوږې ښځه	له لوږې نه	له لوږې	لوږې نه	(ښځه)
له ستړيا ښځه	له ستړيانه	له ستړيا	ستړيانه	(ښځه)

يادونه: پورتني مثالونه (1-2) د پيشينو او پسينو په مرسته بشپړ ترکيبونه دي. خو (3) پرته له پسينو ښځه او (4) بې له پيشينو ذکر شوي دي.

ج: (له) د (سره) قيد سره راځي:

(سره) د معيت او ملګرتيا ادات ګڼل کيږي، چې د (له) او (د) سره يو ځاي استعماليږي.

پيشينه + اسميه + پسينه:

له ځلمي سره	له خلکو سره	له دوي سره	له هغوی سره
له هر چا سره	له تولو سره	له هيواد والو سره.	

په دغه ترکيب کې پيشينه حذفيداى شي لکه: خلکو سره ملګرتيا کوي. ملالۍ دوي سره روانه ده. ولې (سره) پسينه معمولا راوړل کيږي. که رانه وړل شي نو بيا دغه مطلب ورځني په لاس نه راځي. د (سره) توری که لازم الاضافه وي د ضميرونو او اسمونو سره اضافي حالت لري لکه دده قلم زما سره دی[1].

د: د (راهيسې، راسې) ادات دي چې اصلا د (له) سره يو ځاى استعماليږي چې زماني (مهالي) قيد جوړوي. دغه ادات د وخت پيل او د يو فعل شروع ځرګندوي لکه:

له پروسږکال راهيسې په تمه يم، له ډيرو کالورا هيسې نه دي راغلي.

له پرونه راهيسې مانه دی ليدلي، دی له بيګا راسې وږی دی.

او کله (راهيسې) يوازې هم راځي لکه: دی مې بيګا راسې (راهيسې) نه دی ليدلی.

هـ: د پرته پسينه ده چې د (له) سره راځي. د بېلوالي او استثنا معنا ورکوي.

لکه: له مباحثو پرته، له کوربنو پرته، له تاپرته.

---

[1] پوهاند صديق الله ر تين، پشتو رامر 2 وك، کابل 1370 لمريز کال.

دغه ترکیب کله په مقلوب شکل هم راتلای شي: پرته له کور بنو، پرته له تا د (له تاغیر او غیر له تا) هم دغه مطلب لري.

پنځم: د (ته) پسینه ده، چې معمولاً پیشنه نه غواړي، که څه هم د پښتو ژبې په غربی (کندهارۍ) لهجه کې د (و) پیشینه استعمالیږي مگر د پښتو ژبې په نورو ټولو لهجو کې یوازې (ته) کارول کیږي. په ځینو لهجو کې، د (ته) په ځاي (له) یا (لره) هم راځي لکه:

هغه ته کتاب ورکړه. هغه له کتاب ورکړه.

خوازك (ته) مې کتاب ورکړ. کورته ځم. څه ته راغلی).

همدارنگه پوهاند ربنتین په خپل اثر[2] کې د (ته، له، لره) ادات د مفعولیت ادات په نامه یاد کړي دي.

لکه: سلیم ته مې خپل قلم وبانبه، ماته وګوره، دا قلم واخله او هغه له ورکړه. یا دا قلم واخله او هغه لره یې یو سه (لره) په اشعار وکې زیات استعمالیږي.

د (ته) ادات که د مکاني او زماني نومونو په اخر کې راوړل شي د فعل انتها (پاي) ښیي.

لکه: زه غواړم چې نن جلال اباد ته ولاړ شم. دی ښوونځي ته تللی دی. پسرلي ته به راشي.

مني ته به یې بوځم. او کله (ته) د ظرفیت معنا ورکوي لکه:

سلیم د کټ سرته ناست دی او حمید یې پښوته[1].

دا هلك دروړی ته ناست دی. غوړونه اوریدوله (ته) پیدا دي.

هر سړي پیدا دی خپل خپل کارلره کنه
سترګې چې پیدا دي خو دیدار لره کنه
زلفې چې ولول شي خو خپل یار لره کنه

همدارنګه (ته، له) توري د (دپاره، له پاره) په ځاي هم راځي لکه:

زه دا ټولي خوارۍ تاله کوم = (تاله پاره کوم).

زه دا ټولي خوارۍ تاته کوم = (تا لپاره کوم). (تا دپاره کرم)

---

[2] **پوهاند صدیق الله ر ښتین، پ ښتو ګرامر 2 ټوك، کابل چاپ** 1370**ل.**

[1] **پوهاند صدیق الله ر ښتین پ ښتو ګرامر** 2 **ټوك، کابل** 1359 **قلمي،** 1370 **لمریز کال.**

یادونه: کومه پیشینه چې د (ته) سره راځي هغه د (واو) وصلیه په نامه یادېږي او د غیر مستقیم مفعول څخه د مخه راځي او د مفعولیت معنا افاده کوي. خو زیاتره د (ته) پسینې سره استعمالیږي. لکه و ده ته ووایه چې راشي. وماته څه وایې.
مګر د پښتو ژبې په اشعارو کې د نوموړي مفهوم د پاره یوازې (و) پرته له پسینې هم استعمالیږي.

هرګوره چې ګورم و عالم وته حیران یم
پسینه خولـه یې وما راکړې وی مې مور شوم

شپږم: (د) د اضافت توری دی چې د نومونو، خپلواکو ضمیرونو څخه وړاندې راځي لکه: دوږمې قلم، د زرګې سترګې، د ما نظر، د تافکر، چې (زما) او (ستا) په دود زیات استعمالیږي.

(د) پیشینه پربدلوک دغو وروستیو معناګانو د پاره په کاریږي[2].
الف: د څیزیا یوشي تعلق او ملکیت دپاره: د کابل پوهنتون، د کابل ښار، د کبر جام.
ب: د تشبهه او مکاني اداتو سره د پیشینې په توګه:
1- د مارغوندې، د ګلانو په رنګك، د ملالۍ په څېر، د مثال په ډول.
2- د کور دننه، د کور د باندې.
اوم: همدرانګه (د) (له پاره) په ترکیب کې د مقصد او کړنې د ټاکلو له پاره راځي: د پلار د پاره – د هغه له پاره. یا ستا لپاره.

دوهم: فعلی غونډونه (ترکیبونه) :

د نومیزو ترکیبونو په باب مو څه ناڅه یادونه وکړه اوس به د پښتو ژبې د فعلي ترکیبونو په باب یو څه رڼاواچو.
څنګه چې د پښتو ژبې د فعلونو برخه ډېره پېچلې ده نوځکه پراخه څېړنه هم غواړي. دلته مونږ نه غواړو یوازې په دې هکله ژوره او هر اړخیزه څېړنه وکړو ځکه یوازې د پښتو ژبې د فعلونو په برخه کې پوره یو بشپړ علمي اثر لیکل کیدای شي.
د څېړنې له مخې داسې ښکاره شوې، چې داسمي نحوي ترکیبونو او ډولونو په برخه کې ځینې لیکنې شته خو د فعلي ترکیبونو په هلکه کوم جلا اثر نه وینو. البته فعلی ترکیبونه د جملو د خبر

[2] داکتر زرغونه. زیور، د پ تو رامر لوموړی برخه، کابل پوهنتون 1360 ل کال، (144-145) مخونه درسي لکچر نوټ ستتنر.

په برخه کې ښودل شوي او اشاره ورته شوې ده. ولې په ژبښودنو (ګرامرونو) کې د صرف په باب کې د **فعل** صرفي قاعدې د ټولو زمانو له مخې په ساده او مرکبډول راغلي دي. په بېلو بېلو ماخذونو کې دغه موضوع ليدلی شو.

او په همدې ترتيب د پوهاند رشتين د پښتو اشتقاقونه او ترکيبونه چې دپښتو ژبې د لغت پوهنې مشهور او علمي اثر دی. په دې اثر کې يوه برخه يې د مرکبو فعلونو تر عنوان لاندې راغلی او هم دارنګه د حاليه او ماضيه فعلونو د جوړولو د ترکيب صورتونه په پوره توګه څېړل شوي دي. وروسته تردې په کال 1340 د پنزل پښتوګرامر کې د فعلي ترکيبونو په باب نومورې داسې ليکلي دي:

د پښتو **فعل** له ادواتو سره ترکيبېږي او هغه ادوات دادي:

د **فعل** د ډول څرګندونکي ادات: ضميري ادوات لکه: (مې، دې، يې، مو) او د نفی (نه) له دغه راز ترکيبونو څخه دي.

الف: داسم + **فعل** څخه ترکيبونه چې په عين حال کې پوره جملې دي، تشکيلېږي دا ډول ادات+ **فعل**، ترکيبونه هغه وخت زيات استعمالېږي چې 1نور اسمي صورتونه په عبارت کې موجود نه وي په دې راز مواردو کې ادات په يوه ټاکلي ترتيب سره استعمالېږي. څرګندوونکي ادات يا د نورو هر ډول پسينو څخه او د مطلق **فعل** د تجزيه کيدونکو برخو څخه وروسته استعمالېږي لکه:

وبه ګوري. را به ورم. ولاړ به شم. يو به سم.

ب: ضميري ادوات: په مرکبو ترکيبونو کې له (به) څخه سمدستي وروسته استعمالېږي لکه:

بوبه مې څي، تاسې به مو امتحان ته پريږدئ؟ هوپرې به مورډ دو، ومې ويل.

ج: منفی کوونکی (نه) ادات په ترکيبونو کې تر ټولو ادواتو وروسته راځي او د منصرف **فعل** د مادې په سرکې نښلي لکه: ونه رسيدم، بونه تی (بونه ته) رابه نه وړی. رابه نه شي. و می نکړ. وادې نه وريد، وبه يې نه ترم، پرې به مونه ړدي- د زياتو معلوماتو د پاره وګوري[1].

د: همدارنګه د اسم **فعل** د ترکيبونو ډولونه هم په ګوته کوي او مثالونه يې راوړي چې دلته د کول او کيدل د فعلونو ترکيب د (نوميزو) اسمی نومونو سره ښودلي او هم يې د (يم) (وم) کومکی

[1] **هرپرت پنزل، پ تو رامر، کابل** 1340 **(**202**) مخ،.**

فعلونـو ترکیـب د اقتـداري او تمنـايي فعلونـو صـورتونه د متعـدي مجهولـو فعلونـو ترکيبونـه د مثالونو سره راوړل شوي دي د زياتو معلوماتو دپاره وګوري[2].

په فعلی ترکيبونو کې اصلي او اساسي توکی فعل وی چې دغه ډول ترکيب معمولا په جملې کې د مسند (خبر) برخه جوړوي، دغه ترکيبونه په ځانګړې توګه د ګرامري مانا لـه مخې مانا هم څرګندوي او په ځانګړې توګه يوه جمله هم ګڼله کيدای شي. پښتو ژبه کې فعلی ترکيبونه په لاندې صورتونو سره جوړيږي:

1- اسم + د فعل نوم (مصدر)

الف: بی واسطې: کتاب لوستل، ارام لتول، ليك ليکل.

ب: ارتباطي صورت کې: (په لاره کې دريدل)، (کورته تلل)، (پرميز باندې ايښودل)، (د ملګرو سره ليدنه کول)، (د هنر په باب خبرې کول).

2- مصدر + فعل = ترکيب: غوښتل کوم، ليدل کوي، کتـل کـوو، رتـل کـوي، جـوړول يـا سـازول کوم.

3- د قيد + فعلي ترکيب: عادلانه چلند کول[1].

فعلي ترکيبونه تل د جملې د خبر (مسند) په برخې کې راځي يعنی د جملې خبر وي نو ځکه ورته فعلي ترکيب (غونډ) هم ويل کيږي. که چيرې دغه فعلي ترکيبونه په جمله کې د مسند اليه (مبتـدا) سره رانه شي او په جلا توګه راوړل شي نو بيا هم يوه پوره او بشپړه معنا ترېنه ترلاسه کيـږي او پـه ځانګړې توګه جمله هم ده[2].

ځکه پـه ځينـو ترکيبونـو کـې د فعـل د ګرامـري مشخـصاتو لـه مخـې د مبتـداء يـا فاعـل دريـځ څرګنديـداي شـي. د پښتـو ژبـې پـه جملـو کـې فعلـي ترکيبونـه (غونډونـه Phrases) پـه لانـدينيو شکلونو سره راځي.

1- نوم (اسمی ډله) + فعل = فعلی غونډ (ترکيب)

2- (فعلی نوم) + فعل = فعلی غونډ (ترکيب).

3- قيد + فعل = فعلی غونډ (ترکيب).

---

[2] **همدا اثر** (204-203) **مخونه.**

[1] **معاصره روسي ژبه مسکو، د لوؤ و تحصيلاتو مطبعه.** 1966 **(288-287) مخونه**

[2] **په پ تو ژبه ک يوازي ساده او يوستوي فعلونو ته هم جمله ويلي شو.**

1- الف: د نوم + فعل په ترکيبونو کې بشپړ فعلونه (لازمي- متعدي) فعلي ترکيبونه جوړوي لکه: نوم + بشپړ فعل: کتاب لولم. کور اخلم. ناري وهي. قيد + بشپړ فعل: پاس خيژوم. لاندې کښته کوم. وړاندې بوځم.

1- ب: د نومونو، صفتونو، قيدونو، اعدادو فعلي صفاتو سره د (يم)،(وم)[3] کومکي فعلونو ترکيب:

1- نوم + کومکي فعل:

انسان يم، انسان يې، انسان ياست، سړي دي.

ښځه ده. خلك يو. خبر ياست. هلك دی. خلك وو.

2- صفت + کومکي فعل: جوړيم (وم)، ناروغه دی (و). ووړ دی (و) وړه ده (وه)، سپين دی (و)، سپينه ده (وه)، سپينې دي (وې).

3- قيد + کومکي فعل: لرې يم (وم)، نژدې يم (وم)، پورته دی (و) جګه ده (وه).

4- عدد + کومکي فعل: يو دی (و)، يوه ده (وه)، دوه دي (وو)، دوې دي (وې)، څلور دي (وو)، څلور دي (وې).

لومړي دی (و)، شلم دی (و)، لومړۍ ده، شلمه (وه).

5- ديم، وم کومکي فعلونه د فعلي صفتونو سره په دغه لاندې توګه فعلي غونډ ونه (ترکيبونه جوړ وي:

الف: راغلی، تللی، ګرځيدلی، پاڅيدلی، جوړ شوی، جوړ کړی (يم) (وم).

د مونث په صورت کې: راغلې، تللې، ګرځيدلې، پاڅيدلې، جوړه شوې، جوړه کړې (يم، يمه (وم، ومه) راغې.

او د جمع په صورت کې: راغلي، تللي، ګرځيدلي، پاڅيدلي (يو) (وو).

ب: مفرد، راغلی، تللی، ګرځيدلي، پاڅيدلي (يې، وې).

جمع، راغلی، تللی، ګرځيدلي، پاڅيدلي (ياست، يئ، وئ)

ج: مفرد مذکر، تللی، راغلي، ګرځيدلي، پاڅيدلي (دی- و).

مفرد مونث- تللې، راغلې، راګرځيدلې، پاڅيدلې (ده) (وه).

---

[3] د (يم) او (وم) کومکي فعلونه د غايب له پاره ، قاعدې صورتونه لري او به دريم شخص ک د جنس له مخ هم تغير مومي.

د: د دريم شخص د جمع صورتونه:
مذكر: راغلي ګرځيدلي، پاڅيدلي (دي) (وو).
مونث: راغلي. ګرځيدلي، پاڅيدلي (دي) (وې).
د متعدي فعلونو سره د کومکي فعلونو ترکيب: (وهلی دی (و) (رټل شوی دی (و).
په مجهول صورت کې: فعلي مجهول صفت + (يم) (وم) :
وهل شوی يم (وم)، وهلې شوې يم (وم).
د کول- کيدل فعلونو سره:
الف – اسم (نوم) + کول
متعدی فعل اوسنی زمانه: (پخلا کوم). (اشنا کوم)، (او به کوم)، (رڼا کوي)، (تيـاره کـوي)، کارکوي).
ب: مصدر (فعلی نوم) + کول: ليدل کوي، خوړل کوي، سازول کوي.
ج: فعلی نوم (حاصل مصدر) + فعل: ليدنه، کتنه کوي، (روزنه کوي)، (ښوونه کوم)، (څورونه کوي).
د: قيد + کول: (نژدې کوم)، (وړاندې کوم)، (لرې کوم)، (پورته کوم)، (نژدې کاوه) (وړاندې کاوه)، (پورته کاوه).
2- قيد + فعلی نوم + کول (فعل): (له ورايه ليدل کوي)، (په سترګو خوړل کوي).
هـ: عدد + کول: (يو کول)، (دوه کول)، (يو کوي)، (دوه کوي).
ترتيبي اعداد هم راځي: (لومړی کوي)، دريم کوو.
د کيدل کومکي فعل سره ترکيب:
لازمي فعل:
نوم + کيدل: (اشنا کيږي)، (رڼا کيږي)، (اشنا کيدم)، (رڼا کيدله).
صفت + کيدل: (ليونی کيږي)، (زړه ورکيږي)، (جوړ کيږي = جوړيږي).
قيد + کيدل: (نژدې کيږي = کيده)، (تر شاکيږم = (کيدم).
عدد + کيدل: (يو کيږم)، يو کيږو)، (يو کيدو)، (دوه کيږي).
مصدر + کيدل: (کيندل کيږي)، ساتل کيږي)، (کيندل کيده)، ساتل کيده).

(فعلي نوم) حاصل مصدر + کېدل: (ښوونه کېږي)، (روزنه کېږي)، (پالنه کېږي)،(تولید نه کېږي).

دکړل او شول کومکي فعلونه: چې معمولاً د کېدل او کول استمراري (نابشپړ صورت) فعلونو پر ځای راځي او د (کړل او شول) صورتونه د فعل بشپړ (مطلق) صورتونه جوړ وي[1].

نوم + کړل: (رڼا کړم)، (اوبه کړم)، (وينې کړم).

صفت + کړل: جوړ کړم، (جوړ کړو)، (سپين کړه)، (پاك کړم)،(وران کړه)، (ويجاړ کړه)، (ودان کړه)، پخه کړه، لوند کړه.

قيد + کړل: نژدې کړه، لرې کړه، پاتې کړه، پورته کړه، کښته کړ.

عدد + کړل: يوکړه، دوه کړه، يو کړم، دوه کړم.

مصدر + کړل: ليدل وکړه، پاڅول وکړه، جوړول وکړه.

حاصل مصدر + کړل: ليدنه وکړه، پاکونه وکړه، ساتنه وکړه.

د شول کومکي فعل سره ترکيب:

نوم + شول: اشنا شوم، جلا شوو، شاګرد شو، عسکر شو.

صفت + شول: جوړ شو، وران شو، روغ شو، زيات شو.

قيد + شول: پورته شو، کښته شو، وړاندې شو، نژدې شو.

عدد+ شول: يو شو، سره يو شول، سره يوشئ، دويم شو، دريم شو.

مصدر + شول: په دغه صورت کې د (و) مختاړی هم ورزياتيږي.

ليدل وشول، ليدل کتل وشو. او يا په دې توګه وپالل شو، وروزل شو[1].

حاصل مصدر (فعلی نوم) + شول: ليدنه وشوه، پاکونه وشوه، لوبونه وشوه.

په عمومي توګه د پښتو ژبې زيات شمير فعلونه د يو (اسمي، نوميز) او کومکي فعل څخه مرکب وي، په دې توګه د تېرې زمانې او اوسنۍ زمانې د فعلونو بېلا بېلو صورتونو (استمراري، مطلق، امکاني، توانايي، تمنايي، ګوماني، احتمالي، ټينګاري) او نور د فعلي ترکيبونو (غونډونو) پوره بشپړ مثالونه دي چې د تېرې زمانې او اوسنۍ زمانې د ريښو څخه د کومکي

---

[1] داکتر زرغونه زيور پ تو رامر (لومؤي برخه)، کابل 1360، (87-88) مخونه ستتنر.

[1] په هغو غونأونو ک چ د مصدر + (شول - کؤل) راغلی وي نو د کومکي فعل د جمع صورت خه (ل) حذفيإي يوازې د مصدر (ل) راوؤل کافی ل کيإي که که چ رې د کومکي فعل سره (ل) راوؤل شي نو بيا دوه (ل) ـ پہ ـ ه نه ل يإي، يعنی دغه مصلحتا غورزولی شي.

فعلونو، ضميري ورو ستاړو (فعلي خاتمو) او فعلونو په مرسته جوړېږي چې دغه بيا په جملو کې د فعلي غونډ يا ترکيب په نوم يادېږي.
ځنګه چې په دې برخه کې د پښتـو ژبې ټول فعلي جوړښتونه (ساده، مرکب)، (فعلي، اسمي شاملېږي او د پښتو ژبې د فعلونو مارفولوژيکي (صرفي) برخې په باب پوره ډېرې ليکنې شوي دي په دې برخه کې د پښتو ژبې ګرامرونه او په خاصه توګه د لـوی اسـتاد پوهاند رشتين پښتـو ګرامر لومړي او دويم ټوك کې پوره څېړنه او کافي معلومات شته.

اصطلاحات (فرازيالوژيکي واحدونه)

اصطلاحي واحدونه هغه تعبيرونه دي چې هر ملت او اولس يې د خپل ژوندانه په چاپيريال کې د خپلو عنعنو، اخلاقو، روحياتو په چوکاټ او چاپيريال کې په خپله ژبه کې رامنځ ته کوي. دغه واحدونه نه يوازې په خبرواترو کې استعمالېږي بلکې په ليکلي اثرونو کې هم ستره برخه لري اصطلاحات که له يوې خوانه د ژبې دلغوي پانګې بشپړونکې برخه ده نو له بله پلوه يو ادبي خونداو رنګ هم لري.
اصطلاحات (Idiom) کوم خاص سبك پورې تړلي نه وي، بلکې د ټـو سبکونو ترمنځه شريك واحدونه ګڼل کيږي.
په ژبه کې دغه ډول ترکيبونه ځانته جلا او بېـل بېـل خصوصيات لـري، په دې معنا چې نحوي ترکيبونه (Phrases) او ژبني اصطلاحات (فرازيالوجيکي واحدونه) يو تر بله ډېر توپير لـري. د نحوي ترکيبونو (غونډونو) په باب مو د مخه څه ناڅه اشاره کړې ده. اوس به وګورو چې دغه ژبنې اصطلاحات (Idiom) برسېره پردې چې په ژبه کې د معنوي (سيمانتيکي) موضوع لـه پلوه تربحث او غور لاندې نيول کيږي نو په نحوي لحاظ د جوړښت له مخه څه ډول ترکيبونه دي او په ژبـه کې څه ارزښت لـري؟ (اصـطلاحات) دغه ډول ژبني ترکيبونـه د ژبې خاص عنصر او ژبني خاص ډول څرګندونو ته ويل کيږي[1] چې د زماني په اوږدو کې د خلکو لـه خوامنځ تـه راغلي او پـه ژبـه کې ثابت لغوي ترکيبونه (غونډونه) دي، ددغو ترکيبونو اجزاوې دومره ثابتې اوټينګې اړيکې سره لـري چې بېلول يې ګران کار دی.

[1] ژبني اصطلاحاتو په نامه يادېږي.

اصطلاحات سمدلاسه د خبرو کولو په وخت کې نوي نه جوړيږي چې د کوم ټاکلي مطلب د ښکاره کولو د پاره ورځني کاروا خیستل شي، بلکي په جوړ شوي ډول د ژبي د ويونکو په حافظه کې ساتل کيږي او هر کله د ضرورت په وخت کې د تيار جوړ شوي لغوي ترکيب (غونډ) په ډول د مطلب د روښانولو د پاره ورځني کار اخيستل کيږي[2].

دغه اصطلاحات ثابت او ټاکلي دي پرته له تصرف کولو څخه د ضرورت په وخت کې د جوړ (تيار) شوي غونډ (ترکيب) په توګه کارول کيږي[3] چې مجازي او کنايي معنا څرګندوي. پخپله دغه ډول (غونډ) نيغه (مستقيمه) معنا نه ورکوي لکه: لور په لوټه تېره کول. ددغه ترکيب، معنا په مستقيمه توګه نه څرګنديږي مګر په دوهمه مجازي معنا سره د چل ول کولو يا فريب او غولولو او وخت تيرولو په معنا راځي.

بل مثال: اوښ په بده منډل، لوی لاس لرل. په همدې توګه ډېر مثالونه لرو، چې د پښتو ژبې لغوي پانګه زياته شتمنه او بدايه ده، چې راټول او راغونډول يې ډېر زياد او کار غواړي.

يادونه: ايډيوم د معنا او سيمانتيك له نظره د نحوي پوهې په چوکاټ کې نه څېړل کېږي، بلکي د ژبپوهنې يوه بېله څانګه ده چې دغه ډول اصطلاحات څېړي. (فرازيالوژی) (اصطلاح پوهنه) د ژبپوهنې د يوې څانګې په توګه او هم د ژبپوهنې د همدغې څانګې د څېړلو د موضوع په حيث پېژندل شوې. د څېړلو دغې موضوع ته فرازيالوګيزم هم ويل شوی دی چې په تېرو وختونو کې د ايډيوم په نامه ياده شوې ده [1]دغه څانګه د ژبې د لغتونو لغوي، معنوی ترکيبونه څېړي[2].

فرازيالوژی د يوناني ژبې د Phraes او Logos څخه منځته راغلي، نو (Phrasis) د څرګندوني معنا ورکوي او Logos د پوهنې په معنا[3] همدارنګه په دغه باب ډېرو ژبپوهانو څرګندونې کړې دي:

الف: فرازيالوژي په ژبه کې د ژبې ثابتو ترکيبونو مجموعې (غونډ) ته ويل کيږي[4].

---

[2] **داکتر زرغونه زيوره د پ تو اشتقاقونه او ترکيبونه درسي نوټ، کابل پوهنتون،** 1357.

[3] **ايي يادونه وکؤو چ په ژبه ک عادي ترکيبونه او (اصطلاحات) سره أ نه شي.**

- د متلونو په ير تاريخی قدامت او لرغونتوب لري.

- ايأ يوم هم ورته ويله کيإي.

[1] **داکتر دولت محمد، فرازيالوژی، کابل مجله،** 1355**.** ل 3 **ه** (72) **مخ.**

[2] **او. س اخمانوه، د ژبپوهن د اصطلاحاتو قاموس، مسکو،** 1969**ع. (**540**) مخ**

[3] 1.1**. ريفرماتسکی " د ژبپوهنی مقدمه، مسکو،** 1967 **کال (**70**مخ).**

ب: ثابت لغوي ترکیبونه فرازیا لوکیرم (فرازیالوجی) ګڼل کیږي[5].

ج: لغوي ثابت ترکیبونه چې په عنعنوي ډول تکرار شوي وي د فرازیالوګیزم په نوم یادیږي[6].

فرازیالوژیکي واحدونه چې د ایډ یوم د اصطلاح په ځای راځي د معنا او جوړښت لـه مخه دغه لاندنۍ ننبي لري.

1- ثابت داخلي ترکیب چې په ګډه یوه عمومي معنا او مفهوم څرګندوي. په اسمي او فعلي ترکیبونو کې یې اهمیت یو شان دی. فرازیالوژیکي فعلي ترکیبونـه کـه څه هم د مرکبو فعلونو په څېر ښکاري ولې د مرکبو فعلونو څخه توپیر لري ځکه په ثابتو فعلي ترکیبونو کې ټول ترکیب یوه ګډه عمومي معنا ورکوي.

2- اصطلاحات د هغو توکونو څخه جوړیږي چې پـه دغـه ثابت ترکیب کې خپله لغوي معنا لـه لاسه ورکوي. کـه چېرې ددغـه ثابت ترکیب واحدونـه (توکي) بېـل بېـل معنا شي نـو خپلـه ټـاکلې فرازیالوژیکي (اصطلاحي) معنا له لاسه ورکوي.

د بېلګې په توګه: د (لاروهل)، (ژبه کول)، (ژبه نیول)، (پښه نیول)، (غم خوړل) (زړه خوړل).

که ددغو مثالونو هره برخه یعنی هر یو توکی یې په جلا جلا توګه معنا کړو نـو بیـا هغـه خاصـه ټـاکلې معنا او مطلب نـه ورکوي. ځکه (لار وهل) کې د تـګ معنا پرتـه ده پـه لغوی معنا سره لار اووهل کوم معنوي ارتباط سره نه لري. یا ژبه او کول سره جلا مفهومونه دي.

3- د ترکیبوونکو عناصرو څخه عمومي معنا لاس ته راځي یعنی ټول ترکیب د یوه واحد مفهوم په توګه معنا ورکوي.

4- پـه فرازیـالوژیکی واحـدونو کـې ځینـي محـاورې او متلونـه هـم راتـلای شـي او همدارنګـه د لیکوالو او پوهانو غوره ویناوې هم شاملې دي. لکه:

- پوره ورك دې کړه دوه کوره، د کبر کاسه نسکوره ده.

5- دغه ډول اصطلاحات (ترکیبونه) ټکي په ټکي نه ترجمه کیږي.

6- هره ژبه خاص او جلا اصطلاحات لري.

---

[4] **ن. س. والـ ینا، د. ز. روزنتینا، اوسنی روسی ژبه، مسکو،** 1966.

[5] **ا. ن. ـله وین د ژبپوهنی مقدمه (اساسات) مسکو،** 1973. (69)**مخ.**

[6] **یو، اس، ماسلوف، د ژبپوهنی مقدمه (اساسات) مسکو،** 1975. (143) **مخ.**

7- فرازيالوژيکي واحد ونه د خپل معنوي خصوصيتونو له مخې د نورو ازادو ترکيبونو څخه توپير لري.
8- په ژبه کې دغه ترکيبونه ثابت وي. نوي نه جوړيږي خو داسې ځانګړتيا ښکاروي چې تولنه يې په معنا باندې پوهيږي څکه چې د ژبې د ويونکو له خوا منځ ته راغلي دي.
9- فرازيالوژيکي واحدونه د نورو ازادو لغتونو (ترکيبونو) په څېر د ژبې په لغوي سيستم کې چې موجود دی لغوي معنا ئيزاو ګرامري خاصيت هم لري:
10- ثابت ترکيبونه د مکملو جملو په څېر هم راځي لکه:
1- سترګې نه دي تيږې دي 2- ابی مړه شوه تبه يې وشليده.
د جوړښت له مخې کيدای شي دغه ترکيبونه ثابت نه وي خو د معنا له مخې يونه تجزيه کيدونکی ترکيب (مجموعه) ګڼله کيږي. يا په بله وينا سره يوه اصطلاح د کلمو داسې يوه مجموعه (ترکيب) ده چې په نحوي چاپيريال کې ببلا بيل لفظي خپلواکي ساتلی شي. البته هر ډول ګرامري تغيير په کې راتلای شي خو مشترکه ګډه معنا چې ددغه (غونډ) د اجزاو څخه لاس ته راځی نه تجزيه کيدونکې معنا به وي.
د مثال په توګه که مونږ د پښتو يو څو فرازيالوژيکي واحدونه په غور سره وڅېړونو دا به جوته شي چې ځيني دغه ډول ترکيبونه ثابت او مستقيمه معنا ورځنې نه راوځي بلکې په مجازي توګه معنا ورکوي يعنی معنوي اړخ يې د ټول ترکيب نه لاس ته راغلی وي او دې سره ګرامري بڼې هم ثابتې وي لکه:
1- د خوشحالی نه په جاموکې نه ځايدل 2- د بوسولاندې اوبه تېرول 3- سپين سترګې کول، ځګ لوکول. 5- په چپ اړخ پاځيدل 6- اور په اوبوکی بلېدل.
د نومونو مثالونه:
(د اسمان کټ)، (د اسمان پرك)، (نوك او اورى)، (د لستوني مار). د پورتنيو مثالونو څخه څرګنديږي چې په دغو ترکيبونو کې لغوي او ګرامري تغييرنه پيښيږي. په دې معنا چې د يوې ټاکلې کلمې پرځای بله کلمه نه شي راتلای.
د مثال په توګه : لاس وينځل يوه اصطلاح ده، چې د انکار کولو او صرف نظر کولو په معنا ده او يا لاس ته راوستل هم بله اصطلاح ده که ددغو پر ځاي داسې وويل شي (لاسونه مينځل) يا

(لاسونوته راوستل) دلته ګورو چې فرازیالوژیکي معنا له لاسه ورکوي او بیا ازاد لغوي ترکیب جوړ وي. په پښتو ژبه کې داسې ترکیبونه چې د یو جز په ځای بله مترادفه کلمه راتلای شي او ددغه اصطلاح په معنا کې تغییرنه پیښوي یعنې لومړۍ برخه ثابته او دوهمه برخه کې بدلون راځي لکه، زړه اچول او زړه غورځول، خواسړیدل خوایخیدل، زړه ښویدل، زړه غورځیدل. زړه لویدل، خواسړول، خوایخول، زړه تشول، زړه سړول یخول، همدارنګه سور شین کېدل یا سورشین اوښتل، تور سپین کیدل. تور سپین او ښتل او داسې نور.

همدارنګه داسې اصطلاحات هم په پښتو ژبه کې شته چې د ترکیب دوهمه برخه یې ټاکلې او ثابته وي مګر لومړۍ برخه کې جلا مترادف الفاظ راغلي وي.

1- تندر پریوتل او ټکه پریوتل (2) قول کول، لفظ کول، ژبه کول، وعده کول په دغو مثالونو کې ګورو چې دغه لفظي تغیر د اصطلاح په معنا باندې کومه اغیزه نه کوي او معنا ورسره نه اوړي، که واوایو ساړه اسویلي کول یا سوړ اسویلی کول. په نوموړي اصطلاح کې په ګرامري لحاظ د جمع پرځای مفرد راغلی دی مګر بیا هم په معنا کې کوم بدلون نه لیدل کیږي.

د پښتو ژبې په اصطلاح ګانو کې داسې ترکیبونه هم شته دی، که د ترکیب د یوې برخې پرځای یوه بله کلمه راوړله شي د ثابت ترکیب په توګه به وي خو د معنا له مخې به توپیرو کړي لکه:

1- هغه ترکیبونه چې لومړۍ برخه یې بدلون او دوهمه یې په خپل ځای وي، د زړه توریدل، په اصطلاح کې د زړه په ځای سترګې (سترګې توریدل) همدارنګه مخ (مخ توریدل) راشي نو بیا د ترکیب په معنا کې بدلون راځي.

2- هغه ترکیبونه چې دوهمه برخه یې بدلون ومني خو لومړۍ برخه کې هماغه ټاکلې کلمه وي دلته په معنوي لحاظ ډیر توپیر په کې راځي.

زړه کول، زړه ساتل، زړه وهل، زړه وړل، زړه ایستل، زړه لویدل، زړه ماتیدل، زړه تشول، زړه خوریدل، زړه چاودل، یا سر (خوړل، خوړول، ګرځول، غړول، ماتول).

لاس (لګول، اخیستل، رسیدل، پورې کول، نیول000).

په پښتو ژبه کې داسې اصطلاحګانې هم وینو برسېره پردې چې د هغو څخه مجازي او کنایي معنا لاس ته راځي نو لغوي معنا یا مستقیمه معنا هم ورکوي. لکه: (تاراچول).

الف: په لومړي لغوي معنا کې ښکاري چې تار په ستن کې اچول دي.

ب: په دوهمه معنا کې د اشنایۍ، دوستۍ رابطې په معنا سره لکه د فلاني سره یې تاراچولی دی.

ټنۍ شلول 1- د کمیس ټنۍ وشلیده.

2- ټټی یې سره وشلولې
دلته مقصد او هدف په دوهمه معنا کې د شخړې او جګړې څخه دی.

د جوړښت له مخې اصطلاحات:

په پښتو ژبه کې اصطلاحګانې هم د نورو ازادو نحوي ترکیبونو په څېر دوه ډوله (اسمي، فعلي) بېلولی شو.

1- اسمي (نومیز): د نحوي له مخې دغه ترکیبونه اسمي دي. چې د جوړښت له مخې د (Phrase) (غونډ) ترکیب سره توپیرنه لري مګر په فرازیالوژیکي لحاظ بیا دغه اصطلاحي غونډونه بېله مجازي معنا څرګندوي د مثال په توګه:

د بوډۍ ټال، د ګیدړواده، د شړومبو مچ، د اسمان کټ، د غاړې غور، د لستوڼي مار، د عقله پلی، شین امی، نوك اووری، ټیټ وپاس، د سترګو تور، شین زمری.

2- **فعلي**: په پښتو ژبه کې فعلي فرازیالوکیزم په لاندې توګه پېژندل کیږي: د ټول ترکیب (فرازیا لوګیزم) نه د فعل مفهوم څرګندیږي او په جمله کې په عمومي ډول د فعل (مسند) وظیفه او دنده ترسره کوي. فعلي اصطلاحات یا فرازیالوژیکي واحدونه هم هغه ثابت لغوي ترکیبونه دي چې د دوو اساسي (اسمي (نومیز) او فعلي) برخو څخه جوړ شوي وي چې بشپړ ترکیب د (فعل- مسند، خبر) مفهوم څرګند کړي. په جمله کې د مسند (خبر) په دود راځی. د کړنې یا جریان معنا ورکوي او سربېره پردې د ګرامري قاعدو تابع وي.

په پښتو ژبه کې یوه اسمي اصطلاح هم د نورو ازادو ترکیبونو په څېر د یوه فعل په مرسته فعلي اصطلاح جوړ وي لکه: د شړومبو مچ سره داسې ترکیبونه جوړو:

1- د شړومبو مچ دی. 2- د شړ ومبو مچ کیدل.

د پښتو ژبې د فعلي فرازیالوژیکي واحدونو په جوړونه کې هغه عناصر چې فعلي فرازیالوکیزم جوړ وي او نومیز عناصر دي د لغوي کتارونو، لغوي ګرامري مختلف لغات او لغوي ترکیبونه دي چې فعلي اصطلاح ګانی یې جوړې کړې دي. په پښتو ژبه کې دغه ډول مثالونه زښت زیات دي چې پر لغوي (تحت الفظی) معنا فرازیالوژیکي معنا یې زیاته ده اوعمومیت لري. لکه:

اصطلاح	اصطلاحی فرازیالوژیکي معنا	لغوي معنا
1- اورته اچول	له منځه وړل، تباه کول	اورته غورځول، سوځول
2- سر له تنی بیلول	مړه کول	جلال کول، بېلول

3- په ځمکه غورځول اهمیت نه ورکول پر ځمکه باندې د یو شي اچول یا ګذارول.

همدارنګه خبره اړول، خبره سپینول، بار درنیدل، پوره کول او داسې نور مثالونه هم شته، چې دلته (پوره کول) د فعل یو مرکب شکل دی، خو اصطلاح هم جوړ وي لکه، نیمګړتیا پوره کول.

د کول اوکېدل فعلونه د خپلې پراخې معنا له مخې ډېر فعلي فرازیالوګیزمونه جوړ وي.

په پښتو ژبه کې داسمي ترکیب سره فعل د (فعلي اصطلاحګانو په جوړولو کې ستره برخه لري.

په دې توګه مونږ ویلی شو، چې فرازیالوژیکي واحدونه د هماغو لغتونو په اساس جوړیږي چې په ژبه کې موجود وي. دوه یا زیات لغتونه سره یو ځای کیږي او ټول ترکیب په مجموعي ډول یوه خاصه او ټاکلې معنا لري او د نورو لغاتو په څېر د ژبې په لغوي سیستم کې شامل لغوي معنا معنایز ګرامري خاصیت هم لري.

په پای کې ښایي یادونه وکړ وچې ټول فرازیالوژیکي واحدونه[1] برسېره د خپلو فرازیالوژیکي معناو په ساتلو د ژبې په نحوي ساختمانو (جملو، فقرو، کې نحوي وظیفه هم ترسره کوي.

په دې معنا چې (اسمي او فعلي) فرازیالوژیکي واحدونه په جملو کې د اجزاو په توګه د جملې ارکان مسند الیه او مسند (مبتداء او خبر) جوړوي. همدارنګه برسېره پردې چې په جملو کې د غونډونو وظیفه لري په خپله هر ترکیب په نحوي چاپېریال کې د بشپړې جملې په توګه هم راځي: اوبه په ډانګ بیلول، اوبه په ډانګ نه بلیږي.

1- د لستوني مار، یو اسمي فرازیالوژیکي واحد دی. په جمله کې داسې راځي. (دښمن د لستوني مار دی).

2- په سترګو کې خاورې اچول، په سترګو کې یې خاورې واچولې. په سترګو کې خاورې اچولی.

3- سرتندي وهل (پښیماني کول) په معنا .

ځلمي سرتندی وهي. ځلمي له خپل ورور څخه سرتندی ټکوي. (سرټکول) د شکایت په معنا .

څنګه چې لیدل کیږي متلونه او (Phroverbial, Saying) مقولې غوره ویناوې هم ثابت او ټاکلي ترکیبونه دي خو معمولاً دغه ډول مفاهیم د پوره جملو په توګه راځي لکه: هم یې کړي هم یې یبي. اوښان نه ژاړي بارونه ژاړي، ترخه خوره ترخه مه وایه.

☆☆☆☆

[1] له یوه خه زیاتو مور فیمونو، کلمو خه ترکیب شوي وي.

☆☆☆
☆☆

درییم څپرکی

د پښتو ژبې د جملې جوړښت

د جملې جوړښت او رغنده توکونه (اجزا):

د جملې د پېژندنې په باب مود مخه لیکنو کې زیاتې خبرې کړې دي دلته مونږ غواړو چې د جملې د جوړښت اوساختماني توکونو په باب څه ووایو.

زمونږ مطلب د جملې هغه ساختمان دی چې یوه بشپړه جمله د کومو برخو او توکونو څخه رغیدلې ده او ددغو برخو او اجزاو د څومره والي له مخې د جملې ترکیب، جوړښت، ډولونه څرګندیږي. په یوې جملې کې د کلمو، مورفیمونو اندازه او شمیر سره توپیر لري په دې معنا چې یوه جمله له دوویا زیاتو کلمو څخه جوړه شوې ده.

د یوې جملې په جوړښت کې دغه لاندې توکونه برخه لري:

1- اصلی (خپلواک) توکونه: په دې برخه کې ټول ازاد او خپلواک مورفیمونه (نومونه دا شیاو نومونه، صفتونه، ضمیرونه، عددونه (شمیر نومونه) فعلونه (بشپړ- مرستیال) یا ساده اشتقاقي، ترکیبي، قیدونه (اصلي، غیر اصلي) راځي، دلته ښایي ووایو چې دغه توکونه مختلفو سوالونو ته

په ځانګړې توکه ځواب ورکوي يعنی د موضوع څرنګوالی، څومره والی، فعاليت او داسې نور مفاهيم نوموي او ياورته اشاره کوي او يا خو هم ګرامري لغوي معنا ښندي.

2- مرستيال (کومکی) توکونه: په ځانګړي توګه د جملې خپلواک توکونه نه دي ځکه دغه ناخپلواک توکي په جلا توګه سوالونو ته ځواب نه ورکوي او د کوم شي نومونه نه ده يوازې په جمله کې ګرامري معنا رسوي. مرستيال- کومکي توکونه ورته ځکه ويلی شي چې د جملې د اصلي توکونو، ترکيبونو او جملو ترمنځ ارتباط او ترون ټينګوي، مرستيال (کومکی) (نه اوړېدونکي) (نه ګردانيدونکي) توکونه دي چې په دې کې ادات (ربط، عطف، پيشيني او پسيني) او داسې نور راځي. د څرګندتيا له پاره دغه لاندې بېلګه ګورو:

د خلکو سره مرسته په کارده. دغه جمله په دې توګه تجزيه کوو: د، خلکو، سره، مرسته، په، کار، ده.

ګورو چې دغه جمله له اووتوکونو څخه جوړه ده مګر په دې کې څلور خپلواک (اصلي) او نور ناخپلواک (مرستيال) توکي دي چې په دې توګه دغه جمله په لاندنيو برخو سره بېلوو:

د خلکو سره/ مرسته په کار ده.

په دې جمله کې (د خلکو سره) د مسند اليه (مبتدا) بنه لري چې لومړۍ برخه ده او (مرسته په کار ده) خبر (مسند) او (ده) د (اسناد) برخه ګڼل کيږي.

چې په مجموع کې (مرسته په کار ده) د جملې دوهمه برخه (خبر- مسند) دی. يا دا بل مثال : هغوي د خلکو سره مرسته کوي.

په دې جملې کې هغوي (فاعل) (د خلکو سره) معيتي قيد) (مرسته د فعل متمم) (کوي) فعل او په مجموع کې (هغوي مبتداء او د خلکو سره مرسته کوي (خبر) دی.

په پښتو ژبه کې داسې مثالونه هم لرو، چې د کلمو اندازه او شمېر يې دجملې د اجزاو سره برابر وي لکه: ليونۍ راغله.

لومړۍ برخه ليونۍ (فاعل) دوهمه برخه راغله (فعل) دی.

په پښتو ژبه کې کلمې چې خپلواکې معناګانې ولري د خپل نحوي دريځ له مخې د جملې بيلا بېلې اجزاوې هم جوړ وي لکه:

1- کابل د افغانستان مرکز دی.

2- مونږ په کابل کې اوسيږو

4- دغه د کابل ښار دی.

5- دغه لوی ښار کابل دی

3- کابل په یوه ښکلي ښار بدلوو   6- مونږ کابل ته ځو.

دلته په دغو جملو کې د کابل کلمه په ترتیب سره ګورو چې، کابل 1- مسند الیه 2- ظرف مکان 3- مغفول 4- مصاف الیه 5- خبر 6- غیر مستقیم مفعول یا (د تم ځای حالت) په توګه راغلی دی.

د پورتني مطلب څخه دا نتیجه ترلاسه کوو، چې په پښتو ژبه کې د جملې اجزا د دوو څخه نیولې تر زیاتو تو کونو پورې رسیږي په همدغه اساس ساده (لنډه) او منکشفې (ارته) جملې سره بېلیږي.

بیلګه : لمر راوخوت، ساره دي،پسرلی شو.) دا لنډې یادوه توکیزې جملې دي، مګر که ووایو: زه او زما ورور د خپلو او خپلوانو سره د هیواد ختیځې برخې ته تللي وو. نو بیا دا یوه اوږده (منکشقه)[1] جمله بلله کیږي. په دې توګه مونږ په پښتو ژبه کې د جملې اساسي برخې په مبتدا (مسند الیه، فاعل) او خبر (مسند ، فعل) باندې بېلوو او په دې کې د جملې اصلي (لومړی درجه) او فرعي (دوهمه درجه) غړي په لاندې توګه ښودل کیږي.

د جملې رغنده توکونه



[1] ارتباطی ادات هم په فرعي توکو ک را ي.

فاعل + مفعول + فعل (متعدی معلوم)
مفعول + فعل (متعدی مجهول)

د فعل او فاعل متعلقات او مربوطات:

1- د مهال (زمانی) قید 2- (د ځای (مکانی) قید) 3- د حالت او وضعیت قید او مقیاس، اندازه ده چې د فاعل، مفعول، فعل حالت او کیفیت ښیي. 4- پیل ځای چې د فعل د شروع کیدلو مبدا ورڅخه معلومیږي. 5- د مقصد سبب او کیفیت قید چې د فعل د کیدلو انتها علت سره د مقصد او ځای ښکاره کوي. 6- ملتیا چې د فاعل او مفعول ملتیا او معیت څرګندوي.

3-2-1 مطلب د قیدونو په واسطه ښودل کیږي او 4-5-6 مطلب د ارتباطي اداتو په واسطه ښودل کیږي.

الف: د جملې اساسي برخې یا دجملې لومړۍ درجه غړي:

دا یوه څرګنده خبره ده، چې یوه جمله برسېره پر فرعي توکونو دوې اساسي برخې لري چې ددغو له پیوستون څخه بشپړ مطلب لاس ته راځي.

مبتدا او خبر د جملې مهمې برخې ګڼلې شوي دي او داوړه برخې دیوې جملې زړې جوړوي دا ځکه چې مبتدا او خبر پرته له فرعي اجزاو څخه هم یوه پوره او ځانګړې جمله جوړ ولای شي.

لکه: روښنايي راروانه ده، هیواد پرمختګ کوي. هلکان راغلل. شپه تېره شوه.

لیدل کیږي چې په هرې جملې کې د مسند الیه او مسند برخې په خپلواکه او مستقله توګه راغلي او په دغو جملو کې نورو اجزاوته کومه اړتیا نه لیدله کیږي.

یادونه: مونږ د پښتو او فارسي ژبو د ځینو ګرامرونو د مطالعې څخه د مسند الیه فاعل – مبتدا او مسند، فعل، خبر د اصطلاحګانو سره مخامخ شوي یو لکه دمحمد ګل مومند (پښتو ژبې لیاره 1317) د پوهاند رښتین پښتو ګرامر د محمد اعظم ایازي (د پښتو قاعدې 1328) د عظیم شاه خیال (صرف ونحو پښتو)، د پوهاند الهام (روش جدید در تحقیق دستور زبان دري همدارنګه د پرویز خانلري په (دستور زبان فارسي) کې دنهاد – ګذاره په نامو سره راغلي دي.

په هر حال مطلب په کې ټاکلي او معيني برخې دي چې مخکې پرې غږيدلي يو. په جمله کې دغه دوې اساسي برخې په اسمي او فعلي غونډونو بېلېږي چې اسمي برخې ته يې (مسند اليه، فاعل، مبتدا) او فعلي برخې ته (مسند ، فعل، خبر) وايي.

په پښتو ژبه کې فعلي غونډونه د (مسند ، فعل) په توګه او اسمي غونډونه هم د مسند اليه په توګه او هم د مسند په توګه راتلای شي چې دا بيا په اسمي او فعلي جملو کې دغه موضوع ښه څرګندېدای شي.

لومړی : مبتدا ، مسند اليه، فاعل (Subject):

په ګرامري توګه د جملې يوه خپلواکه او مستقله معنا لرونکې برخه ګڼله کيږي، په جمله کې د هغې په باب خبر ورکول کيږي.

يا په بله وينا مسند اليه هغه برخه چې د هغې په نسبت څه ويل کيږي يعنی د يوه حکم نسبت ورته کيږي. د څوك، چا، څه پوښتنو ته ځواب ورکوي. په پښتو ژبه کې مسند اليه (فاعل) په خپلواکه توګه د جملې يوه اصلي برخه جوړوي. په دغې برخې کې د کلام د ټولو اجزاو څخه د (فاعل، مسند اليه) په توګه راځي چې په هغې کې د اشخاصو نومونه د شيانو نومونه ساکښ او بې سانومونه، ضميرونه، صفتونه، عددونه، قيدونه په ساده يا مرکبو (ترکيبی) (اشتقاقی) شکلونو سره هم راځي. په پښتو ژبه کې د قاعدې له مخې نومونه، صفتونه، ضميرونه، عددونه برسېره په اصلي حالت په مغيره (غير اصلي) حالت سره هم راځی چې دغه برخه جوړ وي. همدارنګه د ارتباط له اداتو سره د (Postpsition, Prepostion) د پيشينو او پسينو سره هم يو ځای راتلای شي، چې مثالونه به يې يو يو په وروسته ډول راوړو:

په پښتو ژبه کې مبتدا (مسند اليه، فاعل) د کلام د بېلا بېلو توکو په مرسته:

1- الف: چې مبتدا يو مفرد عام نوم وي دغه نوم په جمله کې نسبت نورو نومونو ته اساسي وظيفه ترسره کوي.

لمر راوخوت، پوهنه رڼا ده. بزګر د خپلې ځمکې په فکر کې دی.

لمر، پوهنه، بزرګر مفرد عام نومونه دي چې په جملو کې د (مسند اليه، فاعل) وظيفه لري.
ب: د جمعيت نوم د مبتدا (فاعل) په توګه راغلي وي:
اولس غونډه وکړه. جرګه راغله. لښکر پرشاشو. رمه خرېږي.
ج: (مبتداء، فاعل) د جنس نوم په ډول ځرګند شي: غوړي توی شول. او به تويې شوې. تيل، سوځېږي. اوړه خلاص شول. غنم خلاص شول.
د: (مبتداء، فاعل) يو خاص نوم وي: بايزيد (روښان) مسجع نثر ليکلی دی. خوشحال ختېك ښه شعرونه ويلي دي. ميرويس (نيکه) صفويانو تـه ماتې ورکړې ده. (مرغی پاخيدلې او په زاريـويې لاس په تندي کېښود)

په اسمي جملو کې: درخانۍ د طاوس خان لوروه. کابل لوی ښار دی.
هـ: چې مبتدا يو مجرد (معنا) نوم وي: روغتيا لوی نعمت دی. ښيګڼه ښه ده.
2- په جمله کې مبتدا (فاعل) د جمع عدد نومونه وي:
بزګران دمني په کرکيله لګيا دي. نرخونه له پخوا نه جګ لاړل. يا دغه بل مثال کې:
لنډه دا چې غرونه وجړ کيدل، سيندونه وشېږدل، بادونه وزغليدل، ستوري وځرخيدل، کاينات وخوځيدل، دزيږندي او ودي له مخې بندېزونه لرې شول.
3- (مبتدا، فاعل) چې نومونه په اوښتي بڼه (مغير حالت) کې وي.
الف: مفرد مغيره شکلونه:
پوهنې ټوله نړۍ رڼا کړه. ټولنې وده کړې ده. پسرلي ښه زيری راوړ.
ب: د جمع مغيره شکلونه:
دهقانانو د مني فصلونه ټول کړه. خلکو تلوار کاوه.
چرګانو بانګونه ووې. لوستلو معلومات ډېر کړه. اوبو لاره وکړه.

4- د جملې مبتدا (فاعل) ضميرونه وي:

الف: شخصي ضميرونه:

زه تاته په غيږ کې ځای درکوم ښه راغلې. زه تاته ننواتې راغلی يم نو ته زمانوواتي ومنه.

دی دې هڅه وکړي. دا د خپل هيواد په ستونزو لاخبره نه ده. هغه په بيړه راغله.

شخصي ضميرونو مغيره شکل د مبتدا (فاعل) په توګه:

ما د ځان سره کرل ريبل تاڅه وکړل. ده يوه لاره جوړه کړه.

دې هيڅ ونه ويل. هغه خيال کړی وچې دا کار ډير اسان دی. هغې بې ځايه هلې ځلې کولې.

ده پر خلکو ملنډې وهلې.

ج: د شخصي ضمير جمع د مبتدا په توګه:

مونږ حقيقت لټوو. تاسو ښېړنه کړې ده. دوي د رحم زړه نه لري.

دوي د ظلم نه دومره خوند اخلي لکه چې د رحم نه يې زړه سواندی انسان اخلي.

د : استفهامي ضميرونه د فاعل (مبتداء) په توګه:

څوک تا په کلي کې نه پريږدي؟ څوک لټوئ؟ څه کيږي؟ څومره ويل کيږي؟

مغيره شکل: چاوليد؟ چا ولټول؟ چابيړه وکړه؟ چا وليکل؟

همدارنګه څووم دی؟ څووم ولاړ؟ کوم راغی؟ کومه راغله؟ څوومه ده؟

دجمع په صورت کې: څووم راغلل؟ کوم راغلل؟ کوم لاړل؟

مغيره صورت يې: کومو بيړه درلوده؟ څوومو راوړل؟

هـ: مبهم ضميرونه د مبتداء په توګه:

ټاکلي: څوک کارکوي او څوک ساعت تيروي. څوک راغلل او څوک رانغلل. چاکار وکړ او چاونه کړ. څوک به کار کوي او څوک به ساعت تيروي.

هر څوک حاضر دي. هر چا خپله رايه ورانديې کړه.

ناټاکلي: څه دادي او څه نور دي. څه په سترګونه ليدل کيږي. هر څه دلته پيدا کيږي. هيچاونه ليدل. هيچا پاملرنه ونه کړه. يو څوک راغی، بل څوک زما په کار نه پوهيږي. کوم يوه وويل، دلته هيڅ نه پيدا کيږي.

يادونه: په هغو جملو کې چې ناخپلواک ضميرونه (مې، دې، مو، يې) د فاعل په توګه وي نو بيا د جملې د اجزاو ساختمان په دې ډول راځي:

کتاب مې ورکړ- قلم مې ورورباخښنه، کوریې جوړ کړ.
5- مبتدا (فاعل) په جمله کې صفتونه وي:
ښه ښه دي بد بد دي. هوښیار دي. لیونی راغی. ویده هماغسې ناخبره پاتی شو. موږ د وږي له حاله څه خبردی. پلی د سپور له حاله څه خبردی. یا دا متل: خپل خپل دي پردي په ډېرو نارو خپل دي.
نسبتي صفات: کندهاری راغي. ویرجن ارمانجن ناست دی. څمکه وال خپله څمکه سمبالوي.
فعلي صفتونه (نومونه): فاعلی صفت د مبتدا (فاعل) په حیث:
ښوونکي خپله دنده ترسره کوي. لیکونکی لیك لیکي. څارندوی شپه او ورځ کارکوي.
مفعولي صفت د مبتداء (فاعل) په توګه:
وهلی لاټاست دی. رټل شوی خبرې نه کوي. ځپلی له ځان سره خبرې کوي.

یادونه: پرته له وك او چا خه نور ول استفهامي ضمیرونه د مرجع سره را ي چ استفهامي صفت هم ورته وایي (پ تو رامر لومؤي وك 61- مخ د لیکوال درسي کستتنر.

فعلي نومونه: اوربښت کښتونه خړوبوي. لګښت ډېر شو.
روزنه د ماشومانو له پاره پکارده. پالنه د ماشومانو له پاره پکارده.
مصدر د مبتدا په توګه:
تیری کول لویه ګناده. لیکل اسان کار نه دی. لیکلو ستړی کړم، ژبه کول له مشرانو سره ښه خبره نه ده.
6- مبتدا د شمیر (عدد) نوم وي:
1- په دې کې یوځي او یو راځي خبره نه ده معلومه. پنځو تنو څخه دوه راغلي وو.
2- لومړی وایي. لومړي وویل. شپږم کوټې ته راغی. اتم لاپاتی و.
3- شل په څلورو تقسیمېږي.
لس جوړه عدد دی. نولس به شل نه شي. پورتني زیات شمیر مثالونه چې راوړل شول د ساده توکونو په توګه راغلي وو. مبتدا کله په ساده او کله په ترکیبي ډول هم راځي.
الف: مبتدا چې ساده جوړښت ولري: هغه زیات شمیر مثالونه چې مخکې مور اوړي وو په دغه برخه کې راځي.
ب: ترکیبي: هغه چې (مبتدا، فاعل) له دوو څخه زیات کلمات وي لاندې مثالونو کې یې ګورو:

لومړی په ترتیب سره اول دا ضافي ترکیب[1] مثالونه راوړو:

1- (مسند الیه، فاعل، مبتدا) هغه اضافي ترکیبونه وي چې مضاف الیه او مضاف یې یو توکیز مفرد (ساده) نومونه وي.

د کابل ښار ډېر لوی شوی دی. د شپونکي شپیلۍ په جرس راغله. دودانۍ بنسټ کېښودل شو.

2- مضاف الیه مرکب (اشتقاقی، ترکیبی) او مضاف یوتوکیزوي، مثال : د افغانستان خلك په خپله اراده ټینګ ولاړ دي.

د خوشحال خان اشعار په پښتو ادب کې یوه لویه او درنه پانګه ده.

3- مضاف الیه د جمع عدد په شکل او مضاف مفرد نوم وي:

د پټګانومینه ښکاره ده، د زمریو کور بې هډوکي نه وي. د شاعرانو خیال لوړ ښکاري. دادیبانو فکر پوخ وي. د ګلانو رنګ ښه ښکاري.

4- چې مضاف الیه مفرد او مضاف د جمع نومونه وي.

د باغ ګلونه په غوړېدو شول، د میني اوښکې په ګریوان دي.

5- د مبتدا په توګه چې مضاف الیه او مضاف دواړه د جمع عدد نومونه وي:

د غرونو سرونه سپین ښکاري، د زماني توپانونه راغلل. د امیدونو غوټۍ ګل شوې

د مبتدا په توګه د هغو اضافي ترکیبونو مثالونه راوړو چې مضاف الیه (نوم (اسم) او مضاف توصیفي ترکیب وي:

د پسرلي ښکلي خیره رابرخیره شوه.

د لمر تودو وړانګو په کې ګرمي او تودو ښېي واچوله (نوي کال نوي زیري).

اوس د هغو ترکیبونو مثالونه په مبتدا کې راوړل کیږي، چې مضاف الیه توصیفی ترکیب او مضاف اسم (جمع) وي:

د سرو ګلونو کتارونه جوړ شول او د زېړو ګلونو صفونه ودریدل.

---

[1] **یادونه: الف: په پ توژبه ک دغه أول ترکیبونه د اضافی ترکیب په نامه یادیإي چ د دریو توکونو د اضافت د مضاف الیه + مضاف خه جوؤیإي. که مضاف الیه ناخپلواك ضمیرونه وي نو بیا مضاف د مخه را ي. لکه: قلم مـ پرمیز پروت دی. کتاب ی ورك شو.**

ب: همدارن ه په نظم او نثر او نورو ایونو ک دغه ترکیب کله نا کله بدلیإي او مضاف د مضاف الیه خه وؤاندې را ی چ دغه أول ته بدلي ترکیب وایي لکه: ونه د چنار یك ی په اوربل+ مالیدلی خال دی پ پ ی خندل یا اوبه د چین خوإې دي. پا ه د ور ورې ده.

هغه ترکیب چې صفتونه یې له دوو نه زیات وي د مبتدا په توګه راوړل کیږي یعنی مضاف الیه زیات شمیر توکي ولري.

1- دشین بخملي ګلالي فرش موسم راغی.

2- د خوږو ارمانو، پاکومینو، ستر منو ارزوګانو او سپېڅلو امیدونو ماشومان وزنګیدل.

دویم: مبتدا (فاعل) د توصیفی ترکیب په توګه: په دې معنا چې دغه ډول ترکیبونه دیوه صفت او یوه اسم د یو ځای کیدو څخه لاس ته راغلي وي.

په پښتو کې صفت تر موصوف د مخه د مطابقت په ډول ترکیبیږي[1].

توره وریځ رابېره شوه.

خوږې نغمې د ملنګ جان د اشعارو مجموعه ده.

فعلي صفتونه د موصوف سره توصفي ترکیب د مبتدا (فاعل) په توګه:

تللې او به په بیرته نه را ګرځي.　توکلې لاړې بیرته نه راځي.　رټل شوي هلك غلی ناست دی.

تلونکي سړي ورو ورو روان دي.

دریم: مبتدا اشاري ترکیبونه وي:

دا قلم تور دی.　دا اوښکې خوږونه شوه.　دې زمانې د ځان سره نوي شیان راوړي دي.

اوس هغه پخوانۍ زمانه نه ده.　دا اوړه خراب دي.

دغه لرګي لامده دي. دغې ښځې کور ودان کړ. (مغیره شکل).

څلورم: عددي ترکیبونه د مبتدا په توګه:

1- زمونږ په کور کې یو ګل وغوړید.

2- څلورتنه ناست او خبرې کوي.

3- پنځه کمربندونه تش شول.

4- دولس کلنه دوستي خرابه شوه.

5- شلم قرن دی. شمله پیړۍ ده.

6- یولس تنه سړي کار کوي.

7- درې هلکان سیند غاړې ته راغلل.

8- پنځه ګوتې سره برابرې نه دي.

9- یو څو کاله په دغه توګه تېر شول.

یو څو کسه نارینه راغلل،　یو څو خبرې به کیږي.　په سلګونو خلك راغلي وو.

---

[1] **یادونه: خاص نومونه، لقبونه د موصوف نه وروسته را ي لکه احمد شاه باّبا، حمید باّبا، میرویس نیکه، زرغونه انا**...

پنځم: مبتدا (مسند الیه) عطفي ترکيب وي:

الف: (يو توکيز) دوه مفرد نومونه د عطف په صورت کې:

1- بريالى او اڅك راغلل. 2- وړانګه او پلوشه ناستې دي.

دوه د جمع نومونه:

1- زاره او ځوانان د وطن د ابادى له پاره کار کوي. 2- ګډې اووزې په مزه مزه په څرلګيا دي.

ب: صفتونه د عطف په توګه:

1- وړې او تږې ناست دي. 2- خپل اوپردي ورنه راټول وو.

3- زورور او کمزوري سره معلوم دى. 4- زورورو او کمزورو سره معلومه کړه.

5- ځورونکى او خپه کوونکي خبره ده. 6- جوړ او روغ يې سره پرېښودل.

7- لاټده او وچ يودي. يا وچ او لاټده سره يودي.

ج: په مبتدا کې ضميرونه د عطف په ډول وي.

1- زه اوته به د وطن په پرمختيا کې هڅه کوو. ته او زه به سره يو ځاى کار کوو. ما او تا سره وپېژندل. تا او ما کارونه سره وويشل. دا اودى سره خور او ورور کيږي. ده او دې څه وکړل. هغه او هغې خبره پخه کړې ده. هغې او هغه خبره کړې ده.

د جمع په توګه: تاسې او مونږ څه کوو، مونږ او تاسې ټول راغلي يو. دوى او هغوى پلان جوړوي. هغوي او تاسې څه کوئ.

شپږم: مبتدا، فاعل استثنايي ترکيب وي:

بې له ماټول حاضر وو. تاسى پرته له مونږ ولاړيئ. دوى بې له ده نه څه نه شي کولاى. ټول په غير د ځلمي نه راغلي وو.

اووم: مبتدا (فاعل) بدلي ترکيب وي: ستا ورور بريالى راغى.

چې ګلونه د بهار واړه تمام شي، د زړه سود شيدا بلبله په ختوکي

اتم: متعدده مبتدا لرونکي جمله:

که چېرې په يوې جملې کې دوه يا زياتې مبتداګاني (فاعل) د يوه خبر سره راغلي وي نو دغه جمله متعدده مبتدا لرونکې جمله ګڼله شي.

لکه: 1- ښايستو کې مرغى او ګلالى بلبلې خبرې شوې.

2- د هيواد مشران، د کلي خانان او ملکان او داسې د اولس خلک راغلي وو.

3- د ښوونځيو زده کوونکو، د دوترونو کار کوونکو، د پوهنتونو محصلانو، د کارخانو مزدورانو او کارګرانو په ګډه کار کاوه.

یادونه: همدارنګه د پښتو ژبې تکراري (بشپړ او نیمګړي) ترکیبونه هم د مبتدا په توګه راځي چې البته دلته یې د ټولو راوړل د هر وخت غواړي. دغه څو مثاله راوړو:

اولسونه اولسونه تبا شول، ښه نا ښه ګډ دي. کلي کلي نړیږي، ګڼ ګڼ پراته دي.

سره دوه دوه کیږي. یو یو راروان دی.

2- اخلي پخلي کیږي، سابه مابه پخیږي، ژرنده مرنده ماته شوه.

دوهم: خبر (مسند) (فعل) (Predicate) :

خبر (مسند، فعل هم لکه د (مبتدا، مسند الیه، فاعل) د جملې بله مهمه برخه ده. مسند د مبتدا او مسند الیه حال ښکاره کوي[1] په جمله کې خبر دځه کوي، څه کیږي، څه ډول (څنګه) دي.

څه دي، څوك دی، د چا، څه په باب، څه وخت، چېرته سوالوته ځواب ورکوونکی دي.

د پښتو ژبې د ټولو جملو د څېړنې او مطالعې څخه داسې نتیجه تر لاسه کوو:

1- د جملې خبر د مبتدا په شان د کلام د ټولو توکونو څخه راتلای شي.

2- خبر د جوړښت له مخې ساده (یوتوکیز) مرکب (دوه توکیز، ترکیبي) او په متعدده توګه سره راتلای شي.

3- د پښتو ژبې په جملو کې هغه څه چې د خبر په توګه راوړل کیږي یا به فعلي غونډوي او یا خو به اسمي غونډوي.

4- هغه جملې چې د خبر په برخه کې یې یو پوره فعل او یا فعلي ترکیب (غونډ) وي د فعلي جملې په نامه او هغه چې دخبر برخه یې د مبتدا په څېر اسمي وي داسمي جملې په نامه یادیږي. نو په دې توګه په پښتو ژبه کې خبر په دووډولو ویشل کیږي:

اسمي او فعلي: داسمي او فعلي اصطلاح په ډیرو نورو ژبو لکه روسی[1] فارسی او داسې نورو کې هم شته او په همدغه ترتیب سره جملې په اسمي او فعلي باندې جلا کیږي، نو په دغه اساس په پښتو ژبه کې هم جملې په اسمي او فعلي باندې ویشلی شو:

---

[1] **پوهاند صدیق الله ر ښتین، پ ښتو ګرامر دویم ټوك، کابل چاپ** 1370 **لمریز کال.**

[1] **پ.ا. لیکانت، معاصره روسي ژبه کې د ساده جملو نحوي سیستم، مسکو.** 1974 (17-43-46) **مخونه.**

اسمی جمله: هغې جملې ته وايي چې مسند اليه او مسند (مبتدا او خبر) يې دواړه نومونه وي يعنی د مبتدا او خبر برخې يې داسمي غونډونو (اجزاو) څخه ترکيب شوي وي او د يو اسناد (کومکی فعل) په مرسته يې سره ارتباط پيدا کړی وي يا په بله ژبه داسمي جملې اساسي توکي درې دي (مسند اليه، مسند ، اسناد) د مسند اليه او مسند ترمنځ حکم ته اسناد وايي[2].

په اسمي جملو کې (خبر، مسند) د کلام ښېلا ښېلې اجزاوې (نومونه، صفتونه، ضميرونه، عددونه، قيدونه، فعلي صفات، اسمي فرازيالوژيکي ترکيبونه) په مستقيم او غير مستقيم حالت سره راتلای شي.

په سوال او ځواب، ديالوګ، متلونو او اصطلاحګانو کې کومکي فعلونه غورځيږي لکه: د بيزو دوستي د ځان تاوان. خپل عمل د لارې مل .سردې ګل بيخ دې پياز.

د مثال په توګه يو څو اسمي جملې په لاندې توګه ګورو.

1- نوم په اصلي حالت کې د خبر په توګه او د کومکي فعل سره:

خوشحال خوشحال دی. زه ښوونکي يم. دی استاد دی. د کلي مشر خانميردی.

2- نوم په غير اصلي حالت کې د پېشيني او پسيني سره د خبر په توګه:

داړونکي ځناوران په ځنګله کې وي. دی زمونږ له دوستانو څخه دی.

3- په جمله کې صفت داسمي خبر په توګه:

د کابل د ښار کوڅې لويې دي. دغه ښار زوړ دی. د ظلم ماڼۍ ړنګه ده. هواروښانه ده. کتاب پر ميز پروت دی. ښه خلك لږ دي. په دغو جملو کې لويې دي، زوړ دی، ړنګه ده، روښانه ده، پرميز پروت دی داسمي خبر په توګه پېژندل شوي دي.

4- فعلي صفت (نومونه) داسمي خبر په توګه:

دوي خپل کلي ته تلونکي دي. داسې وخت راتلونکی دی. اباسيند تل څپاندوی.

په دوبي کې لمرسوځونکی وي. ځلانده دی. دی ښه ګټندوی دی. پښتانه د هيواد ساتندوی دي.

ماشومان خوځنده دي. ددې کتاب څومره ارزښت دی.

5- قيد داسمي خبر په توګه:

ددوي کور د ښار له مرکز څخه لرې دی. کتاب هلته دی. خبره نژدې ده.

6- ضمير د خبريه توګه: ددې هلك پلار دی دی. دده مطلب زه يم، ته ته يې اوزه زه يم.

---

[2] **پوهاند صديق الله ر تين، پ تو رامر دويم وك د نحوې برخه، كابل،** 1370 **لمريز كال.**

7- خبر اضافي ضمير وي: دغه كور زمونږ دی. دغه كتاب ستادی. ددغه كتاب لومړی برخې زما دي.

8- اسمي خبر د پوښتنې (استفهامي) ضميرونه وي: دغه راروان هلك څوك دی. دلته څوك دي؟ هلته څه دي؟ خلك څومره وو؟ د پوهنځي لاركومه ده؟ دی په ټولګي كې څوم دی؟ دغه ښكلی ليك د چادی؟

9- عدد د مسند (خبر) په توګه: په پښتو ژبه كې واولونه اته دي. دا كوټه پنځمه ده. خبرې ډيرې سريې يو دی.

10- مصدر داسمي خبر په توګه: ددوي مقصد تلل وو. ددوي مطلب يوازې او يوازې پخلا كول دي.

11- فعلي نوم (حاصل مصدر) داسمي خبر له پاره: لومړنی زړه كړه د كوچنيانو له پاره روزنه او پالنه ده.

12- د تركيبونو (غونډونو) په توګه د اسميه خبر څرګندونه:

1- د اضافي تركيب په توګه:

خوشحال خان د ملك اكوړي لمسی دی. خندا د ژوند مالګه ده.

2- د اضافي ضمير تركيب داسمي خبر په توګه: دغه هلك زما ورور دی. دا زما سره هلك زما د ترور زوی دی. دا وطن زمونږ مور ده.

د پوښتنې له پاره: دغه سړی د چا ورور دی؟ ادم خان ا درخانی د كوم ځای وو؟

3- توصيفي تركيب د خبر په توګه: خوشحال خان ختك پياوړی شاعر دی. روغتيا او صحت لوی نعمت دی. علم پټه خزانه ده. نن څومره ښه هوا ده. ناست كسان ښه خلك دي. څه ښكلې مرغی ده!

همدارنګه صفات د قيد په توګه هم توصيفي تركيب جوړ وي او په اسمي خبر كې داسې راوړل كيږي: نن ډيره ښه توده هوا ده.

4- د شمير (عددي) تركيب په توګه د خبر څرګندونه: علم يوه رڼا ده. يوه اوونی اووه ورځې ده او اووه ورځې يوه اونی ده. دروژې مياشت دېرش ورځې ده. په ساعت كې اوس څلوربجې دي.

5- خبر د يو ظرفي تركيب په توګه: نمراو سپوږمی په اسمان كې دي.

ملالی په كور كې ده. كتاب پرميز باندې دی. قلم تر ميز لاندې دي.

په پښتو ژبه كې فعلي خبر:

فعلي جمله: هغه جملې دي چې خبریې فعلي بشپړه بڼه ولري یعنی د فعل برخه یې اصلي فعلونه وي، یا په بله وینا فعلي جمله هغه ده، چې له پوره فاعل فعل او یا له فاعل، مفعول، فعل نه جوړه وي. په دغه ډول جملو کې خبري برخه د فعل ټول ګرامري شکلونه (زمانه، جنس، عدد، شخص، وجه، حالت) د فعل ډولونه، لازمي، متعدی، معلوم، مجهول، مثبت او منفی) خواوې څرګندیږي.

همدارنګه فعلونه د جوړښت له مخې یو توکیز (ساده) دوه توکیز (اشتقاقي، ترکیبي) وي. ترکیبي فعلونه یعنی هغه نومیز فعلونه دي چې د یو (اسم، صفت، عدد، قید، مصدر، فعلی نومونه) د کومکی (مرستیال) فعلونو په مرسته جوړیږي البته د ساده او (ترکیبي، اشتقاقي) فعلونو زیات شمیر مثالونه په زیاتو ماخذونو*کې لیدلی شو. دلته مونږ یوازې د فعلي جملو مثالونه په لاندې توګه راوړل غواړو:

ساده لازمي فعل د خبر په توګه: زه بنار ته ځم. تاریخ درومي.

ساده متعدي فعل د خبر په توګه: دی اخبار لولي. ده اخبار ولوست.

اشتقاقي او ترکیبي فعلونه د خبر په توګه: لمر راوخوت، کتابونه به راوړم. لیکونه به ولیکو. له دې اوبو، به پوریوځي.

بل مثال: ځمکه به او به شي. ځمکه به اوبه کړي. فلم په اتو بجو شروع کیږي. کارونه به په لسو بجو ختم شي.

بریالی خپلو هیلوته نژدې کیږي. دوي په خپل کورکې ارام کول غواړي. ماشومان لوبې کول غواړي. مونږ په دې خبره ځان خبرول غواړو. دوي په تهمت او تور ونیول شول. د کور غل نه نیول کیږي. څوك د کور غل نه شي نیولای.

په دغو جملو کې لیدل کیږي چې خبر د بشپړو ترکیبونو په توګه راغلی دی.

خبر په متعدد ډول:

* 1- **پوهاند صدیق الله ر تین، اشتفاقونه ترکیبونه، کابل.** 1327**.**

2- **محمد اعظم ایازی، قواعد پ تو، کابل،** 1324 **(د فعل برخه)**

3- **هربریت پنزل، پ تو رامره کابل،** 1340**.**

4- **داکتر زرغونه، پ تو رامر، کابل،** 1360 **درس ستتنر (د فعلونو برخه).**

په پښتو ژبه کې د جملې خبر په متعدد ډول هم راځي، په دې معنا چې د یوه مبتداله پاره څو خبره ذکر شوي وي، که چیرې په یوه جمله کې د یوه خبر له پاره زیاتې مبتداوې راشي نوهغه جمله متعدده مبتدا لرونکې جمله ده. همدارنګه که په جمله کې ددوونه زیات فعلونه (خبر) (اسمی- فعلی) راوړل شوي وي نو دا به هم د متعددې خبر لرونکې جملې په نامه یادیږي لکه: دی لـه قهره پاڅید، کښیناست، ویې ویل:

دی د جملې فاعل، پاتې برخه د فاعل سره نحوي رابطه لري او د فعل مطابقت د فاعل سره څرګندوي. لونګګ پورته وغورځید، کښېته وغورځید، له ډیره قهره غلی شو. په فعلیه جمله کې د جملې اصلي توکي درې ښودل شوي دي: فاعل، مفعول، فعل، البته په متعدي فعلونو کې مفعول هم د فعل د معنا د بشپړونکي توکي په حیث د جملې مهم جز ګڼل کیږي.

مفعول: هغه څوك یاشی دی چې دفعل اثرور باندې شوی وي یاور رسیدلی وي. مفعول د خبر بشپړونکې برخه ده. که چېرې په یوه جمله کې فعل متعدي وي یوازې د فاعل ذکر وشي او مفعول رانه وړل شي نو په دغه صورت کې معنا به روښانه نه وي لکه: بریالي. . . وکړه. بریالي. . . بوتلله. دلته د مفعول شته والی چې د فعل د معنا څرګندونکی یا متممه برخه ده نـه دی راغلی نو پـه دې توګه مطلب هم پوره نه دی رسول شوی او که ووایو بریالي یوه وکړه. یابریالي کلبه وکړه. یابریالي کلبه بوتله نو مطلب پوره شو.

په یو شمیر هغو ګرامرونو کې چې ختیځ پوهانو برابر کړې دي مفعول هم د جملې دوهمه درجه غړی ګڼلی شوی دی ولې دا خبره به یو څه د غورړ هم وي ځکه په معلوم متعدی فعل کې د فاعل شته والی، مفعول له فعل سره د جملې خبر جوړ وي ولې په مجهولو فعلونو کې بیا مفعول د نائب فاعل په توګه دجملې مبتدا (مسند الیه) ګڼل کیږي.

په هر حال مفعول د جملې د یوه توکي په حیث د فعل متمم ګڼل شوی دی په جمله کې د مفعول دریځ د هغې په نحوي موقعیت پورې اړه لري.

مستقیم او غیر مستقیم (Directobject) او (Indirectorbject) مفعول:

اول مستقیم مفعول: په پښتو ژبه کې مستقیم مفعول ته نژدې مفعول هم وایي ځکه چې د فعل اثر ورباندې بې له کومې واسطې شوی وي[1] مفعول هغه اسمي توکی دی چې له فعل سره

---

[1] **پوهاند صدیق الله ر تین، پ تو رامره دویم وك كابل، كابل د معارف مطبعه** 1370 **لمریز كال.**

نیغه او مستقیمه رابطه ولري او دغه توکی په ارتباطی حالت کې نه وي راغلی. مستقیم (نژدې) مفعول د متعدي فعلونو سره تل فعل ته نژدې اړیکي ساتي. مستقیم مفعول کومه خاصه نښه نه لري مګر د فعل د ګردان له مخې او د جملې له ترتیب څخه پېژندل کیږي.

په پښتو ژبه کې مستقیم مفعول په اصلي حالت کې راځي کوم بل خاص صورت نه لري یوازې د (زه- ته) ضمیرونه که د متعدي فعل په حال زمانه کې د مفعول په توګه راشي نو په غیر اصلي حالت سره راځي. لکه: ته ماوینې، زه تاوینم، دی تاوینی، دی ماوینې).

ددغه ډول مفعول مثالونه په لاندې جملو کې ښیو:

1- پښتونه! پورته شه قامونو کې خپل قام پورته کړه.

2- دراڼیو غږ به ټیټ کړم، لکه چې دوړې راغلې، زه به کړکی هم وترم.

3- اوس ته غوږ ونیسه.

په دغو جملو کې خپل قام، دراڼیو غږ، کړکی، غوږ مستقیم مفعول دي او د فعل سره نژدې راغلي دي.

یادونه: په متعدي مجهولو فعلونو کې چې فاعل نشته، مفعول د فاعل په ځای د مسند الیه وظیفه لري. غونډه کیږي، د کورغل نه نیول کیږي.

اوس به په لاندې جملو کې د کلام اجزاوې (ساده، مرکب) د نژدې مفعول په توګه وګورو:

الف: ساده یا یو توکیز کلمات:

1- نوم (مفرد مذکر) د مفعول د په توګه:

زه کتاب لولم. ملالۍ کمیس وګانډه، غل غل پېژني.

نوم (جمع مذکر) د مفعول په توګه : ملیار ګلان وکرل. هغوي فکرونه په ځای کړل.

2- نوم (مفردمونث) د مفعول په توګه: دې سترګه پټه کړه. هغه منه وخوړه.

نوم (جمع مونث) د مفعول په توګه: دوي پرواقعیت باندې سترګې پټې کړلې.

3- ضمیر د مفعول په توګه: (1) -ده زه ولیدم. زه دی وینم. خلك مونږ پېژني. دوي تاسې مېلمانه کوي. دوي مونږویني.

په مغیره حالت کې: دی ماخبروي، دی تا خبروي. دلته زه، دی، مونږ، تاسی، ما، تا شخصي ضمیرونه دي د مفعول په توګه.

2- ملالی دا اخلي. دغه کتاب واخله او هغه ولوله. دوي هو غه خلك نه پېژني (دا ، هغه، هوغه) اشاري ضميرونه د مفعول په توګه ذکر شوي دي.
3- استفهامی ضميرونه د مفعول په توګه: ته څه اخلې؟ ته څوك غواړې؟ څوك وينې؟ تا څه وليدل؟ اشاره هم دشي او هم د شخص لپاره راځي:
ستا څوك په کار دي؟ ستا کوم خوښېږي؟ ستا څومه په کارده؟ ستا کومه خوښېږي؟ په پورتنيو مثالونو کې څه، څوك، څومره، څووم، کوم د پوښتنې ضميرونه دي د مفعول په توګه.
4- ټاکلي ضميرونه: ماټول وليدل. دی ټول ويني.
ناټاکلي ضميرونه: زه هيڅ نه وينم. ځيني وينم او ځيني نه وينم.
5- چي مفعول يې اداتي ضمير وي: دغه چوکۍ واخله او هلته يې کيږده. ته يې وينې. دی يې ګوري. هغه دې بيايي. دوي موخبروي.
يادونه: دلته وينو چې اداتي متصل ضميرونه يوازې د اوسنۍ زماني په افعالو کې مفعولي حالت لري مګر په ماضيه فعلونو کې مفعول نه بلکې د فاعل په توګه راځي لکه (زه دې وپېژندم دی يې وليد . زه مو خبر کړم.
6- صفت د مفعول په توګه : زه رنځور وينم. وږي يې بوت. زاړه يې لرې کړل. کاږه يې سم کړل. طبيب ناروغ وليد . يا ناروغان وليدل.
7- عدد د مفعول په توګه: ما يو وليد . يويې راووست. دوه يې مړه کړل، درې يې ونيول. څلوريې په تنګ کړل. دويم دريېم يې وغوښت.
8- فاعلي صفت د مفعول په توګه: زه ليکوونکی وينم چې ليکنه کوي.
9- مصدر (فعلی نوم) د مفعول په توګه: دی ځنګله ته تلل غواړي. دی ډېر لوستل کوي.
ب: مستقيم مفعول د يو ترکيب په توګه:
1- سيلانيانو د افغانستان غرونه وليدل. ګلالۍ د جاموغوټه پر سرايښې ده.
د افغانستان راتلونکی زمونږ په فعاليت او لياقت پورې اړه لري.
2- ملالۍ تور قلم وموند . مليار ښکلي ګلونه کرلي دي. شاعران ښه ښه خوبونه ويني.
هفه خپلې ټولي زده کړې پای ته ورسولې.
3- کليد افغاني د خوشحال ختك د ديوان څخه پنځه لس غزلې، يوه رباعي او اوه قصيدې رااخيستې دي او د کتاب په وروستنۍ برخه کې يې هم دوه شعرونه رانقل کړي دي.

4- هلته به ولاړ شو هر څوك به ووينو. مونږ هيڅ نه اخلو. اوس به بل څه وګورو. په لوړ و مثالونو کې 1- اضافی ترکيب 2- توصيفی 3- عددي 4- مبهم ترکيبونه (غونډونه) دي.

مفعول د بدلي ترکيب په توګه:

اول زړه ښه کړه ديار ښه په بوس اوکنار. دلته ديار زړه دبدل په توګه راغلی. زما ژبه نه ده اور ده ګذارونه د ټوپك کا.

5- مصدري ترکيبونه د مفعول په توګه: دی پر هر چاټېری کول نه غواړي. تيری کول لويه ګناه ده. دی حق خوړل ناروا کارګڼي. پر چا باندې سترګې سرې کول څه معنی لري. مطالعه کول ګټه لري.

6- فعلي نوم (حاصل مصدر) په ترکيبی ډول: څاروي خوراك ښناك کوي. په همدې ترتيب مفعول د بشپړو او نابشپړو تکراري ترکيبونو په توګه هم راځي د مثال په توګه:

1- کتابونه کتابونه مې وليکل. غرونه غرونه مې چپه کړل.

2- کورمور دې جوړ کړ که نه. غنم منم يې په ځای کړل. په دغو مثالونو کې زيات تاکيد ليدل کيږي.

په همدې توګه ډير نور مثالونه هم شته.

دويم ډول غير مستقيم (لري) مفعول:

په پښتو ژبه کې دغه ډول مفعول هم د کلام د بېلا بېلو اجزاو څخه په مغيره حالت کې د پيشيني او پسيني (Preposition او Postposition)سره په ارتباطي حالت کې راځي او په جمله کې د يوه نوم حالت او دريځ څرګندوي (ټاکي) زمونږ ګرامر ليکونکو (له، ته، لره) دلري مفعول نښې ګڼلي دي. لري مفعول د فعل سره د يوې واسطې له مخې رابطه ټينګوي. د موضوع پراخوالي له کبله مونږ د ډېرو تفصيلاتو څخه دلته تيريږو، يوازې دومره وايو چې ددغه ډول مفعول د يو اسمي مرکز حالت داداتو له مخې څرګنديږي يعنی د کوموکو موپيشينو او پسينو سره په کوم يوه نحوي حالت کې قرار لري. د بېلګې په توګه:

اسم، ضمير (ازاد مورفيم) + ته (پسينه):

1- زه تاته کتاب درکوم. 2- جرګه کلي ته ستنه شوه. بريالي ته ووايه چې ځان ساته. مونږ له کور څخه راغلو. تاسې له دوي څخه غوښتنه وکړئ. په دغو مثالونو کې تاته، کلي ته، بريالي ته، له کور څخه، له دوي څخه ارتباطی حالت کې واقع شوي دي او ددوهم مفعول په نامه نومولی شي.

څنګه چې د جوړښت او معنا د افادې له مخې د اداتي ترکیبونو په برخه کې دغه موضوع په بشپړه توګه راوړل شوې ده نو په جملو کې ددغو ترکیبونو راوړل دومره ضروري نه بریښي. په پښتو ژبه کې د فعل د مربوطاتو او متعلقاتو په باب ویلی شو، چې دغه مربوطه برخې د فعل د پېښېدو وخت، ځای، حالت، وضعیت، سبب، علت، ملتیا، تم ځای، پیل ځای څرګندوي، په عربي اصطلاح د مکان او زمان قیدونه مفعول فیه، د فعل مبدا او پیل ځای مفعول منه او د فعل مقصد او تم ځای مفعول له دي. په پښتو ژبه کې مهال، ځای وضعیت او حالت د قیود و په واسطه ښودلی شي مګر نورې تړلې برخې د ارتباطي حالت سره یادیږي. په لاندني مثال کې ګورو:

د فابریکې کارګرانو پرون په فابریکه کې په تلوار له خپلې فابریکې څخه خپلو کورونو ته یو شمیر ضروري شیان راتهول کړل.

په دغه جمله کې د فابریکې کارګران (فاعل مغیره حالت) پرون (د زماني قید) په فابریکې کې (مکاني قید) له خپلې فابریکې څخه (پیل ځای) په تلوار (حالتي قید) خپلو کورونوته (دفعل مقصد، سبب) یو شمیر ضروري شیان (مفعول) راټول کړل (مرکب فعل) دی.

په پښتو ژبه کې نحوي قیدونه: قیدونه خود فعل له مربوطاتو څخه دي او د جملې د دوهمې درجې د غړو څخه ګڼل کیږي. څنګه چې ښکاره ده. په پښتو ژبه کې په خپله اصلي قیدونه زیات شمیر نه لري خو زیات صفتونه، نومونه په ساده او هم په ترکیبی شکل سره په جمله کې دقید وظیفه ترسره کوي چې دغه کلمې د پیشینو او پسینو سره راځي. په جمله کې قیدونه په اصلي او غیر اصلي حالت سره هم راځي.

1- قید په ساده او ترکیبي ډول: الف په جمله کې د ساده قیدونو مثالونه: مسافر ډېر تږی دی. ملنګ غلی ناست دی. دی په دې برخه کې هډو نظر هم نه ښکاره کوي.

دلته (ډېر، غلی، هډو) صفات دي. د ساده (یوستوی) قیدونو په توګه وظیفه لري.

2- په جمله کې د ترکیبي قیدونو بېلګې:

الف: قید د یو پوره بشپړ تکراري ترکیب په توګه وي: دی غلې غلې خبرې کوي. دی اوس اوس راورسید. دی ژر ژر خبرې کوي.

ده ورته ځیر ځیر کتل. اوس اوس، غلی غلی، ژر ژر، ځیر ځیر سره له دې چې قیدي مطلب ورکوي خو تاکید هم دی.

ب: چې قيد د يو منځني ارتباط په مرسته تكراري تركيب وي. ادم خان او درخانۍ پټ په پټه د يوبل ديدن كولو.

ج: قيد له يوه نوم او پېشينې په مرسته تركيب وي: په 1919 كې انګريزان زمونږ له هيواد څخه په تيښته وتښتيدل.

د معنا له مخې د قيد ډولونه:

1- د حالت او څرنګوالي قيد: د فعل څرنګوالى او حالت ورځني ښكاره كيږي. دغه د څه ډول، څه قسم، څنګه سوالونو ته ځواب وايي او ددغه قيد مثالونه ډير دي خو مونږ يې يو څو د بېلګې په توګه رااخلو:

1- درخانۍ ناڅا په له خوبه راويښه شوه.

2- دوي په خوښه كار كوي. 3- له ډيره غمه په زوره خندا كوي. 4- له بېړې سمدستي وتښتيد

5- زه خوشحال كمزوري نه يم چې به ډاركړم. په ښكاره ناري وهم چې خوله يې راكړه.

چې يې تللم په خندا خندا ديدارته اوس يې درومه په ژړا ژړا مزار ته.

6- وروغوندې پرده پورته كيږي او يو څوك نا اشنا غوندې سرې راننوځي.

7- مونږ له تا سونه د زړه له كومې مننه كوو. 8- توريكۍ له خپلې خوابنې سره په زوره زوره لګيا ده.

9- د سيند اوبه په كرار كرار د ځمكې تل ته لارپيدا كوي.

2- د درجې، اندازې (شمير -كميت) قيد:

د فعل اندازه او درجه ښيي: ملالۍ لږه لږه ناروغه ده. مور او زوى پنځه كاله سره ونه ليدل.

ما څو ځلې درته ويلي دي چې دا ښه كار نه دى يا (څوواري). په دې ورځو كې بيخي نه معلوميږي يا له سره نه ښكاري. دوي سره مونږ لږ لږ پيژنو: هيواد پرمونږ بې شانه ګران دى.

3- د سبب او علت له پاره:

دغه قيدونه هم د كلام له بېلا بېلو توكونو څخه جوړيږي تاسي په څه وجه مروریاست یا په څه سبب مرور یاست.

ستاله لاسه هيڅ ارام نه كيږي. ماشومانو ته له بېړې خوب نه ورځي.

دغه خلك په غلانيول شوي دي. دوي يې په كنځلو له كوره ويستل.

4- د مقصد قيد :

ددې قيد څخه د خبر (فعل) هدف او مقصد څرګندېږي. د خداي د پاره راشه! ستاليدوته راغلم. ماشوم خبرو کولو ته ځان جوړ وي. دا دومره هلې ځلې ستا د پاره کوم. دلته د خدای له پاره، ستاليدو ته، خبرو کولوته، ستا د پاره، د قيد دنده ترسره کوي.

5- د شك قيد : خدای زده کله به راشي، ګوندې سبا ته راشي. لکه چې نه راځي.

6- د تاکيد قيد : ته به نن خامخا زمونږ مجلس ته راځې. دی نن په خپله راغی. دغه کالي

ښه پاك ووينځه. دغه سړي سوچ ليونی دی.

7- د مهال (زمان) نحوي قيود :

د فعل د پېښېدو شېبه او وخت څرګندوي، د زماني قيد هم د لفظ په لحاظ ساده او يا ترکيبي وي.

1- د ساده زماني قيدونو مثالونه: مونږ اوس پر خپل ځان باور لرو. دی پرون له ننګرهاره راغی. نن هر څوك خپل دوست او دښمن پېژني.

په ترکيبی توګه:

په ژمي کې د کابل هوا سړه وي. له پخوا څخه دا متل دی. تر اوسه پورې لاپريکړه نه ده شوې. يا تر ماښامه ناست وو. له هغه وخت نه تردې وخته پورې ډېر کلونه تېر شول. په يوه ورځ په يوه ساعت کې له يوې شفاخانې نه دوه جنازې راووتلې.

قيد د عطف په توګه:

مونږ شپه او ورځ کارکوو. خبره به نن او سباکې معلومه شي.

8- د ځای قيد :

د فعل د پېښېدو ځاي (چېرته، د کوم ځاي نه، کوم ځای ته، په کوم ځای کې) حالتونه ښيي. دا هم په ساده او ترکيبی توګه راځي.

د پيل ځای او تم ځای په توګه:

1-هورې خلك ناست دي. دورې څه کيږي. بهر ساړه دي. چېرته دې ښه هلته دې شپه. په دغو مثالونو کې هورې، دورې، بهر، چېرته، هلته د ځای قيود دي.

2- په ترکيبي توګه: شاته څوك ناست دي. مخ ته مه راځه. له نژدې څخه خبرې کوي.

له کوم ځایه راغلې،   تردې ځایه پورې راغلې.   په الماری کې څه شیان ځای شوي دي. په کاله کې کښینه،   د سیند په غاړه یوه کښتۍ وه.
د ځاې قید د یوتکراري ترکیب په توګه وي:
1- ځاي پر ځاي ودریږه 2- کلي په کلي وګرځید 3- حجره په حجره ګرځي 4- کوراکور خلك خبر شول.
په پښتو ژبه کې دوه یا زیات څو قیدونه د یوه فعل تابع وي او یوې تاکلې پوښتنې ته ځواب ورکوي. دغه وروسته جملې د مثال په توګه ګورو:
په ډېره مینه په ډیره تلو سه په بیړه بیړه یې ځانونه د ګلونو د خندیدو تماشې ته راورسول. دنوي کال استازی او د نوي ژوند قاصد په ډیر د رزاو د روز داکسوس په غاړو، د ښایسته بلخ په ورشو، د هري رود په څنډو، دغور په غوړې مرغې، د بست په لرغونو مېنو، د هلمند په ګل کښونو، د کندهار او کابل په دربارونو، د غزني په یادګارونو، د پکتیا په زړو درو، د بولان او ګومل په تاریخي درو، د کسي غره او سپین غره په څوکو، د خیبر او تاترې په ترو، د سوات او بنیر په سردرو، د باګرام په باغ وبڼ، د چترال او ګلګیت په ځنګلونو، د بستي او ګواد رېه بندرونو کښته پورته وګرځید.
په دغو جملو کې ګورو چې (په ډیر درزاو د روز) د حالتي قید ښودنه ده او نور ټول د ځاي قیدونه په پرله پسې توګه راغلي دي. د هر قید ترمنځ یو عطفي رابطه او اضافی رابطه لیدل کیږي.
په پښتو ژبه کې دغه ډول متعد د قیدونه زیات مروج دي.

څلورم څپرکی

په پښتو ژبه کې د جملو خصوصيات (ځانګړتياوې)

د ژبې د ژبنيو فورمونو د مطالعې او څېړنې څخه داسې نتيجه ترلاسه کيږي چې د پښتو ژبې په جملو کې د جوړښت او ساختمان دوه ډوله ځانګړتياوې شته دي. دغه دواړه برخې (عروضي او نحوي) په لاندې کرښوکې بيانول غواړو:

لومړی: د عروضي جنبې په باب څرګندونه:

څرګنده ده چې داکثرو ژبو په تېره بيا د پښتو ژبې عروضي، نحوي (سينتکسي) څېړنې تر اوسه پوره بشپړې شوي نه دي ځکه چې تر اوسه پورې څېړونکو ژبه درسم الخط (ليک) په اساس تجزيه کړې ده، خو په ډېرو ژبو کې او په پښتو ژبه کې ځينې داسې نحوي عناصر شته چې يوازې په تلفظ (وينا) کې څرګنديږي او په ليک کې نه څرګنديږي. له دغو څخه د خج، اهنګ، الحاق پيوستون، بيلتون (وصل او فصل) عناصر دي. د پښتو ژبې دغه عروضي برخې ته کومه خاصه پاملرنه نه ده شوې، په تېره بيا د اهنګ (Intonation)، فصل او وصل موضوع پوره روښانه څېړل شوې نه ده، مګر د خج و په باب په ډېرو ګرامرونو کې او يا په ځانګړې توګه خواره واره مواد ليدل کيږي، چې د هغو له ډلو څخه د پوهاند رښتين (د پښتو ګرامر 1327 لومړی ټوک (12 مخ) کې د خج د اهميت او په کلمو کې د معنا وو د بدلون په باب څرګندونې شوې دي. د دروند او سپک خج يادونه يې هم کړې ده. همدارنګه محمد ګل مومند (د پښتو ژبې لياره) کې د خج يادونه يې هم کړې ده. د زياتو معلوماتو له پاره د همدغه اثر (18-19-20) مخونه وګورئ.

د پښتو ژبې خج په باره کې څېړنه د ډاکتر بيچکا ليکنه ده، چې ترجمه يې د 1348 کال (د کابل مجلې په (2-3) ګڼو کې چاپ شوې او د پښتو ژبې د ځينو فعلونو او ترکيبي کلمو د خج په باب ځيني ژبپوهنيز پرنسيپونه وړاندې کړې دي. د زيات تفصيل له پاره همدغه مقاله وګورئ.

(خج يا فشار د پښتو په ژبه کې) د 1346کال د کابل مجلې (10) ګڼه چاپ د معلوماتو د پاره وګورئ. همدارنګه دلته به د موضوع په اړه د لغوي خج او فونيم (غږيزواحد) په باب څه ضروري څرګندونې وړاندې کول بې ځايه نه ګڼو.

د پښتو ژبې ټول غږونه د غږيز سيستم له پلوه پر دوو برخو بېليږي:

یوې ته کتاریز او بلې ته سر کتاریز) وایي. کابل مجله 1355 کال لومړۍ ګڼه) او یا د کتاریز او غیر کتاریز په نومو سره ء یادیږي.

پـه انګلیسـي، روسـي ژبـو کـې کتـاریز غـږونو (فونیمونـو) تـه Segmental او غیـر کتـاریز غږونوته (Suprasegmental Phonemes) وایي.

پوهاند رحیم الهام د دري ژبې د فونیمونو د تشریح په برخه کې د سیګمینټ Segment د پاره (مقطعهء) او سوپر سېګمېټ (Supra Segment) د پاره عروضي اصطلاحات وضع کړي دي. کوم اصطلاحات چې بناغلي پوهاند الهام د ژبپوهنې د پورتنیو اصطلاحاتو له پاره ټاکلي دي. پوره سمون کولی شي. څنګه چې د پښتو ژبې ددغو اصطلاحګانو دپاره کومه خاصه نومونه نه لرونو د استعمال په ځینو برخو کې به د نومړو اصطلاحګانو څخه ګټه اخیستل هم بې ځایه نه وي.

که مونږ د پښتو ژبې (کتاریز یا غیر کتاریز) اصطلاحات د انګلیسي ژبې سره پرتله کړونو کټ مټ یو ډول مفاهیم افاده کوي. د پښتو ژبې ټول واولونه او کانسو نینټونه کتاریز غږیز واحدونه (فونیمونه) دي. مګر غیـر کتـاریز (سوپر سیګمېنټ) غږونه (خـج، اهنګ، لحـن) غـږیز واحدونه (فونیمونه) نه دي. د خج د څېړنې په برخه کې د ژبپوهانو ترمنځ د نظرونو بېلوالی لیدل کیږي. ځینې پوهان خج فونیم ګڼي مګر ځیني بیا خج د فونیمونو په ډله کې نه ګڼي. د دواړو نظریو خاوندان ځیني ذهنی اوعیني دلایل هم وړاندې کوي. مونږ دلته دغه قضاوت چې خج (فونیم) ونه ګڼل شي د یو څه منطقی استدلال سره سم دواقعیت څخه لرې نه ګڼو د موضوع د تائید لپاره ګورو:

فونیم هغه غږیز واحد (ټوک) دی چې:

1- نه تجزیه کیدونکی دی 2- خپلواک دی (د مقایسې له پلوه) 3- سیګمېنټ کتـاریز (مقطعی) دی 4- بالقوه د معنا سره ارتباط لري. 5- د معنا لرونکو ژبنیو واحدونو (مورفیم، کلمه) غږیزه بڼه جوړ وي. 6- معنا لرونکي ژبني واحدونه سره بېلوي 7- ټول غړي (الوفونونه) یې په صـــوتي لحاظ غږیز

یادونه: سیګمینت تعریف او سوپر سیګمینټ په باپ معلومات په لاندې ماخذونو کې شته.

1- **ل. ل. بولانین، د ننۍ روسي ژبې فونولوژي (فنیتیکا) د عالي ښوونځي خپرونه، مسکو** 1970.

2- **د اوسنۍ روسي ژبې ګرامر، د علومو خپرونه، مسکو،** 1970 **د.د ن. یو شویدووه په مسئولیت اولار ښوونه.**

مشابهت سره لري مګر خج دغه ټولې ځانګړتیاوې نه لري، یوازې د کلمو د معنا په تغیر او د غږیزې بڼې په توپیر کې رول لري. د خج او فونیم یوبل څرګند او جوت توپیر دادی چې خج د غږیز

سیستم یو مستقل عنصر دی، بلکې د فونیمونو(غږیز واحدونو) یو داسې ځرګندونه یا خصوصیت دی چې د یوې کلمې په څېړه یز جوړښت کې جوتیږي.

مثلا: د پښتو ژبې دغه کلمه (ښکاري) د فونیم له نظره (ښ، ك، ا، ر، ي) برخی دي. ولې په همدې فونیم کې یو ټاکلي غږ یا خج چې پر لومړۍ یادوهمې څپې کې ښکاره کیږي. لکه د (ښکاري) په کلمه کې چې خج پر لومړۍ څپې وي نو فعل حال دی یعنی دلیدل کیږي یا ځرګندیږي په معنا، ولې په دوهمې څپې باندې خج د نوم حیثیت لري یعنی ښکارکوونکی. همداسی نور مثالونه.

اوس چې د سیګمینټ او سوپر سیګمنت په معنا پوه شو نو راګرځو خپلې موضوع ته. دلته داهم باید وویل شي چې د عروضي جنبو په باب د خج، اهنګ او الحاق په نومونو سره ځرګندونې او څېړنې شته دی. پنزل په پښتو ژبه کې درې ډوله خجونه (دروند، منځنی متوسط) او سپك) او درې ډوله اهنګونه (جګ، منځنی، کښتنی) ښودلي دي او همدرانګه وایي چې ښایي درې ډوله الحاق (خلاص Open) جزیې (فاصلوي Hyphen) او پوره (التصاقی Close و مومو او ورپسې د خج او فونیمي تغییر، دافګسونو خج، د خج تغییرات سره د مثالونو ښودلي دي. وروسته تردې د جملو د خج او اهنګ په باپ د ترکیبونو د الحاق په برخه کې توضیحات ورکړي دي او د عروضي جنبې اولیك دود په باب څه خبرې هم شته دي، چې مونږ یې د موضوع د اوږدوالي له کبله ورنه تیریږو. همدارنګه ډاکتر زیار د خبري جملو د پاره ولیدونکی او سوالي جملو لپاره جګیدونکی اهنګ په ګوته کوي مګر خج یې بیا په دریو ډولو په دودیز ډول ښېل کړی دی، چې د جملوي، لغوي هجایي په نومو سره یې نومولی. خو دلته څه غورهم په کار دی. ځکه دا خبره باید له یاده ونه باسو چې په جمله کې پر کلمو باندې د خج دریځ د جملو د اهنګ ټاکونکی هم وي.

خج معمولا په کلمو کې او د کلمو په ساختمانونو کې برخه لري د ژبې د صرفي ساختمان سره هم اړیکي ټینګوي او په جملو کې د جملوي فشار په توګه وظیفه ترسره کوي. په دې ترتیب سره اهنګ له اوږدو ساختمانو یعنی جملو، فقرو سره تړون او ارتباط لري او د هغوي د نحوي معنا ګانو ټاکونکی وي.

اهنګ په پښتو جملو کې ژبنی ارزښت لري. ځنګه چې لیدل کیږي تر اوسه پورې په پښتو یا فارسي ژبو کې د اهنګ ډولونه درې یا (څلور) معیارونه په ګوته شوي دي. لکه خورا جګ اهنګ، جګ اهنګ، منځنی اهنګ او ټیټ اهنګ. د موضوع دروښانتیاله پاره یوه داسې جمله راوړو:

1- تورپیکی راغله.　　2- تورپیکی راغله.

3- تورپیکی راغله!　　4- تورپیکی! راغله.

په پورتنيو جملو کې ترتيب او تشکيلوونکي اجزاوې کټ مټ سره يودي پرته له څلورمې جملې څخه، ولې د اهنګونو له مخې معنوي بېلوالی يې پيژندل کيږي.

د نحوي تجزيې له مخې زمونږ پورتني مثالونه يعنی هره يوه جمله چې (معنوي توپير سره لري) درې تشکيلوونکي برخې لريز دوې برخې يې په ليك کې ځرګندې دي لکه:

توريپيکی راغله. دغه جمله په اسمي او فعلي برخو سره بېليږي چې او له برخه د جملې فاعل (مسند اليه) او دوهمه برخه يې فعل (مسند) دی. دريمه برخه يې په ليك کې نه انځوريږي په دې حساب بېل بېل اهنګونه په دغو جملو کې د څلورو جملو معنا ټاکي يعنی د اهنګ توپير د جملې د معنوي نوعيت سبب ګرځي.

په دې توګه غواړو د پښتو ژبې د جملو عروضي ځانګړنې په جلا توګه په ګوته کړو.

اول: د پښتو ژبې دجملو عروضی خصوصيات:

د يوې جملې د ساختمان او جوړښت په څېړ نه او مطالعه کې دغه لاندې عروضي نښې نښانې سره بيلول غواړو:

الف: اهنګ: په ژبه کې اهنګ دا وازد ټيټېدو او لوړيدو يو ډول زيروبم دی. په پښتو ژبه کې د نورو ډيرو ژبو په څېر داهنګ مفهوم خاص ارزښت لري ځکه هره ژبه د جملې او نورو غونډونو يو خاص اهنګ لري. د اهنګ بدلون او توپير د جملې د معنا د بدلون سبب ګرځي. که څه هم د جملې جوړښت، فورم (شکل) به بدلون نه وي مونږلی خو همدغه اهنګ دی چې په دغه ډول جملو کې خبري او نا خبري جملې سره بيلوي.

د اهنګ د بدلون له مخې جملې د معنا له مخې په خبري، سواليه، تعجبي، ندايي باندې ويشل کيږي[1].

که چېرې جملې د ليك د نښو له مخې بيلې کړای شي نو دا به يوه نيمګړې هڅه وي. د جملې د ډولونو ويش د معنا له مخې د عروضي خصوصياتو له مخې کيږي. خوله بده مرغه په پښتو ژبه کې دغه عروضي برخه پوره او علمي نه ده څېړل شوې که کومې ويشنې شوې دي هغه هم اټکلي خبره ده مګر دغه کار به هغه وخت بشپړ او باوري وي چې لابراتواري ازموينه د جملو د عروضي ځانګړنې (اهنګ، فشار) په برخه کې ترسره شي. که د پښتو ژبې جملې (بشپړې او نابشپړې)

---

[1] **ولوانوه. ل. زما يانکوايا. س. الف د خارجی محصلينو د پاره د ژبپوهنې درسي کتاب، د مسکو پوهنتون چاپخانه،** 1973، (41-36) **مخونه.**

داهنګ له مخي وڅېړلې شي نو د جملې ډېر ډولونه به هم څرګند شي خو دلته مونږ څه نا څه په دوديز ډول خبري، سوالي، تعجبي، ندايي او امري جملی د څپلواهنګو نو په مرسته بيلوو. مونږ دغه مطلب د پوهاند الهام له روش جديد در تحقيق د ستور زبان دري) څخه راوړی دی.
1- خبري اهنګ: اوار پيل کيږي او بيالږ کښته (پروت) پای ته رسيږي. البته وليدونکی نرم اهنګ دی او په يو منځني لحن سره ويل کيږي.
نوټ: ددې لپاره چې د نورو جملو ترمنځ ببلوالی موښودلی وي نو د خبري جملې د اهنګ د پاره Intonation=I نښه راوړو ويا IC=1 فورم ورته ټاکو. په دې مانا:
I د Intonation لنډيز او (C) د Construction لنډيز په توګه:
مثال يې : عمومي بڼه، خبري جمله: IC –1



پسرلی د خپلو خوږو وږمو سره راورسيد. د ګلانو سرونه وږمو ورو ورو او په خيال سره ښورول.
2- د پوښتنې اهنګ: په هغه صورت کې چې په جمله کې د پوښتنې کلمې ولرونو ددغه ډول جملې اهنګ لوړبيا ټيټ وي په دې توګه يې پيژنو:
IC- 2



مثال:
چېرته تاسی روان ياست؟ څوک ستاسی پوښتني ته راغلی و؟
بل په هغو جملو کې چې استفهاميه کلمه نه وي نو په دغه ډول جملو کې اهنګ ټيټ پيل کيږي او بيا نيغ پروت لوړ پای ته رسيږي. لکه: تاسی دلته هره ورځ راځی؟ تاسی له مونږ سره خبري کوئ؟



همدارنګه په داسې جملو کې چې د سوال او ځواب په توګه وي هم يو بل ډول اهنګ چې IC –4 په توګه راغلی دی. اهنګ په پای کې لوړيږي.



مثال:

مېله خلاصه شوه مونږ کورونو ته ولاړ واوتاسې؟

يادونه: هغه استفهاميه جملې چې ځواب يې هويانه وي اهنګ يې جيګېدونکی وي او د نـورو استفهاميه جملو اهنګ په هغه برخه کې لوړيږي چې مطلوبه ځواب غوښتل شوی وي.

3- د تعجبي جملې اهنګ: هم ټيټ پيل کيږي او بيا پورته مخ په ځوړ پای ته رسيږي مګر کله داسې هم پېښيږي چې لوړ پيل پريوتی پای ته رسېږي چې دا بيا د جملې د مطلب په ټکي پورې اړه لري.

1- څه کارونه يې ونه کړل! 2- داهم شوه خبره! 3- ته هم لادومره شوې!! 4- دې ته لاګوره!

ب: په پښتو ژبه کې خج:

هره ژبه د خج ځانګړی سيستم لري او په هرې ژبې کې د خج دريځ پـه کلمـه (لغـت) او جملـه کې يو له بله توپير لري. خج په بېلا بېلو ژبو کې بېلا بېلې ځانګړتياوې لري. د ژبپوهانو په نظر په نړۍ کې داسې ژبې هم شته چې خج يا لغوي خج نه لري مګر داسې نورې ژبې دي چې خج لرونکې وي دغه خج لرونکي عناصر د ځانګړو خصوصيتونو او موقعيتونو له مخې سره تـوپير هـم لـري. د نـړۍ په ځينو ژبو کې لغوي خج يو معين او ټاکلی ځای لري خو په ځينو نـورو ژبـو کـې بيـا د موقعيت او ځای له مخې متحرك (خوځند) دی.

په پښتو ژبه کې هره کلمه (مورفيم) ځانته ټاکلی خج لري خو دا هم بايد زياتـه کـړو چې د ټولـو کلمو د خج موقعيت يو ډول نه دی په ځينو کلمو کې پر لومړۍ څپې لکه (وسپنه، ګټه) په ځينو کې

پرمنځنۍ څپې (لوړوالی، مغلواله، پښتنواله) او بیا کله د ځینو کلیمو پرورستنۍ څپې لکه (ګټه، تللی وو) خج راځي بیا ځیني کلمې هم شته چې د هغو خج تغییر نه کوي لکه:

ختګر، ختګره، (ښځه، ښځې، ښځو).

په وینا کې خج لرونکې څپه د بې خجه څپې څخه په دې لاندنیو خصوصیاتو سره جلا کیږي.

1- فشار 2- د اهنګ جګوالی 3- اوږدوالی. د خجنې څپې دغه ځانګړتیاوې په بیلو ژبو کې سره توپیر لري.

دلته زمونږ مقصد د پښتو ژبې خجن عناصر دي، په دې توګه دغه خجن عناصر (څپې) په عمومي توګه دوې څرګندې ځانګړتیاوې لري.

1- خجنه څپه نسبت بې خجه څپې ته په زیات فشار سره ویل کیږي. 2- خجنه څپه نسبت بې خجه څپې ته اوږده ویل کیږي. ددې علت دادی چې په پښتو ژبه کې هغه واول چې خج لرونکې څپې کې راغلی وي نسبت هغه واول ته چې په بې خجه څپې کې وي اوږدویل کیږي.

په همدې اساس په پښتو ژبه کې دنیا میکې خج موجود دی چې پر نورو عواملو سربېره د اهنګ او د غږ د اوږدوالي سره مستقیم ارتباط لري. په دې توګه خج په پښتو ژبـــه کې دوه څرګند خصوصیتونه لري یعنی پرکومې څپې چې خج راغلی وي هغه نظر بې خجه څپې ته اوږد او هم یې فشار زیات وي. څنګه چې د خج دریځ د پښتو ژبې په کلمو کې متحرک (خوځند) دی نو د پښتو ژبې په لغوي او ګرامري جوړښت کې ډېر ارزښت لري، یعنی خج په جمله کې د خپل اهمیت له مخې هم څو ډوله دی (منطقی، لغوي او د جملې خج) دغه د خج موقعیت د کلمې په معنا او مقصد باندې هم ډېره اغیزه کوي او د خج د موقعیت په اساس کلمې (الفاظ) (اسمي- فعلي) او نورو سره بېلېږي. ددې له پاره دغه لاندې مثالونه راوړو:

1- (جاله) (خج پرلومړۍ څپې) ځاله، اشیانه.

یادونه: په داسـ حالتونو کـ چـ هلته خج بدلون مومی معمولا د ـرامري صیغو د جوړ ـت د بشپړونکو او مرستیالو وسیلو په حیث کارور ـنی اخیستل کیږي لکه: پلار، پلرونه او کله کله د دوو ـرامري صیغو بـ ـلتون یوازینۍ ـلاره داوي چـ د خج په واسطه یو له بله وپیژندل شي لکه (کـ ـینه) خج پر لومړۍ یادوهمـ ـپـ باندې ولـ ـیني او ـتونکي مورفیمونه هـ کله بـ خجه نه وي لکه د جمع لاحقـ (ان، ونه) او فعلي لاحقـ (وو).

2- (جاله) (خج پر دوهمې (وروستۍ څپې) داوبو جاله.

3- (بوره)، (خج په لومړۍ څپې) زوی مړې

4- (بوره) (خج پر وروستۍ څپې) (خوږه) (قند).

ښکاري- (خج پرلومړۍ څپې) فعل = ليدل کيږي. څرګنديږي، معلوميږي.
ښکاري، (خج په وروستۍ څپې) نوم = ښکار کوونکی. (فاعلی صفت)
تېره – (پر لومړۍ څپې) ماضي (تيره زمانه).
تېره (پر وروستۍ څپې) د پڅ ضد = تېز
جوړه – (پر لومړۍ څپې) سوله، روغه
جوړه- (په وروستۍ څپې) جفت، جامې، دناوې جوړه.
2- د خج د موقعيت په اساس دځينو کلمو ګرامري معناګانې ټاکل کيږي.
ننوتل- (خج پر وروستۍ څپه) (استمراری) جمع عدد ماضی فعل
ننوتل – (خج پر لومړۍ څپې) (مطلق جمع عدد ماضی فعل).
ننوت: (خج پر وروستۍ څپې) استمراري ماضي مفرد دريم شخص):
ننوت: (خج پر لومړۍ څپې) مطلقه ماضي مفرد دريم شخص.

که څه هم فشار په کلمو او د کلمو په ساختمانونو کې راځي يعنی يوه کلمه ممکن څو هجاوې ولري مګر ټول سيلابونه يو ډول نه ويل کيږي په دې معنا چې ددغو سيلابونو له ډلې څخه يو سيلاب نظر نوروته دروند ويل کيږي. دغه برخه د خج لرونکي هجا په نامه نومول کيږي. يعنی په دغه هيجا باندې فشار راوړل کيږي خو د کلمې نورې هجاوې کمزورې. او لنډې ويل کيږي.
همدارنګه خج په جملو کې هم اغيزه ښندي يعنی که دجملې پريوه توکي باندې زيات فشار راشي هماغه توکی خجن کيږي او نور توکونه به يې بې خجه او يا کمزوري خجونه ولري.

دغه خجن توکي د نورو توکونو څخه زيات د مطلب ټکي بيانوي. د مثال په توګه.
زه کورته ځم. يا ماليك وليکه.

په دې جملو کې که چېرې خج په (زه) – (ما) ضميرونو باندې چې د جملې فاعل هم دی راشي نو دلته مونږ سمدلاسه پوهيږو چې جمله د څوك او چا استفهامي ضميرونو په مرسته سواليه کيږي او يا برعکس که جمله د څوك او چاپه مرسته سواليه شي نومونږ پوهيږو چې په ځواب کې جملوي فشار د جملو د نورو برخو څخه (1) – په (زه) (2) – پر (ما) باندې زيات دی.

مګر که چېرې جمله د چېرې، چېرته يا څه او يا داسې نورو ژبنيو فورمونو په واسطه سواليه شي. نو پوهيږو چې په ځواب کې جملوي فشار پر (کور) (ليك) باندې راځي او يا که فشار په خبري جملو (زه کورته ځم) يا ماليك وليکه) کې د (کور) او (ليك) باندې زيات وي نوسواليه جمله د

(چيري- څه) او داسي نورو فورمونو په ذريعه سواليه کيږي. ولي که فشار پر (ځم) او (وليکه) فعلونو باندې زيات وي نو په ځواب کې هم فشار په دغه برخه باندې راځي. يا دا بل مثال: پسرلی راغی.

که فشار پر (پسرلي) راشي دويونکي مقصد د پسرلي څخه دی او که پر (راغی) باندي وي بيانو د پسرلي د راتګ مفهوم زيات ارزښت لري او پسرلي ته دويمه درجه ارزښت ورکول کيږي. همدغه راز په سواليه، تعجبي، امري جملو کې دغه قاعده د تطبيق وړ ده.

ج: بيلتون او پيوستون (فصل او وصل):

بيلتون يا وقفه په ترکيب (غونډ) او جمله کې د لفظي او نحوي ډلو (کلمو، ترکيبونو) د بېلولو له پاره راځي او همدارنګه د بېلتون (وقفي) له مخي د جملو په پاي کې يوه جمله له بلي نه جلا کيږي.

پيوستون يا اتصال: په ترکيبونو او جملو کې د مربوطه اجزاو ترمنځ الحاق او پيوستون ګڼل کيږي. په دې معنا سره چي دلته مقصد د کلمو، عبارتونو او جملو په برخه کې دوينا اصلي اوسمه بڼه ده په کومو کلمو، ترکيبونو يا جملو کې د بيلتون يا پيوستون ضرورت ليدل کيږي. دلته که د دووتوکونو (کلمو، غونډونو، جملو) پاي او پيل سره يو ځاي جوخت وويل شي يوه معنا او که بيل او جلا يعنی په يو څه ځنډ سره وويل شي، نو مطلب بدليږي، دلته بايد دا په نظر کې ونيول شي چي مطلب او مقصد په نوموړي، جملي او يا ترکيب کې څه شی دی او يا خو په ځينو ځايونو کې ددغو عناصرو معنا ګډوډه کيږي يا خو پوره او سم مطلب په لاس نه راځي. ددې مطلب د روښانولو له پاره د پښتو ژبې يو څو مثالونه راوړو. په دې لاندنيو جملو کې بېلتون او پيوستون په ښه توګه روښانه کيږي.

1- بريالی حيران، ناست دی.

2- نورګل زړور، ورغی.

3- سورګل ستومان، راغی.

4- نور محمد غمجن، لاړ.

په دغو جملو کې که چېرې حيران، زړور، ستومان، غمجن د جملې د مسند اليه له متعلقاتو څخه وي نوپاتې برخه يې (ناست دي، ورغی، راغی، لاړ) د جملو (مسند) فعلونه دي.

همدارنګه يو بل مثال:

فريـــاد فريـــادي لاړ لـــه دنيـــا نـــه ارمـــاني
د مـــرګ قاصـــد تـــه ګـــوره راځـــي ناګهانـــه

د لومړي بيت مطلب د مخکنيو جملو په ترتيب سره پيوستون او بيلتون په توګه لولو لکه:

فرياد فريادي، فرياد، فريادي مګر په دوهم بيت کې د مرګ قاصد تـه ګوره راځي ناګهانه، پـه اصل کې داسې لوستل کيږي. د مرګ قاصد ته يعنې وقفه (مکث) وروسته لـه (تـه) څخه، مګر کـه (ته) ارتباطي توری د قاصد د کلمې سره پيوست ونه ويل شي او څه پـه ځنډ سره وويـل شـي نـو بيـا پورتنی مطلب له لاسه ورکوي. (ته) بيا د دويم شخص ضمير پـه توګه مفهوم ورکوي چې د مطلب تېکی نه دی لکه د مرګ قاصد   ته ګوره راځي ناګهانه.

بله نمونه: دازمانه، حيانه کوي.

بيلتون: دا زما- نه حيانه کوي (نفی، له ما څخه) مطلب دی، پيوستون: دا زمانه) حيانه کـوي. دلته (زمانه مقصد وخت او نوم دی).

په لاندې مثال کې دوه مشترك تکراري الفاظ وينو:

1- سورګل، حيران حيران کتل.

بيلتون په لومړي سرکې (سورګل) څخه وروسته يو څه ځنډ خامخا راځي چې حيـران حيـران کتـل د فعل قيد په تکراري توګه ښيي او د فعل له پاره پيوستون ګڼل کيږي. د فاعل سره د پيوسـتون لـه پاره سورګل حيران، حيران کتل.

چې دلته سورګل حيران نه وروسته څه وقفه راشي نو لومړی حيران د نـوم (فاعـل) مربوطـه برخـه جوړوي او دوهم حيران د فعل سره اړيکي لري. خو که چېرې د فاعل سره جوخت ونه ويل شي نو بيا به داسې معنا ښندي.

1- بريالی، حيران ناست دی 2- نورګل- زړور راغی 3- سورګل، ستومان راغی 4- نورمحمد، غمجن لاړ.

په دې ترتيب حيران، زړور، ستومان- غمجن د فعل د مربوطاتو څخه دی يعنې د جملې دفعل سره يې فعلي ترکيبونه جوړ کړي او قيدي معناګانې ښندي يعنې دغه صفتونه د قيد په توګه وظيفه ترسره کوي. يادغه لاندې ترکيبونه په جمله کې ګورو.

د زړه سـوي اهونـه يـې لـه خولې نـه پورتـه کيـږي. پـه دغـه جملـه کـې دوه ځايـه د فصـل او وصـل مثالونه وينو:

اول: دجملې مبتدا (د زړه سوي اهونه) که د زړه سوي نه وروسته لږ څه مکث وکړای شي او وريسي (اهونه) وويل شي نو دغه د اضافي ترکيب په توګه د لسوزي (زړه سوي) په مفهوم د يوه مجرد نوم معنا او مفهوم رسوي چې په دغه ترکيب کې (زړه سوی) مضاف اليه او اهونه مضاف ګڼل کيږي. خو که چيرې دا ډول ويل شي: د زړه، سوي اهونه نو دلته بيا (زړه) مضاف اليه او سوي اهونه (توصيفی ترکيب) مضاف دی چې په منطقي لحاظ د زړه، سوي اهونه سم بريښي.

دويم ددغه جملې د خبر برخه هم ګورو.

1- له خولې نه، پورته کيږي او که بيا دغه فعلي برخه (مسند) داسي ولولو: (له خولې، نه پورته کيږي) دلته بيا منفی فعل څرګنديږي چې البته مطلب د نفي صورت نه دی.

دويم: په پښتو ژبه کې دجملې نحوي خصوصيتونه (ځانګړتياوي):

څنګه چې ښکاره ده هر ډول کلمې او مورفيمونه په جلا او پرته له ارتباطه پوره او بشپړه معنا نه ورکوي نو په دې توګه هر ترکيب ته (غونډ- جمله) پرته له نحوي ځانګړنې (خصوصياتو) څخه جمله نه شوو يلای مګر هغه الفاظ او مورفيمونه او (غونډونه) چې يو بل سره نحوي رابطه ولري جمله، ترکيب، غونډ ورته ويلی شو.

دلته مونږ په جملو کې د کلمو، مورفيمو، (اسمي، فعلي) غونډونو ترمنځ نحوي رابطه په لاندې توګه بيانوو:

الف: مطابقت (سمون):

د مطابقت معنا هغه ده چې په ترکيبونو کې (1) د کلمو ترمنځ او په جمله کې د جملې د اجزاو يا غونډونو (اسمي- فعلي) ترمنځ ګرامري مطابقت موجود وي دغه مطابقت او سمون د جملې د فاعل او فعل يا مبتدا او خبر ترمنځ د عدد، جنس او شخص له مخې په نظر کې نيول کيږي.

د عدد له پلوه مطابقت:

هغه وي چې دجملې ارکان (اجزا) د عدد (مفرد، جمع) له مخې سره سمون ولري. که چيرې د جملې د مبتدا فاعل برخه (مفرد) يووي يا (جمع) ډير کسان وي نو د خبر (فعل) برخه هم ورسره د مفرد يا جمع په شکل راوړل کيږي.

د جنس له پلوه سمون او مطابقت:

که فاعل ښځینه جنس وي فعل ورسره په ښځینه ډول کارول کیږي او که فاعل نارینه جنس وي نو د جملې فعل ورسره د نارینه په ډول راوړل کیږي.

د شخص له مخې مطآبقت او سمون:

هغه دی چې په جمله کې (فاعل، مسند الیه، مبتدا) هر یو شخص (لومړی- دویم – دریم) راغلی وي نو (فعل، مسند ، خبر) ورسره سم وکارول شي.

په پښتو ژبه کې د مسند الیه او مسند سمون:

په پښتو ژبه کې د مسند الیه او مسند رابطه اوسمون د فعل په ډول او ګروپ پورې اړه لري.
د نحوي وضعیت له مخې دپښتو ټول فعلونه په دوو اساسي ډلو ویشل کیږي (لازمي او متعدي)
یو: د ټولو لازمي او متعدي فعلونو په حالیه (ناتېره) ګروپ کې د فعل او فاعل ترمنځ مطابقت وي.
دوه:د متعدي (معلوم او مجهول) افعالو په ماضیه (تېره) ګروپ کې د فعل او مفعول ترمنځ مطابقت لیدل کیږي.
د موضوع د روښانولو لپاره دغه لاندې مثالونه راوړو:
الف: په لازمي فعلونو کې د فعل او فاعل سمون په لاندې توګه دی:
لازمي فعل په تېره زمانه کې:
1- زه پرون له پوهنتون څخه کورته راغلم.
2- مونږ پرون له پوهنتون څخه کورته راغلو.
3- ته پرون له پوهنتون څخه کورته راغلې.
4- تاسې پرون له پوهنتون څخه کورته راغلئ.
5- دی پرون له پوهنتون څخه کور ته راغی.
6- دوي پرون له پوهنتون څخه کورته راغلل.
7- دا پرون له پوهنتون څخه کورته راغله.
8- دوی پرون له پوهنتون څخه کورته راغلې.
په دغو مثالونو کې ګورو چې فعل (لازمي) د جملې له فاعل سره په تېره زمانه کې د عدد او شخص له مخې سمون لري.

2- لازمي فعل مطابقت په اوسنۍ (ناتيره) زمانه کې د فاعل سره:

1- زه ستاليدو له پاره راځم	مونږ ستاليدو له پاره راځو.
2- ته زما ليدو له پاره راځې	تاسي زما ليدو له پاره راځئ.
3- دی، دا زما ليدو له پاره راځي	دوي زماليدو له پاره راځي.

په دغو جملو کې د فعل سمون د فاعل سره د شخص او عدد له مخې جوت دی ولې د درېيم شخص مطابقت د فعل سره د جنس، عدد له مخې نه ښکاري ځکه يو ډول تصريف شوی دی.

ب: د متعدي (معلوم) فعل مطابقت:

1- اوسنۍ زمانه:

مفرد	جمع
1- زه مقاله ليکم	مونږ مقاله ليکو
2- ته مقاله ليکې	تاسی مقاله ليکئ.
3- دی مقاله ليکي	دوي مقاله ليکي.
4- دا مقاله ليکي	دوی مقاله ليکي.

2- د متعدي (معلوم) فعل مطابقت په تېره زمانه کې:

مفرد	جمع
ملالۍ زه ليدم	پلوشې مونږ ليدلو
ملالۍ ته ليدې	وريښمينې تاسی ليدلئ.
زرمينې دی ليده	ګل پاڼې دوې ليدل
زرمينې دا ليدله	ګل پاڼې دوې ليدلې[1].

بله بېلګه:

(که چا خپل ځان وپېژاند، خپل تاريخ، خپل قوم، خپل هيـواد يې وپيژانـد خپلـه خاوره او خپله ختـه يې وپيژند له. . . او که نه دغه يې ونه پيژندل نو ...

په لوړ مثال کې خپل ځان، خپل تاريخ، خپل قوم او خپل هيواد هر يو د مفعول په توګه دي چې د جنس او عدد له مخې مفرد، مذکر ګڼل کيږي نو فعل يې هم د مفعول سره په هماغه توګه (وپيژاند)

---

[1] دجنس، عدد، شخص دريواړوله مخی سمون لري.

سمون لري. او بیا (خپله خاوره) (خپله ختې) د مفعول په توګه ښځینه مفرد جنس دی او فعل یې ښځینه جنس مفرد په توګه ورسره سمون کوي.

همدارنګه (ونه پېژندل) د جمع په توګه د مخکنیو برخو له پاره د جمع په صورت کې د ډیرو مفعولونو سره سمون او مطابقت ښودلی دی.

ج: د متعدي مجهول فعل سمون:

په هغو جملو کې چې دغه ډول متعدي فعلونه وي د فعل (مسند) سمون او مطابقت په دواړو زمانو کې (ناتېره = تېره) د مفعول سره ضروري دی ځکه چې دلته د فاعل د نیشتوالي په وجه مفعول د نائب فاعل (مسند الیه) وظیفه ترسره کوي او په دې وجه ورته د فاعل نائیب هم وایي.

1- متعدي مجهول فعل په اوسنۍ زمانه کې:

اوس نوی پلان جوړیږي. اوس نوي پلانونه جوړیږي.

تاسې ځورول کیږئ. دوي او مونږ ځورول کیږو.

په دغو مثالونو کې (نوی پلان) (نوي پلانونه) (تاسې) دوي او مونږ مفعول (نایب) او فعل ورسره سمون لري.

2- متعدي مجهول فعل په تېره زمانه کې:

کور وساتل شو	کورونه وساتل شول
ونه پرې شوه	مضمونونه ولیکل شول
ځمکه خړو به شوه	ونې پرې شوې
مضمون ولیکل شو	ځمکې خړوبې شوې

په لوړو مثالونو کې کور، مضمون (نرینه، مفرد) کورونه، مضمونونه (نرینه، جمع) دي. فعلونه یې هم د مفرد او جمع صورتونه ښیي. همدارنګه (ونه، ځمکه) ښځینه مفرد نومونه دي او (ونې، ځمکې) د ښځینه جمع نومونه دي نو فعلونه ورسره د جنس، عدد له مخې په هم هغه ډول سمون لري.

یادونه:

(په پښتو ژبه کې کله په يوه مجهوله فعلي جمله کې د مفعول سره فاعل هم په ارتباطي حالت کې راوړل کيږي مګر په فعل باندې دغه فاعل مخامخ اثر نه اچوي نوځکه يوازې د مفعول تابع ګڼل کيږي[1] لکه:

دا ليك د ملالۍ له خوا ليکل شوی دی. دا ليکونه د ملالۍ له خوا ليکل شوي دي.

په پښتو ژبه کې د مجهول فعل يو بل شکل هم شته چې دلته هم مفعول د نائب فاعل حيثيت لري لکه: دا هلك وهل غواړي، هلته تلل غواړي. ده وهل غوښتل.

دا جملې د معنا له مخې د مجهول فعل رنګ لري ولې چې وهونکی او تلونکی په کې نه ښکاري خو په لفظي توګه د معلوم فعل رنګ لري، خو بيا هم فعل په کې د مفعول تابع دی چې ورسره سمون لري.

د پښتو ژبې په هغه ډله فعلونو کې چې کومکي فعل او يو اسمي جز (نوم، صفت، قيد ، عدد) سره يو ځاي اسمي، فعلي ترکيبونه يې جوړ کړي وي چې مطلق فعلي مونږ جوړ وي په دغه ډله فعلونو کې د فعل لومړنۍ برخه (عنصر) صفت، قيد) هم د جنس عدد له مخې د فاعل يا مفعول سره سمون ښيي.

بيلګې: د ناتيرې زماني بشپړ شکل:

زه جوړ شم. ته جوړ شې. زه جوړه شم. ته جوړه شې. ځلمی روغ دی. ځلمی ناروغ دی. ملالۍ روغه ده. ملالۍ ناروغه ده.

د تيرې زماني بشپړ صورت:

زه جوړ شوم. ته جوړ شوې. دا جوړه شوه. دوی جوړې شوې.

مېلمه لوند شو. کوربه ړوند شو. مېلمنه لمده شوه.

ميلمانه لانده شول. کوربانه ړانده شول. مېلمنې لمدې شوې.

همدارنګه فعلی صفات د نژدې او لرې تېرې زماني په ترکيبونو کې هم داسمي صورتونو په څېر د جنس، عدد څرګندونه کوي لکه:

زه تللی يم (مذکر) زه تللې يم (مونث) يا سړکال ښه باران وريدلی دی، سږکال ډېره واوره وريدلې ده.

---

[1] پوهاند صديق الله ر تين، پ تو رامر 2 وك 1370 لمريز كال.

همدارنګه کله هم د مفعول او د مرکب فعل داسمي (عنصر) په منځ کې مطابقت لیدل کیږي ولی په اصل کې د جملې دفعل او فاعل ترمنځ مطابقت له ورایه ښکاري.

زه به میوه پاکه کړم. زه به ناك پاك کړم:

دلته (زه) فاعل دی او د کړم سره مطابقت لري ولې (میوه) مفعول یې د فعل داسمي برخې (پاك) سره د جنس او عدد له مخې مطابقت ښکاره کوي.

ځکه میوه مونث نوم دی (پاکه) مونث شکل لري او(ناك) مذکر (پاك) هم مذکر دی یا دا بل مثال د جمع په صورت کې ګورو:

مونږ به میوې پاکې کړو. زه به منې سپینې کړم.

بله مهمه خبره د مسند الیه او مسند د سمون په برخه کې داده:

په هغو جملو کې چې قیدونه د فعل د متعلقاتو په توګه راغلی وي نو دغه قیود بیا د فعل نه دمخه راځي او دفعل ځرنګوالی او کیفیت ښیي. قیود د مطابقت او سمون له مخې[1]د فعل سره فعلی غونډ جوړوي، نوځکه که چېرې یو فعل د فاعل تابع وي نو دغه مربوطه قیود هم د فاعل تابع یاورسره سمون کوي. یا په بله وینا قیدونه هم د فاعل د پاره تصریف کیږي لکه:

1- د لازمی فعل سره د قیدونو استعمال او سمون: که چېرې قید د لازمي فعل سره راشي نو بیا قید او لازمي فعل د فاعل سره سمون کوي (په دواړو زمانوکې).

مفرد – زمرك د خپلواکۍ په جشن کې توند توند ګرځي (ګرځید).

ملالۍ د خپلې خور په واده کې توده توده ګرځي (ګرځیده)

جمع، پوه خلك د ژوند په ډګر کې پاخه پاخه قدمونه ږدي.

دغه مېلمنې تودې تودې ګرځي. (ګرځیدې).

د متعدي فعل سره د قیدونو استعمال او مطابقت:

د متعدي فعل سره په اوسنۍ زمانه کې فعل د فاعل سره سمون ښیي او قید د مفعول سره مطابقت ځرګندوي:

زه دغه لیکوال پوخ پېژنم	زه دغه لیکوالان پاخه پیژنم
زه دغه لیکواله پخه پېژنم	زه دغه لیکوالې پخې پیژنم

---

[1] مطلقی أل ترکیبونه د جنس، عدد، شخص له مخ د فاعل او فعل سره سمون ي.

په دغو مثالونو کې فعل د فاعل سره سمون کوي مګر په دغو جملو کې پوخ د پېژندل سره يو مرکب فعل (متمم) جوړ کړی دی نو دغه د فعل اسمي جز، د مفعول سره مطابقت کړی او دفعل دويم توکی يې (پېژندل) د فاعل سره سمون ښودلی دی.

2- متعدي فعل او قيد په تيره زمانه کې:

بېلګې: ما دغه سړی پوخ وپېژند.	(مفرد مذکر).
مادغه ښځه پخه وپېژنده	(مفرد مونث).
مادغه هلکان پاخه وپېژندل	(جمع مذکر).
مادغه تور سرې پخې وپېژندلې	(جمع مونث).

په دغو مثالونو کې فعل او قيد په ګډه (دواړه) د مفعول سره سمون لري.

3- په متعدي مجهولو فعلونو کې هم داسې راوړو:

1- ناتيره زمانه.

ډوډۍ تو ده توده خوړ له کيږي. ډوډۍ تودې تودې خوړلې کيږي.

2- تيره زمانه:

ډوډۍ ګانې سړې سړې خوړل کيدې. ډوډۍ ګانې سړې سړې وخوړل شوې.

دلته ګورو چې په دواړو زمانو کې فاعل نشته ډوډۍ ګانې مفعول (د فاعل نايب) دي نو فعل او قيود يو ځای ورسره سمون ښيي.

د موضوع د ښه روښانولو د پاره په لاندې توګه د جملو داجزاو ترمنځ لومړی د عدد بيا د جنس او وريسې د شخص له مخې برابرتيا او سمون سره د مثالونو راوړو:

1- په جمله کې دعدد له پلوه د مبتدا (مسند اليه، فاعل) او خبر (مسند ، فعل) مطابقت:

ليدل کيږي چې په پښتو ژبه کې فعل د فاعل يا د مفعول دپاره تصريفيږي نو په دغه صورت کې فعل د فاعل يا مفعول سره تابعيت او مطابقت ځرګندوي په دې معنا که د جملې (فاعل، مفعول مفرد يا جمع وي نو فعل يا خبر هم د مفرد يا جمع په توګه راځي لکه:

1- چې (فاعل (مسند اليه) مفرد وي.

1- دی دهاتي په غوږ کې ويده دی. 2- هغه په کومو چرتونو کې ډوب دی.

3- ځلمی د برکلي د خان نوکر دی. 4- ځلمی ګرم نه دی بلکې ملالې ګرمه ده.

2- فاعل (مسند اليه) د جمع عددوي:

په پښتو ادب کې د قلندر په نامه ځلورتنه شاعران تېر شوي دي.

- دوي لا خبرنه دي.   دوي د چا نوکران دي.

- د پښتونخوا په سیمه کې درې لوی ادبي مرکزونه منځ ته راغلي دي.

- دوي لاخبرې نه وې چې کډې رواني شوې.

د مفعول مثالونه:

ملالۍ کتاب ولوست (مفعول مفرد ، مذکر).

اڅك کتابچه ورکه کړه. (مفعول مفرد ، مونث) ملالۍ کتابونه ولټول، ولوستل (مفعول جمع مذکر).

ده کتابونه ولیکل، (مفعول جمع مذکر)، ده کتابچې راوړلې (مفعول جمع مونث) دې مقالې ولیکلې (مفعول جمع مونث).

2- د جنس مطابقت اوسمون:

د جنس سمون په دې معنا ، که د جملې فاعل (مسند الیه) د جنس له پلوه ښځینه جنس وي نو بیا (فعل، مسند) مونث راوړل کیږي. او که نارینه جنس وي نو بیا فعل مذکر کارول کیږي.

د مبتداء او خبر سمون په اسمیه او فعلیه جملو کې لازمي دی.

1- پسرلی راغی 2- ژمی ولاړ (تېر شو) 3- پخوانۍ دوره تېره شوه. 4- ملالۍ په دې لاره تېره شوه.

5- پخواني کارونه تېر شول 6- پخوانۍ زمانې تېرې شوې.

په اسمیه جمله کې:

1- دغه کتاب زما د ورور دی. 2- دغه کتابچه زما د ورور ده.

په اسمیه جملو کې چې د مبتداء او خبر برخې دواړه اسمونه وي نوکومکي فعل د نژدې والي په وجه د خبر تابع کیږي.

مسند الیه + مسند + اسناد

1- ظلم زور دی. (مذکر) 2- پوهنه رڼا ده (مونث).

ظلم ګناه ده.   علم رڼا ده.   علم روښنايي ده.   ځورونه ظلم دی.

د فعل سمون د مفعول سره د جنس له مخې:

الف: مفعول (جمع مذکر) + فعل (جمع مذکر).

ګلان وکرل شول. دیوالونه اخیږ شول.

ب: مفعول (جمع مونث) + فعل (جمع مونث).
مقالې خپرې شوې. ورځپاڼې وویشل شوې.
مفعول د (نایب فاعل) مسند الیه دنده تر سره کوي.
په ماضي متعدي معلوم فعل کې د فعل مطابقت له مفعول سره د جنس له مخې:
الف: فاعل + مفعول (مذکر) + فعل (مذکر).
مالیار باغونه اوبه کړل. مالیار ګلان وکرل.
ب: فاعل + مفعول (مونث) + فعل (مونث).
بڼوال د ګلانو غونچې جوړې کړې.
بڼوال د ګلانو سرې سپینې ګیډۍ راوړلې.
یادونه: په هغو جملو کې چې دمبتدا برخه دوه نومونه د عطف په توګه راغلي وي هم د جمع حکم لري د جنس له مخې د جمع مذکر یا جمع مونث حکم لري او فعل ورسره په هماغه توګه سمون کوي.
الف: 1- دا چاینکونه او پیالې ماتې شوې دي. 2- پیالې او چاینکونه مات شول. 3- د ښار کوڅې او سړکونه خراب دي. 4- سړکونه او کوڅې خرابې دي. 5- هلکان او نجونې رابللې شوې دي. 6- نجونې او هلکان رابلل شوي دي.

3- د مسند الیه او مسند سمون د شخص له مخې:

په جمله کې د شخص سمون دا معنا لري چې فعل (مسند) باید د هر یوه وګړي (شخص) (1-2-3) سره سم راوړل شي.
که په جمله کې د جملې فاعل یا مفعول (1-2-3) وګړي وي فعل ورسره سم د (1-2-3).
وګړي له پاره سمون کوي.
الف: فاعل (مسند الیه) لومړي شخص + فعلی ریشه + د لومړي شخص مقید مورفیم (فعلي خاتمه) لکه: چې ارمان کوم تاله به ژړاته نه درځم.
په دغه مثال کې (کوم)، (درځم) د لومړي شخص ټاکنه او مطابقت دی. بله بیلګه:
1- زه یوې فیصلې ته راغلی وم. 2- زه خو دلته پاتې کیدای نه شم.
ب: فاعل (مسند الیه) دوهم شخص + فعلی ریشه + د دویم شخص مقید مورفیم (فعلی خاتمه ته راغلې. چیرې تللې (تللی) وې؟ تاسې راغلئ.

ج: فاعل دریم شخص + فعلی ریشه + د دریم شخص مقید مورفیم (فعلی خاتمه):
دی راغی. دوي راغلل. دا راغله. دوي راغللې.

په پښتو ژبه کې د مطابقت ځینې نورې قاعدې:

اول: په پښتو ژبه کې په لاندې مواردو کې فعل (خبر) د جمع په توګه راوړل کیږي.
1- په هغو جملو کې چې مسند الیه (فاعل) او (مفعول) د جمع عدد په توګه (نومونه، ضمیرونه، صفتونه) راغلی وي نو فعل د فاعل یا مفعول سره د مطابقت په ډول جمع راځي لکه:
فاعل (جمع عدد) + فعل (جمع عدد):
هلکان راغلل. نجونې راغللې. مبتدا (جمع- عدد مذکر) + خبر (جمع عدد مذکر).
کاغذونه پر میز پاندې پراته دي.
مبتدا (جمع عدد مونث) + خبر (جمع عدد مونث) کتابچې پرمیز باندې پرتې دي.
دویم: په هغو جملو کې چې فاعل یا مفعول (مسند ،الیه، فاعل) د عطف په صورت کې دوه نومونه (یو مذکر بل مونث) وي صفات د کومکي فعل له ترکیب سره د قاعدې له مخې د نژدې فاعل یا نژدې مفعول تابع کیږي.
1- د مفرد په ډول نومونه د جملې مسند الیه، مسند .
د خوشحال خان په افکارو کې ملي جذبه او جوش پروت دی.
یا داسې هم راځي: ملي جذبه او جوش د خوشحال خان په افکارو کې پروت دی یا په دې توګه:
د حمید بابا په اشعارو کې مجاز او استعاره پرته ده.
همدارنګه په دې لاندې مثال کې هم ګورو چې د جملې مسند الیه (مفعول) هم دوه نومونه (مذکر- مونث) دي چې د جملې وروستۍ برخه (فعل) د نژدې مفعول سره سمون لري.
دوي قانون او لاره برابره کړه. دوي لاره او قانون برابر کړ.
دریم: که چیرې مسند الیه (فاعل) یا (مفعول) د جمع نومونه وي[1] د عطف په صورت کې راشي نو بیا مسند (فعل) نژدې فاعل یا مفعول تابع دی. هلکان او نجونې راغلې.
نجونې او هلکان راغلل.

---

[1] یو جمع مذکر او بل جمع مونث وي.

ځلورم: که چېرې داسې جملې وي چې فاعل (مسند الیه) یا نایب فاعل (مفعول) دوه هم جنسه نومونه د عطف په توګه راغلي وي نو فعل هم د جمع په توګه ورسره راځي لکه:

1- نارینه نومونه

نوم + او + نوم + فعل

اڅك او بریالی لاړل.

زمرك او اڅك راروان دي.

ښځینه نومونه

نوم + او + نوم + فعل

ملالۍ او تورپیکۍ لاړلې

پاڼه او لښته راروانې دي.

ملالۍ او غازي ادې د جګړې قهرمانې ښځې دي.

2- د مفعول په توګه:

فاعل + مفعول + فعل

مذکر

مونږ اڅك او زمرك ولیدل.

فاعل + مفعول + فعل

مونث

مونږ ملالۍ او تورپیکۍ ولیدلې

پنځم: که د جملې فاعل یا مفعول دوه نومونه یو نارینه او بل ښځینه جنس د عطف په صورت کې راغلي وي فعل د جمع مذکر په توګه راځي لکه:

فاعل

نارینه + او + ښځینه

اڅك او ملالۍ له ښوونځي څخه راغلل.

فاعل

ښځینه نوم + او + نارینه نوم

ګلالۍ او ځلمی له ښوونځي څخه راغلل.

د مفعول مثال:

فاعل + مفعول + فعل

(مذکر) نارینه او (مونث) ښځینه

ماناك او منه وخوړل

مامنه‌ او ناك و خوړل.

شپږم: خبر د جمع په توګه هغه وخت راځي چي د جملې فاعل او یا مفعول د جنس نومونه وي.

1- اوبه پاکې دي. او به رواني شوې

2- غنم پاك دي. په کرونده کې غنم شنه شوي دي.

په ژرنده کې غنم اوړه شوي دي.

د مفعول په توګه: د جنس نومونو سره فعل دجمع (عدد ، جنس) په توګه راځي لکه:

1- هغه اوبه تویې کړلې. 2- بزګر غنم وکرل. 3- په ژرنده کې غنم یې اوړه کړل.

4- په تیم کې یې تیل راوړل. 5- دوی ډیر غوړي وخوړل.

اووم: که په جمله کې مسند الیه (فاعل) د عدد (شمیر) نومونه وي پرته له یوه څخه د نورو تولو اعدادو سره فعل د جمع په توګه راځي لکه: دوه لاړل. دري کښیناستل. دوې پاڅیدلې. څلور- پنځه – شل پاڅیدل.

ب: عدد د مفعول په توګه: دوه مې ولیدل. دري مې ولیدلې، څلوریې وپرځول. لس یې وتښتول.

اتم: هغه وخت فعل د جمع په توګه راځي چې مصدر (فعلی نوم) د مفعول په توګه د متعدي ماضی فعل سره راغلی وي لکه:

دوي د خان سره ښه کرل ریبل کړي دي. مونږ ورسره لیدل کتل وکړل.

ده وهل کړیدي. هغه ښکنځل کول.

نهم : الف) که د (څو، څوك) استفهامي ضمیر د فاعل په توګه راشي خبر یا فعل د جمع په توګه راځي. څوك د مفرد د پاره هم راځي.

څورا غلل؟ یا څو تنه راغلل؟

څو ناست دي؟ څو تنه ناست دي؟

څو کښیناستل؟ څو ناست دي؟ څوك ناست دی؟ څوك ناست دي؟

ب: که د څه، څو، څومره استفهامي ضمیرونه په جمله کې د مفعول په بڼه راغلي وي (خبر، فعل) جمع راځي.

1- څه دې لیدلي دي 2- تا څه ولیدل

3- ما څه وکتل.

4- څه مې ولیکل یا ونه لیکل.
5- نه یې څه وکتل او نه یې څه ولیدل.
2- څو دې راوړل؟ څو یې وخوړل؟
3- څومره دې وژړل؟ څومره دې وکړل؟ ماڅومره زیات وخوړل؟
مرکب ترکیبی بڼه هم دغه قاعده ساتي لکه: یو څه مې ولیکل. څه ناڅه مې کړي دي، څه نا څه یې لیکلي دي.
لسم: په هغو جملو کې چې (مسند الیه، فاعل، مبتدا) د (1-2-3) شخصي ضمیرونه وي په دې معنا چې د یوه نه زیات ضمیرونه د عطف په صورت کې راغلي وي نو (مسند ، فعل، خبر) د جمع په توګه راځي.
الف- 1- لومړی شخص + او + دوهم شخص + فعل.
زه او ته به سره خبرې کوو.
2- لومړی شخص + او+ درېیم شخص + فعل
زه او (دی یا دا) به سره ګورو.
3- لومړی شخص دوهم شخص + دریم شخص + فعل
زه ته او (دی، دا) به سبا ننګرهار ته ځو.
ب: دویم شخص + او + درېیم شخص + فعل
1- ته او (دی، دا) به کورونه جوړ کړئ.
2- ته او هغه به راشئ.
3- (دا، دی او ته به ولاړ شئ.
په لوړ و مثالونو کې لیدل کیږي چې فعلونه د جمعې په بڼه راغلي دي او دفعل د جمع صیغه د الف (1-2-3) مثالونو کې د لومړي شخص په توګه جمع شوی او دب (1-2-3) مثالونو کې د دوهم شخص د جمع په توګه راغلي دي[1].

ب: ترتیب: د پښتو ژبې په جملو کې د کلمو د ترتیب مسایل:

---

(1) په پ تو ژبه ک 2-3 شخص د لومړي شخص تابع وي.
- شخص د دوهم تابع کیإي همدغه قاعده په مفعولي صورت ک هم را ي.

په اصل کې ترتيب د جملو، غونډونو د اجزاو ترمنځ يو ټاکلی نظم او ترتيب څخه عبارت دی چې دغه اجزاوې بيا په خپلو منځو کې نحوي رابطې ولري.

د يوې جملې د اجزاو د ترتيب څخه مطلب په يوې جملې کې د جملې درغنده توکونو (مورفيمونو او کلمو) د پرله پسې راوړ لو ترتيب او د هغو اجزاو نظم او ترتيب چې د جملې برخې (اجزا) جوړ وي په نظر کې نيول کيږي. په لاندې توګه يې شرح کوو:

اول – په پښتو ژبه کې دجملې د اساسي غړو ترتيب:

لومړی د جملې اساسي غړي (فاعل، مسند اليه) او (فعل، مسند) په پام کې نيسو. ددې له پاره چې د جملې د غړو د دريځ په باب څرګندونه وشي ښايي دا زياته کړو، چې په پښتو ژبه کې يوه جمله لږ تر لږه د دوو اساسي برخو څخه لاس ته راځي:

الف: مبتدا (مسند اليه فاعل) چې په جمله کې ديوه اسمي توکي يا اسمي غونډ يا غونډونو څخه جوړ شوي وي.

ب: خبر (مسند-فعل) چې په جمله کې د يوه فعل يا فعلي غونډ يا غونډونو څخه جوړ شوي وي.

په دغه اسمي او فعلي ترکيبونو (مسند اليه او مسند) کې د بېلا بېلو توکونو داجزاو ترتيب او ټاکنه او د هغوي رابطه په هرې ژبې کې جلا او بېلې ځانګړنې لري.

په پښتو ژبه کې يوه ډېره لنډه جمله يوازې د يوه فعلي صورت څخه هم لاس ته راځي. ځکه فعلي صورت د فعل، مونډ د اصل او فعلي خاتمې سره د مسند او مسند اليه وظيفه تر سره کوي.

لکه: ګور + م ولاړ + و تللی + وم پاخيدلي + يم.

(که څه هم دلته د مستقيم فاعل (نوم) ذکر په جمله کې نشته).

همدارنګه د فعل سره داسمي ډلو ترکيبونه اداتي ډلو ترکيبونه هر يو ځان ته يوه جمله جوړ وي.

پاڅيږه!	دلته راشه!	خبره واروه!
لاس اوږ دوم.	ورتلل شو.	هلته راغلی.

په لوړ ومثالونو کې د شخص، عدد ډله د فعلي پسينو (خاتمو) په واسطه څرګنديږي. لومړي درې مثالونه ددويم شخص مفرد، څلورم مثال د لومړی شخص مفرد، پنځم مثال د لومړي شخص جمع، شپږمه بيلګه ددويم شخص جمع جملې ښيي. په دې توګه د څرګند نوم فاعل ذکر نشته يا حذف دی.

دويم: په نحوي جوړښت کې د جملو داجزاو (کليمو) ترتيب:

ځرګنده ده،چې په پښتو ژبه کې یوه جمله د دوو اساسي (اصلي) برخو (مسند الیه او مسند) څخه جوړه یا ترکیب شوې وي په هغو جملو کې چې لازمي فعل یا متعدي معلوم فعلونه راغلي وي نو د نومونو و جملو فاعل ځانته او یا د خپلو مربوطه توکونو سره د مسند الیه (مبتدا) په توګه راځي. او که دجملې فعل متعدي مجهول وي نو بیا مفعول ځانته یا د خپلو مربوطه توکونو (اجزا) سره د مسند الیه په توګه راځي.

لازمي فعلونو کې قیدونه، نومونه، عددونه او نور ادات ارتیکل د فعل سره د متعلقاتو (مربوطاتو) په توګه د جملې د مسند په حیث راځي. یوازې په متعدي معلوم کې ورسره مفعول (Object) هم د فعل د متعلقاتو بشپړونکي برخې په توګه وي. د موضوع دروښانولو له پاره د مسند الیه او مسند متعلقات هر یو جلا جلا په لاندې مثالونو کې تر څېړنې لاندې نیسو.

الف: د مسند الیه (فاعل) متعلقات (توابع):

په پیل یا مبتدا کې فاعل (نوم) د خپلو توابعو څخه وروسته راځي یعني فاعل (مسند الیه اصلی زړی تر ټولو مربوطه بر خو وروسته راځي تر فاعل (نوم) د مخه د فاعل نژدې ټاکوونکي لکه (صفت، عدد ، نوم، ادات) راځي او په پای کې (نوم) راوړل کیږي.

دمسند الیه توابع د صفت او بیان په توګه یا د تاکید په شکل او یا به د بدل او عطف په بڼه وي په مبتدا کې د اجزا و ترتیب داسي راځي:

لازمي فعل سره:

1- مبتدا (فاعل + خبر (فعل)

(یوازې د یوه نوم په توګه) هلك + راغی.

(د نوم مربوط برخه (صفت + نوم)- هوښیار هلك + راغی.

د نوم مربوطه برخې (قید + صفت + نوم) ډیر هوښیار هلك + راغی.

د نوم مربوطه برخې (تاکید + قید + صفت +نوم) (خورا ډېر هوښیار هلك + راغی.

(ټاکلی عدد + تاکید + قید + صفت + نوم) یو خورا ډېر هوښیار هلك + راغی.

معینه ټاکلی عدد + توصیفی ترکیب:

اشاره + عددي مرکب ترکیب، دغه یو خورا ډیر هوښیار هلك + راغی.

په دې ترتیب صفت تر موصوف د مخه عدد تر معدود د مخه او اشاره تر مشار الیه د مخه ذکر شوی دی او اړیکي ددغو ترکیبونو ترمنځ د مطابقت په اساس شته دی ځکه په پښتو ژبه کې صفت د موصوف او عدد د معدود سره د (عدد، جنس، حالت) له مخې مطابقت لري.

2- همدارنګه که مبتداء اضافي ترکیب وي نو د قاعدې سره سم مضاف الیه د مضاف څخه د مخه راځي او په همدې توګه د مضاف نورې مربوطه برخې هم د مضاف څخه مخکې راځي.

مبتداء (فاعل) + خبر (فعل)

د + مضاف الیه + مضاف + خبر (فعل)

د ځلمي ورور + پاڅید

د ځلمي کشرى ورور + راغی

د ځلمي تر ټولو کشرى ورور + بریالی شو

د ځلمي تر ټولو یو کشرى ورور + راغی

په دغه ترکیب کې د اضافت (د) تر ټولو برخو د مخه راځي.

ب: د مسند (فعل) متعلقات:

د فعل مربوطات (اسمونه، اشاره، استفهامي ضمیرونه، عددونه، قیدونه، ادات ارتیکل) او داسې نور وي.

په خبر کې فعل (اصلي- کومکي) د فعل د متعلقاتو څخه وروسته راځي. د فعل (اصلي، کومکي) څخه د مخه په متعدي معلومو فعلونو کې مفعول دمخه او د مفعول څخه د مخه بیا د مفعول مربوطات راځي. که چېرې په جمله کې قیود راغلي وي هغه هم زیاتره د مفعول څخه مخکې راځي.

که دوه قید ونه یویې د زماني او بل یې د ځای په خبر کې راغلی وي نو د زماني قید د ځای څخه یا بل کوم قید او مفعول څخه دمخه راځي. د ځای قید کله هم د مفعول څخه وروسته راتلای شي.

لاندینی بیلګې ګورو:

فاعل ________________________________ (فعل)

زه -- راغلم

زه -- پرون راغلم

دی --- پـرون لـه ننگرهـاره راغی

دی --- پرون له کندهاره کابل تـه راغی

اڅك پرون له خپل ورور سره له کندهار څخه کابل ته راغی.

اڅك له خپل ورور سره پرون له کندهار څخه کابل ته راغی.

بل مثال: متعدي فعل:

مسند اليه ________________________________ مسند (فعل)

فاعل	مفعول	فعل
زه	کتاب	لولم
زه	یوکتاب	لولم
زه	يو ډير ښه کتاب	لولم
زه	نن يو ډېر ښه کتاب	لولم
زه	نن په کتابتون کې يو ډير ښه کتاب	لولم
زه	نن په کتابتون کې د ملالۍ د خور هغه ښه کتاب	لولم

د خبر په برخه کې ګورو چې فعل تر ټولو مربوطه اجزاو وروسته راغلی چې فعلي ترکیب یې جوړ کړی دی نو په دې اساس ددغه ترکیب زړی هم همدغه فعل دی.

په پښتو ژبه کې د مسند اليه (فاعل) دریځ:

په وړاندې پاڼو کې مودا څرګنده کړه چې د قاعدې سره سم مسند الیه (فاعل)، د جملې په سرکې یا دجملې لومړۍ برخه جوړ وي نو دغه قاعده په ډيرو ځايونو کې پوره سمون لري.

څنګه چې د پښتو ژبې د نثر او نظم لمن ډېره پراخه ده او په ادبي او هنري برخو کې داسې ډېرې بېلګې موندلای شو، چې په هغو کې فاعل دجملې په سريا په منځ کې د قیدونو څخه وروسته یا خو کله د جملې په پای کې راغلي وي نو د موضوع د روښانو لوله پاره مثالونه راوړو:

الف : مسند الیه (فاعل) دجملې په سرکې:

1- قافلې په کابل کې ددمې کولو په نیت واړول.

2- پښتو مرکه جوړه شوه.

3- کاروان بېرته راوګرځيد په کندهار کې يې د ميرويس او احمد شاه په لوی انګړ کې د دمې ځاي وموند.

4- د سهر سيپدې و چاودې او قافلې خپله لارو موندله.

5- رهبر د مخه شو او ننګيالی کاروان ورپسې ګړندی روان شو.

6- د پوهنې رڼا وپرکېدله ورپسې د کابل پوهنتون د باغ وبڼ نه پښتو (ورږمه) خپره شوه.

په پورتنيو جملو کې قافلې، پښتو مرکه، کاروان، د سهر سپيدې، قافلې، رهبر، ننګيالی کاروان، د پوهنې رڼا، پښتو ورږمه د جملو مسند اليه، فاعل په توګه ښودلي شو او د جملو په لومړ يو (سر) برخو کې راغلي دي يوازې (د پښتو ورږمه) د نايب فاعل په توګه د جملې مسند اليه د قيودو څخه وروسته او د فعل څخه د مخه ځاى لري.

ب: مسند اليه (فاعل) دجملې په منځ کې:

په دغه صورت کې معمولاً د زيات اهميت له کبله د مفعول يا قيودونه وروسته راځي.

1- فاعل د مفعول نه وروسته: داسې غميدلي خلك مانه دي ليدلي. د سيلاب مخه چانيولي ده؟

2- د زماني د قيد څخه وروسته: همدغه وخت دوی خپله ژبه پښتو په خپله سيمه او ورشو کې لکه برينښنا وځلوله.

3- دمکان قيدنه وروسته: خو او شا د پښتو پېلوځي ولګيدل.

د زمان او مکان قيود يو په بل پسې د مسند اليه نه دمخه راغلي وي:

پنځه ويشت کاله پخوا هلته د پښتو مجله راووتله. په اشعارو کې دغه قاعده معموله ده لکه چې د خوشحال خان دغه لاندې شعر ګورو:

لنګر کوټ مغلو ساز کړ
زه په ننګ بيا د افغان شوم

په لومړي بيت کې لنګر کوټ مفعول (مغلو) فاعل (سازکړ) فعل.

ده ودې ته وي ليلا که له تابيل شم
د هجران په تيغ به زه په زړه غلبيل شم

ج: مسند اليه (فاعل) د جملې په پاي کې:

دغه طريقه هم د پښتو د شعري او ادبي نثري ژبې خاصه مميزه ده، چې د عادي محاورو او جملو سره توپير لري.

مثال:

د خوشحال قدر که اوس په هيچا نشته
پس له مرګه به يې ياد کا ډير عالم

په دويم نيم بيتی کې (ډير عالم) د فاعل په توګه د بيت په پای کې راغلی دی.

هرګز به توبه نه کړم د ښه مخ له ننداړو زه شيخان پيران دې واوري دايم وايم په نارو زه
(خوشحال)

(زه) د جملې فاعل په وروستۍ برخې کې راغلی دی.

په پښتو کې دمسند (فعل) دريځ:

الف- : هسې خو په حقيقت کې فعل (مسند) دجملې په پای کې راځي لکه:

1- پښتنو هر ډول مبارزې ته ملاتړلې وه.

2- کوم کام چې يو ځل د ازادۍ خوند بيامومي نو بيا هغه په خوښۍ د غلامۍ رسۍ پښتوته نه اچوي.

3- په سبا باندې ميرويس خان د کندهار ټول اولس راغونډ کړ.

ب: فعل (مسند) د جملې په منځ کې:

دجنون ځنځير مې پريوت وګريوان ته
چې په زړه مې ستا د زلفو سودار اغله

په اول بيت کې (پريوت) د جملې فعل دی.

ورك به نه شي له مشرقه تر مغربه
که د علم رهنما کاندي پيدا څوك
زړه زما ډك دی له ميني د وطن
خپل وطن ماته عزيز دی تر خپل تن

ج: مسند (فعل) راتګ دجملې په سرکې:

په شعري ژبه کې خو خامخا دغه ترتیب زیات لیدل کیږي مګر کله هم پرته له شعر څخه په ځینو مواردو کې فعل د مخه راځي چې مونږ به يې په بېله برخه کې راوړو:
په دې برخه کې اوس یو څو نور مثالونه راوړو.

راغلـــه لیـــونی لـــیلا پـــه نـــاز
ښکـــار کـــوي د زړونـــو لکـــه بـــاز

دلته (راغله) او (ښکار کوي) تر نورو برخو دمخه راغلی دی.
یا: یم اتل د زما نوزه   د تاریخ د کار ناموزه

دریم: په پښتو ژبه کې دجملې په جوړښت کې د غړو (اجزاو) د پرلـه پسې والی قاعدې:

الف: دلته باید ووایو چې دجملې اجزا د جملو په ډولونو پورې هم اړه لري. که جمله اسمي وي د کلمو ترتیب ډېر ساده او اسان دی او دجملې برخې، اول مسند الیه بیا مسند او دریم (ربط (کومکي) فعل راځي ولې که چېرې فعلي جملې وي په ساده او ازادو جملو کې لومړی فاعل بیا فعل یا 1- فاعل، 2- مفعول، 3- فعل راځی مګر په مقیدو جملو کې:
1- فاعل 2- زمانی 3- مکانی 4- نور قیدونه 5- فعل راځي.
دغه موضوع په لاندې مثال کې ګورو:

1- فاعل	فعل (لازمی، متعدي)
تږول	راغلل
2- فاعل	مفعول – فعل
بلبلان	نغمې وايي
3- فاعل	غیر صریح مفعول، صریح مفعول- فعل
بریالي	ماته یو قلم، راکړ.

4- فاعل + قید زمان + قید مکان + غیر صریع مفعول + صریح مفعول + فعل

بریالی	نن	دلته	ماته	کتابونه	راکړل

5- فاعل + قید زمان + د مکان قید + د حالت قید + مفعول + فعل

بریالی نن دلته ژر ژر کتابونه غونډوي

په دې توګه د فاعل او فعل ترمنځ د فعل متعلقات راوړل کیږي. لومړی د ظرف قیدونه بیانور قیدونه او مفعول راځي او په پای کې فعل راځي.

په هغو جملو کې چې د زماني او ځای قیدونه راغلي وي، د زماني قید تر مکاني قیدد مخه راوړل کیږي. لکه:

زه پرون په تلوار له کوره پوهنتون ته ولاړم.

فاعل، قید زمان، حالت، پیل ځای، تم ځای، فعل.

په دغه جمله کې د فعل مربوطات چې څلور توکي دي د اهمیت لـه مخې وړانـدي وروسته کیداي شي.

په متعدي فعلونو کې هم په دې توګه راځي:

ده پرون په بازار کې په تلوار دیوه دوکاندار څخه خپل زوي ته یو کتاب واخیست.

په مجهولو فعلونو کې د فاعل پر ځاي مفعول راوړل کیږي او نور مربوطات هم ورسره راځي مګر شمیر یې لږ دی.

ملالۍ پرون په کورکې ورټل شوه.

بله دا چې که د جملې مفعول شخص یعنی پوهمن وي نو هغه دفعل د نورو مربوطاتو څخه د مخه راوړل کیږي لکه:

ما خلمی له ځانه سره بازار ته بوت

زه توریالی له ځانه سره کور ته بیایم

ما توریالی د کار له پاره د ځان سره راوستی دی.

ما توریالی د بریالي سره یو ځای مکتب ته استولی دی.

په دې صورت کې علتي او معیتي قیدونه هم د مفعول څخه وروسته راغلي دي.

3- په پښتو ژبه کې دجملې اجزا د تاکيد او ياد زياتې توجه دراګرځولو له پاره وړاندې وروسته کيږي. د مثال په توګه که څه هم مفعول په عادي جملو کې د فعل سره جوخت راوړل کيږي ولې د زياتې توجه او اهميت له مخې د فاعل نه مخکې راځي.

لکه : د کندهار زوړ ښار احمد شاه بابا جوړ کړ.

يا دا بل مثال: د ګلانو سرونه وږمو ورو او په خيال سره ښورول. زما کتاب تا چاته ورکړ.

په دې جملو کې د کندهار زوړ ښار، د ګلانو سرونه، زما کتاب مفعول ګڼل کيږي او تر فاعل د مخه راغلي دي.

4- په پښتو ژبه کې که د جملې فاعل نا خپلواک ضميرونه وي د شخصي ضمير د غير اصلى حالت په ځاي راغلى وي نو مفعول ترېنه د مخه راځي. د پښو ترپامې تر غوږ شوه. دوي مې وليدل. او به دې راوړې. دی دې وليد.

5- همدرانګه په جمله کې دمفعول او فعل ترتيب هغه وخت راځي چې فاعل صرف د فعلي خاتمى (پسينى) په واسط ښکند شوي وي. لکه: سړى وينم. ډوډی وخوره. د تاکيد له پاره: څه وينئ؟

6- په هغو جملو کې چې مستقيم فاعل ذکر نه شي او مفعول ناخپلواك ضميروي فعل بيا د مفعول نه دمخه وي لکه وينم دې، ليکم يې، ګورم دې، جوړوم يې، پاځوم يې.

7- بله خبره خو داده چې د فعل مربوطات لکه زمانى، مکانى او نور قيدونه د اهميت له مخې د جملې په سرکې دفاعل نه د مخه هم راځي لکه پرون ته چېرې تللى وې. پرون زه په کور کې وم. په هيواد کې ځوك کار کوي. په هيواد کې خلك کار کوي. په فابريکه کې کارشته. ددغه ځاى په ښکلې دريځ کې يو اولس ودان و. په منډه کې ځوك لومړي شول. په منډه کې زمرك لومړى شو.

په امريه جملو کې هم د ظرف قيدونه اول راځي بيا نور قيدونه او په پاى کې مفعول او فعل راځي. سبا ته په بازار کې ماته يو ښه قلم واخله. سبا ته د سليم سره زمونږ ځاى ته راشه!

د پښتو ژبی د جملو په اجزا و کې لرې والی او نږدې والی
(Contiuguos) او Noncontiuguos

د پښتو ژبې د جملو ترتیب په عادي توګه لومړی مبتدا او وروسته د خبر برخه ده. هر کله چې مسند الیه د خپلو توابعو (متعلقاتو) سره او مسند (فعل) د خپلو مربوطه برخو متعلقاتو سره نږدې او پرله پسې راشي او نږدې نحوی رابطه یې هم سره جوړه کړې وي دغه د Contiuguos نږدې والی (مجاورت) په نامه یادیږي ولې که چېرې دغه نوموړې برخې د خپل ټاکلي موقعیت څخه لرې لرې او ددوي ترمنځ یوه فاصله راغلې وي چې بیا د هغو کلمو سره نږدې راشي چې ورسره ځانګړې نحوي ترکیب جوړ نه شي کړای دغه د ترکیب د اجزاو او د جملو د اجزاو دلرې والي موضوع Noncontiguos دی. مونږ په پښتو ژبه کې دغه ډول مثالونه په لاندې توګه ښودلای شو.

خو دا باید ووایو چې په هنري او شعري ژبه کې دا ډول مثالونه زیات موندلی شو.

مثال:

چې اثر یې په زړه لوبې د مستی کوي
زه ویلي شم هغه ته معتبر غږ

په دغه بیت کې دوهمه مسره ګورو چې دجملو د غړو تر منځ هغه لری والی وینو چې په معمولي (عامه ساده) جمله کې نه وینو. دا به داسې وي: زه هغه ته معتبر غږ ویلی شم. چې په واقعیت کې (ویلی شم) د خپل ځای څخه لومړی برخې ته لیرې د کړی دی او د خپل متمم څخه لرې واقع شوی دی او (زه) د غیر صریح مفعول څخه لری دی.

بل مثال:

راغلـــه لیونـــی لـــیلا پـــه نـــاز
ښکـــار کـــوي د زړونـــو لکـــه بـــاز

دلته ګورو چې د (ليونۍ ليلا) ترکيب سره نژدې معين ترکيب جوړ کړي ولی فعل ورڅخه د مخه راغلی خو د فعل متعلق قيد (په ناز) د خپل کاونډي (فعل) څخه لرې راغلی دی يعنی د بيت په سرکې (راغله) فعل او (په ناز) قيد دبيت په پای کې چې دغه فاصله ددوی ترمنځ لرې والی بيانوي البته په عادي جمله کې د فعل سره د قيد جوخت والی ضروري دی، چې په نثري ژبه کې به داسې وايو: ليونۍ ليلا په ناز راغله. او په دويمه مسره کې هم دُغه ترکيب (د زړونو ښکار کوي) سره لرې وينو په دې معنا چې ددغه ترکيب د مضاف اليه برخه له خپله ترکيبه فاصله (لرې والی) پيدا کړی او وروسته راغلی دي.

3- د بلبلو له نظره ګلوته ګوره

ليلی نه ده چاليدلې بې مجنونه

په دويمه مسره کې دغه موضوع څرګنديږي:

په اصل کې يو استثنايې ترکيب دی يعني بې مجنونه ليلی ددغه ترکيب لومړۍ برخه د ځای په تغيير سره د بيت په پای کې راغلی چې ددغه ترکيب د اجزاو ترمنځ لرې والی وينو. همدارنګه په مرکبو جملو کې هم مبتدا له خبر څخه په يوه لرې فاصله کې واقع کيږي په دې معنا چې دجملې داصلي برخو ترمنځ معترضه (تابع) جملې راغلې وي په دې نسبت د فاعل او فعل لرې والی وينو.

4- خوشحال ختټك پخوا تر دې چې په ګواليار کې بندي شي له اورنګ زيب سره په داسې ميړانه چې ساری نه درلود جنګ وکړ.

5- زه خوړلی منګرو زلفو ستايم. په دغه مثال کې د يوې خوا څخه (خوړلې) فعلي صفت د خپل کومکی فعل (يم) څخه لرې والي لري[1].

ج: د پښتو ژبې په جملو کې ځينو نحوي او سبکی بدلونونو (Inverse) تـه لنډه اشاره:

دجملې د توکونو وړاندې او وروسته کيدل: که چېرې په يوې جملې کې د توکونو (اجزاو) ترتيب وړاندې يا وروسـته شوي وي نـو د برخـو (توکـونـو) د ترتيب موضـوع بـه برسـېره د نحـوي رابطـې پـه

---

[1] يادونه: همدارن ه د جملی د نورو برخو له مخ د اي تغيير هم په ک راغلی چ بدلون (انورسي) هم ورته وايه شي.

درلودلو سره یوه بله ځانګړتیا هم څرګندولی شي، چې دموضوع په مشخصوالي، اهمیت، د یوه لیکوال یاد یوه شخص دوینا په خاص سبك پورې اړه لري.

په پښتو ژبه کې مونږ د جملو داسې مثالونه وینو چې په هغه کې فعل د خپل فاعل (مسند الیه) نه دمخه راغلی وي او یا دا چې د مسند الیه او مسند اجزا د خپل ځانګړې ترتیب له مخې وړاندې وروسته راغلی وي چې په ژبه کې دغې عملیې ته Inverse وایي.

دلته مونږ لومړی د مسند (فعل) وړاندې والی له مسند الیه څخه په ګوته کوو: وینو چې په عادي جملو کې مسند (فعل) وروسته د مسند الیه (فاعل) څخه راځي او معمولاً په پښتو ژبه کې فعل د جملې په پای کې راوړل کیږي مګر کله داسې هم کیږي چې برسېره پر شعري موضوع په ځینو موارد وکی فعل (مسند) دمخه راځی.

1- په هغه وخت کې چې مسند ډېر اهمیت ولري او توجه دورګرځولو له پاره مسند دمخه راځی[1].

واورئ خبرونه! هلی وتړئ ملاوې! وغړوئ سترګې! لرې شئ له مخې!

د قید سره هم داسې وي اوس واروئ خبرونه!

2- د تاکید له پاره: لرې کړه دا جاهلان د دفتر د مخی نه.

3- د تمسخر له پاره: کوه د ښار هوټلو نوکې مزې!

4- د خبر دارۍ په مقصد: وساته ځان! پام کوه وروره! ګوره اوردی!

5- د دعا اوښیرا په وخت کې لوی شې هلکه! میراث شې خو د غرضه!

6- په هغو فعلونو کې چې د نفې ساختمان ولري هم بدلونه د فعل په ترکیب کې وینو داسې څوك نه ووچې پرده یې بدنه ویلو او ددې د پاره یې ژړل نه. دلته ژړل نه، دنه ژړل له مخې بدلونه ښکارې. ګوری نه چې څه کوې. کاکا چپ شه څه وایه مه!

تاکید امر: زه مېلمه سړی یم ما په چاسپکوه مه!

7- همدارنګه په هغه مرکبو فعلونو کې چې دفعلې صفت او د شول کومکې فعل په مرسته جوړ وي د (نه) ادات سره په دې توګه بدلون (وړاندې وروسته) مومی.

---

[1] **پوهاند صدیق الله ر تین، پ تو رامر 2 وك کابل،** 1370 **لمریز کال**

سره ددې چې دی جوړ شوی وخونه شو گرځیدلای.

چې دغه ترکیب په دې توګه (ګرځیدلاې نه شو) هم راځي.

2- سره د څپلو نه شوګرځیدلی.

ددغې جملې په لومړۍ او دوهمه برخه کې انورسي (بدلونه) لیدلی شو. یعنی د څپلو سره په ځای (سره د څپلو) راغلی دی.

8- قیود ، مفعول او نور هم په جمله کې وړاندې وروسته کیږي لاندې مثالونه وګورئ.

1- لاس په نامه شو ورته 2- واړه واړه رومالونه دي ورسره.

چې دا حال دی نو بیا خلك ورته ځي څه دپاره.

په دغو مثالونو کې ورته، ورسره، څه د پاره تر فعل وروسته راغلي دي.

پنځم څپرکی

د جولې (شکل) او جوړښت له مخې د جملې ډولونه

په پښتو ژبه کې د جملو د بېلا بېلو شکلونو نحوي ساختمان:

په پښتو ژبه کې جمله د ساختمان اوجوړښت له مخې لومړی په دوو اساسي ډولونو ویشل کیږي:

1- یوستوې (ساده)　　　　2- غبرګه (مرکبه)

اول یوستوې (ساده) جمله:

کومه پېژندنه (تعریف) چې مود مخه د جملې په باب کړی دی یوستوې (ساده) جمله هم هماغه تعریف لري. په دې معنا چې ساده هغه جملې دي چې په هغې کې د یوه مفهوم څرګندونه شوې وي او د کومې بلې جملې سره اړیکی ونه لري یا دا چې له یو فعل او فاعل یا دوو غونډونو څخه جوړې شوې وي. د پښتو ژبې په ساده جملو کې د مبتدا او خبر برخې ازادې وي.

ساده جملې د مشکل له مخی په (لنډه) او اوږده) باندې بېلیږي. د مخکنیو مثالونو د څېړنې څخه داسې نتیجه تر لاسه کیږي، چې په پښتو ژبه کې یوستوې جملې په خپل نحوي چاپیریال کې په لنډو او اوږدو (ارته) ویشلې شوې دي.

الف: یوستوې (لنډه) جمله: چې د جملې اساسي برخې یې د یوه مستقل مورفیم (کلمې) او یا ساده غونډونو څخه رغیدلې وي لکه:

(فاعل + فعل) یا (اسمي ساده غونډ + فعلي ساده غونډ).

1- پسرلی راغی.　　2- ګلان وغوړېدل　　3- ژېړی لمر په غرغرو دی.

څو کلونه تېر شول.

ب: یوستوې اوږده (ارته) جمله! چې دجملې اساسي برخې هر یو (مسند الیه، مسند) د څو ساده لنډو یا اوږدو ترکیبونو (غونډونو) څخه وي لکه: دغه وخت احمد شاه بابا په دوا به کې د فوځ په تنظیم، ترتیب، روزنه او د خوراکي موادو په تیارولو بوخت و.

دلته دغه وروستۍ برخه د یوه اوږده ترکیب په توګه د جملې خبر سره رابطه او تعلق ښیي.

- د ستارنامه د خوشحال خان ختټك د نثر يو غوره او مشهور كتاب دی.

- د ژبو او ادبياتو د پوهنځي د دريم ټولګي محصلينو نن په اتو بجو د كابل پوهنتون په كتابتون كې ستره او درنه مشاعره وكړه.

په دغه دويم مثال كې د جملې د مبتدا او خبر دواړه برخې د ډيروتوكونو څخه رغيدلي او اوږده يوستوې جمله ګڼله كيږي، چې زيات مثالونه يې په ګوته كولی شو. اوس مو چې دساده جملو يادونه وكړه، بده به نه وي. چې د معنا له مخې د يو ستوو جملو ډولونو ته هم يوه لنډه اشاره غوندې وكړو:

د معنا له مخې د يو ستوو جملو ډولونه:

په پښتو ژبه كې د جملې معنوي ويش د عروضي خصوصياتو له مخې ښه پېژندلي كيږي. څنګه چې د مخه موهم يادونه وكړه، چې دغه عروضي برخه پوره نه ده څېړل شوې. مونږ دلته په لنډه توګه د عروضي او نحوي خصوصياتو په نظر كې نيولو سره داسې يادونه كوو:

په پښتو ژبه كې د ليكلي او شفاهي موادو په تائيد جملې په خبري (بياني)، انشايي (ناخبري) او داسې نورو باندې جلا شوي دي. د ځينو ماخذونو په اتبار د جملې ډولونه (خبري، سوالي، امري، تعجبی)[1] ښودلي دي ولی بيا ځينو (بياني، سوالي، امري، خطابي)[2] په ډول راوړي دي. همدرانګه پوهاند رښتين جملې په خبريه او انشايي سره جلا كړي دي چې په انشايي جملو كې بيا استفهامي، امريه، تمنا يي، ندايي، قسمي، تعجبی، شكي، توبيخي، او تاكيدي ښودلي دي[3].

مونږ د معنا له مخې يوستوې جملې په لاندې توګه د مثالونو سره راوړو:

اول: خبري جمله: هغه ده، چې د يوشي د حال او كيفيت بيان كوي. يا په بله وينا په هغې كې فكر د خبر په توګه بيانيږي چې ددغې جملې په پای كې دليك نخښه (ټكی) راځي. لكه:

ملالۍ د ميوند د جګړې زمرۍ وه.

د دستارنامې نثر يو عادي او ازاد نثر دی. (توريالی پښتون). (179 مخ)

دغه خبري جملې د مفهوم او ساختمان په لحاظ هم سره بېليږي:

---

[1] **پرويز انلري، دستور زبان فارسی، ايران،** 1352**،** 11 **مخ.**

[2] **محمد الله لطف دستور زبان فارسی، نحو، كابل،** 1360 **(**21-35**) مخونه.**

[3] **پوهاند صديق الله ر تين، د پ تو رامر،** 2 **وك، كابل** 1370 **لمريز كال**

دغه جملې د نورو څخه داهنګ، تون له مخې توپیریږي. په دغه ډول جملو کې ممکنه ده د اهنګ فشار لوړوالی د جملې په یوې برخې باندې راشي خو په عمومې توګه اهنګ یې ټیټېدونکی دی.

په خبري جمله کې یو واقعیت، پدیده، پېښه او داسې نور حالتونه په مثبت یا منفي توګه بیانیږي او په لاندې توګه یې راوړو:

الف: خبري حقیقي مثبته جمله: په واقعیت کې د یوې پېښې اصلي بیان دی.

ملالۍ کړکۍ پورې کوي.

دلته دکړکۍ پورې کول د ملالۍ له خوا یو حقیقت دی چې بیانیږي.

ب: خبري جمله د یو واقعیت تائید او تصدیق کولو او تاکید په لحاظ هم وي.

او دغه د (خو) ادات ورسره زیات راوړل کیږي. وطن خو زمونږ مور اوپلار دی. دا خو څه ځرګنده خبره نده. دا خو څه ګرانه خبره نه ده.

ج: حقیقي منفي خبري جمله: د هغه واقعیت پدیدې اظهاریه ده چې په واقعیت کې موجوده نه وي یا شته والی یې ثابت نه وي.

په دغه ډول جملو کې د (نفی) ادات د فعل یاکومکی فعل نه د مخه راځي.

1- ستالیك نه دی راغلی، دلته ربا نشته، څوك کار نه کوي.

دوهم ناخبري:

1- د پوښتني جمله: دویونکي مطلب او مقصد سوال او پوښتنه وي. د یوه شخص یا یوې موضوع یا یو ځاي او وخت په باره کې پوښتنه کیږي او دغه ډول جملې د ځواب غوښتونکې هم دي.

ددغو جملو مهمه ځانګړنه د ویلو خاص اهنګ او فشار دی د غږ په لوړوالي پورې اړه لري او په لیك دود کې د پوښتني نښه د جملې په پای کې اېښودل کیږي.

سوالیه د خبري جملو څخه د اهنګ په توپیر هم بېلیږي.

1- ښه ګلونه یې وکرل، (خبری) 2- ښه ګلونه یې وکرل؟ (سوالیه) د فشار اهنګ لوړوالی دجملې په سریا پاي کې راځي.

دا خلك ویده دي. دا خلك ویده دي؟ دا خلك ویده دي؟ په کوټه کې ته وي؟

2- د پوښتنې دا داتور په راوړلو سره:

الف: د يو شخص يا شخص د ټاكلو او پېژندلو لپاره:

2 څوك پرون راغی؟ پرون څوك راتمی؟ چا كتاب راوړی و؟ كتاب چا راوړی و؟

2- ته څوك يې؟ دا څنګه قام خادم يې؟ څنګه راغلې؟

ب: د يو شي، ځای، وخت اندازې، علت او داسې نورو مقصدونو لپاره پوښتنه ده.

څه يې وويل؟ چېرته ځې؟

1- څه شی كوې؟ 2- كوم پلوځۍ

كوم شي غواړې؟ كومې خواته ځې؟

څه ډول كتابونه غواړې؟ له كومه ځايه راغلې؟

3- كله راغلې؟ څه وخت راغلې؟ تر كومه ناست يې؟

4- ځومره خبرې كوې؟ ځومره دې په كار دي؟ ځونه اخلې؟

5- څنګه راغلې؟ څله راغلې؟ د څه دپاره خبرې نه كويژ

ولې دې ونه ويل؟ دوی ولې څه نه اوري؟

همدارنګه استفهامي جملې د تاكيد په توګه:

تا خو دغه كتاب لوستلی دی؟

ج: همدغه شان د (ايا) د كلمې سره هم راځي او خطا بې مفهوم وركوي.

ايا په دې څوك نه پوهېږي؟ ايا دا انصاف دی؟

د: بله دا چې استفهاميه جملې چې د احتمال په صورت كې هم راځي.

دا قلم لند دی كه اوږد؟ چای ښنبې كه اوبه؟ لكه چې خوب دې وړي؟ لكه چې ناروغه يې؟

2- امريه جمله: چې دويونكي مطلب او مقصد په كې د يوه كار غوښتل، د امر، حكم، غوښتنې، هيلې، بلنې مشورې اخطار په توګه وی. [1]دغه جملې هم په خاص اهنګ سره ويل كيږي.

1- كار وكړه! ته نوره مه ژاړه!

2- راځه چې ولاړ شو! بې ځايه خبرې مه كوئ!

3- ګوره رانه شې! پام كوه رانه شې!

4- هلكان دې ولاړ شي!

---

[1] **پوهاند صديق الله رشتين، پ تو رامر، 2 وك كامل** 1370 ل **كال**

5- خدای دې خير کړي!

3- **تعجبي جمله**: د حيرانتيا په حالت کې څرګندېږي.

تعجبی جمله د سواليه په توګه راځي ليکن توپيرېي دادی چې سواليه جمله د ځواب غوښتنه کوي مګر تعجبي ځواب نه غواړي.

څومره ښه هوا ده! څه کارونه يې ونه کړل! څه ورځې وې! د افسوس، شاباسي او نورو اداتو سره هم دغه ډول جملې جوړېږي.

4- **تمنايي جمله**: دغوښتنې او هيلې مطلب په کې وي د تمنا له کلمو او فعل څخه جوړېږي: کاشکې خپلو هيلوته ورسيږو، ارمان وسه مونه رسيږي.

5- **شکي احتمالی جمله**: چې مقصد او مطلب ثابت نه وي او سړی په دووکې حيران وي يعنی زړه نازړه. ښايي خور ورسره راغلې وي. ګوندي راشي. ګوندي ښه قلم وي اخك به لاړشي که نه.

6- **ټينګاري جمله**: د تاکيد او ټينګار په مقصد راځي:

خامخا به راځي. خامخا به يې غابنونه پرې وباسم چاچې کړی نن پرون پرمونږ تېرې دی.

هر و مرو به تللی وي. ضرور به راځي.

7- **قسميه جمله**: په يو کار باندې د خلکو د يقين راوستلود پاره په يوه مقدس او محترم شي، ذات باندې لوړه کول څرګندوي لکه:

د وطن په پاکه مينه زه قسم خورم. خدای دې ورښتيا وايم

8- **دعايه**: د خير اوښيګڼې دغوښتنو او څرګندولو له پاره وي.

خدای دې زمونږ هيواد اباد لري. خدای دې مل شه.

ژوندی دې وي افغانستان! غازيانو څښتن مومل شه!

تل دې وي خپلواکي!

9- **ندايي جمله**: چې دندايي ترکيب او فعل څخه جوړه وي. په خپله ندايي ترکيب هم د جملې مطلب لري البته په ځانګړې نحوي واحد کې، مګر که د کومې جملې د يوې برخې په توګه وي نو بيا د هماغه جملې د يوه غړي په توګه ندايي جمله جوړ وي.

ای خدايه! اي خدايه خير کړي!

بختوري!   اى ځلمو خبره واروئ!

او خپله خدايه! [1]

دويم : مركبه (غبرګه) جمله: د پښتو ساده جملو په باب مود مخه يادونه کړې ده اوس غواړو د پښتو ژبې د مرکبو جملو په باب هم يو څه وغږيږو.

څنګه چې علم او تجربې ښکاره کړې ده د لومړنيو د ورو انسانانو خپل خيالونه او خپلې مفکورې د ساده جملو په وسيله بيانولې او مطلب ته به سره رسيدل، ولې د ژوندانه د ضرورتونو او د ټولنې د ټولو پرمختګونو له امله په ژبه کې هم داسې بدلون او انكشاف راغلى چې د ساده جملو ځاى مرکبو ته پاتې شو او په دې توګه د مرکبو جملو استعمال هم په ژبه کې د ساده جملو تر څنګه دود وموند.

د خپلې موضوع څخه به لرې نه درومو. د مركبې جملې هغه تعريفو نه او د ډولو نوويش چې بېلا بېلو ژبپوهانو په بېلا بېلو وختونو کې کړى د هغو په استفادې سره مونږ غواړو چې پښتو ژبه کې غبرګې جملې او د هغوى ډولونه د پښتو د ليکلي او شفاهي ژبې د مثالونو او موادو پر اساس تركومه ځايه چې ممكنه وي وښيو.

مخکې تردې چې مونږ په پښتو ژبه کې مرکبې جملې او د هغوى ډولونه او شکلونه (جولې) وښيونو لومړى بايد دا هم ښکاره کړو چې د غبرګو جملو په برخه کې ځومره ماخذ ونه[2] کتل شوي دي او په دغه باب د ژبپوهانو نظريې سره نژدې وينو ولې د مركبو جملو په كلاسيفيكشن (ډلبندى) کې ځيني توپيرونه ليدل کيږي. دلته د موضوع د اوږدوالي له کبله دغه ټولې نظرې نه راوړم بنايي په دغه هکله دغه لاندې ماخذونه وګورئ[1].

---

[1] يادونه: د ژب   د وينا   يني اشكال كه   ه هم د ساختمان له مخ   به جمله نه وي ول   كله هم په خپلواكه او مستقله تو ه را ي.
  يني ورته نيم ؤي جمل   وايي خو دا خبره د يادولو وؤده چ   دغه شكلونه اصوات د افسوس، تعجب، ندا، تاكيد. په جملو ك   د
خپلو مخكنيو او يا وروستنيو مفاهيمو له مخ   د جملو سره معنوي رابطه ر ندوي لكه او ومره بده خبره ده! واى   ه وشول!
افسوس   ه بد كاروشو! شاباس   ه باس   ه   ه خبره ده! نه داس   نه ده!.

[2] الف: د شوروي د علومو اكاأمى د روسي ژبى انستيتوت، د معاصرې ادبي روسي ژب   رامر مسكو 1970 (741-652) مخونه.
ب: پوهاند محمد رحيم الهام روش جديد در تحقيق زبان دري، كابل پوهنتون 1340 (162-157) مخونه هربرت پنزل پ تو رامر
كابل، 1340(207) مخ.

(ج) پرويز خانلري، دستور زبان فارسى، انتشارات فرهن   ايران شهر پوره 1354 (243-247 –253)

(د) پوهاند صديق الله ر تين پ تو رامر 2 وك كابل،1370 لمريز كال.

[1] الف محمد ل مومند، د پ تو ژب   لپاره بلخ 1317، (335) مخ.

ب: محمد اعظم ايازي، پ تو قواعد، كابل، 1318، (200-209) مخونه.

د مرکبو جملو د پېژندنې او تشريح موضوع په زياترو ګرامرونو کې يو ډول، نژدې او سره ورته دي چې مرام او مقصد په کې هماغه يو دی ولې د غبرګو جملو په ويش او ډلبندۍ کې څه نا څه د نظر بېلوالی ليدل کيږي. يوازې مونږ دغه نظر رانقلوو:

مرکبې جملې هغو جملو ته ويل کيږي چې د دوويا څو يوستوو جملو څخه جوړې شوې وي او د يوه پوره مطلب څرګندونه وکړای شي. او يا دا چې غبرګه جمله د دوويا زياتو فعلي واحدونو څخه جوړه شوې وي.

مرکبه (غبرګه) جمله: د دوويا زياتو ساده (يوستوي) جملو څخه جوړه او يوه جمله د بلې سره لفظي او معنوي رابطه ساتلی او هره يوه جمله ځانګړې خصوصيات هم لري. مرکبې جملې په دووګروپونو ويشل شوي دي[2].

1- مرکبه (پيوسته) مساوي 2- مرکبه (تابع) تړلې.

په هر حال دغه دوه ګروپه غبرګې جملې په لاندې توګه سره بېليږي:

1- په غبرګه پيوسته (مساوي) جملو کې ساده جملې (د الحاقيه نښلوونکي، ارتباطي Conjunctiveمقابلوی Contrastive خلاقی Adversative بېلوونکی Disjunctive اداتو سره يو ځای کيږي[3].

دغه ډول مرکبې جملې عبارت له هغو جملو څخه دي چې دساده جوړونکو جملو شکلونه په نحوي توګه سره برابرې او مساوي حيثيت ولري. سره ددې چې دغه ډول جملې په خپل منځ کې معنوي ارتباط ولري مګر په نسبي توګه سره مستقلې خپلواکې ګڼلې کيږي[1].

په دې معنا چې په دغه ډول جملو کې نسبتا معنوي او نحوي خپلواکي او برابروالی ليدل کيږي. همدغه جملې د معنا په لحاظ په څو برخو ويشل کيږي.

همدارنګه دغه ډول غبرګې جملې د جوړښت له مخې بيا په اوږده (منکشفه) او لنډه (محدوده) باندې جلا کيږي:

ج: عظيم شاه خيال. صرف ونحو پ تو. پيـ ور (335- 345) **مخونه.**

(د) پوهاند ر تين پ تو رامر دويم توك.

[2] **د شوروي اتحاد د علومو اكادمة د روسي ژب انستيتوت د معاصرې ادبي روسي ژب رامر، مسكو** 1970 (57 **او** 606) **مخونه.**

[3] **س اخمانوا، د (ژبپوهنی اصطلاحی قاموس مسكو** 1966 (439) –442-3-(369) 4- (134)-(362) **مخونه.**

[1] **شوروي اتحاد د علومو اكاأيمي، د معاصرې ادبي روسي ژب رامر، مسكو** 1970 (656) **مخ.**

1- اوږده خپلواکه (پیوسته) مساوي غبرګه جمله:

چې د دووه یا ددوونه زیاتې یوستوي اوږدې جملې سره یو ځای او ددوي ترمنځ معنوي یا لفظي ارتباط ساتل شوی وي په دې توګه چې د ارتباط داداتو په واسطه سره نښتي یا پرته له هغو څخه وي.

2- لنډه (محدوده) خپلواکه (مساوی) غبرګه جمله:

چې د دوولنډو یوستوو جملو څخه لاس ته راغلې وي. دلته یوازې دوه یوستوې جملې د ارتباطي توري یاپرته له هغو نه یو ځاي کیږي او همدارنګه دغه ډول مرکبې جملې د یو بل سره درابطې او معنا له مخې په څو برخو ویشل کیږي چې پوره بشپړ مثالونه یې هم راوړل شوي دي[2].

2- همدارنګه دوهم ډول تابع غبرګې[3] جملې چې مختلطه[4] (مخلوطه)[5] جمله هم ورته ویل شوې ده. ددغه ډول جملو ترمنځ د تابعیت اړیکي او رابطه لیدل کیږي، تابع غبرګې جملې د تابع کوونکي ارتباطاتو له مخې سره تړون لري او تابع کوونکي رابطه د نحوي دریځ له پلوه د غبرګو جملو د اجزاو ترمنځ تړون او پیوستون ښیي، چې د غبرګې جملې تفسیر او پراختیا او یا د جملې د یوه توکي د بیان له پاره وظیفه لري چې دغه ارتباط د غبرګې جملې د جوړښت او ترتیب په بڼې کې منځ ته راځي او د بېلا بېلو لغوي او ګرامري عناصرو په وسیله څرګندیږي.

په پښتو ژبه کې غبرګه (مرکبه) جمله:

د یو ستوو (ساده) جملو د ډولونو او جوړښتونو څخه جوته شوه، چې هره یوه یوستوې جمله د یوه فاعل (مسند الیه) او یو فعل (مسند) یا په بله وینا د یوه پرې دي کاتیفی (Pridicative) واحد لرونکي وي چې پوره مطلب ښیي ولې غبرګه جمله د جملو هغه غونډونه (ترکیبونه) دي چې بشپړ مطلب یې څرګند کړي وي او د جوړښت له مخې د یوه فاعل او فعل پر ځاي په کې دوه دوه یا زیاتې راغلي وي یا په روښانه توګه وایو: په غبرګو جملو کې لږ تر لږه دوه یا څو یوستوې جملې سره یو ځای شوي وي او په دې کې د لفظي او معنوي ارتباط خیال ساتل ضروري دي ځکه که

[2] د شوروي اتحاد د علومو اکاأیمي، د معاصري ادبي روسي ژبې ګرامر مسکو 1970 (657-981) مخونه.
[3] د شوروي د علومو اکاأمي، دروسي ژبې انستیتوت، د معاصري ادبي روسي ژبې ګرامر، مسکو 1970.
[4] پوهنوال محمد رحیم الهام روش جدید در تحقیق زبان دري، کابل پوهنتون 1349 (159) مخ.
[5] محمد اعظم ایازي قواعد پښتو کابل، 1318 (206) مخ.

چيرې دغه لفظي او معنوي ارتباط د جملو ترمنځ نه وي بيا مرکبې (غبرګې) نه ګڼلې کيږي او هره يوستوې جمله ځانله ګڼله کيږي. او د مطلب ټکي به ورځني په لاس نه راځي.

غبرګې جملې د يوه مطلب د بشپړې څرګندونې په مقصد جوړيږي د پښتو ژبې په غبرګو جملو کې د يوستو جملو رابطه او اړيکی د کوم يوه ارتباط، عطفي، تابعي توري يا پرته له هغو ترسره کيږي.

څنګه چې يوستوې جملې د معنا او جوړښت له مخې راز راز ډولونه لري نو د غبرګو جملو ډولونه او قسمونه هم د ارتباطي اداتو د ډولونو د استعمال له مخې سره جلا او بيليږي چې وروسته به راوړل شي.

د غبرګو جملو ډولونه:

ددې له پاره چې د غبرګو جملو معنا او په مرکبو جملو کې د بېلا بېلو يو ستوو جملو رابطه ښه شان څرګنده شي نو په پښتو ژبه کې غبرګې جملې په دوو ډلو بېلولای شو.

اول: پيوستې (خپلواکې) غبرګې جملې:

خپلواکې مساوي جملې هغه دي چې له د وو يا زياتو يوستو، متوازنو جملو څخه رغيدلې وي او دغه جملې په نحوي توګه سره برابرې او مساوي حيثيت ولري ولې په دغه ډول جملو کې يوستوې جملې يو تربله کلك تابعيت نه ښيي خو په نسبي توګه خپلواکې او مستقلې ګڼلې کيږي.

او سربيره پردې چې دغه جملې د مرکبې جملې ساختماني اجزاوې جوړ وي او يو بشپړ مفهوم هم څرګندوي په خپلو منځو کې معنوي ارتباط هم لري. د جملو ترمنځ ارتباط او اړيکي د ارتباطي، عطفي (نښلوونکي او بيلوونکي) اداتو په مرسته ټينګيږي چې په خپل ځاى به يې يادونه وکړو. مګر کله کله هم دغه د عطفي اداتو ذکر په کې شوى نه وي.

په پښتو ژبه کې مساوي خپلواکې (پيوستې) جملې خورا زياتې استعماليږي او په بېلا بېلو صورتونو سره څرګنديږي.

د شکل او جولې له مخې غبرګه پيوسته (مساوي) جمله:

د جولې له مخې د پښتو ژبې غبرګې (پيوسته) جملې په دوو ډلګيو ښودلاي شو. لنډه غبرګه جمله او اوږده (منکشفه) غبرګه جمله:

الف: لنډه غبرګه پیوسته جمله: هغې جملې ته ویل کیږي چې د دواړو جملو ارکان یې د لنډو او ساده اسمي او فعلي غونډونو (اجزا) څخه جوړه شوی وي.

لنده ساده جمله + عطف + لنډه ساده جمله

مسند الیه + مسند + او + مسند الیه + مسند

د بیلګې له پاره دغه لاندې جملې وګورئ.

1- لمرخلیده او باران وریده

2- ځوك تلل او ځوك راتلل.

3- ځوك به ځي او ځوك به راځي.

4- کاروان روان دی او ته خوبونه کوې.

په لومړي او دویم دریمو مثالونو کې مبتداء (فاعل) او خبر (فعل) یو توکیز کلمات دي مګر په څلورم مثال کې لومړۍ برخه د جملې یو توکیز او دوهمه برخه یې دوه توکیز مرکب فعل دی.

همدارنګه د بېلوونکو نښو په واسطه هم دغه ډول ډېرې جملې جوړېږي.

زه راغلم خو ته نه وې، دوی خبرې کولې یا دوې غلي ناست وو.

زه په تمه وم مګر دارا نغله. کارونه ډېر کوي ولې نتیجه نه لري. یا یا رشه یا بیزار.

ب: اوږده (منکشفه) پیوسته غبرګه جمله:

هغه ډول جملې دي چې د جملو په مسندالیه یا مسند او یا په دواړو برخو کې (فاعل، قیدونه، مفعول، فعل) د جملې اجزاوې د دوونه زیات توکي ولري او د جملو په اجزاوکې یې پوره ارتوالی، زیاتوالي راغلی وي.

په پښتو ژبه کې دغه ډول جملې په لاندې جملو سره ښودلي شو:

الف: لنډه یوستوې جمله + عطف + اوږده یوستوې جمله

بیلګه : ژمی راغی اوبې وزلي خواران دژمي له سړو او سختو ورځو څخه په ډاراو اندیښنه کې دي.

ب: اوږده یوستوې + عطف + لنډه یوستوی.

بیلګه: د پښتنو ملي ستر مشر میرویس خان دیر غلګرو پر ضد ډېرې کلکې او سختې جګړې وکړې او هیواد یې د دښمنانو څخه وژغوره.

ج: اوږده یوستوې + عطف (او) + اوږده یوستوې.

د پښتو ژبې او ادب پلار خوشحال ختټك به پښتني نړۍ کې د ننګ توري او قلم غښتلي اتل او پهلوان تېر شوی دی او دده په اثارو کې د هيڅ ډول مضمون کمې او خامي نه ليدل کيږي .
دا بل مثال:
زمونږ دتېولني پوهانو د نوي فکر د روزلو اصلي ښوونځی سراج الاخبار بللی دی او په خپل وار سره ددې ستر ښوونځي زده کوونکو ته د قدر او عزت په سترګه کتلي دي.
د پورتنيو مثالونو څخه جوته ده، چې په غبرګو جملو کې د يوستوو جملو اجزاوې د يو توکيز، لنډو (اسمي او فعلي) او يا خو د اوږدو (اسمي او فعلي) غونډونو څخه جوړې شوي دي چې په لوړو مثالو کې يې ټاکلي غونډونه او جملې سره جلا ښکاري.
دغه ډول پيوستې غبرګې جملې د استعمال او معنا له مخې په ازاده (خلاصه) او محدوده (تړلي) سره بېليدلای شي:
1- ازاده (پرانيستې): چې ددوو، دريو يا ډيرو جملو څخه جوړه شوې وي چې دغه شمير نور هم لازياتيدای شي په دې معنا چې غير معينو يازياتو جملو څخه دعطفي ربط او يا پرته له هغې څخه وي. البته دغه جملې په خلاص (ازاد) چوکاټ کې راځي لکه:
کله به باران وريده، کله واوره وريده، کله به شين شو، شين به شو، وريځ به شوه او د باران څاڅکي به شو.
2- محدوده (تړلي) غير ازاده غبرګه جمله: دغه ډول جملې معمولاپه دوو جملو باندې ختميږي کله نا کله دريو ته هم رسيږي.
لکه: 1- هغه ته ويديدل ضروري وو خو خوب نه ورته.
په دې جملې کې مطلب او مقصد په وروستۍ جملې باندې ختم شوی دی. يا دا بل مثال:
2- دده کارونه هم ډيروو او تګ هم ورپه غاړه و.
3- دی بايد راغلی وای مګر رانغی.
4- دی تر اوسه په کور کې ناست و خواوس سمدستي ووت.
په همدې توګه زيات مثالونه راوړی شو. په دې برخه کې ځيني پښتو اصطلاحګانې او متلونه هم ځاييږي لکه:
څه لوريځ واوڅه د لوګري زړه لوته نه کيده.

دلته ګورو چې دغه خاصه ځانګړې اصطلاح د معنا له مخې په ټاکلي موقع کې استعمالیږي چې ترینه پوره مطلب اخیستل کیږي د عطف ادات په مرسته ددووجملو یوځای کیدنې سره پوره مقصد بشپړیږي او په جملې پسې د بلې جملې حاجت نه پاتې کیږي ځکه د لومړۍ جملې معنا د دویمې له مخې ثابته او پوره شوه.

په غبرګو پیوسته، جملو کې د یوستو و جملو نحوي رابطه:

ددغه ډول جملو په پیوستون کې یوستوې جملې په دوو لارو سره یو ځای کیږي:

1- د عطف اوربط په وسیله 2- پرته له عطف او ربط څخه.

اول : د غبرګې (پیوسته) جملې جوړښت د عطف او ربط له مخې:

هغه عطفي ادات چې ددغه ډول جملو په جوړښت کې نحوي تړون ښیي یعنی په غبرګو (مساوي) جملو کې د یوستو جملو اړیکې او رابطه ټینګوي د مانا او مفهوم له مخې په لاندنیو دریو ډلګیو ویشل کیږي:

یو- هغه عطفي ادات چې د دواړو یوستوو جملو ترمنځ اتصال او پرله پسې والی ښیي.

په پښتو ژبه کې د لومړۍ ډلګۍ عطفي ادات (او) (و) دي چې اکثرا د خپلواکو مساوي جملو په ترکیب کې برخه اخلي: دغه عطفي ادات د یوستوو جملو د تړلو او ارتباط د پاره په لاندنیو صورتونو کې استعمالیږي.

الف: (او) د هغو جملو د پیوستون له پاره پکاریږي چې دوې یادرې پیښې په یوه ټاکلي وخت او زمان کې سرته رسیدلې وي یا ورسیږي.

لکه 1- ماشومان لوبې کوي او زاړه خوب کوي.

2- ملیار ګلان کري او دښن زو زان کري. 3- څوك به وطن ورانوي او څوك به وطن ابادوي.

په دغو دریو (مساوي غبرګو جملو کې) 1-2 مثالونه د اوسنۍ نابشپړې (استمراري). او 3- مثال دراتلونکې زماني نابشپړ صورتونه ښودل شوي دي.

4- زوړ کال په تیریدو دی او نوی کال راوران دی. همدارنګه د تیرې زمانې مثالونه هم ښودلای شو:

1- دوې تلل او هغوې راتلل. 2- ملالۍ لـه خپلې همزولې سره جګړه کوله او سپوږمۍ ورتـه خندل. 3- ما کتاب لوست او هغه لیك لیکه.

په دريو واړو غبرګو (مساوي) جملو کې د هرې يوې جملې فعلونه د تيرې زماني نابشپړ صورتونه ښيي.

کيدای شي چې د فعل بشپړ صورت هم په دغو مواردو کې راوړل شي. خو زيات استعمال د نابشپړو فعلونو دی.

د بشپړو فعلونو د پاره دغه لاندې جملې ګورو:

الف: دوې به خپلو خپلو کورونو ته ولاړې شي او خپل خپلوان به وګوري.

ب: (او) د هغو يوستو جملو د پيوستون له پاره چې په هغو دواړو (دريو اړو) کې پېښې يا واقعې يو په بل پسې راغلي وي. په دې مانا چې لومړۍ جمله کې يوه پېښه ذکر شوې او ورپسې د بلې پېښې پېښيدنه په دوهمې جملې کې راغلې وي.

يا په بل عبارت د يوې پېښې پای او د بلې پيل وښيي دا ډول جملې په لاندنيو مثالونو کې ګورو:

1- زوړ کال تېر شو او نوی کال راغی 2- کارپوره شو او هندو غره شو

3- منی راغی او دونو پاڼې ژيړې شوې 4- باغ پوخ شو او باغوان يې کوږ شو.

په دغو مثالونو کې ليدل کيږي چې په هره جمله کې لومړۍ يوه پيښه ذکر شوې يا سرته رسيدلې او بيا په دوهمه جمله کې د بلې پېښې پېښيدنه راغلې ده.

دلته بايد وويل شي چې د هرې يوستوې جلمې فعلي صورتونه د تېرې زمانې بشپړ حالتونه ښيي.

همدارنګه په دې لاندينۍ امري جمله کې هم داسې قاعده راتلای شي.

لکه : ورونو راشئ او د خپل هيواد د ابادۍ د پاره کار وکړئ.

دلته هم لومړې د يوه کار غوښتنه کيږي او بيا په دوهمې جملې کې د بل کار غوښتنه کيږي.

په پښتو ژبه کې غير له دې داسې مثالونه هم شته دي چې د غبرګې (مساوي) جملې لومړۍ يوستوې جمله يې د فعل بشپړ (مطلق) او په دوهمه يوستوې جمله کې يې نابشپړ (غير مطلق) فعلونه راغلی وي او دغه پورتنی مطلب تر سره شي.

لکه: زوړ کال تېر شو او نوی کال راروان دی.

دلته په دغې جملې کې (تير شو) او (راروان دی) دوې مختلفې زمانې ښيي يعنی (تېر شو) د تېرې زمانې مطلق فعل او راروان دی داوسنۍ زمانې نابشپړ (استمراری) ډول څرګندوي.

ج: کله هم (او) عطفي ادات هغه خپلواکې جملې چې ماناګانې يې سره بيلې او مخالفې وي سره تړي لکه:

1- نوم يې خان دی او کورېې وران دی   2- سريې لوی و او فکريې خام و.

3- هندو ستړی او خدای ناراضه!

دوه: هغه عطفي ادات (خلافي، مقابلوی) چې د دوويو ستوو جملو ترمنځ پيوستون راولي.

غبرګې (مساوي) جملې چې په پښتو ژبه کې د (خو، مګر، اما، نو، ولې،ليکن، يوازې) تورو په مرسته جوړيږي، دغه توري (ادات) هغه يوستوې جملې سره يو ځای کوي چې د جملو ماناګانې يې د يو بل نه خلاف او يا مقابل طور سره بيان شي.

څو مثالونه وګورئ:

الف: (خو)

1- پښتو د لغاتو يوه لويه ذخيره او پانګه لري خو له بده مرغه تر اوسه پورې په پوره ډول نه دي راټولې شوي. (رښتين).

2- دلته شاعرانو ډېرې سندرې ويلې دي خو نوی فکر په کې نه و (الفت).

3- ما په ځان پرده واچوله خو حاجتې غلی نه شو: (اجمل).

ب: مګر

(1) د زياتو ختيځ پوهانو په نظريه پښتو، سانسکريت او ستاد خوږ وخويندو په نامه يادېږي مګر اوس په کې يوازې پښتو ژوندی ده. (رښتين)

2- د کوه تور په لمنو کې ډير خلک کښته او پورته ګرځيدلي دي مګر د حق او حقيقت رڼا هر چانه ده ليدلې.

3- د هر يوه له سترګو اوښکې توې شوې مګر د اسمان له سترګو يوه او ښه هم تويه نه شوه.

ج: (نو)

(د سيمنار د شروع کيدونه لس د ولس ورځې د مخه ماته د مضمون د ليکلو خبر راکړی شونو ما زر زر د يو خاص عنوان په ځای دغه لوی عنوان غوره کړ. (رښتين)

يادغه بل مثال: ما درته ويلي وو نو ته ولې رانغلې.

د: (بلکې) :

لنډې کوم معلوم ويونکی نه لري بلکې د ټول اولس يوه شريکه پانګه ده.

اخك سنك نه ځوروي بلكې ټول خلك يې ځوروي.

هـ: (ولې):

(داسې غلې ژړندې اوس هم شته ولې مونږ او تاسوته نه ښكاري)

ما ډير صبر وكړ ولې بې صبره شوم.

و: يوازې: (1) ټول په كارونو بوخت وو يوازې ملالۍ په كوټه كې وزګاره ناسته وه.

(پښتو لنډۍ تر اوسه پور په كامل ډول نه دي راټولې شوي يوازې اته زره لنډۍ د پښتو ټولنې له خوا په 1334 ل كال كې خپرې شوي دي).

درې- هغه عطفي ادات (فاصلوي، بېلوونكي) چې دوه يا درې يوستوې جملې سره يو ځاى كوي په دې ډول غبرګو (مساوي) جملو كې د دواړو يوستو جملو څخه يوه پېښنه تر سره كيږي يا تراجرا لاندې نيول كيږي او يا يوه د بلې پر ځاى راځي.

په پښتو ژبه كې عطفى ادات لږ دي چې يو دوه مثاله يې ښودلى شو.

يو د (يا) او بل (كه) توري دي چې سره نژدې مانالري. دغه توري (ادات) (يا-كه) هم مانيزدي. په غبرګو (مساوي) جملو كې د هرې يوستوې جملې په سركې راځي او يا د دواړو جملو ترمنځ راځي.

د جملو ترمنځ : 1- دوې خبرې كولې يا غلې ناست وو.

دلته د دواړو جملو ترمنځ د (يا) ادات راغلى دى ولې داسې ډير مثالونه (خصوصا متلونو، اصطلاحاتو) كې لرو، چې د (يا) ادات دوه ځلې پكې راغلى وي يعنى د هرې يوستوې جملې په سركې يو يو ځل راغلى وي:

لكه دغه لاندې مثالونه:

د جملو په سركې:

1- يا يارشه يا بيزار شه. 2- يا به دې واورم يا به مې واورې.

3- يا لويو غروته ځه يا لويو كوروته ځه.

او يا دغه لاندې ښكلې شعر ګورو:

يا به دابې ننګه ملك باغ عدن كړم يا به د پښتنو كوڅې كړم ويجاړې (غنى خان[1])

د (كه) له پاره مثال:

خوښه دې ده كه خوښه دې نه ده.

---

[1] د (يا) سره په ينو وختونو ك د (خو) (او) عطفي ادات هم استعمالياي چ البته د تاكيد مفهوم وركوي.

دوي په خپلو کارونو لګیا وو که وزکارناست وو.

دویم: په پښتو ژبه کې غبرګې (مساوي) جملې پرته د عطف له اداتو څخه:

په پښتو ژبه کې دغه ډول دوه یا څو (یوستوې) جملې کیدای شي پرته له عطف (ربط) له اداتو څخه په غبرګه توګه راشي. په دغه ډول جملو کې دویلو لحن او اهنګ ستره برخه لري. په وینا کې دغه یوستوې جملې دویلو داهنګ، لحن په واسطه سره تړل کیږي مګر په لیکنه کې د ساده جملو ترمنځ بېلوونکي نښې (کامه) راوړل کیږي چې د جملو ترمنځ د ارتباط وظیفه ترسره کوي او یوه جمله له بلې څخه د هم دغې نښې په واسطه بېلیږي.

لکه: (1) د ژمي واوروې شروع شوې، هر څوک تیارې غلې ته کښیناست (الفت).

2- زما په خیال دا ټول بې فایدې کړ او دی له دې خبرې نه هیڅوک انکار نه کوي (رښتین).

3- احمد شاه بآبا په خپله باذوقه ادیب و له تصوف سره یې ډیره دلچسپي درلوده.

4- نرخونه له پخوا نه جګ شول، هر څه د اور په بیه شول.

په لوړ و مثالونو کې هره جمله یوه ځانګړې جمله ده او ددوي ترمنځ یو معنوي ارتباط وینو. پاتې دې نه وي چې د دوویا زیاتو ساده (یوستوو) جملو رابطه او اړیکې پرته له عطفی اداتو څخه د پښتو ژبې په زیاتو متلونو او اصطلاحګانو کې هم وینو. د بېلګې په توګه دا لاندیني متلونه ګورو:

1- او ښان نه ژاړې بارونه ژاړې.

2- جنګ سوړ شو میرى تود شو.

3- په غار موږې وګټه په سیورې یې وختېه

4- سترو ګټله هو ساوو ختله.

5- زه پور غواړم دی لاټور غواړې.

په دغو متلونو کې لیدل کیږي چې د هر یوه متل هره یوه برخه جلا او مستقل صورتونه دي خو د معنا له مخې سره معنوي او کلك فرازیالوژیکي ترکیب یې جوړ کړى دى. پرته له دې څخه په ځینو محاورو او اصطلاحګانو کې هم دغه موضوع ښودلی شو.

1- غله ته وایې غلا کوه د کور خاوند ته وایې ځان ساته.

2- زه پور غواړم ته وایې پتیرې پخې کړه.

3- یو له لوړې مرې بل یې سرته پراټې لټوي.

همدارنګه په مساوي غبرګو جملو کې چې خلافي یا متقابلې معناوې ولري هم د عطف ادات نه وي راوړل شوې. په دغه ډله کې داسې جملې هم سره یو ځای کیږي، چې د معنا له مخې یو د بل متقابل صورتونه ولري لکه:

یو خوا پړانګ دی بل خوا ړانګ دی.

یو خوا ظلم دی بل خوا زور دی.

کورټ کورټ دلته کوي هګۍ بل ځای اچوي.

نن په ځمکه ګرځي سبا په اسمان

نن یې شلیدلې څپلۍ راښکلې سبا به یې د موټرو نه کوزه پښه نه کیښوه.

د غبرګو (مساوي) پیوستو جملو ځینې نورې ځانګړتیاوې:

1- کیدای شي چې څو ساده (یوستوې) مستقلې جملې د عطف د اداتو په مرسته او هم پرته له عطف څخه ارتباط پیدا کړي.

لکه: غرونه و جړکیدل، سیندونه وشپېدل، بادونه وزغلیدل، ستوري وځرخیدل، کائینات وخوځیدل، د زیرېندې او ودې له مخې بندیزونه لرې شول، د ځمکې لړمون وسپړ دی شو او د پسرلي ښکلې څېره رابر څیره شوه. (رښتین).

په دغه مثال کې وینو چې اته یوستوې جملې دي چې اوه جملې پرته له عطفي اداتو څخه سره یو ځای شوي او روستنۍ اتمه جمله ورسره د (او) په مرسته ترون ښیي.

2- کله هم داسې پېښیږي چې غبرګې (مساوي) پیوستې جملې کې چې د یو شمیر یوستوو جملو سره یې ترون او پیوستون موندلې وي او د ټولو جملو د خبر په برخه کې کومکي فعل په بیابیا (تکراري) توګه راغلي وي نو په دغه ډول جملو کې خبر په پوره توګه یو ځلې راوړل کیږي او په نورو جملو کې یې راوړل ضروری نه دي.

ځکه هماغه یو خبر د ټولو جملو سره به ارتباط لري. لکه: کتابونه ډیروو څه یې ښه او څه یې نه. په اصل کې درې جملې دي (1) کتابونه ډیر وو. (2) څه یې ښه (3) څه یې نه.

خبر په لومړۍ جملې کې پوره او په نورو کې بشپړ شکل نه لري.

3- همدارنګه داسې هم پیښیږي چې په دواړو یو ستو جملو کې د خبر برخه پوره نه وي. لکه:

ډیریې مال بدیې حال، ږیره زما واك یې د ملا. په خوله خوږ په زړه کوږ.

4- په دغه ډول جملو کې چې مبتدا یو تن یا یو شی وي او څو خبره ورسره راغلي وي نو په لومړۍ برخې کې مبتدا راوړل کیږي مګر په نورو برخو کې یوازې فعلونه راوړل کیږي:

اوښکې خوړونه شو، بیا سیندونه شوه او بیا ویالې شوې او وروسته د ګل په شاخ کې وچلیدې.

5- دغه رنګه غبرګې جملې چې پرته له عطف، ربط څخه ترکیب شوې وي په یوه وخت کې د څو پېښو، واقعو او پدیدو اظهار به هم وي. یا په پرله پسې توګه او یا یوه جمله د علت او معلول په توګه یا د نتیجوي شکل په توګه راځي او یا د یو بل سره په مقابلوي توګه راغلی وي.

کندهاري کوچیان هر پسرلی د پامیر او چتې ځمکې ته ورخېژي او بیا ژمی بېرته د کندوز او سمنګانو هوا روته راکوزیږي.

2- غبرګې تابع (مختلط) جملې:

په پښتو ژبه کې غبرګې تابع جملې چې (یوه یې اصلي او بله یې فرعي) وي یا (خپلواك او ناخپلواك) د تابع کوونکو ارتباطاتو (تړونو) له مخې د نورو غبرګو جملو څخه یې بېلولی شو، په تابع غبرګو جملو کې د یوستوو جملو ترمنځ رابطه او تړون د تابعیت رابطه ده یا په بله وینا یوه د بلې تابع وي.

په هغو جملو کې چې اصلي او اساسي مطلب ځای شوي وي عمده (اصلي) جمله ده اوهغه چې د اصلي جملې د برخو شرح او بیان وکړي او د نوموړې اساسي جملې تابع وي فرعي نا خپلواکه جمله ده، چې د تابع کوونکو او تابع کیدونکو په نامه یې هم نومولی شو.

تابع جمله هغه جمله ده چې د اصلي جملې جزوي او پرته له اصلي جملې خپله معنا ښکاره کولی نه شي لکه دغه لاندې مثال:

هغه هلك چې پرون دلته راغلی و د احمد زوی دی.

هغه هلك د احمد زوی دی اصله خپلواکه جمله ده او چې پرون دلته راغلی و. تابع جمله ده.

په پښتو ژبه کې اصلي جمله کله د تابع نه د مخه او کله هم وروسته راتلای شي او کله هم د مبتدا او خبر ترمنځ راځي.

لکه : نوی او ښکلی ښار مې ولید چې لوړې ونې او ودانۍ درلودې. په پورتني مثال کې لومړۍ عمده او دوهمه تابع او د (چې) ربطیه سره یې تړون موندلی دی.

په دې حساب د جملې لومړۍ برخې ته اصلي او دويمې ته فرعي يا تابع جمله ويل کيږي[1].
ښايي ووايو چې اصلي جملې هرکله (د مخه) نه راځي بلکې د فرعي (ناخپلواك) جملې نه وروسته هم راځي.
لکه: کله چې دوي دواړو خبرې کولې ماخپل کتاب خلاص کړ. په دغه جمله کې (ما خپل کتاب خلاص کړ) اصلي (عمده) جمله ده.
غبرګې جملې هم دربطي تابع اداتود استعمال له مخې دمعنا په لحاظ بيل ډولونه لري چې وروسته به يې وښيو!
په پښتو ژبه کې غبرګې تابع جملې هم د نورو غبرګو او يوستوو جملو په شان چې د مخه مو د هغو يادونه وکړه په لنډو اواوږ د و جملو باندې بېلولی شو. دلته يې راوړنه تکراري ده .

د غبرګو تابع جملو ډولونه د معنا او تابعيت له مخې:

ترکومه ځايه چې ښکاره ده په پښتو ژبه کې د غبرګو (پيوستو او تابع) جملو د ډولونو ټاکلې ويشنه نه ده شوې خو د څېړني او پلټنې له مخې په لاندې توګه يې بېلول غواړو، ولی دا به هم پوره او بشپړ کارنه وي. ښايي په راتلونکې کې دغه موضوع نوره هم وپلټو.
په پښتو ژبه کې غبرګې تابع جملې د معنا له مخې په لاندې توګه راوړو:

1- بياني تابعيت:

په دغه بياني جملې کې تابع جمله داصلي جملې شرح او توضيح کوي. په دغو جملو کې اصلي (عمده) جملې د مخه او تابع (فرعي) وروسته راځي چې دا زياته اوږده شرح هم غواړي.
لکه: الف: ده وويل چې ماته يو ښه ساعت راوړه.
ب: ويلي شم، چې په نړۍ کې ډېرې کړکېچنې مسئلې شته دی.
ج: تاسې خو ماته اجازه راکړئ چې خپل مقصد ووايم.

2- تشريحي جملې: هغه دي چې د اصلي جملې د يوې برخې شرح او څرګندونه کوي. په دغه ډول غبرګو جملو کې تابع جمله د اصلي جملې د مبتدا (فاعل) خبر، مفعول او متمم شرح او وصف کوي چې په لاندې توګه يې راوړو:

---

[1] **پوهاند صديق الله ر ښتين. پ ښتو ګرامر دوهم ټوك! کابل** 1370 **لمريز کال.**

الـف: د مبتـدا تـابع غبرګـه جملـه: چې دمبتـداء (فاعـل) د حالـت او وضـعيت ښکارندويه وي دلته په اصلي او فرعي دواړو جملو کې فاعل يا مفعول يو شخص وي.

1- دده څه کار وو چې دلته راته.

په دغه دواړو جملو کې فاعل يو تن او (چې) د دواړو جملو ترمنځ تابع کوونکی ربط دی.

2- ټول خلك غواړي چې دښمن له ملکه وباسي. په دغه جمله کې (ټول خلك) فاعل دی.

يا دا مثال: ځمکه هغه سوځي چې اور پرې بليږي.

په دې جمله کې مبتدا هغه ځمکه چې اورپرې بليږي (فرعی)، سوځي (خبر).

په جمله کې تابع کوونکی توری په ساده او مرکب ډول هم راځي. استفهامي، اشاري، ربطي ضميرونه په دغه برخه کې زيات راځي.

1- څوك چې وزګار شي ياغل شي يا بيمار شي.

2- څوك چې د خپل هيواد سره مينه لري هغه د خپل وطن د لوړتيا له پاره زيار وباسي.

3- څوك چې خوشحال ختك پيژني او يا دده نوم يې اوريدلي وي هغه دا هم مني چې خوشحال ختك د پښتو ژبې لوی نوميالی شاعر تېر شوی دی.

په پورته جملو کې ليدل کيږي چې دجملو په لومړيو برخو کې د (څوك چې) ربطی ضـميرونه د فاعل په توګه او دوهمې برخې يې (هغه) د اشاري ضميرونه (د (څوك چې) له پاره راغلي دي خو کله داسې هم کيږي چې په دغه ډول جملو کې اشاري ضميرونه رانه شي او هماغه مطلب ځرګند کړي. لکه:

1- څوك چې لاس تنها کې نه کړي خواري ونه کړي زحمت ونه باسی هو سـايي نـه شي مونـدلی. دلته د لومړی جملې په ارتباط دوه نورې جملې هم د عطف په توګه راغلي او دوهمه جمله کې (هغه) اشاري ضمير حذف شوی دی.

2- څوك چې دخلکو د پاره ځان سترې نه کړي ښه سرې نه دی.

په متعدي ماضي فعلونو کې د (څوك چې) ضميرونه په غير اصلي حالت کې راځي.

لکه: چاچې زه کارته نه پريښودم هغه ماشومان وو. يعنی ماشومان وو چې زه يې کارتـه نـه پريښودم.

چاچې په خپل وطن سرونه بايللي دي هغوی تل په عزت ياديږي.

چاچې غټه چوکی غوښتله پيدايې کړه.

په مرکب ډول: هر + څوك + چې:
هر څوك چې كوښښ كوي كامیابېږي.
- هر څوك چې له دښمنه تېښته وكوي نو تل پېغور ورته پاتې كیږي.
هغه + څوك + چې:
2- هغه څوك چې خپل خپل كارونه په خپل وخت سره سرته رسوي هیڅكله نه ستړی كیږي.
دغه ډول جملې چې د تاكلي ربطي مركبو ضمیرونو (هر څوك چې) په مرسته جوړې شوې وي نو فعل معمولاً په حالیه (ناتیره) زمانه كې راځي. د (هر څوك چې) مغیره شكل (هر چا چې) دی چې د ماضی متعدي فعلونو سره راځي. لكه:
هر چاچې زحمت ګاللی وي راحت به یې لیدلی وي.
هر چاچې كاركړی وي نتیجه به یې لاس ته راوړې وي.
داسې جملې هم لرو چې یوه تابع جمله یې د تېرې زمانې مطلق فعل ونېیي او بله (اصلي جمله یې د راتلونكې زمانې فعل وي.
هر چا چې ښه كتاب ولیكه هغه ته به انعام وركړ شي یا (وركول كیږي) یعنی د فعل بشپړ او نابشپړ دواړه صورته راځي.
هر چاچې كار وكړ ګټه به تر لاسه كړي.
د (هغه څوك چې) له تركیب سره تابع مركبه جمله جوړه شوې وي نو دلته د اشاري ضمیر راتلل د ارتباطی ضمیر سره خاص د تاكید او اشارې مفهوم زیاتوي مګر كیدای شي چې په دغه ډول تركیبونو كې (هغه) ضمیر هم حذف شي.
لكه: هغه څوك چې د وطن د پاره زیارنه شي ګاللی ښاغلی سړی نه دی.
- هغه څوك چې د ډیر احترام او ستاینې وړاو پر مونږ ډیر حق لري زمونږ نیكونه دي.
په مغبره صورت كې:
هغه چاچې په وطن سر قربان كړی دی په تاریخ كې به روښانه ستوری وي.
هغه غبرګی جملې چې په دواړو جملو كې یې فاعل یا مفعول یو څیز، (شی) وي:
څه د (چې) د ربطي تابعیت سره:
1- څه چې وي هغه به وي. څه چې كیدل هغه وشول.
2- څه چې په پښتو ادب كې تر اوسه پورې لیكل شوي دي، هغه ټول زمونږ ادبي شتمني ده.

3- هر څه چې کيږي، هغه به کيږي.
4- هغه څه چې ژمې ته په کار وي هغه واخله.

الف: فاعل نوم وي:

1- منشي احمد جان د پښتو ژبې يو مشهور ليکوال د تاليف او تصنيف خاوند دی چې د ډېرو ښو نثر ليکونکو څخه ګڼل کيږي.
4- ميرزا خان انصاري چې د پښتو ادب په پخوانو شاعرانو کې لوړ مقام لري با ارزښته ديوان يې ليکلی دی.

ب: د مفعول دحال او کيفيت ښکارندوي وي:

زه هغه چاسره مينه لرم چې د وطن سره مينه ولري.
زه هغه شی خوښوم چې د نورو هم خوښ وي.
د مفعول څرګندويه جمله د اصلي جملې په مسند پورې د (چې) په وسيله تړل کيږي. په اصلي جملې کې ضميرونه اشاري استفهامي، نومونه، ترکيبونه (عددي، اضافي، اشاري) او داسې نور کېدای شي، چې د مفعول په توګه وي. په دغه صورت کې تابع جمله د هغه مفعول معنا ښکاره او څرګندوي.
دلته ددې خبرې ضرورت هم شته چې د اصلي جملې فعل تل متعدي فعلونه وي نوځکه پرته له مفعول څخه پوره معنا نه څرکندوي.
1- زه څه وينم چې ته يې نه وينې.
2-زه څوك غواړم چې خبرې ورسره وکړم.
3- تاسې ما شومان ګورئ چې لوبې کوي.
همدارنګه مفعول په ترکيبی ډول:
1- زه هغه څوك خوښوم چې د وطن رښتينې خدمتګار وي.
2- زه هغه څه غواړم چې دلته نه پيدا کيږي.
3- دوې هغه وعدې چې خلکو ته يې ورکړې وې تر سره نه کړې.
4- دغه کتاب چې دی يې لولي ښې موضوعګانې لري.
يو بل مثال: زما داسې ګل خوښيږي چې ښه ورېم ولري.
داسې اوبه راکړه چې خوږې وي.

په پورتنيو جملو کې څه، څوك، ماشومان، هغه څوك، هغه څه، دغه کتاب، داسې ګل او داسې اوبه د مفعول په توګه چې په لومړ يو تابع جملو کې يې شرح او توضيح ګانې شوي دي. يعنی د اصلي جملې د مفعول په حيث په څېرمه (فرعی) جملو کې د هغوي د حال کيفيت وضاحت او څرګندونه ده.

يو څو مثاله چې مفعول د تابع جملې په سرکې راغلي وي.

څه فيصلې چې پښتنو ليکوالو د مفاهمې له لارې په ادبي جرګو کې منلي دي بايد له نظره ونه غورځولې شي. هغه کورونه چې ما ليدلي دي پاخه نه دي.

د مفعول په تابع جملو کې داسې هم وي چې د (چې) تابعيت د مفعول څخه د مخه وي.

چې څه ورته وايم هغه مني.

چې چاڅه ووي هغه ماوکړل.

چې چاڅه ټوټکې راوښودلې هغه مې کړي دي.

ج: هغه تابع جملې چې د فاعل او مفعول دواړو حالت او کيفيت څرګندوي:

لکه : اڅك چې يو ښه قلم درلود پرون ورڅخه ورك شو.

د : تابع مرکبې جملې چې د (خبر- مسند) يا فعل حالت او کيفيت بيانوي. دلته تابع جملې د اصلي جملې (خبر، فعل) حالت او کيفيت شرح کوي.

لومړی مونږ هغه مثالونه راوړو چې د جملې خبر اشاري ضمير او کومکي فعل (نژدې او لرې) وي او بيا د ربطي (چې) په واسطې د بلې جملې سره ارتباط ولري:

1- دخلکو وظيفه داده چې د وطن په ابادولو کې زحمت وکاږي.

2- زمونږ يوازينی کار به داوي چې خپل هيواد اباد کړو.

3- وسله هغه ده چې په لاس راغله.

خبر د ټاکلي توصيفي ترکيب په توګه:

4- دا يو ډېر ښه قلم دی چې په بل ځای کې نه پيدا کيږي.

5- دده يو غټ صفت دادی چې د هر چا له غمه خوب نه ورځي.

6- شخص د پاره: اديب هغه څوك دی چې په ادبي علومو کې د پوهې خاوندوي.

7- اسمي خبر په تابع جملو کې د (داسې) قيد راغلی وي:

د افغانستان ډیر خلك داسې دي چې خپله ځمکه په خپله کري.
8- خبر د مقدار او اندازې ضمیر په توګه:
لنډه دا چې ددې ماشوم وړ وکوالی او کمزوري دومره وه چې د ژوند تمه یې نه کیدله.
9- تابع خبر د اشتراکیت د قید او د اشاري ضمیر سره د ترکیب په توګه:
د هر اولس ډیري خوږې کیسې او خوږې سندرې هم هغه دي چې زړه راکښون ولري.
10- خبر د یو اشاري (توصیفی) ترکیب (غونډ) په توګه:
حمید ماشوخیل هغه نازکخیال شاعرو چې اسمان ته د شعر زینې ایښودل د اسمان ستوري د شعر په لړ کې پیل دده هنر دی.
11- تابع خبر عددي ترکیب وي:
دادریم وار دي چې زه راځم او ته نه یې.

غبرګه جمله چې د (اندازې درجې مقدار) تابعیت ولري:

غبرګه تابع جمله چې د اصلي جملې د فعل د پېښید درجه اندازه او حالت بیانوي. مونږ په دې برخه کې د (داسې) او (دومره) ضمیرونه هم په دغه ډول جملو کې وینو چې د مقدار او کیفیت دپاره وي.

داسې د مقدار او د کیفیت د پاره:

دومره د اندازې د پاره. په نحوي استعمال کې د اندازې او درجې د قیدونو دنده ترسره کوي.
1- داسې او دومره د صفاتو سره رابطه لري. 2- د فعل سره هم رابطه ښیي.
لکه: ځینې جملې او کلمې په وینا کې دومره لنډې شوي دي چې یوې کلمې غونډې وي. داصلي (عمده) جملې اندازه د تابع جملې څخه ښکاري یعنی د اصلي جملې تفسیر کوي همدارنګه داسې:
دوي داسې کلك ویده شوي وو، چې د هیچا په چیغو او نارونه ویښیدل.
پرته له دې د (څومره، څومره چې، ترکومې اندازې، ترکومه، هرڅومره، هر څومره چې او داسې نورو تابعي کلمو په مرسته غبرګې تابع جملې په پښتو ژبه کې موجودې دي. ددې دپاره دغه لاندیني مثالونه ګورو:
1- څومره چې ګړی تېریدلې هغومره په خلکو کې د مهربان افسر دراتلو تلوسه زیاتیدله.
2- څومره به چې وخت تیریدونو هغو مره به خلك زیاتیدل

3- ځومره چې به شپه پخیدله نو د خان پریشاني به زیاتیده.
4- هر ځومره چې د یو ملت شعر او ادب عالي وي هغومره یې اخلاقي نظر او روحیات یې لوړ وي.
5- ترکومې اندازې چې (په کومه اندازه چې) علمي سویه لوړیږي او ترکومه حده چې خلك له حقایقو سره اشناء کیږي په هماغه اندازه د خلکو د هدف مقام لوړیږي. د پورتنیو جملو په ساختمان کې وینو چې:
1- د جملو لومړی فقرې فرعي او دوهمې فقرې اصلي (خپلواکې) دي.
2- په (1-2-3) جملو کې د فعل نابشپړ صورت او تېره زمانه په دواړو جملو کې ځرګندوي.
4- جمله د مطلق (بشپړ) فعل ښکارندوینه کوي.
5- په جمله کې د اوسنۍ زماني د نابشپړ (استمراري) فعل جریان راغلی دی.
په دې برخه کې داسې مثالونه هم وینو چې اصلي جمله د ځو فرعي جملو غوښتونکې وي.
تاته ښه معلومه ده، چې هر حرکت په لومړۍ مرحله کې د رنګارنګو موانعو او مشکلاتو سره مخامخ کیږي نوځومره چې هغه حرکت مخ په وړاندې ځي او زمانه ورباندې تیریږي هغو مره یې په مخ کې موانع کمیږي.
په دغه ډول مرکبو جملو کې مونږ مقابلوي او نتیجوي مفاهیم هم ونیو چې په پورتنیو مثالونو کې یې بیلګې شته دی.
د ځای (مکان) تابعیت : معمولاً غبرګې تابع جملې د هغو ربطیه نښو په مرسته چې د ځای ځرګندونه وکړي د اصلي جملې سره یو ځای کوي او تابع جمله د اصلي جملې د ځای شرح او ځرګندونه کوي په دې معنا چې د عمده جملې د فعل پېښیدنه په کوم ځای کې شرح او دغه د ځای تابع جمله د چېرې، چېرته، کوم ځای کې سوالونو ته ځواب ورکوي.
د (هلته، چېرته، چېرې) قیود د (چې) ربطي ضمیر سره تابع جملې د اصلي جملو سره نښلوي او هم په دغه وخت کې د تابع جملې یو جز (ځای) هم ګڼل کیږي:

چېرې دې ښه هلته دې شپه:

د ځاي تابعیت د مرکب ترکیب په واسطه: هر چېرته چې، د ثقافت خاوره بډایه او حاصل خیزه وي د علم او هنر بوټي هم هغلته زرغونیږي او ګلان نیسي.

په دغه ډول جملو کې (هر چېرته) په مقابل کې (هغلته) او د (چیرته چې) به مقابل کې هلته راوړی شي.
په اصلي جمله کې چې ربطي کلمې نه وي تابع جملې د هغه د اصلي جملې بیان ځرګندولای شي لکه:

چیرته چې ځې ما هم له ځان سره بوځه.

همدارنګه چې د چیرې قید او ربطي ضمیر چې په تابع جملو کې راځي نو د قید (چیري) په ځاي نوم، (ځاي) هم په دغه برخه کې راځي او په اصلي جمله کې د ځای د قید وظیفه تر سره کوي.
مونږ په داسې ځای کې استوګنه کوو چې نور ځوك نشته. یا مونږ داسې ځای ته راغلي وو، چې د غاښې ترسره پورې نورې نیغي او کږې وږې لارې نه وې پاتې.
دغه بل مثال کې ګورو چې په دواړو کې قید راغلی او د ځای تابعیت په ځرګند ډول لیدلای شو.

مونږ هغه ځاي ته ولاړ و چې هلته خلك نه اوسیږي.

په دغه ډول جملو کې داسې اشکال هم لیدلی شو چې د تابع جملې مسند د اصلي جملې څخه وروسته (په پای کې) راغلی وي لکه:

یوه ورځ مونږ هغه ځای ته چې هلته د وړکتون ماشومانو لوبې کولې ورغلو.

غبرګې جملې چې د وخت تابع جمله ولري:

په پښتو ژبه کې د وخت تابع جملې معمولاً د (اصلي) جملونه مخکې راځي. د وخت ځرګندونه د (چې) ساده ربطیه او مرکبو شکلونو کې لکه: کله چې، څه وخت چې، هغه وخت چې (هله- هاله هغه مهال چې، هر کله چې، تر څو پورې، چې، ترڅو چې، څو چې او داسې نورو په مرسته کیږي.
لومړی، د (چې) په مرسته تابع جمله:

چې ته راشې زه به ولاړ شم.

زه به هله ځم چې خبره خلاصه شي.

یا دا شرف خان هجري دغه شعر:

ما هاله د ځان ماتم وکړ په وینو+ چې اټك وته مې شاه کړه په ژړا شوم.

یا دا بل مثال: هله به خبر شې چې تارو جبې ته ورشي.

په هغه غبرګه جمله کې چې يوه پېښه په دواړو (اصلی، فرعی) برخو کې تکرار او يا بېلې بېلې واقعې وي د (چې) ربطيه د فرعي جملې په سر او يا په دوهمه برخه کې د اصلي غړي نه وروستی راشي.

فرعي جمله د مخه او اصلي جمله وروسته د (نو) سره شروع کيږي. په دې معنا چې د شرطيه جملې نه وروسته جزائيه جمله د (نو) سره پيل کيږي.

لکه: چې شپه په تېريدو شي نو سباپسې را درومي.

چې خلك ترينه لاړل نو دی غريب يوازې پاتې شو.

دلته (چې) د وخت په معنا استعماليږي.

کله هم د (چې) تړونی د فرعي جملې د يوه غړي نه وروسته هم راځي. د فاعل مربوطه غړونه وروسته.

د فابريکې خاوند چې دا خبره واوريده سم د لاسه يې فابريکه وتړله.

(چې) په تابع جملو کې د قيودونه وروسته هم راځي.

1- پروسږ کال چې راغلی وم نو دلته يو ښه شاځلمی چامړ کړی و.

2- دې زمانه کې باد داسې را الوتی دی چې ته پر کرسۍ ناست وې نو ستا هم سترګې په اسمان کې وې.

په (2) جمله کې(چې) د (کله چې) په معنا د تابع جملې په سرکې راغلی دی.

په پښتو ژبه کې دچې ربطيه (تړوني) سربيره په نورو معناګانو د زمان معنا هم ورکوي او په دې ډول جملو کې عمده (اصلي) جمله د تابع جملې څخه وروسته راځي.

د تابع او اصلي جملې خبر، په هغو جملو کې چې چار ياکار په دواړو جملو کې په يوه وخت (زمان) کې سر ته رسيدلی وي د قاعدې په توګه د دواړو جملو فعلونه استمراري (نابشپړ) صورت ښيي: چې لمر راخيژي نو ورځ کيږي.

مېلمه چې له کوره وځي نو کور به هم ورسره بدرګه ځي.

همدارنګه داسې جملې هم شته چې د تابع (فرعي) جملې فعل مطلق (بشپړ صورت) او اصلی (خپلواکه) جمله استمراري (نابشپړ) شکل ولري:

زه چې تږی شم او به غواړم. زه چې ستړې شم استراحت کوم. دوستان چې سره مخامخ شي نو روغ بړسره کوي.

بله هم زمانه پیښنه د مطلقي (بشپړې) تېرې زمانې څرګندونه کوي.

1- چې درخو سترګې وغړولې نو هغه ښتره ورته ولاړه وه، چې د چا په خیال کې او ده شوې وه.

په دې ترتیب یو بل مثال هم راوړو:

چې یوه پېښنه (عمل) په پرله پسې توګه یعنی د یوې پیښنې پای او د بلې پیل وي.

داکبر خان خبرې چې مې واورېدې په زړه مې ورته اور بل شو.

همدارنګه هغه غبرګې تابع جملې چې فرعي جمله یې د اوسنۍ زماني او اصلي جمله یې دراتلونکې زمانې د بشپړ فعل څرګندویه وي.

1- احمد چې له ښوونځي نه راشي نو بازار ته به یې ولیږم.

2- چې منزل ته ورسېږو خبرې به وکړو.

غبرګې جملې چې د مقصد تابع جملې ولري:

د مقصد تابع جمله د اصلي (خپلواکې) جملې په فعل (مسند) پورې د (چې) ادات په واسطه نښلي لکه:

زه راغلم چې تا ووینم. 2- کتابتون ته ځم چې کتاب ولولم.

د مقصد تابع جمله د اصلي (خپلواکې) جملې څخه مخکې هم راځي نو هغه وخت د تابع جملې په پیل کې (ددې د پاره چې) ربطیه (سیوز) راځي. (ددې د پاره چې په ازموینه کې بریالی شي ښایي ښه سبق ووایي:

علتي یاد علت تابع غبرګه جمله:

هغه ده چې یوه په کې د بلې دلیل اوسب وي او د علت (ربطیه) ادات (ځکه، ځکه چې چې، دا چې، په دې چې، نوولې او داسې نور دي.

همدارنګه له دې کبله چې، له دې سببه چې، هر کله چې، (ځنګه چې) هم مرکب تړونکی علتي ارتباط ګڼل کیږي[1].

1- بریالی په ښوونځي کې بریالي نشو ځکه چې سبق یې نه وویلی.

دلته د بریالي د پاتې کیدو علت د سبق نه ویل دي.

2- دغه سړی ښه عادت نه لري ځکه ورسره څوك راشه درشه نه کوي.

---

[1] **دمقصد په تابع مرکبو جملو ک   فعل داوسنۀ زمان   مطلق شکل راوؤل کيإى.**

پرون پوهنځي ته تللی نه وم ځکه ډېر کارمې درلود. دلته عمده اصلي جمله د مخه او مله یا تابع جمله وروسته راغلې ده.

هغوی خوماته غټ غله وو ځکه چې یووټ یې راباندې په ځو ځو شانه خرخ کړی دی.

عمده تابع

همدارنګه دغه بل مثال هم ګورو:

الف: په زور او دولت مې ځان میمبر کولو ددې د پاره چې میمبرۍ کې نور زور او دولت پیدا کړم.

په دغه مثال کې دوهمه جمله اصلي او عمده جمله ده.

ب: زه ددې له پاره (له دې کبله) ستا سره ځم چې لار درته وښایم:

تابع اصلی عمده

ج: ښنګه چې تاویلي وو نو ځکه راغلم.

د: ښنګه چې دی ناروغه ونورانغي.

پورته د الف: ب، ج، د، مثالونو کې وینو چې ورستۍ جملې اصلیس یا عمده دي او مخکنۍ تابع (فرعی) جملې دي.

غبرګه شرطیه تابع جمله:

په دغه ډول غبرګه جمله کې هم یوه اصلي او بله (فرعي) تابع جمله وي او تابع جمله معمولاً د اصلي جملې څخه د مخه او کله هم وروسته یا داصلي جملې په منځ کې هم راځي په دغه ډول جملو کې اصلي جمله د شرطي جملې یوه برخه یا د هغې ځواب هم ګڼل کیږي.

په پښتو ژبه کې شرطیه جملې د (که چیرې، که چیرته، که کله او همدارنګه د (چې) د ارتباط په مرسته سره نښلي په نحوي لحاظ د (که او چې) ترمنځ په شرطي جملو کې فرق نشته.

1- که:

1- که ته راغلې زه به هم درشم (راتلونکی زماني فعل).

زه به درشم اصلی جمله، که ته راغلی تابع ده.

2- که ملالۍ دې ولیدله سلام ورته ووایه.

ملالۍ دې ولیدله (تابع) ملالۍ ته سلام ووایه (اصلی).

3- که باد نه وي ونه نه ښوري.

4- که داسې يې شميرم نو زه به يې په شميرلو ستړی شم او تاسې په لوستلو. په دغه مثال کې د شرط او جزا دواړه (ربط) راغلي دي. يعنی په کومه جمله کې چې د شرطيه (ربط) راغلی وي نو (جزائيه) ربط هم راځي او هم پرته له هغې څخه لکه چې په لوړو مثالونو کې موولېدل.

که چاړه د سروزرو شي نو په کېډه (ځيګر) خويې څوك نه منډي.

2- (چې) د شرط په معنا :

چې شاعر دې دوست شي شعرونه يې ستايه

دلته (د شاعر شعرونه ستايه) اصلي جمله ده چې شاعر دې دوست شي) تابع جمله ده.

همدارنګه دغه مطلب په لاندې متلونو او اصطلاحګانو کې هم ليدای شو.

1- چې ولاړ شي تر بلخه درسره به وي خپله برخه. (2) چې نه دې وي له موره ورته مه وايه چې وروره (3) چې خان يې په ياران يې.

2- د شرطيه له پاره (مرکب ربط) لکه (که چېرې – که کله) هم دود لري.

که چېرې په تندي يې د تور کاکا د ديوال داغ نه وي نو ما به هم نه وپېژندلی.

3- که کله : که کله راپېښ شوې نو موزيم ته به لاړ شو.

(که کله) د زمان مفهوم ورکوي خو بيا هم په دغه جمله کې د شرطه نښه ده.

په غبرګو تابع شرطيه جملو کې د فعلونو زمانه:

اول چې اصلي او فرعي جملې د اوسنۍ زمانې فعلونه ولري لکه:

1- که ته ځې ولاړ شه مګر ژر راشه.

دلته ګورو چې د تابع جملې فعل نابشپړ او اصلی جملې فعل بشپړه اوسنۍ زمانه ښيي.

2- که دې زړه غواړي چې زمونږ سره لاړ شې نو ځان جوړ وه.

د دواړو جملو فعلونه نابشپړه اوسنۍ زمانه ښيي.

3- که څوك يو کارکوي او شوق ورسره نه لري هغه هيڅ کله په هغه کارکې نه کامیابېږي.

دوهم په غبرګه تابع شرطيه جمله کې چې اصلي جمله استمراري حال فعل او تابع يې مطلق (بشپړ) فعل حال راغلی وي.

1- که کومې پردۍ ژبې ته غوږ کېږدو نو غوږونو ته مو ځينې بې ربطه او ګډو د غږونه راځي.

لومړی فعل بشپړ او دوهم يې نابشپړ صورتونه دي.

2- که دهقان په خپلې ځمکې کې خواري ونه کړي له ځمکې څخه غله نه اخلي.

3- که یوه دیکه دې ورکړه   سایې خېژي.
مطلق   استمراری
دریم په شرطیه تابع جمله کې د تېرې زمانې فعلونه راغلي وي. لکه:
که لیك دې ماته لیکلای وای نو خوشحاله شوی به وم.
که تاسې ویلی وای ما به کتاب راوړی و.

د متضاد (تقابل) تابع غبرګه جمله:

دا هغه ډول جملې دي چې د اصلي (مستقلې) او تابع (فرعي) جملې ترمنځ په واقعي، غیر واقعي توګه تقابل او تضاد موجود وي او سره د اختلافه توازن هم ولري دغه ډول جملې معمولاً د (تړوني) ربطیه تابع اداتو په مرسته یو ځای کیږي. دغه ربطیه تابع ادات یا ساده او یا خو مرکب ډول وي اوکله هم په ځینو ځایونو کې پرته د تابعیت له اداتو څخه څرګندیږي. په پښتو ژبه کې زیات مثالونه د مرکب تابع تړوني (ربط) په وسیله ښودلای شو.
معمولاًلومړی ډول مرکب تړونی (تابع) د (که) شرطیه او مبهم ناټاکلي ضمیر (څه) او هم تاکیدي اداتو له ګډون (ترکیب) څخه جوړ وي بل ډول یې د (سره) قید او (له) ادات، (دې) اداتي ضمیر له ترکیب څخه جوړیږي چې وروسته به یې مثالونه راوړو. دغه تابع ادات د فرعي جملې په سر او یاد فاعل څخه وروسته هم راځي.
اصلي (مستقل) جمله معمولاً د (نو، ولې، نو بیا هم، خو بیا هم، ولې بیا هم، مګر، لیکن) خلافي اداتو سره پیل کیږي.
1- که څه هم مازیار ایستلی وخوبریالی نه شوم.
2- که څه هم مارابللی نه و بیا هم راغی.
3- که څه هم په دې ورځو کې د نړۍ لاتجې زیاتې شوي دي خو بیا هم نړۍ (سولې) لپاره کوښښ کوي.

(سره له دې):

سره له دې چې ناروغ وم پوهنځي ته ولاړم. سره له دې چې کارمې درلود خو پوهنځي ته لاړم.
سره له دې چې ناروغ وم خو بیا هم پوهنځي ته لاړم.
د اصلي جملې په سر کې (ولی) هم ورسره راځي:
سره ددې چې په کور کې کومه ستونزه نه لري ولې وظیفې ته ناوخته راځي.

د اصلي جملو په سرکی مگر:
ژبه که څه هم په ښکاره ډول دغوښې یوه ټوټه ده مگر په حقیقت کې د انسان، سرېتوب، پوهه، ښه ژوند او داسې نور ټول په ژبه پورې اړه لري.
د مستقلې (اصلی) جملې په سرکې (لیکن):
که څه هم رڼا لږه شوه لیکن لاره ښه معلومیږي. همدرانګه د تابعیت ادات د جملې په سرکې او (سره ددې) د اصلي جملې په سرکې هم راوړل کیږي.
که څه هم هلې ځلې موږېږې وکړې سره ددې خپلو هیلو ته ونه رسیدو.
په پښتو ژبه کې برسره پردې یو شمیر داسې مثالونه هم وینو چې ددغه پورتني مطلب څرګندونه کوي. که څه هم د تابعیت تړونی ورسره په ساده توګه او یا هیڅ نه وي خو بیا هم تقابل او تضاد ښیي.
1- وسله که بار ده په سخته ورځ په کار ده.
(2) که غرلوی دی پر سپریې لارده. چې دا د یو متل په توګه فرازیالوژیکي ترکیب ګڼل کیږي په بل ډول به داسې ویل کیږي. که څه هم وسله بار (زیاتي) ده خو بیا هم په سخته ورځ کې په کارېږي.
څوك یې په ګلي کې نه پرېږدي وایي اس مې د خان کره وتړه.
دلته د تابعیت کومه نښه نه وینو خو څنګه چې د پښتو ژبې یوه مشهوره اصطلاح ده او دغه ترکیب په معنوي لحاظ یو فرازیالوژیکی تړلی مطلب څرګندوي.
سره له دې چې څوك یې په کلي کې نه پرېږدي مګر وایي چې اس مې د خان کره وتړه.
مقایسوی (پرتلیز) غبرګه تابع جمله:
د اصلي جملې بیان د مقایسې په مرسته کیږي د څنګه، لکه چې، لکه څنګه چې، څنګه پروسیله مقایسه کیږي. (څنګه غروي هسې ځناوروي).
څنګه مخ هسې خپېږه. یا څنګه ژرنده هسې دوړه.

نتیجوي غبرګه تابع جمله:

په دې ډول جملو کې هم تابع جمله د اصلي جملې نتیجه او پای بیانوي:
1- هغه ډیر زیاروکیښ تر څو بریالیتوب یې په برخه شو.

2- زه په خپله هم نه پوهیږم چې د سرو تعویذ ته ډرامه ووایم که ناول، افسانه ده که نور څه نو ځکه دا فیصله ګرانو لوستونکو ته پرېږدم.

3- ده چې پر تو د چای پسې سمدلاسه سرې او به وڅښلې نو ناروغه شو.

غبرګې جملې چې د یوستو و جملو شمېر په کې له یوې یا دوو څخه تېرى کړې وي:

هغه غبرګې (پیوستې او تابع) جملې چې د مخه مو ښودلې دي په هغو کې دجملو شمېر او اندازه دووته رسيږي او په خپل خپل ځاى مور اوړې دي ولې څنګه چې ليدل کيږي د ادبي پښتو ژبې په ساختمان او جوړښت کې داسې غبرګې جملې په نښه کولاى شو چې د درويا زياتو جملو لرونکي وي که څه هم په خپله د پښتو ژبې د جملو په جوړښت او ساختمان کې ډير کړکېچن او مغلق شکلونه نه ځايږي، ولې ترکومې اندازې پورې چې ليدل کيږي په پښتو ژبه کې ددغه ډول غبرګو جملو جوړښتونه په لاندې توګه راوړو:

الف: په غبرګه جمله کې چې د يوې يا څو جملو په واسطه د بلې مربوطه جملې کيفيت، حالت روښانه کړى شي.

ب: چې د اصلي (عمده) جملې نه وروسته دوه... داسې تابع جملې راغلې وي چې او له جمله يې د مبتدا توضيح کوي او دوهمه يې د لومړۍ تابع جملې وضاحت کوي[1].

په غبرګو تابع جملو کې داسې مثالونه وينو چې دوه اصلي جملې يا ورسره دوه فرعي جملې (تابع) راغلی وي او يا څو يوه اصلي دوه تابع يا دوه اصلي يوه تابع او دغه جملې بيا په خپلو منځو کې د تابعيت يا د توازن (مساوي) رابطه هم لري.

ددې له پاره دغه لاندينی جملې راوړو:

1- شپه چې پخه شوه او ټول ويده شول ادم خان د درخوديدن له ملاوتړ له. دلته دوه تابع (فرعی) جملې چې عطفي رابطه سره لري مخکې او دريمه اصلي جمله وروسته راغلې ده.

2- کله چې دوى راغلل او کارونه يې سرته ورسول د ځانګې مشرله دوى څخه ډېر مننه وکړه.

3- که کارونه مو خلاص کړل او هوا هم ښه وه د ګلونو مېلې ته به لاړ شو.

4- هغه افکار چې ګډوډ ليکل شي او يو له بله رابطه ونه لري د تاليف ارزښت نه لري او د ليکونکي د انشايي قوت ډېره نيمګړتيا څرګندوي.

---

[1] **پوهاند صديق الله ر تين، پ تو رامر 2 وك كابل د** 1370 **لمريز كال چاپ.**

دوه لومړۍ تابع او دوه وروستۍ اصلي جملې دي چې بیا په خپلو خپلو منځنو کې عطفي رابطه هم لري.

5- هغه ځوك چې ډیر مقید روزل شوي وي او ډېر ویریدونکی وي خیال او فکریې لکه کورنی مرغه لوړ پروازنه شي کولای او په اثارو کې یې د عالي فکر او ازاد خیال نښې نښانې نشولیدلی.

په پنځم مثال کې لومړۍ دوه تابع جملې د عطف په مرسته یو ځای شوي چې دوهمه دلومړي حال ښیي او ورپسې دوه یوستوې جملې دي چې د اصلي (عمده) جملې دنده لري داهم په خپلو منځو کې عطفی ارتباط لري او په مجموع کې تابع مرکبې (غبرګې) جملې ګڼلې شي.

5- په غبرګه تابع جمله کې دوه د تابع جملې د اصلي (عمده) جملې کیفیت حالت ځرګندوي لکه:

6- په (1345) ش کال کې د خوشحال ختك د لمانځنې او درناوي یوه درنه کالیزه جوړه شوې وه چې په هغې کې ډیرو پوهانو، لیکوالو، شاعرانو برخه اخیستې وه او غوره مقالې او مضامین یې لیکلي وو. په دغه مثال کې لومړۍ اصلی (عمده) او دوه نورې د لومړې جملې بیان او شرح ده.

7- بل مثال: مزدورې ماته وویل، چې نور ځواب نه شم ورای ځکه مونږ مزدور خلك یو او له کوره به مو وباسي نو بیا به کومې خوا ته ځو.

په دغه جمله کې د لومړیو جملو شرح علت او نتیجه په وروستیو جملو کې بیان شوې ده.

8- هغه دوه تابع جملې چې د اصلي جملې نه وروسته راغلې وي چې اوله یې د مبتدا توضیح کوي او دوهمه یې د لومړې تابع جملې وضاحت کوي. لکه: اصلي پوهه هغه ده چې په هغو لارو لاس ته راشي چې خلکو ته پرې فایده رسیدای شي.

په پښتو ژبه کې د غبرګو په تېره تابع جملو جوړښت، نه دومره لنډ او نه خو هومره مغلق او کړکیچن جوړښت لري، چې اصلي مطلب په کې تري تم شي.

یادونه:

معترضه جملې:

دلته د معترضو جملو په باب ښایي دومره ځرګندونه وشي چې دا هغه ډول جملې دي چې په فعلي جملو کې د فاعل، مفعول او فعل ترمنځ راوړل کیږي خو د اصلي جملې سره کومه نحوي رابطه نه ساتي. دغه ډول جملې د یوستوو جملو او کله هم د غبرګو جملو په منځ کې ورغورځیږي

که چېرې دغه جمله له دغه نحوي ساختمان څخه راوویستل شي د جملې اصلي مطلب ته کوم تاوان نه رسیږي.

معترضه جملې اکثرا د عایه وي یا د بلې جملې وضاحت کوي لکه:

دغو خلکو (خدای دې ورسره ښه وکړي) له تا سوسره پوره مرسته کړې ده. په دغه جمله کې (دغو خلکو (مغیره حالت) مبتدا (مسند الیه) او (له تاسو سره مرسته کړې) خبر (مسند) د جملې اصلی (عمده) برخې دي.

او (خدای دې ورسره ښه وکړي) معترضه جمله بلله کیږي.

زمرك دې خدای په خوشحالیو پټ کړي له دوي سره یې ډېرې هلې ځلې وکړې.

په لوړه جمله کې هم (خدای دې په خوشحالیو پټ کړي) معترضه جمله ده. او (زمرك له دوي سره ډېرې هلې ځلې وکړې) اصلي جمله بلله کیږي.

په پښتو جملو کې د جملې د يوې برخې يا اجزاو (ايلپسي Ellipsis) د حذف مسئله:

مونږ د پښتو ژبې په جملو کې داو ښود له او په ټاکلي او معينه توګه څرګنده شوه چې هره يوستوې او يا غبرګه جمله د مسند اليه، مسند يا (فاعل، مفعول، فعل) درلودونکي وي چې بيا هره برخه دخپلو مربوطه توکونو (اجزاو) سره په ټاکلي او ثابت ترتيب سره راځي. ولې دلته مونږ هغې موضوع ته پاملرنه را اړوو چې کله يوه جمله يا يو بشپړ مطلب داجزاو په لحاظ بشپړ نه وي.

خو د اباید ووايو چې په متن (کانت کس..) کې د جملې د اجزاو يا د برخو حذف او نه راوړل د جملې په معنا کې کوم بدلون نه ښيي البته په دې شرط چې يوه قرينه او نښه ولري. مونږ ددې مقصد له پاره د يوستو او غبرګو جملو ځيني مثالونه په لنډه توګه راوړو. که څه هم دا موضوع ډيره پراخه او زياته څيړنه غواړي.

الف: د (فاعل (مسند اليه) حذف:

لومړۍ بېلګه: زمرك پوهنتون ته راغی او ولاړ.

په دويمه جمله کې ولاړ په يوازې توګه راغلی دی چې اوريدونکی او لوستونکی دجملې د لومړۍ برخې په معنا پوره پوهيږي او فعلونه د عطف په صورت کې راوړل شوي دي، نوپه دې اساس د دويمې جملې فاعل هم څرګنديږي چې په خپله (زمرك) دی.

ځنګه چې په لومړۍ جملې کې د فاعل د نوم (زمرك) يادونه شوې ده نو په دويمه جمله کې يې راوړل ضروري خبره نه ده.

دويم مثال:

اوښکې خوړونه شول بيا سيندونه شول او بيا وياله شوې او وروسته د ګل پرشاخ کې وچليدې.

په دغې جملې کې هم د يوه مسند اليه (فاعل) له پاره څو مسنده (فعل) او يا د هر مسند له پاره مسند اليه هماغه قرينه يعنی د لومړۍ جملې فاعل سره ارتباط لري. که چېرې لومړۍ جمله نه وي نو بيا به خبره بل ډول وي.

درییم مثال:

هلك هم پوه دی او هم زیارکښ یا هره ژبه له بلې نه څه اخلي او څه ورکوي. په دغو جملو کې د (هلك) او (هره ژبه) تکرار په دویمه جمله کې لاژمه نه ګڼل کیږي.

ځلورمه بېلګه: په هغو جملو کې چې فاعل يې شخصي ضمیرونه وي نو د فاعل نه راوړل د معنا له پاره کوم ضرر نه پېښوي ځکه د فعلي خاتمې له مخې د شخص (فاعل) څرګندونه کیږي.

په کلي ورننوتم= زه په کلي ورننوتم.

د یوې ننداري په ننداره شوم = زه د یوې ننداري په ننداره شوم.

پنځمه بېلګه کې ګورو چې مسند الیه د اختصار او لنډیز په غرض حذف شوی دی[1] که په یوې پوښتنې کې مسند الیه (نوم) راغلی وي نو په ځواب کې يې بیا راوړلو ته ضرورت نه لیدل کېږي.

1. ملا نصرالدین چېري و؟ 2- تاسی چېرته اوسیږئ؟

د لومړۍ جملې ځواب (په کور کې دی) او د دویمې جملې ځواب (په کابل کې اوسیږو) دلته مسند الیه نه راوړل کیږي نو اصل مطلب ته کوم زیان نه رسوي.

شپږمه بېلګه:

کله د مسند الیه (نوم) څرګندول مناسب نه وي نو بیا نه راوړل کیږي.

او یوازې د ځای او قرینې له مخې ویونکی او اوریدونکی پوهېدلی شي لکه (هلته پټ ناست دی) په داسې صورت کې چې بل چاته يې د نوم ښودل نه غواړي.

اوومه بیلګه:

د خطر او سختۍ او دوخت د تنګۍ په وخت کې: هله سوځي! ګوره پر یوځي! په دې ځای کې مسند الیه حذفيږي او د ځای او حال قرینه وربانديې دلالت کوي.

ب: د مفعول حذف:

په نحوه کې مفعول هم د فاعل د نائب په توګه د مسند الیه حیثیت لري او کله کله حذفیږي یعنی د نوم اخیستنه یې ضرر یا عیب او یا تکرار وي.

---

[1] **پوهاند صدیق الله ر تین، پ تو رامر** 2 **وك کابل** 1370 **لمریز کال.**

1- دوه داني مې واخېستل يعنى (دوه کارتوسه).
2- د سوال په ځواب کې راوړل يې هم بې ضرورته برېښي يعنى که په سوال کې راوړل شي نو په ځواب کې يې راوړل نه ښايي.
سوال: تا ژمني کالي جوړ کړي دي؟
ځواب: هو جوړ کړي مې دي.
بل مثال: ملالۍ خپلې ملګرې ته ليك ليکلی دی؟ هو ليکلی دی.
ج: د فعل حذف: د فعل يا کومکي فعل نه راوړل (حذفيدل) هم د پښتو ژبې په خاصو نحوي او سبکي جملو کې وينو چې په لاندې کرښو کې يې بيانوو:
1- په پښتو ژبه کې که څه هم په نحوي چاپېريال کې د فعلي او اسمي جملې خبر د فعل بشپړ فعل او کومکی فعل په مرسته جوړيږي ولې په ايليپسی (حذف) موضوع کې دغه برخه نيمګړې کيږي. ددې لپاره لومړی د هغو جملو مثالونه چې د مسند اليه او مسند څخه وروسته د (اسناد) کومکي فعل حذفيدنه وي راوړو او وروسته بشپړ فعلي اشکال:
مونږ دغه ډول مثالونه د پښتو ژبې په اصطلاح ګانو، متلونو، ديالوګونو، خبرو اترو، سوال و ځواب او ځينو نورو جملو کې ليدلی شو: خپل عمل دلاري مل. کوزوږ له خپله لاسه خوږ. د بيزو د وستې د ځان تاوان. دروغجن هيرجن.. په دغو مثالونو کې خپل عمل، کوږوږ، دبيزو دوستي، دروغجن د جملې مسند اليه او نورې پاتې برخې يې مسند دي ولې اسناديې حذف شوي دي.
2- په هغو جملو کې چې غبرګ مطلب ولري يعنى ددوو جملو ساختماني شکل ولري هم کومکي فعل په دواړو برخو کې نه وي راغلی لکه (سردې ګل بيخ دې پياز).
(ثوک خپه ثوک خوشحاله) (زه په تمه ته بې غمه) (خبرې ډيرې سرېې يو) په اوله جمله کې (دی) دويمه کې (وي) دريمه کې (يم يې) څلورمه کې (دی) حذف دي.
3- په جمله کې چې لومړۍ برخه پوره او دويمه يې د کومکی فعل ولېدلی وی.
نه خان يم نه زميندار ... ځان ښه دی که جهان...
خپله خوله هم کلاده هم بلا. . . هلك هم پوه دی هم زيار کښ.
ياوږ دی يازوږ. کتابونه ډېروو څه يې ښه... او څه يې نه...
4- په هغو غبرګو جملو کې چې فعل په دواړو کې مشترك وي د تکرار د مخنيوي په غرض:
1- چا ياران کتل چاماران.

2- یو موټر د پاسه راغی یو دبنکته او دواړه سره وجنګیدل.
3- زه ستاسې نه خوښي ځرګندوم او هغوی نه هم.
4- یو ځان نه ویني او بل جهان   5- کارغه یوه خواګرځي، بلبل په بله خوا.
6- د چا دیدار په کاردی او د چا دینار...
په دغو جملو کې لیدل کیږي، چې د غبرګو جملو په توګه استعمالیږي لومړۍ جملې د فعل او فاعل له مخې پوره دي مګر دویمې جملې یې د فعل (مسند) ټوله برخه او یا یوه برخه حذف شوې ده.
5- همدارنګه په ځینو شرطیه یا د پوښتنې په جملو کې هم حذف راځي لکه: چای ښه‌ی که اوبه؟
6- مسند (فعل) د سوال او ځواب په جملو کې هم حذفیږي په دی معنا چې.. په سوال کې مسند راوړل شوی وي مګر په ځواب کې د لنډیز لپاره نه راوړل کیږي لکه:
س: ږوند له خدایه څه غواړي؟   ج: دوې سترګې.
س: افضل ختټك څوك دی؟   ج: د خوشحال ختك لمسی
7- په تعجبی جملو کې هم د جملې ځینې غړي نه راوړل کیږي لکه:
1- رښتیا!   2- څه عجبه!   3- څنګه ناوخته!   4- افسوس!
5- سحرمې د ماما د پټي په سر پنځه زره روپۍ اخیستي دي! تعجب! ایله پنځه زره روپۍ!.
8- په وینا کې (فعل) د ځینو خاصو ځانګړتیاو او سبکي خصوصیاتو له امله هم یوه جمله پوره نه راوړل کیږي یعنی په هنري ادبیاتو کې په خاص سبك سره لیکوال د جملې د ځینو برخو بشپړول د لوستونکي ذهن ته پریږدي لکه:
1- مونږ څه هیبت څه ویره او څه د ټانګې او اسپې بد حال . . .
2- ماوي څه ګذاره000
3- دا مو دویمه غله ژرنده000 همدارنګه کله د تمسخر او خندا په غرض:
تاسو زمونږ تیار خواره . . .
د: کله په جمله کې قیدونه هم حذفیږي یعنی نه راوړل کیږي لکه:
په یوه باغ کې ځینې خس او خاشاك ټولوي او ځینې د ګلو دستې جوړ وي.

په دغې جملې کې د ځاي قيد (په يوه باغ کې) د دواړو جملو شامله برخه ده خوپه دويمې جملې کې يې حذف شوی دی خو د قرينې له مخې په مقصد پوهيدای شي. په همدې توګه مونږ زيات مثالونه ښودلی شو.

په ژبه کې دوينا د ګرامري اجزاو د ماهيت بدلون
(کونوېرژن Conversion)

په واقعيت کې کونويرژن اړونه، ګرځونه (له يوه حالت نه بل حالت ته تغيير، تصرف يا اړول، ګرځول، بدلول او معنا ته تغيير ورکولو مفهوم لري.[1] چې په دې توګه شرح کيږي:

الف: د يوې کلمې څخه د نوې لغتونو د جوړلولو طريقه هم ده په دې معنا چې په لغت جوړونه کې د اصلي کلمې مطلب د نورو اجزاو د ترکيب سره اوړي[2] د مثال په توګه.

(تورولی) په پښتو ژبه کې يوه (اشتقاقي کلمه ده، چې د (تور) صفت او (والي) ورستاړې څخه جوړه شوې ده. دلته ګورو چې صفت ددغې لاحقې سره دماهيت له مخې په نوم باندې اوښتی دی.

يا دا چې د يوه اسم څخه د فعلي ترکيب جوړول هم (اسمي) معنا په فعلي بآندې بدلوي. د ژبپوهنې اصطلاحي قاموس کې داسې هم راغلي دي چې يو اواز په بل اواز اوړي او يا خو (يو غږن اواز په بې غږه يا بې غږه په غږن اواز باندې بدل شي)[3] خو مونږ په دې برخه کې د اوازونو په کانويرژن باندې نه غږيږو يوازې په لنډه توګه د ځينو لفظي واحدونو لکه د (نوم، صفت، قيد، فعل) بدلون د ماهيت او معنا له مخې څيړو، ځکه دغه هم زمونږ د موضوع سره اړخ لګوي.

که څه هم دا موضوع ډيره ارزښتناکه او د غورو ده او په دې برخه کې څه کار هم نه دی شوی نو په دې توګه خورا زياته څيړنه هم په کارده.

په پښتو ژبه کې دوينا د ګرامري اجزاو د ماهيت بدلون:

د ګرامري اجزاو د ماهيت بدلون دا معنا لري چې يوه کلمه د ګرامري اجزاو د يوې معنا پر ځاي بله معنا او ځانګړتيا ترلاسه کړي، چې دغه تغير او بدلون ته کونويژرن يا د الفاظو معنوي

---

[1] پ تو ولنه، ان ليسي پ تو قاموس، کابل، 1354، (156) مخ.

[2] و، س، اخمانوا، د ژبپوهنی اصطلاحي قاموس، د شوروي دايره المعارف مطبعه، مسکو 1966 (202) مخ.

[3] و. س. اخمانوا. د ژبپوهنی اصطلاحی قاموس د شوروي د ايره المعارف، مسکو، 1966 (202) مخ.

تغيير ويل کيږي. د الفاظو معنوي تغيير يوه نحوي او سيمانتيکي مسئله ده چې يوازې او يوازې په جمله کې ښه څرګنديږي.

په پښتو ژبه کې يو شمير داسې کلمې او لغتونه شته چې د هغو معنا پوره روښانه نه وي د مثال په توګه د اسم، صفت او قيد کلمې چې ددوی ترمنځ ببلوالی په ځينو ځايو کې ګران دي ولې په نحوي چاپيريال کې هغه د استعمال له مخې خپله معنا څرګندولی شي.

همدرانګه د يوه اسم او صفت ترمنځ ببلوالی هم د نحوي موقعيت لـه مخې سره ببلولی شو د نحوي دريځ له مخې وينو. چې يو صفت په اسمي معنا بدل شوي وي او يا برعکس.

هغه عمليه چې يو صفت، فعلی صفت..) په نوم (اسم) بدل او اسمي مطلب څرګند کړي د سوبستانتيوا ځيه (اسمي کيدنه) په نامه ياديږي او يا برعکس که نومونه. . . د صفت په معنا راغلي او يا د صفت دنده ترسره کړي دغه عمليه بيا (اديکتيو اځپه) په صفت اوښتي وي يعنی (صفتی کيدل).د مثال په توګه:

په جمله کې د الفاظو د استعمال له مخې مونږ ويلی شو چې دغه کلمې څه حيثيت او دريځ لري. اسم دی که صفت که قيد او يا څه نور اشکال دي.

البته د لفظ او شکل لـه مخه څه نه شوويلی ځکه په پښتـو ژبه کې د اسم او صفت ترمنځ د شکل له مخه دګرامري کتـه ګوريو پـه لحاظ کوم خاص توپيرنه وينوولې د معنا پـه لحاظ توپير ښکاره کيږي. د څرګندونې له پاره يو څو نومونه او صفتونه سره پرتله کوو او ګورو چې د شکل لـه مخې څه ګرامري ببلوالی لري او که نه.

اول- نوم: الف: په پښتو ژبه کې يو شمير نارينه نومونـه دي چې د (ay -ی) په غبرګ غـږ ختم وی. د ګرامري کته ګوری له مخې مفرد عدد ، نارينه جنس او اصلی حالت لري لکـه. لړګی، سړی، ستوری، غړی، ميړی، وری.

ب: هغه نومونه چې په کانسونينټ ختم وي دا هم مفرد نارينه اصلي حالت لـري لکـه: کـور، اور، لور او داسې نور.

دويم: الف: په پښتو ژبه کې داسې صفتونه هم لرو چې پـه نرمـه (ی) (ay) پـه غبرګ غـږ مختـوم وي او د ګرامري کته ګوری لـه مخې هم مفـرد عـدد ، نارينـه جنس، اصلـي حالت لـري لکـه: نـوی، پردی، وړی، ښکلی، لوی، سوی.

ب: هغه صفتونه چې په اصلي غږونو (کانسونينټ) ختم وي.

او هم مفرد، عدد، نارينه جنس، اصلي حالت لري لكه: تور، موړ، سپين، سپور، كوز، ړوند.
د نومونو مثالونو له مخې ګورو چې د صرفي اوليك دود (ارفوګرافي) له مخه څه توپيرنه لري او په دغو كلمو كې جنس عدد او داسې نور ګرامري او لفظي نښې هم نشته چې يو تربله يې بېلونه وكړاي شي.
په دې توګه دغه لاندې مثال په مقايسوي ډول ګورو:
(ونه، لښته، مفرد مونث نومونه دي او (پخه، سپينه) هم مفرد مونث صفتونه چې جمع يې (ونې لښتې) (پخې- سپينې) دي.
ج: په پښتو ژبه كې يو شمير ځيني سو فكسونه هم شته دي چې هم د اسم د جوړولو او هم د صفت د جوړولو لپاره په كارېږي لكه: څوكيدار، زميندار (اسم). ميوه دار، ګلدار (صفت) پنډې، جوالي (اسم) وطني، دولتي (صفت) په دې توګه د بنوال او كامه وال ترمنځ هم كومه ښكاره د بېلوالي نښه نه وينو. په دې حساب ددغو پورتنيو ګرامري شكلونو او سوفيكسونونه د اسم او صفت بېلوالى نه څرګندېږي ځكه دغه ګرامري او اشتقاقي نښې نښانې په نوم او صفت كې مشتركې دي. يوازې د مفهوم او موقعيت له مخه سره بېلېداى شي.
يو بل مثال داسې راوړو:
1- (يو ليكونكى سړى) (2) (دكتاب ليكونكي وويل) د ساختمان او جوړښت له مخې لومړى مثال عددي توصيفى تركيب دى او دويمه جمله، چې د كتاب ليكونكى اضافى تركيب دى او د جملې د مسند اليه په توګه راغلى دى. دلته ګورو په لومړي مثال كې (ليكونكى) صفت دى چې د نوم (سړي) سره اړه لري او ګرامري مطابقت هم په كې موجود دى. تر موصوفه د صفت وړاندې والى هم په كې ليدل كيږي.
او په دويم مثال كې ليكونكى په خپله اسم دى، چې د فعلي جملې د مبتدا (فاعل) او اسم دنده ترسره كوي او د (وويل) فعل سره تعلق لري.
په جملو كې د ګرامري اجزاو د ترتيب په هكله بايد ووايو: په پښتو ژبه كې د كلمو موقعيت په جملو كې يو څه ثابت شوى شكل لري يعنى اول اسمي غونډ (مسند اليه، فاعل) او په پاي كې فعل (مسند) راغلى وي. او صفت د اسم نه د مخه او مفعول، ظرف، قيد هم د فعل څخه د مخه راځي مګر دغه ترتيب كله هم اوړي چې دجملو د اجزاو د ترتيب په برخه كې مو ورته اشاره كړې ده.

په اسمی توګه د کلام (ځينو ګرامري) اجزاو او بښتنه

1- صفت د اسم په توګه : (Substantivization) :

زمونږ سپين ږيري د قدر وړ دي يا زمونږ مشران ښه خلك تېر شوي دي.   مشران سره جرګه شوي دي.

په نومړو جملو کې سپين ږيري يا مشران صفتونه دي چې د نوم په توګه راغلي دي. محترمو مشرانو! مشران په ندايي حالت کې د اسم په توګه دريځ لري يعنی په خپله د اسم وظيفه يې ترسره کړې ده. چې د نورو اسمي ډلو په څېر د صفت، قيد او نورو توابعو قبلوونکي هم دي. دلته ګورو چې د (مشران) معنوي دريځ هم هغسې دی لکه چې (دوستان) يې لري.

د (محترمو دوستانو!) په جمله کې وينو (محترم) د دوستانو سره توصيفي ترکيب ګنډل کيږي نو د (مشران) سره هم محترم دغه ډول ترکيب دی.

همدارنګه (لويان مهربان دي) (کشران بې تجربې وي). هم په دغه ډول مثالونوکې راځي. په دې توګه سپين ږيری (د زوړ په معنا) او سپين سترګی صفتونه دي چې په جمله کې د نوم (فاعل) په توګه راځي لکه: سپين ږيري راغی ياسپين سترګې ولاړه.

دويم: فاعلي صفات هم زيات اسمی رنګك غوره کوي. اولاداسې مثالونه په پښتو کې لرو چې دغه فاعلي صفات کورټ اسم ته اوښتي دي. او خپله اصلي صفتي معنا يې له لاسه ورکړې ده. لکه: ښوونکی، چلوونکی، ګنډونکی چې د (ښوول، چلول، کنډل) د فعلي ريښې څخه جوړ شوي دي. همدارنګه ځيني داسې مثالونه هم وړاندې کوو چې د فاعلي صفت معنا په اسم اوښتي وي بېلګه:

ځيني معلومات ګرانو اوريدنکوته وړاندې کيږي.

دلته (اوريدونکوته) په دويم حالت کې د اوريدونکي دجمع شکل دی چې د (ته) پسينې د عمل په وجه يې (و) وروستاړی منلی دی او د جمع اسم ارتباطي (مفعول له) حالت په توګه راغلی دی. دغه شان د (ښه اوريدونکی، ښه ليکونکی) په ترکيب کې داسمي مرکز په توګه وظيفه لري.

درېيم: مفعولی صفت د اسم په توګه:

1- مار خوړلی له رسۍ همه ببريږي 2- اوبو اخستی خلوته هم لاس اچوي.

3- خدای بخښلي څه ښه کارونه يې سرته رسولي دي.

څلورم : مصدر داسم په توګه:

1- کښتۍ را وځغلیدې او د مالونو کوزیدل او ختل شروع شول.
2- ددې باغ په ښایسته کولو کې د طبیعت نه علاوه د روزنې لاسونه هم خپل پوره کمال ښودلی دی

اسم د (صفت په توګه (ادیکتیوا ځیه):

دلته یو اسم د صفت په توګه معنا ښندې لکه:
1- دوی په تیاره کوټه کې ناست دي (2) دلته رڼا ورځ نه ده.
په دغو مثالونو کې (رڼا اوتیاره) په اصل کې نومونه دي ولې په دغو جملو کې د صفت په توګه دنده لري.
فعلي صفت د مطلق صفت په توګه راغلي وي:
1- مسافر وړونکې کښتۍ د سمندر په غاړه ودریده. 2- خبررسوونکي اژانس وویل
3- خبر لوڅ خلك بل كارنه لري. 4- له پروت زمري نه ګرځنده کیدړ ښه دی
په دغه مثالونو کې کښتۍ، اژانس، خلك، کیدړ نومونه دي چې فعلي نومونه، صفتونه د مطلق صفت په توګه ورسره کار ورکوي.
همدارنګه مفعولي صفات هم په دې برخه کې راتلاې شي لکه:
1- وهل شوی کاروان راورسید. غم ځپلی زړه یې وچاود.

صفت دقید په توګه:

څنګه چې په ځینو ځایونو کې د صفت او اسم پیژندل ګران کار دی په همدغه توګه دصفت او قیدونو بېلو نه هم څه قدرې فکر غواړې مګر دغه توپیر په نحوي چاپیریال کې ډیره اسانه خبره ده، ځکه په پښتو ژبه کې صفات دقید په توګه دنده تر سره کوي او هم د تاکید په مفهوم سره راوړل کیږي. څنګه چې وینو یو صفت په یوې جملې کې صفتي معنا لري مګر هماغه نوموړی صفت په بلې جملې کې دقید او تاکید وظیفه لري لکه دغه لاندې څو مثالونه ګورو.
مالیار ښه ګلان وکرل. بزګرانو ښه غنم وریبل. دلته (ښه) د یو صفت په توګه معنا ورکوي مګر په دې جملو کې: بزګرانو څمکه ښه او به کړه. خوشحال خان ښه تورځن و.
په دعو جملو کې (ښه) د قید دنده لري. ایا دوي ډیر ښه خلك دي. 2- دوي ډیر ښه کار کوي.
په اوله جمله کې (ډیر ښه) قید او تاکید دی او د اسم (خلك) سره توصیفی ترکیب په توګه داسمي جملې خبر جوړ وي.

په دویمه جمله کې (ډیر ښه) تاکیدي قید دی. او د فعلي جملې د خبر دمتعلقاتو څخه دی. یا دا بل مثال ته هم پاملرنه کوو:

1- ترنده غوا راغله 2- ترنده ترنده شاوخوا ګوري. 3- غواو تریده. په اوله جمله کې د صفت او په دویمه جمله کې قیدي معنا ورکوي. مګر په دریمه جمله کې داسمي ماهیت پر ځای فعلي ماهیت لري.

دا وو په پښتو ژبه کې دوینا د ګرامري اجزاو د ماهیت بدلون (کونویرژن) ته لنډه غوندې کتنه.

نتیجه او وروستۍ خبري

په نورو ژبو کې د نحوې په برخه کې البته کافي کارشوی دی ولې په پښتو کې تر اوسه پورې د پښتو ژبې او ادب د اسمان ځلانده ستوري لوی استاد علامه پوهاند رشتین د ګرامر څخه پرته بل کوم بشپړ علمي او اکاډیمیک کارنه دی ترسره شوی او زه هم په دې توګه د ډیرو ستونزو سره مخامخ شوی یم لیکن د څو کالو په ترڅ کې مې ددې اثر د لیکلو دپاره د مخه مواد راغونډ کړل ترڅومې دغه پلان ترسره کړ. البته زما دغه کار به هم په سلوکې سل بشپړنه وي ځکه چې د یوې ژبې ټولې بشپړې نحوې ځانګړتیاوې ددې اثر د حوصلې څخه لوړې دی.

څنګه چې د نحوې غرض او مطلب د یوې ژبې دجملو قسمونو او ډولونو او د جملو د جوړښت، ترکیب او په جمله کې د کلماتو ترتیب او یو تربله ددوي ترمنځ ارتباط او پیوستون مطابقت او نورو حالاتو څېړل دي، چې ددې څېړنې د پېژندنې د هدف له مخې چې لوستونکي او زده کوونکي د پښتو ژبې د ښورونو جملو او د فصیحو او بلیغو عبارتونو په واسطه خپل مطلب او مقصد په ښه شان څرګند کړي. عبارت او جملې د کږکیچ او عیب نه خالی وي. نوموړ د کار د اسانتیا دپاره لومړی د صرف او نحوې توپیر په دویم څپرکي کې روښانه کړی دی او بیامو د پښتو ژبې د نحوي واحدونو (ترکیب او جمله) په هکله هم څرګندونې کړې دي چې پخپل ځای په مفصل ډول راغلي دي.

په دې توګه د پښتو ژبې هغه ټول ترکیبونه چې نحوي ساختمانونه جوړ وي یعنی (اسمي او فعلي) د جوړښت او ساختمان او معنا لـه مخې پـه بشپړه توګه د زیاتو مثالونو سره روښانـه کړې دي، چې دغه موضوع هم درسالې په یو بیل فصل کې راغلې ده.

مونږ ته د پښتو ژبې د نحوي ترکیبونو د څېړنې څخه داسې جوته شوه چې ترکیبونـه د ګرامري مطابقتونو او ترتیب په اساس ترکیب او ارتباط ساتي چې دغه رابطه او اړیکي په دوو صورتو سره وي:

1- ربطي او عطفي 2- مطابقت.

همدارنګه د غونډ (ترکیب) په جوړښت کې یو عنصر د ترکیب اساسي غړي په توګه چې زړی یا هسته ورته ویلای شو ځای لري او د نورو غړو سره ټاکلي اساسي عمده رول لري. ددې له پاره دغه لاندې مثالونه څېړو:

1- نامتو شاعر: یو ترکیب (غونډ) دی چې (شاعر) ددغه غونډ د اصلی جزاو د اساسي (زړي) په توګه پېژندل شوی دی. که چېرې دغه غونډ لاپسې اوږد (لوی) شي بیا هم د شاعر نوم ثابت او د هستې په توګه پاتې کیږي. لکه:

پیاوړی نامتو شاعر او یا زمونږ ننګیالی، توریالی، پیاوړی، نامتو شاعر په غونډ کې (شاعر) د ترکیب اساس دی.

همدارنګه که دغه ترکیب په جمله کې راوړو:

زمونـږ پیـاوړی نـامتو شـاعر خوشـحال ختـهك دی. یـا (ژونـدی دی) کـه د لـوړو ترکیبونـو څخـه د شاعر نوم له منځه وباسو پاتې برخه خپله معنا له لاسه ورکوي او ددغو پاتو برخو ترمنځ ارتباط پرې کیږي. دلته لیدل کیږي چې (شاعر) د غونډ او د (جملې) مرکزي هسته جوړ وي. د همدغـه مرکزي (زړي) (شاعر) له مخې د ترکیب (غونـډ) د اجزا و تـرمنځ رابطې او مطابقت موضـوع او د جملې د اجزاو (برخو) ترمنځ رابطه او مطابقت په ښه توګه څرګندیدای شي.

د پښتو ژبې د جملو د جوړښت په باب باید ووایو چې:

1- په عمومي توګه لومړی مسند الیه (مبتدا) او وروسته مسند (خبر) راځي.

2- د پښتو ژبې د جملې اجزاوې: فاعل او فعل ترمنځ د فعل متعلقات وړاندې وروسته کیدای شي چې دغه موضوع د جملو په ترتیب کې په پوره توګه ذکر شوې ده.

بله خبره دا ده چې په پښتو ژبه کې د مسند او مسند الیه سمون او مطابقت په بشپړه توګه روښانه شوی دی. مونږ پخپله څېړنه کې په پښتو ژبه کې جمله د شکل او جوړښت په لحاظ په دووډلو ویشلې ده.

1- یو ستوي (ساده) جملې 2- غبرګې (مرکبې) جملې.

چې بیا دغه هره یوه په لنډو او اوږدو باندې بېلې کړای شوي دي.

د پښتو ژبې د یوستو جملو په برخه کې کومه خاصه نظریه نه لیدل کیږي ولې د مرکبو (غبرګو) جملو په باب ځینې بېلې نظریې شته دي. د مثال په توګه دلاریمر په لیکنه کې چې یوه پېړۍ د مخه د پښتو ژبې دجملو په باب داسې نظریه درلوده چې (ګوندې پښتو ژبه د غبرګو او اوږدو جملو استعداد نلري بلکې داسې جملې پکې شته چې په هغې کې ډیر ساده او ابتدایي جوړښتونه لیدل کیږي).

ولې دا نظریه په عملي ډګر کې د قبلولو وړ ځکه نه ده، چې هره ژبه ځانته د جملو په جوړښت او ترتیب کې یوه خاصه ځانګړتیا لري او هغه ځوک پرې ښه پوهیدای شي چې هم په ژبه کې پوهه او پوره لاس ولري. مونږ د پښتو ژبې د ادبي او محاوروي موادو په استنادویلای شو، چې پښتو ژبه برسېره د یوستوو (ساده) جملو په درلودلو سره د غبرګو (مرکبو) جملو ساختمانونه هم لري چې یو زیات مثالونه او تحلیلونه یې د مرکبو جملو په برخه کې راغلي دي ولې دا خبره باید له یاده ونه باسو چې پښتو ژبه ډیر کړکېچن او مغلق جوړښتونه نشي زغملای بلکې د مطلب او مقصد افاده د فصیح او بلیغو عباراتو په واسطه څرګندیږي، کومې کړکېچنې او مغلقې جملې چې په پښتو ژبه کې اوس استعمالیږي هغه د نورو ژبو د اغیزې او یا د نامناسبو ترجمولہ لارې جوړې شوي دي.

لنډه دا چې پښتو ژبه د نحوي جوړښتونو په لحاظ ډیره شتمنه ده.

په پای کې ددې خبرې یادونه کوو، چې د پښتو ژبې د ګرامر د علمي اساس په ټینګښت کې د پښتو ژبې بېلا بېلې لهجې او ادبي ژبه د متقابلو اړیکو له مخې په پوره توګه مرسته کولای شي!!!

اخیستنځي

1. الفت. ګل پاچا، املا او انشاء پښتو ټولنه، کابل، 1338لمریز کال
2. الفت: ګل پاچا، لغوي څېړنه، عمومي، مطبعه، کابل، 1321لمریز کال
3. الهام پوهاند محمد رحیم، روش جدید در تحقیق دستور زبان دري، پوهنتون، کابل، 1349هـ ش.
4. الهام پوهاند محمد رحیم، تیوري هاي نحو در زبان دري، د ادبیاتو پوهنځي، ګستتنر 1358ع
5. اسلانوف. م. س، پښتو روسی قاموس، د شوروي دايره المعارف، مسکو 1966ع
6. اخمانوا. و. س، د ژبپوهنې اصطلاحي قاموس، شوروي دايره المعارف، مسکو 1966ع
7. ایازي، محمداعظم، قواعد پښتو، کابل، 1318 هـ ش
8. اطلاعات او کلتور وزارت، پښتو چاپي اثار، کابل، 1357لمریز کال
9. بېنوا عبدالروف، اوسني لیکوال، لومړی ټوك، کابل، 1340لمریز کال
10. بینوا ، عبدالروف، ادبي فنون. پښتو ټولنه، کابل 1326لمریز کال
11. برتلس. ي. د پښتو ژبې کندهاري لهجه، لیننګراد 1935ع
12. برتلس. ي. د پښتو ژبې جوړښت، لیننګراد ، 1935ع
13. بیټنی، منتظر، پنځه حرفونه دیارلس اوازونه، پېښور، 1974ع
14. پښتو ټولنه، انګلیسي پښتو قاموس، کابل، 1975ع
15. پښتو ټولنه، توریالی پښتون، کابل 1950ع
16. پښتو ټولنه، ننګیالی پښتون، کابل، 1345ع
17. پښتو ټولنه، پښتو څېړنې، کابل، 1354لمریز کال
18. پنزل، هربرت، پښتو ګرامر (د پوهاند الهام ترجمه) کابل پوهنتون (1340 لمریز)
19. افغان پور، امین (موسکا) د لیکوالو اتحادیه. کابل 1362لمریز کال
20. خټك، خوشحال خان، کلیات خوشحال خان، پېښور. 1960 ع کال
21. خټك، اجمل، کچکول، پېښور 1944ع کال
22. خیال، عظیم شاه، صرف ونحو پښتو، پېښور، 1944ع کال
23. خانلري، پرویز، دستور زبان دری، ایران، 1352 ل کال

24. دوست، دوست محمد ، د افغانستان ژبې او توکمونه، پښتو ټولنه. کابل. 1354ل کال
25. دوریانکوف، ن. ا. پښتو ژبه، د شرقي ادبیاتو مطبعه، مسکو، 1960ع کال
26. ډار مستتر. تاریخ تلفظ و صرف پښتو، جلد اول و دوم، کابل چاپ
27. رحیم الله، قاضي، گنجینه افغانی، پېښور، 1938ع کال
28. رښتین، صدیق الله، اشتقاقونه او ترکیبونه، پښتو ټولنه، کابل، 1326 لمریز کال
29. رښتین، پوهاند صدیق الله، پښتو ګرامر اول جز، پښتو ټولنه، کابل 1327لمریز کال
30. رښتین، پوهاند صدیق الله، پښتو ګرامر دوم ټوك، کابل، 1370 لمریز کال
31. رښتین پوهاند صدیق الله، پښتو مصدرونه، پښتو ټولنه، کابل، 1344 هـ. ل کال
32. رښتین، پوهاند صدیق الله، ژب ښودنه، پښتو ټولنه، کابل 1343-1343 لمریز کال.
33. رښتین پوهاند صدیق الله، د هند سفر، پښتو ټولنه، کابل، 1334 ل کال
34. زاحیلی، سید راحت، د پښتو قاعدې، قصه خوانۍ بازار پېښور، 1954 ع کال
35. رشتین ډاکتر زرغونه، د لرې او برې پښتونخوا په ادبي پښتو ژبه کې د لهجې خصوصیات، مسکو 1975ع کال (د ډاکترۍ تیزس).
36. زیور. ډاکتر زیور الدین، د پښتو ادبیاتو تاریخ اوسنۍ دوره، کابل پوهنتون 1360لمریز کال
37. سیمیونوف. یورس. د عمومی ژبپوهني اساسات. مسکو، 1975ع کال
38. شاکر نور احمد ، ژبنۍ څېړني، د ادبیاتو پوهنځی، کابل 1350لمریز کال
39. عطا الله. د پښتنو تاریخ، لومړی ټوك، حربی پوهنتون مطبعه، کابل 1359لمریز کال.
40. عوریا خیل، کوثر، حسین بخش، د هندو اروپايي او سامي ژبو ویشنه، پېښور، 1359ع کال
41. عوریا خیل، کوثر، حسین بخش، افغان یو ریشايي او سامی ژبو ویشنه، پېښور، 1961 ع کال
42. کاکړ، پیر محمد. معرفه الافغاني، کابل، 1356ل کال
43. کالینینا. ز. م، د ادبي پښتو ژبې لغت پوهنه، د علومو مطبعه، مسکو، 1972ع کال
44. کود و خوف . و. ي. عمومي ژبپوهنه، لوړ ښوونځي، مسکو 1974ع کال

45. ګلووانـوا. ل. ز.، د خـارجي محـصلینو لـه پـاره د ژبپـوهنې درسـي کتـاب، د مـسکو پوهنتون مطبعه (1973)ع کال
46. ګرونبېرګ، پښتو ګرامر، 1987 ع کال.
47. ګلاوین. ب. ن. د ژبپوهنې اساسات، مسکو 1973ع کال
48. لودین. دولت محمد . لغت پوهنه، پښتو ټولنه. کابل. 1355 لمریز کال
49. لیبیدیف. ك. ا0، روسي پښتو قاموس، شوروي دايره المعارف، مسکو. 1973
50. لیبیدیف. ك. ا . پښتو ژبې درسي ګرامر، مسکو. 1970ع کال
51. لیکانت. ب. ا . په معاصره روسي ژبه کې ساده جملې. مسکو. 1974ع کال
52. د شوروي اتحاد د علومو اکاډیمي. د روسي ژبې انستیتوت. دادبي روسي ژبې ګرامر. د علومو مطبعه، مسکو . 1970ع کال
53. مومند ، محمد ګل، د پښتو ژبې لیاره، بلخ، 1317 لمریز کال
54. ماسلوف. یو. س. د ژبپوهنې مقدمه، (اساسات) لـوړ ښـوونځي مطبعـه مـسکو 1975ع کال
55. نوري، محمد ګل، د پښـتو اصـطلاحات او محـاورې، پښتـو ټولنه، کابل 1320 لمریز کال
56. هیر، سید احسان الله، رنځور، پښتو ټولنه، کابل،1346 لمریز کال.

Faiz alam 《haidari》 《حيدري》 فيض عالم